# ماپه ړندوسترګواسلام نه دي قبول کړي!!!

پروفيسرنېکولاي سکوموف
اوسني نوم يې اسلام محمدوف دی (ماسکو)
ژباړه اوغورچاڼ: عبدالغفارجُبير

ورځ په ورځ داسلام دمبارک دين دحقانيت، اوداسلام درېښتينوالي په سبب په سلهاووخلک داسلام په مبارک دين مشرفه کيږي، چې ددې اټکل ناشونې دي چې څوک ووايي چې هره ورځ څومره خلک مسلمانان کيږي؛ پرانټرنيټ باندي دهغومسلمانانوورونوخپلې ليکنې راځي چې هغه په ټولنه کي مهم رول لري دارول کله سياسي وي، کله اقتصادي وي، اوکله هم ټولينزوي، اوياکله هم علمې وي اونور---

اوس ورځ په ورځ انسانان دجهل اوناپوهۍ دکرغيړنوتاريکيوڅخه راوځي اوداسلام دمينې اومحبت ، پرمختګ، روښانه اوځلېدونکې لمرورونږاته کښېنې، چې زه په اينده کي پردې باندي پوره بحث کوم، چې دعيسايت، يهوديت، هندويزم، سکيزم، ساټنيزم، کانفيوشيزم، کمونيزم اونوروډېروباطلومفکوروا وعقيدوڅخه خلک په ګڼ شمېرکي هره ورځ اوهره مياشت مسلمانيږي اواسلام خپرېږي الحمدلله ثم الحمدلله-

د(نېکولاي سکوموف) يوروسي پروفيسردی چې ډېرتکړه اوبانفوذه سړی دی، چې دده دمسلمانېدوسره سم (۱۳) نفره دده خپلوان، نژدې ملګري اودوستان ورسره مسلمانان شول؛ چې يواځې ددوي څخه [illegible] دده (نېکولاي اومېرمن) دمسلمانېدو په [illegible]، [illegible] تفصيل ئې

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وتاسوګرانولوستونکوته وړاندي کوم؛ دده مسلک په طب کي اروا پوهنه **(Psychology)**ده، دي دنفسیاتي اوروحي ناروغیومتخصص دی، اوله بده مرغه دده مېرمن (اوکساناسکوموف) دروحي فشار **(Depression)**ښکاروه، چي بیادقرانکریم په لوستلوسره ئې هغه ټول مشکلات حل اولومړی دي (اوکساناسکوموف) اوبیا پخپله ډاکټر(نېکولاي سکوموف) مسلمان شو-چي ماددوي دپوره کېسې چي نېکولاي پرانټرنیټ خپره کړېوه غورچاڼ ئې وتاسوته وړاندي کوم دالاندنی برخه ټوله دنېکولاي لیکنه ده-

زه په روغتون کي ډاکټروم چي دورځی به دسهارد اتوبجوڅخه تریوې نیمي بجې اوکله هم تردوو بجوپورې کارکاوه،ماپښین به مي پخپل شخصي کلینیک کي دناروغانودرملنه کول دمذهب په اړه زماتصورپه بشپړډول سره منفي وو، مطلب داچي دهیڅ مذهب سره مي کوم تړاو،مینه اونه مي هم تلوسه لرله؛مابه چي کله وخلکوته کتل چي دمذهب په نامه سره نارې وهي، کله عیسایان کله مسلمانان اوکله هم یهوداونور...دځان سره به مي ویل چي دالېونیان دي مذهب څه معنۍ؟؟؟ الهي دین څه معنۍ؟؟؟ خدای(ج) څه معنۍ؟؟؟ عیسۍ مسیح چي نجات ورکوي داڅه معنۍ؟؟؟ اوداسي نور---

داځکه چي زه په کمونېزم کي رالوي شوي وم اوزمانیکه دمیخایل لینن سره په مبارزه کي شامل وو،زموږټوله کورنی لادینه وه، اوحتۍ که چادمذهب خبره کړې واي هغه دمرګ سره لاس اوګریوان و،لکه چي وټولوته دامعلومه ده، چي دکمونېزم په دوران کي ترډېره کلېساوي، مسجدونه اومندرونه تړلي وه. اووهیڅ ډول مذهبي مراسموته اجازه نه وه؛اودانسان په هکله موداسي تصورکاوه، چي انسان دیوه شین بوټي په شان دی چي کله وچ سي نوکارئې خلاص سو، نه حساب شته، نه کتاب شته، نه قیامت

(c) ketabton.com: The Digital Library



شته ،نه
دوړخ شته، نه جنت شته، که په لنډوکي درته
ووایم نوموړتوله کورنۍ اوهرهغه څوک چي
پرکمونېزم اوماده پرستی باندي معتقددي هغه
داهیڅ نه مني اوهرهغه شي چي په سترګولیدل
کیږي هغه یقیني اوورته عقیده لري.څرنګه چي
طب زمامسلک و نوپخپله عقیده کي (ماده
پرستي) کي شکمن وم، هغه داچي ډېرداسي شیان
دي چي نه لیدل کیږي اوشته،خو دعقل خاوندان
ورڅخه انکارنشي کولای؛نومي اراده وکړه چي
دمذهب څه ناڅه مطالعه وکړم
اودمسکودکاتولیکوعیسایانو وملي کلیساته
ورغلم؛ هغوي راته وویل: دا(کلیسا) دخدای
کوردی، دابایبل واخله اودادخدای کتاب دی
اوهرڅوک چي عیسایي شوهغه به بېله پوښتنې
وجنت ته ځي، داځکه چي عیسي علیه سلام
زموږدټولوګناهونولپاره ځان کفاره
کړاوزموږدګناهونوپېټي یې پخپله وړه
واخیستي، چي هرڅه کوي نوکوم مجازات درته
نشته اوکه کومه ګناه درڅخه وشوه نوموړته به
یوڅه شي (روپی) راکوي اوبس معاف یې،دایې هم
راته وویل چي که پخپله علاقه کي کاروکړی
اونورخلک درسره عیسایان شول نودروغتون
دارودرمل به درته وړیادرکوو اوپه څنګ کي به
یوه وړوکې کلیسا هم درته تعمیرکاندو-
دابایبل په ډېره ښه بڼه، ډېرښه کاغذاوښه
رنګونوکي چاپ شوي و، چي زړه وړونکی و، ټوله
ژباړه اوتفسیریې په روسی ژبه و،چي کله زه
ښه پخپل ځاي کي په کورکي کښېناستم نومي
دمطالعې هوډوکړ، په مقدمه کي ئې ډېرشیان
لیکلي و،دابایبل مي پرله اړوي چي
د(لومړیوورځوتاریخ) پرکتاب مي سترګي ونښتي
چي په سرېزي کي یې لیکلي شوي وه چي داکتاب
داسرایلودتاریخي کتابونوله جملې څخه دی،کله
چي داجمله مي ولوستل یوڅه هېجاني شوم، هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



داچې اسرايلوپه زرهاووبې ګناه انسانان له تيغه واايستل اوداامنطقه يې په زورسره قبضه كړل،داسي ورځ به نه وي چې دتنكي ماشومانو، ښځواوبوډاګانوسرونه دي له تنونه جلاكوي اوپه همدې ډول سره په زرهاووبې ګناه انسانان يې په بندكي ساتلي دي، چي زه فكركوم ټول فلسطينان ددې دنياپه دوزخ كي شپې اوورځي سباكوي.اوبل داچي داتاريخ يوچاليكلي دى اوټوله كتاب دهغه الفاظ دانسان تخليق دي؛ له دې څخه وروسته مي د (عزرا) كتاب باندي سترګي ولګېدې چي په سرېزه كې يې ليكل شويدي چي داكتاب عزراليكلي دى چي هغه يومشهوره كاهن و، لدې كتاب څخه مي ورسته بل كتاب د(نحميا) په نامه پرنستي چي داكتاب نحمياليكلي دى اوله دې څخه وروسته مي پر(ټولنه) نامه كتاب باندي سترګي ولګيدې چي هغه بياسليمان چي يوفليسوف وو ليكلي دى، نومي له بايبل څخه كركه وشوه چي په دې كې خويوكتاب هم وخداى(ج)ته منسوب نه دى اوهركتاب يوچاليكلى دى، داكتابونه څوكاهنانواوفليسوفانوليكلي دي اوهرهغه څه يې ليكلي دي چي خوښ يې وه. دخپلې خوښي مطابق څه يې حلال كړي اوڅه يې حرام كړي اوزه ودې نتيجې ته ورسېدم چي داسل په سلوكي دمخلوق كتاب دي نه دخالق(ج).

اوداايقيني درته وايم چي عيسايي ټولنه هم پرمختلفوعقايدواومفكوروولاړه ده،چي هېڅ بنسټ نه لري.نومي بايبل بندكړ اوپخپله الماريٰ كي مي قلف كړاوله ځانه سره مي دافيصله وكړه چي بيابه داكتاب نه رااخلم او هم به وكليساته نه ځم،په دې تكل كي شوم چي دمسلمانانوسره ووينم اوپه اسلام ځان خبركړم اودمسلمانانوسپېڅلى كتاب قران وګورم چي مسلمانان ادعاكوي چي دادخداى(ج)پاك كتاب دى اودخداى(ج)له لوري پرحضرت محمدصلي الله عليه وسلم باندي نازل شويدى؛ زه اوس دمعمول سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



سم وخپلې
وظیفې ته ځم اوراځم اودمذهب سره مې اوس
داړیکوپیل دي اودمذهب وکړی ته داخل شوي
یم،پردغه مهال ماته یورسمي لیک راغي چي
تاسي یوکنفرانس ته چي دتاتاریستان دکازان
په ښارکي دایرکیږي بلنه درکول شویده،چي هغه
کنفرانس دسیمي دروغتیاپالانو(ډاکترانو) په
مینځ کي جوړیږي اوداخیړي چي روسان اوس ورځ
په ورځ په روحي اونفسیاتي مشکلاتواخته کیږي
عوامل یې څه دي؟ اوعلاج یې څه دی؟ چي نېټه
دکنفرانس دپیل کېدود (جون، ۲۶، ۲۰۰۹) دجمعي
ورځ ده اودامکتوب وماته ددوشنبې په ورځ
وماته راغي، له ځانه سره مي فیصله وکړل چي
دکنفرانس لپاره تیاری ونېسم خویوکاربه کوم
اوهغه داچي یوه نسخه قرانکریم به پیداکوم،
دسې شنبې (نهې) په ورځ ویوه کتابتون ته
ولاړم اوقرانکریم مي راواخیست؛ چي ژباړه
اوتفسیر یې په روسی ژبه شوی و.کله چي مي
دلومړي ځل لپاره خلاص کړدسورت بقرې پرلومړی
ایات مي سترګي خښي شوې، چي نوېشته وه:
دادالله جل جلاله کتاب دي اوپه دې کې هېڅ شک
اوشبه نشته---
ډېرخوشحاله شوم چي داسي یوکتاب مي ولیدی
چي وخدای(ج)ته منسوب دی،دلومړی ځل لپاره زه
د (الله جل جلاله) دنامه سره اشناشوم،داځکه چي
موږمخکي خدای(ج)یاڅښتن استعمالاوه، اواوس
راته معلومه شوه چي ریښتنې خدای(ج)ته په
عربي کي (الله جلاجلاله) ویل کیږي،ددې نامه سره
مي ډېره مینه شوه، له دې څخه وروسته چي
هرځای راړوم نویوځای نه بل ځای امریوځای
عذاب اوبل ځای جنت ذکرشوي دی چي پرسورت
رحمٰن باندي مي چي دقرانکریم (۵۵) سورت دی
اود اولوځلوراياتونوژباړه داسي ده:
رحمٰن خدای(ج)ښودلي دي قران (هغه چاته چي
اراده یې شوې ده دښووني دقران)، پیداکړي ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي انسان بیایي ورښودلي دي بیان(خبرې چې دزړه مقصود یې پرې اداکیږي)-
اودقرانکریم دمعناووااومفاهیمونه ډک متن زه دومره کش کړم چې زماترپوهي نه بلکه دهرپوه انسان ترپوهې دامتن لوړدی،ماپخوداسي فکرکاوه چې ترفلیسوف به هم بل لوړانسان وي، خوزه به قسم واخلم چې دقران یوایات دهرفلیسوف دوینائخه دومره لوړدی لکه دځمکي اواسمان ترمابین چې واټن دی.دقرانکریم هرځاي چې به مي رااړوي نوسترګي مي نه پرې یخېدلې اودامي تلوسه وه چې بایدټوله وګورم؛داسل په سلوکي راته جوته شوه چې دادبنده کتاب نه دی، له دې څخه ورسته وسورت یوسف ته ولاړم چې دادقرانکریم (۱۲) سورت دی اوداول اودوهم ایاتونوژباړه یې داسي ده:
دایاتونه دي دکتاب واضح روښانه دي، بېشکه چې موږنازل کړیدی داکتاب په دې حال کښې چې قران عربي دی دپاره ددې چې تاسي پوه شي -
ددې ایات څخه دوه شیان ماته معلوم شول یوداچې دکتاب (قرانکریم) بېشکه دالله جل جلاله کتاب دی اوبل داچې دقران اواسلام دپوهاوې لپاره عربي ژبه اړینه ده،په دې زه مخکي لاپوهېدم چې په ټوله نړی کي فصیحه ترینه,خوږه ترینه,مکلمه ژبه اوبډایه ژبه عربي ده داصرف یوائې زمانظرنه دي بلکه دایومنلي اوکوټلې حقیقت دي چې هیڅوک که غرب اوکه شرق دي انکارنشي ورڅخه کولي-
ددې څخه ورسته مي فیصله وکړل چې زه به داسلام حقانیت اونه حقانیت معلوموم اوصرف دقرانکریم په څوځایه کتلوسره راته معلومهش چې کیداي شي اسلام حق وي، زه وکانفرانس ته ولاړم اودرې ورځي مي هلته تېري کړې چې ډېروډاکترانوپکښې ونډه اخستې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کامیابی په لور

دروسانـ
وروحي فشار څوعوامل درلودلاي شي لکه چاپېريالي، ټولنيز، اقتصادي،اوبې روزګاري چي دکانفرانس پايلي په ورځپاڼو، مجلواوتلوېزنوکي نشرشوې. اوهمدارنګه داپايلې ديوه وړکي کتاب په بڼه هم خپورشو.ددې درووزځوسفرڅخه وروسته زمابل سفرواوکراين ته پيل شو، چي زماددې دووسفرونوتقريبالس ورځ وخت واخيستی.کله چي زه کانفرانس ته تلم نوماقرانکريم وخپلې ميرمنې (اوکساناسکوموف) ته ورکړ اوتوصيه مه ورته وکړه چي ددې مطالعه په پوره ډاډسره وکړه،دې هم دقرانکريم لوستل پيل کړي وه، چي ډېره اغيزه يې پرې کړي وه. زما مېرمن مخکي ديوڅه روحي تکليف ښکاروه اوددې يوعلاج داووچي زه داتل خوشحاله وساتم، چي ددې يوروښانه تکليف داووچي خوب به يې لږاوهمېشه پرېشانه وه اوقرانکريم پوره بدلون پکښې راوستي و اوهغه داسي چي زه يوه ورځ په اوکراين کي وم دې راته تليفون وکړاو دومره خوشحاله وه،چي ماددې دومره خوشحالي نه وه لېدلې،ډېرزيات يې راته وخندل اوراته وويل:

هغه کتاب (قرانکريم) چي تاماته راکړ هغه دومره پرمااغيزه وکړه چي زه ښه شوم اوټول روحي تکليف مي ليري شول.ماورته وويل:

لېونی شوې يي اوکه ټوکي راسره کوې داڅه راته وايي؟ دې په څواب کي راته وويل:

خوشحالی مي دومره ډېره د ه چي خندازمادواک څخه وتلې ده اوداطبعي خوشحالي ده.څه حال اواحوال مي نورهم ورڅخه وپوښتي اوزه خپله هم ډېرحيران پاته وم.

کله چي زه له اوکراين څخه کورته راغلم مېرمنې مي راته وويل:

داکتاب (قرانکريم ) مادومره لوستي دی اوهرهغه ځاي يې راته وښودي کم چي دې ډېرلوستي و،کله چي ماهم هغه ولوستل واقعاًچي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرمایي هم ډیره اغیزه وکړه اوتولي پریشانی مي ختمي شوې.بیا ولاړم کتابتون ته اونورد اسلام په اړه مي کتابونه راوړل اوهغه موهم مطالعه کړل چي په نتیجه کي ما اوزمامیرمني پوره پنځه میاشتې داسلام په اړه څه معلومات لاسته راوړل اودېرجالب اوخوندیې راکړ، ښه دعدل اوانصاف، دمینې، پرمختګ او پوره خوښي دین دی اوزه ددې مطالعوڅخه ودې نتېجې ته ورسېدم چي دټولنې دهرجراثیم لپاره په اسلام کي دارودرمل شته-

یوه ورځ ما اوزمامېرمنې (اوکسانا سکوموف) داهوډ وکړ چي بایددمسکومرکزي جامع جومات ته ولاړشوا ودخطیب صاحب سره څه بحث وکړواوله هغه نور معلومات هم ترلاسه کړو اوکه دادین (اسلام) حق و اواذل موګټه کړې وه نومسلمانان به شو. دکمونېزم څخه موپه دې نفرت ډېرشویدی چي تشدد پکښې ډېر، نشه پکښې ډېره،حیوانیت پکښې ډېر، دښځوبې عفته کول اوظلم وربانديكول داپکښې ډېراویاکله هم وژل یوه عامه خبره ده، وانسان ته دانسان په سترګه په کمونېزم کي نه کتل کیږي.

دجمعې مبارکي په ورځ موږدواړوداتکل وکړچي دخطیب صاحب سره وویڼو؛ دغرمې پر (۳۰: ۱۱) بجې هلته ورسېدوخوشبختانه خطیب صاحب موپخپل کورکي وموند په پوره اخلاص ، مینه اوورین تندي سره یې راته ښه راغلاست ووایه اوداسې کره وړه یې راسره وکړل لکه موږچي دده ډېرنژدي خپلوان یو، په ډېرعزت سره ئې په یوه اوطاق کښې کښېنولو؛ چي شاوخوایي ټول کتابونه وه.ډېرژرېې اوبه اوڅه شربت چي ډېره خوشبویي درلوده راته راوړل. ماهم سمدستي دخپل ځان اوخپلې مېرمنې تعارف ورته وکړ چي ښاغلی(خطیب صاحب) دومره خوشحاله شوچي اندازه یې نه کیده-

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ټوله کیسه ورته وکړل چي داسي وکلیساته ولاړم، بایبل مي وکتي اوبیامي قرانکریم ومونډي او----

زمامیرمني هم ډېرخه ورته وویل له دې څخه وروسته خطیب صاحب زموږداحساساتو اوکارڅخه ډېرخوشحاله شو اوراته یې وویل چې که تاسو هره پوښتنه داسلام او قرانکریم په هکله لري په پوره خلاص زړهٔ سره کولاي یي؛ ماورته وویل چي زه یوڅوپوښتني لرم:

لومړی پوښتنه نېکولاي سکوموف: اسلام دخدای(ج) په هکله څه وایي؟

خطیب صاحب: خدای جل جلاله یواوشریک نه لري، خداي جل جلال موجوددی، دی مووینې اوموږیې نه وینو، داټول اسمانونه، ځمکي، شمسي نظام اوټول کاینات ده پیداکړیدي، دی ددې ټولوموجوداتوخالق، مالک اوحقیقي رازق دی؛ داهرڅه دده په اراده سره کیږي ، که څوک پیداکیږي اویامرکیږي داټول دده په لوړقدرت سره ترسره کیږي، دی وهیچاته احتیاج نه دی اوټول موجودات وده ته محتاج دي- دې نه دچاڅخه پیداشوی دی اونه هم له ده څخه څوک پیداکیږي، دي بې مثله دی، اودده شریک اونظیرنشته-

نېکولاي سکوموف:

داځمکه اواسمانونه اوټول موجودات په طبعي ډول دمادي (اتوم) څخه پیداشویدي اوکه څنګه؟

خطیب صاحب:

تاسې داسي نظرلري چي داټوله موجودات له یوې مادې څخه پیداشویدي، اول زه ودې ته راځم چي ماده یوه بې روحه اوبې حرکته شي ده،داڅنګه امکان لري دیوې بې روحه شي څخه دي په زرهاووقسمه ژوندي موجودات، په میلیون هاووقسمه نورخوځنده اجسام اوانسانان دي له

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدې بې روحه مادې څخه پیداشي. ماده روح نلري اوژوندي موجودات روح لري؛ انسانان عقل لري اوماده عقل نلري، ودې مرغانواوڅارويوته دافکرچاورکړ؟انسان خولاپرېږده يوډېروړوکي کب په دې دومره درياب کي خپله موراوپلارڅنګه پېژني ودې وړوکي کب ته داعلم چاورکړ؟ داتقسيم چاوکړ چي څاروي به واښه خوري، څيرونکي ژوي به خپل ښکارکوي اواومې غوښي به خوري،انسانان به هرڅه چي يې خوښ وي هغه خوري، داټول ديوه ذات په واک کي دي، اوداباالکل غلته اوغيرعلمي ده چي يوه ماده چي روح نلري، سترګي نه لري، فکرنلري اوعقل نلري يوداسي شي دي پيداکړي چي هغه دي ترمادې ستراولوړوي-

نېکولاي سکوموف:

ايادستوروځمکي اوکهکشانوحرکتونه هم دخداى(ج) په واک کي دي؟

خطيب صاحب: داګلاس زماومختته پروت دی ولي حرکت نه کوي؟ داموټرولي بېله موټروانه حرکت نشي کولاي؟هيڅ شي بېله ارادې دالله جل جلاله ديوې زرې په اندازه خوځښت نشي کولاي اوحتيٰ يوانسان بې دالله جل جلاله له ارادې نه پرته خپل بانونشي بندولاي داهرڅه حرکات، پورته کښته اوهرڅه دالله جل جلاله په قدرت کي دي-

نېکولاي سکوموف:

موږخوهرهغه شي چي په سترګووينوهغه منو، اوميټرياليزم يوه مفکوره ده، خداى(ج) موږنه وينونوځکه يې نه منو؟

خطيب صاحب:

په نړې کې ډېرشيان شته چي تانه دي لېدلي اوشتون لري نودې مطلب دانه شو چي هغه نشته، دځمکې په کُره کي ډېرهيوادونه شته مګرتا ټول نه دي ليدلي البته شته،که ته داپوښتنه وکړې چي خداى جل جلاله خوهيچا هم نه دی ليدلی نوداڅنګه شته؟ ځواب يې ډېرساده دی.موږپه دې عقيده يوچي درد په بدن کې سته

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګرکوم
ډاکټرپه کوم لابراتوارکي درد لیدلی دی، هیڅ څوک یې نشي لیدلای؛ خوشحالي شته مګرهیڅ څوک ئې نشي لیدلاي، خفګان شته اوهیڅ څوک ئې نشي لیدلاي اوکه یوڅوک ددې (درد، خوشحالی، خفګان ) څخه انکاروکړي نوفوراً به تاسي ډاکټران ورته لیوني، بې وقوفه اوبې مغزه سړي وواياست، لکه څرنګه چي ددرد، خفګان اوخوشحالی اغیزي په ظاهره کي معلومیږي اودوي نه معلومیږي نو همدارنګه دالله جل جلاله دقدرت اغیزي اونښانې وهرچاته جوتې اوڅرکندي دي،مګرالله جل جلاله نه شولیدلای؛ هم په اسمانوکي هم په ځمکه کي دده دقدرت نښانې شتون لري، شپه راوستل، ورځ راوستل، فصلونه راوستل داهرڅه چي په دې نړۍ کي کیږي داټول دیوه الله جل جلاله دپوره قدرت نښي نښانې دي چي دادانسان ترعقله لوړي دي- دموږپه ګېډه کي دماشوم وتکامل ته وګورونوسړی ورته حیران کیږي، هغه څه چي قرانکریم (۱۴۰۰) کاله مخکي څه ویلي دي هغه ټول اوس ټوله د (ایمبرالوجي) پوهانوتصدیق کړي دي اوپه داسي وچ دښت اوبیابان کي څوک په دې پوهېده چي انسان اول نطفه، بیا وینه، بیایوه ټوټه غوښه، بیاهډوکي اوبیاغوښي شي، یوائې تاسي ډاکټران موږته وایاست چي سترګه په څلوېښتمه مرحله کي وخپل بشپړحالت ته رسیږي داټوله دیوه ذات الله جل جلاله په واک کي دي اوبس-

نېکولاي سکوموف:
عیسایان وایي چي عیسي علیه سلام زموږدګناهونو کفاره ده تاسي څه نظرلري؟

خطیب صاحب:
داعقیده غیرانساني اوغیرمعقوله ده، اوس په ټوله روسیه کي وګوره چي هرچاجنایت اوجرم وکړ نوپولیس هغه سړی تعقیبوي اومجازات کوي یې، داسي هیڅ کله په دې بشري قانون کي نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده پېښه شوي چي يوچادي قتل کړي وي اودهغه پرځاي دي دهغه ورور، پلار اويابل دوست مجازات شوی وی. نوپه الهي قانون کي خوددې تصورنشي کېداي، داځکه چي داډېرغټ ظلم اوتېري دي. اوخپله که تاسي خپله بايبل وګوري په هغه کي په واضحه توګه سره ليکل شويدي چي : زوي دپلاراوپلاردزوي دبدواعمالوپه وسيله نه مجازات کيږي- داخپله ددوي دمقدس کتاب ايات دی اوداسي بې هوده خبري په حضرت عيسي عليه سلام پوري تړل اويااو الله جل جلاله ته منسوبول ډېره ګستاخي ده.داڅنګه عدل اوانصاف دي؟ اوداڅنګه عقل اودماغ دی چي داخبره دي ومني-

نېکولاي سکوموف:

دحضرت عيسٰي عليه السلام په هکله تاسي څه واياست اوايمان پري لري؟

خطيب صاحب:

حضرت عيسٰي عليه السلام داولولعزم پېغمبرانوڅخه يوپېغمبردی. هغه دبې بې مريمې رضي الله تعالي عنها زوی دی، هغه پلارنه لري، لکه عيسان چي وايي، حضرت ادم عليه سلام يې بې موره اوبې پلاره پيداکړ اوحضرت عيسي عليه سلام يې بې پلاره پيداکړ.هيڅ مسلمان مسلمان کېداي نشي ترڅوپه دې ايمان ونه لري چي حضرت عيسي عليه سلام دالله(ج) پيغمبرنه دی،هغه ته د الله جل جلاله له خواڅخه انجيل ورکول شوي دی،هرمسلمان به په دې ايمان لري چي هغه دالله جل جلاله په امرسره دبې بې مريمې رضي الله عنها څخه بې پلاره پيداشواوپه دې به هم ايمان لري چي هغه دالله(ج) په امرسره مړي، ژوندي کول، مورزاده ړانده يې بېناکول، دجذام اوپيس ناروغان يې علاجول--- او داټول شيان زموږپه قرانکريم کي راغلي دي.اوحضرت عيسي عليه سلام الله جل جلاله اسمانوته پورته کړ اوبيابه راځي اوځه نوي شي ورسره نشته اوداخيري پيغمبرحضرت محمد صلي الله عليه وسلم دين به تبليغوي.دايوه خبره په اخيرکي درته کوم که

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسي
دعیسایانوڅخه پوښتنه وکړي چي مسلمانان
پرحضرت عیسي علیه سلام ایمان لري نوتاسي ولي
پرحضرت محمدصلي الله علیه وسلم ایمان نه لري؟
نودوي هیڅ ځواب نلري-
نېکولاي سکوموف:
ایاحضرت عیسي علیه سلام خدای دی؟
خطیب صاحب:
نه هیڅ کله نه! هغه دالله جل جلاله
پیغمبراوبنده دی اوزموږپه شان یوانسان و.
که دوي په دې سره عیسٰي علیه سلام ته
خدای(ج) وایي چي هغه دخدای(ج) په یوه امرسره
بې پلاره پیداشویدی نوولي حضرت ادم علیه سلام
خدای(ج) نه بولی چي هغه نه پلاردرلود اونه
مور. اوکه دوي حضرت عیسٰي علیه سلام په دې
خدای(ج) بولي چي الله جل جلاله معجزې ورکړي وې
نومعجزې یې وحضرت موسٰي علیه سلام ته هم
ورکړي وې اونوروډېرانبیاء علیهم السلام
ته، نوهغوي ولي خدایان نه بولي. داددوي یوه
بې بنیاده اوبې بنسټه عقیده ده. تاسي لږ
فکر وکړي، دوي وعیسٰي علیه سلام ته
پلارمنسوبوي، دوي پرخدای(ج) عقیده لري که الله جل
جلاله ټوله ځمکه اواسمانونه پیداکولاي شي
اوحضرت ادم علیه سلام بې موره اوبې پلاره
پیداکولاي شي نوحضرت عیسٰي علیه سلام بې پلاره
نشي پیداکولاي ؟؟!! دایوانساني فطرت دي ،
یوداسي څوک چي خوراک کوي، څښاک کوي،
دردلري، خوشحالې لري اوټول انساني ضرورتونه
لري اوبیادي خدای(ج) شي، که خداي واي،
نوانساني خواص ولي لري؟، اوکه انسان دی
اوپرانسانیت یې ټوله عیسایت اعتراف کوي
نوبیادي خدای(ج) کېداي نشي-اوپه ټوله بایبل کي
حضرت عیسٰي علیه سلام نه دي ویلي اونه یې هم
هیڅ کلیسا اوپاپ راته ښکاره کولاي سي چي
حضرت عیسٰي عیله سلام ویلي دي چي زه خدای(ج)

(c) ketabton.com: The Digital Library



یم اوزماعبادت وکړي- دادوي له خپله ځانه څخه جوړه کړې فاسده عقیده اومفکوره ده-
نېکولاي سکوموف:
ایاداخیرت ورځ ، جنت، دوږخ مکافات اومجازات شته؟
خطیب صاحب:
یوڅوک ترهغه پوري مسلمان کېداي نشي چي پردې ایمان ونلري اوپردې دهرمسلمان ایمان دی چي داخیرت ورځ راتلونکې ده.زه اوس ددې نړی یودېرښه مثال درکوم که په روسیه کي یوډاکتر، انجینر، ساینس پوه یوه اختراع وکړي، څیړنه وکړي اویا بل ډېرښه کاروکړي ایاحکومت ورته انعام نه ورکوي؟ دنوبل نړیواله جایزه څوک ګټي؟ په طب کي یې یوڅوک ګټي، په ادب کي یې بل څوک ګټي اوهمداسي نور--- اودبل لوري نه داهردولت دامحبسونه (بندې خانې) دڅه لپاره جوړکړیدي،دولت چاته مکافات ورکوي اوچاته مجازات ورکوي؟ دادومره پولیس اونوره قوه څه کوي؟ داهرڅه دهغومجرمینولپاره دي چي دولت ددوي دناوړوکړووړوپه نېیجه کي ورته سزاورکوي دقاتل یوه سزاده، دغله بله سزاده، دقانون ماتونکي بله سزاده اوداسي نور----
نوالله جل جلاله چي داټول کاینات پیداکړیدي دایې داسي بېهوده نه دي پیداکړي، وهرچاته الله جل جلاله فکراودماغ ورکړی دی چي خپله فیصله دلته وکړي، چي ښه کارکوي اوکه بد،که یوچاښه کاروکړاودالله جل جلاله ودین ته یې غاړه کښېښوده په اسلام مشرفه شونوجنت ته به ولاړشي اوهغه نعمتونه به یې ورپه برخه شي چي انسان دهغه تصورنشي کولاي.اوکه یوچادالله جل جلاله څخه دبغاوت اوسرکښی اعلان وکړ، دهغه دقانون څخه سروغړاوه، دنعمتونوشکریې ونه ایستی اومسلمان نه شو نوالله جل جلاله به هغه سزاپه دوزخ کي ورکړی، چي دهغه بیان سړی په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنیاکي
نشي کولاي. نوکه په لنډوکي درته ووایم دقیامت ورځ، جنت، دوزخ اودمرګ څخه وروسته ژوندپردې باندي زموږ ایمان دی.اودقیامت ورځ دمکافاتواومجازاتوورځ ده-

نېکولاي سکوموف:

قران اوبایبل څنګه پرتله کوي؟؟؟

خطیب صاحب:

قرانکریم دالله جل جلاله کتاب دی چي الله جل جلاله پرحضرت محمدمصطفي صلي الله علیه وسلم دحضرت جبرائیل علیه سلام په واسطه نازل کړیدی، چي په دې کتاب کي دژوندټول اوامر، نواهي اواحکام شتون لري؛ په زرهاووایاتونه دساینس په هکله پکښې دي چي دادساینس په هکله ایاتونه و۸۰۰ ته رسیږي.قرانکریم دبایبل په شان دیهودواویاغیریهودودشجرو، دقومونودبحث اوبې معني خیالاتواوافکارومجموعه نه ده؛ بایبل خوپخپلولاسونوباندي مختلفوخلکولیکلی دی، چي دژوند، دټولنې دپرمختګ لپاره هیڅ پکښې نشته.که ته دقرانکریم پوره مطالعه وکړی نودرته معلومه به شي چي په قرانکریم کي څومره ملغلري اوعلوم شته- دقیامت تروروځي پوري چي څومره انسان ترقي کوي ، قرانکریم يې (۱۴۰۰) کاله مخکي لاوړاندوینه کړیده؛ که په لنډوکي درته ووایم قرانکریم ددې دنیااوداخیرت دټولومشکلاتوحل دی-

مېرمن سکوموف:

تراوسه ما اسلام نه دی راوړی مګردقرانکریم په صرف لوستلوسره مي ټولو پرېشانیوته دپاي ټکي کښېښودل شول اوحال داچي ماددېره وخته راپدې خوا خفګان درلود اوپه هیڅ دوانه جوړیدم داولي؟

خطیب صاحب:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څرنګه چي دالله جل جلاله کتاب دی اوپه دي کي شک نشته، نوځکه يې اغیزه هم لوړه ده اودادقرانکریم معجزه ده. اوالله جل جلاله په قرانکریم کي وايي، چي ماداقرانکریم نازل کړیدی اوقرانکریم ستاسولپاره هم باطني شفاء ده هم ظاهري شفاء ده،په دې کي شک نشته چي قرانکریم دټولوناروغیوپوره دارودرمل دي. اوبل ځاي الله جل جلاله فرمايي، چي اي خلکوتاسي خپل زړونه په ذکرسره (قرانکریم) سره په اطمنان کي راولي، مطلب داچي کومه پرېشاني، یاروحي تکلیف لري نودقرانکریم په صرف ویلوسره الله جل جلاله وتاسوته پوره سکون اواطمنان درپه برخه کوي، داځکه چي دادالله جل جلاله ویناده اوقول دی اودالله جل جلاله ټول کلام حق دي اوپه دي کي هیڅ شک نشته-

ددې پوښتنودځوابولوڅخه وروسته خطیب صاحب وویل چي زه اوس دجمعې دلمانځه داداءکولولپاره تیاری نیسم اورخصت درڅخه اخلم، دلمانځه څخه وروسته بیاهروقت تاسي راتلاي شي.خطیب صاحب درخصتیدوپرمهال راته داهم وویل:

تاسي به ځي نه تاسې زموږمېلمانه یاست اوستاسوددډوډۍ انتظام شویدی.

موږټینګاروکړ چي ولاړشومګردهغه زوي چي یوتنکی ځوان و ډوډۍ راوړل چي موږنورهم ورڅخه اغیزمن شو. دډوډۍ خوړلووروسته وکورته راغلوداوني موهم داسلام په اړه ډېري مطالعې وکړې، چي ودې پایلوته راورسېدوچي راتلونکې جمعه به په جامع جومات کي دواړه ایمان راوړو. دخطیب صاحب سره موتلیفوني رابطه وه، هغه څه لوازمات چي راته یې ویلي وه هغه مووکړل لکه غُسل کول، اوزمامېرمنې ته ئې دحجاب کولوامروکړ،

چي هغې داکارپه خوښی سره ترسره کړ. دلمانځه څخه وروسته پرهغه وخت ورغلو کوم وخت چي خطېب صاحب راته ښودلي و،مونږهم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومسجدته
ورغلو،خطیب صاحب مخکې لاوخلکوته ویلي و،ټول په ارامه ناست و اوموږدواړودناستوخلکوپه وړاندې لومړی کلیمه طیبه اوورپسي مو دشهادت کلیه (اشهدان لااله الاالله واشهدان محمدعبده ورسوله) وویل. خطیب صاحب یوځه تقریرهم وکړ چي ډیرزړونه یې وښورول اوپه اخیرکي یې داوښکورښاله ورایه په سترګوکې جوتېده-
لکه څنګه چي زه روحي اونفسیاتي ناروغیوډاکتریم نوهغه ناروغانوچي څه (Depression)درلودی وهغوته مي هغه ایاتونه چي خطیب صاحب راښودلې وه ورته وویل چي ډېره ګټه یې ورته وکړل چي په نتېجي کي زماپه لاس باندي (۱۳) ننفره چي (۷) ښځې او(۶)نارینه وو داسلام په مبارک دین مشرفه شول چي اوس موږټول خوښ یو- هغه ذات ته دي پاکې وي چي موږیې هدایت کړو-
ما پخپله خوښه سره خپل نوم (اسلام محمدوف) اوزمامېرمنې پخپله خوښه سره دخاتم الانبیاء حضرت محمدصلي الله علیه وسلم دلومړی ښځې حضرت بې بې خدېجې رضي الله عنهاچي دمسلمانانومورده، دهغې نوم پرخپل ځان (بې بې خدیجه) کښېښود.
له دې څخه ورسته په اخباروکي په ماپسې داسي بیانونه راغلل چي ډاکترنېکولای سکوموف لېونی شوی دی اودماغي توازن یې دلاسه ورکړیدی اوځه چټي شیان چي ددوي په وس کي وه هغه یې په ماپسې خپرول چي وروسته یوه میاشت مسلسل ماپه ورځپانو، مجلواوتلوېزنوکي د (ماپه ړاندوسترګواسلام نه دي قبول کړي؟؟؟) سرلیک لاندي بیانونه ورکړل اودخلکووپوښتنوته مي دلوي الله جل جلاله په پوره مرسته سره ځوابونه ورکول ؛وخلکوته مي هرځلي ویل چي زه مخکې لېونی وم اوس پرسد شوم ، اوحتي داسي هم پېښه شوه چي دوویادرونفروته مي دبحث

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولوموقع هم ورکړل چي زماسره دې زماپرمسلمانېدوباندي بحث وکړي، چي زه پرحق یم اوکه نه یم؛ چي دحقیقت په څرګندولوسره الله جل جلاله زه دټولومشکلاتوڅخه خلاص کړم-

# یوسف استیس څوک دی او څنګه مسلمان شو؟

منبع: اصلاح ان لاین ډات نیت

د حق او باطل تر منځ جګړه ډیره وړاندي پیل شوې او تر څو چې دا خاورینه نړۍ وي نو دا جګړه به روانه وي. د تاریخ په اوږدو کې بیلابیلو مذهبونو، ډلو او فرقو هڅې کړې تر څو په هره لاره چې وي د حق دین په وړاندي ودریږي.

کله چې د اسلام مبارك دین د عربو په ټاپو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزمه کې
خپلي وېرمې خورې کړي نو د شیطان لښکرو له هر لوري خپلي هڅي پیل کړې تر څو د دې الهي پلوشو د خوریدو مخنیوی وکړي.
یهودو که څه هم په یوازي ځان د مسلمانانو سره د مخامخ کیدو توان نه درلود خو د نفاق او دوه مخي له لاري یې تل د اسلام د دښمنانو مرسته کول او په خپله یې هم چې څه له وسه وو، ویې نه سپمول.
مسیحي نړۍ هم د دې پر ځاي چې د حق دعوت منلي واي، په هماغه پیل کې د پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) سره د مناظرې لپاره د کشیشانو او علماوو یوه ډله مدینې ته واستول.
له دې څخه وروسته د مسلمانانو او مسیحیانو تر منځ نظامي ټکرونه پیل شول تر دې چې د حضرت عمر فاروق (رض) د خلافت په دور کې مسلمانانو هغوی ته ستره ماتي ورکړه او د هغوي امپراطوري(روم) یې ور ړنګه کړل او په همدې توګه د بني امیه او بني عباس په دور کې هم تل مسلمانان پر دوي بر لاسي ول.
د عثماني لړۍ باتورو خلفاوو هم پدې لړ کې سستي ونه کړه او څو ځله د اروپا زړه ته وننوتل تر دې چې سلطان محمد فاتح رحمة الله علیه د هغوی مرکز قسطنطنیه فتح کړه او هغه یې د اسلامي خلافت برخه وګرځوله.
صلیبي جګړې هم د همدغه لړۍ یوه بله کړۍ وه چې مسیحي نړۍ له مسلمانانو څخه د غچ اخیستلو په نیت راپورته شوه خو دا ځل هم د اسلامي نړۍ لوی اتل سلطان صلاح الدین ایوبي هغوي ته ماته ورکړه او د مسلمانانو لومړنۍ قبله یې د هغوي له منګلو څخه وژغورل.
پدې اخ او ډب کې مسیحیان هم کرار کښینستل او په اندلس کې یې اسلامي حکومت له منځه یووړ او د نړۍ تر ټولو ستر علمي مرکز لکه قرطبه، اشبیلیه او طلیطله یې ویجاړ کړل او د عقایدو د تفتیش د محاکمو په نامه یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



زرګونو مسلمانان په وحشیانه توګه شهیدان کړل.
پدې وروستیو کې د افغانستان د جهاد له برکته د کمونیستي نظام د له منځه تللو وروسته، مسیحي نړی اسلام او مسلمانان خپل یوازیني دښمنان وګڼل او هڅه یې وکړه چې د هري مناسبې موکې څخه ګټه واخلي تر څو اسلام او مسلمانان وځپي.
په عراق او افغانستان باندې د صلیبې لښکرو تیری او په افریقا او آسیا کې د زرګونو بشیري موسیسو شتون او فعالیت د همدې پلان برخه ده. پدې توګه دوي غواړي دا الهي نور مړ کړي خو لدې نه ناخبره دي چې ( والله متم نوره ولو کره الکافرون ) .
موږ هره ورځ د انترنیت، تلویزون، راډیو، ورځپاڼو او نورو وسایلو له لاري وینو او اورو چې په حق پسي ستړي کسان یو پر بل پسي دغه الهي دین ته ننوزي او د دې سپیڅلي نور په وړانګو کې ژوند غوره کوي.
په هر حال، یو له هغو بیشمیره کسانو څخه چې د اسلام دین یې منلی، پخوانی ستر عیسوي مبلغ او داعي یوسف استیس دی چې اوس د اسلام د سترو ادعیانو په کتار کې ولاړ دی.
شیخ یوسف څوک دی؟
شیخ یوسف استیس د امریکا د متحده ایالاتو د تګزاس د ایالت اوسیدونکی دی چې اوس د ورجینیا ایالت د الکساندریا په ښار کې اوسیږي. هغه ډیر وخت سپینې اوږدې عربې جامې اغوندي او تل د اسلام د خپرولو هڅې کوي .
راځی د هغه د مسلمانیدو کیسه پخپله د ده له خولې څخه واورو:
زما نوم یوسف استیس دی، زه د امریکا د مسلمانانو د دیني اتحادیې ( **National Muslim Chaplain** ) مشري پر غاړه لرم چې په واشنګټن کې فعالیت کوي. د خپلې دندي په ترڅ کې د نړۍ ګوټ ګوټ ته سفرونه کوم تر څو د حضرت عیسیٰ

(c) ketabton.com: The Digital Library



علیه سلام
هغه پیغام چې په قرآنکریم کې راغلی دی ټولي نړی ته ورسوم. همدارنګه موږ له نورو ادیانو سره د خبرو لړی هم پر مخ بیایو. پدې توګه موږ خپل عقاید او افکار د هغو وسایلو له لارې چې په لاس کې یې لرو ټولو خلکو ته رسوو. زمونږ د کار ډیره برخه په دولتي او غیر دولتي مؤسیسو، پوځ، پوهنتونونو او زندانونو کې ده.
زمونږ لومړی موخه د الله (ج) بنده ګانو ته د الله(ج) د پیغام رسول او عامو وګړو ته د هغه زده کول دي او دا چې خلکو ته څرګنده کړو چې مسلمانان څوك او حقیقي اسلام څه دي.
سره لدې چې ورځ تر بلي د مسلمانانو شمیر زیاتیږي او اسلام ورو ورو د مسیحیت سره (چې د لارویانو د شمیر له پلوه د نړی تر ټولو ستر دین دی) برابري کوي خو بیا هم ډیر هغه خلك چې د مسلمانۍ دعوا کوي اسلام په پوره توګه نه پیژني او نه شي کولای د اسلام صحیح انځور خلکو ته وړاندي کړي.
تیر ژوندشیخ یوسف.
زه د امریکا په زړه کې په یوه سپین پوستې ارتودوکس کورنۍ کې چې دین ته ډیره ملتزمه وه وزیدلم.زمونږ کورنۍ ټول کشیشان ول، زما نیکونه له هغو لومړنیو کسانو څخه دي چې دې ځای ته یې مخه کړې ده او پدې سیمه کې یې د ډیرو مدرسو او کلیساګانو بنسټ ایښی دی .موږ له ۱۹۴۹ څخه په تګزاس کې استوګن شوو چې هغه وخت ما د ښوونځي په لومړی دوره کې زده کړه کول.
په دولس کلنۍ کې یې ماته د تعمید غسل (۱) راکړ او مخکې لدې چې د بلوغ پړاو ته ورسیږم ډیري کلیسا ګانې او عبادت ځایونه مې وکتل تر څو د هغوي په عقایدو او نظریاتو پوه شم. د مثال په توګه د پروتستانو کلیسا ته لاړم او د ناصریه، مسیح، رب او رب المسیح کلیسا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګاني مې وکتلې او همداشان د کاتولیکو کلیساګانو ته هم لاړم.
زما پلار چې په اویایمه لسیزه کې د کشیش په توګه ټاکل شوی و، کلیسا ته یې ډیر خدمتونه کړي وو او د ډیرو مذهبي شوونځیو مالي لګښت یې پر غاړه اخیستی وو.
زما مور او پلار د مسیحي دین د لویو دعوتګر او مبشرینو سره چې د تلویزونو په تبلیغي برنامو کې به یې ګډون کولو پیژندل تر دې چې هغوی له اورال روبرتز سره لیده کاته وکړل او د تیولا د ښار د عبادتي برج په جوړولو کې یې هم برخه واخیستل. هغوي د جیمي سوګرات، تامي، جیم بیکر، جیري فول ویل او جان هاګي سخت ملاتړي وو. په همدې توګه زما مور او پلار به د مبشرینو د ویناوو او محاظرو ډول ډول کیستونه په شفاخانو، د متقاعدینو په کورونو او د زړو خلکو په پالنځایونو کې ویشل.
زه د تګزاس ایالت اوسیدونکی وم او خپل ټول ژوند مې د مسیحیت د دعوت لپاره وقف کړی وو.
د ژوند په تیرو پنځوسو کلونو کې ما دوه ځله واده کړی، د لومړني واده پایله مې طلاق وو، پنځه اولادونه او څلور لمسیان لرم. د ژوند ډیري هسکي ټیټي راباندي تیري شوي دي، کله به مې لاس ډیر تنګ وو او کله به بیا ډیر مالداره شوم. د امریکا ټول ایالتونه مې کتلي دي او ډیرو ملکونو ته مې سفرونه کړي دي چې د هغې له ډلي څخه فرانسه، آلمان، انګلستان، ایتالیا، سویدن، دنمارك، کانادا، مکسیکو، هلند، ایرلند، او استرالیا دي. د شهزادګانو او ګدایانو، رهبرانو او بردګانو د ناتسي ولاړي څخه برخمن شوی یم. د ډیرو قصرونو میلمستیاوي مې خوړلي دي او په ډیرو ملکونو کې مې د بیلابیلو کلوپونو انحصاري غړیتوب هم درلود. آن دا چې په زندانونو کې مې له زندانیانو سره هم ناسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړه
درلوده. په پنځه دیرش کلنی کې د لومړي ځل لپاره میلیونر شوم خو په څلویښت کلنئ کې مې بیرته له لاسه ورکړ.له هغې وروسته هم ډیر ډیر ځله ډیري زیاتي پیسي لاس ته راغلي او بیرته را نه تللي دي خو هیڅکله مې هم دا گومان ندي کړی چې ما دي زیان کړی وي.

د بریالیتوب رازمي په څه کې و؟
پدې عمر کې چې ما تر ټولو مهم څیز لاس ته راووړ،هغه د بریالیتوب او نیکمرغئ راز وو. دغه راز د لاندېنیو پوښتنو په سم ځوابولو کې نغښتی دی.

1. زه څوك یم؟
2. د ژوند هدف څه دي؟
3. آیا کوم خدای(ج) شته؟
4. څرنگه خدای(ج) ته رسیدلای شو؟
5. ایا له مړیني څخه وروسته ژوندکیدل رښتیا دي؟

تر څو چې انسان دغو پوښتنو ته قانع کوونکي ځوابونه ورنه کړي، هوسایني او آرام ته نشي رسیدلای. دغې هوساینې ته تر هغه رسیدل ناشوني دي چې انسان د ژوند په موخه باندي پوه شي او بیا دې موخې ته د رسیدو لپاره خپله ټوله هڅه وکاروي.دا هم باید وویل شي چې تر هغه پوري دې حقایقو ته رسیدل ناشوني دي چې انسان خپل خالق(ج) ونه پیژني. انسان دا مني چې پخپله د خپل ځان، چاپیریال او نورو څیزونو خالق ندی او دا ټول د انسان له وس څخه پورته دي.نو باید په یو ډیر لوی خالق(ج) او رازق(ج) باندي ایمان ولري او د هغه په وجود باندي اعتراف وکړي. هغه پیدا کوونکی چې له هر اړخه پوره او کامل دی.ازلي او ابدي دی. نه له چا پیداشوی دی او نه چا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته اړ دی، بلکه د هستي ټول موجودات هغه پیدا کړي دي او هغوي ته روزي ورکوي.دغه رب(ج) هیڅ هغه څیز ته چې د انسان په ذهن کې ګرځي ورته والی نلري.نو اوس دغه الله(ج) ته ځان سپارل او د هغه عوامر منل همغه څه دي چې اسلام ورته ویل کیږي او دا د ټولو پیامبرانو دین دی.
دا چې زه څنګه الله(ج) ته تسلیم شوم او د اسلام په دین مې منګولي ولګولي کیسه مي په لاندي ډول ده.
زه د امریکا په متحده ایالاتو کې زیات خلك پیژنم چې د اسلام دین یې منلی دی. خو ډیر کسان زما تجربې ته په بله سترګه ګوري څکه د عادي خلکو لپاره د پلرني دین پریښودل ساده خبره بریښي خو دا چې یوه مذهبي کورنی چې ټول غړي یې د مسیحیت د دریو بیلابیلو څانګو ( کاتولیك، پروتستان او ارتودوکس) ټینګ کشیشان وي، اسلام د خپل دین په توګه ومني، هر چا ته لږ نه، بلکه ډیره د حیرانتیا وړ ده.
فطرت ته بیرته ګرځیدل.
زه شخصاً(د اسلام راوړلو) کلمه مناسبه نه بولم او د هغې پر ځای (اسلام ته بیرته راګرځیدل) خوښوم او دا فهم مې د اسلام د تعلیمو څخه اخیستی دی. په ځانګړې توګه چې پیامبر صلی الله علیه وسلم فرمایي: "هر ماشوم په فطرت باندې(الله (ج)ته تسلیم) دنیا ته راځي او دا د هغه مور او پلار دي چې هغوی مجوسي، عیسوي، یا یهودي کوي." لدې امله د اسلام منل همدې لومړني فطرت ته بیرته ورګرځیدل دي.د اسلام د حقانیت په هکله باید یو څه ته اشاره وکړم چې یو شمیر کسان د هر دلیل په بنسټ چې وي تل خپل دین بدلوي او بل مني چې دا یوه عادي خبره ده، خو دا چې د نړی په ګوټ ګوټ کې د بیلابیلو ادیانو د واعظانو، کشیشانو، دیني لویانو او مذهبي خلکو څخه ډلي ډلي خلك

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه
ځانګړي دین ته ننوزي نو دا پخپله د هغه د حقانیت ثبوت دی.
مسلمانان دعیسویانوپه نظرپه خدای(ج) ایمان اوباورنلري.
وروسته لدې ما د ادیانو او مذهبو په هکله په څیړنو پیل وکړ، د یهودیت، بودایزم، هندویسم، د امریکا د اوسیدونکو معتقدات او نور ادیان مې مطالعه کړل خو اسلام هغه یوازینی دین وو چې ما د هغه په هکله څیړنه او مطالعه ونکړله، دا ځکه چې ما له اسلام څخه ډیره کرکه کیدل او د لویدیځ ډیر خلك همداسي دي. موږ ته ویل شوي وو چې مسلمانان په خدای(ج) ایمان نلري، هغوی د عربستان په ټاپو وزمه کې یو صندوق سپیڅلی ګڼي او سربیره پردې په ورځ کې پنځه ځله ځمکه ښکلوي.
موږ دا هم اوریدلي وو چې مسلمانان تروریستان دي، هغوي الوتکي تښتوي او د بتانو عبادت کوي.
د تحصیلي رشتې په توګه د موسیقي غوره کول
د وخت په تیریدلو سره مې د موسیقي له بیلا بیلو ډولونو سره مینه پیدا شوه په ځانګړي توګه د جوسبیك(۲) د موسیقۍ ډیر لیواله وم. لکه څرنګه چې زموږ د کورنۍ ټول غړي متدین وو او موسیقي یې خوښیدل نوما هم په ډیره مینه سره د موسیقۍ په زده کړه پیل وکړ او له دوو کلونو وروسته د کشیش رتبې ته ورسیدلم. په ۱۹۶۰زیږدیز کال کې مې د موسیقۍ د استدیو د جوړولو کار پیل کړ چې په ۱۹۶۳ کې په لوریل او ماریلاند کې د موسیقۍ د څو استدیوګانو خاوند شوم او هغوي مې د استیس د موسیقۍ د استدیو په نوم ونومولې.
بې ځوابه پوښتني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما او پلار مې په تیرو دیرشو کلونو کې په سوداګرۍ کې د یادولو وړ پرمختګ وکړ پداسي توګه چې په تګزاس، اوکلاهاما او فلوریدا کې مو د پیانو او اورګن لوی نندارتونونه جوړ کړل او لدې لاري څخه مو میلیونونونه ډالر ګټه لاس ته راوړل، خو لدې سره سره زه هیڅکله هم سکون او نفسي هوساینې ته (چې حقیقت ته په رسیدو سره لاس ته راځي) ونه رسیدلم. ډیرو زیاتو پوښتنو مې ذهن پریشانه کړی وو: زما پالونکی زه د څه لپاره پیدا کړی یم؟ هغه له ما څخه د کومو کارونو ترسره کول غواړي؟ اصلاً زما پالونکی څوك دی؟ ولي په لومړنی ګناه ( **original sin**) باور لرو ؟ د آدم (ع) بچیان ولي مجبور دي چې د هغه د ګناه پیټې یوسي او تر ابده پوري ملامت و اوسي...؟

خو له هر مسیحي عالم څخه چې دا سوالونه وپوښتې نو درته وبه وایي چې ته باید یوازي پدې څیزونو باندې ایمان ولري او د حقیقت په هکله پوښتنه ونه کړې ځکه دا هیچا ته هم څرګند ندي.

تر ټولو مهمه مسیله د تثلیت را ته ښکاري. د مسیحیت نړۍ د دې موضوع له حل څخه پاته راغلې ده چې څنګه واحد خدای(ج) په دری ګونو برخو بدلیدلای شي. او دا چې قادر او واکمن خدای(ج) په هر څه قادر دی خو نه شي کولای په مستقیمه توګه د بنده ګانو ګناه وبخښي نو لاچاره د انسان په بڼه بدلیږي او ځمکې ته را ښکته کیږي، د انسان په توګه ژوند کوي او وروسته لدې د ټولو انسانانو ګناه په خپله غاړه اخلي.

د لومړي ځل لپاره د مسلمان لیدل.

د ۱۹۹۱ کال په پاي کې زما پلار له یوه مصري سوداګر سره تجارت پیل کړه او له ما څخه یې وغوښتل چې له هغه سره وګورم، لومړی مې په سترګو کې د مصر اهرامونه، د ابوالهول مجسمه او د نیل ښکلی او تاریخي سیند را تاو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شول،خو
وروسته مې مور او پلار را ته وویل چې هغه مسلمان دی. دې خبري زه حیران کړم او هغه څه مې چې د مسلمانانو په هکله اوریدلي وو خپل پلار ته بیان کړل او ورته ومې ویل چې هغوي ترهګردي،هغوي الوتکي تښتوي، چاودني کوي او... تر دې لا پورته په خدای(ج) ایمان نلري، د ورځې پنځه واري ځمکه ښکلوي، په دښته کې یوه صندوق سپیڅلی ګڼي...
ما نه غوښتل د یوه مسلمان سره ووینم خو پلار مې ډیر ټینګار وکړ، بالاخره چې زه مجبور شوم او دا لیده کاته مې د څو شرطونو په ایښودلو سره ومنل.
د ملاقات وخت د یکشنبې په ورځ د لمانځه څخه وروسته وو. ما د تل په شان له لمانځه څخه وروسته انجیل په څنګ کې نیوی او صلیب به مې په غاړه کې پروت وو او ځانګړې خولۍ مې پر سر وه چې په هغه باندي لیکل شوي وؤ: "مسیح پخپله خدای دی" زما ښځه او دوه لونې هم راسره وې او موږ ټولو د لومړی ځل لپاره د یوه مسلمان سره د لیدو کاتو لپاره پوره تیاری نیولی و.
کله چې شرکت ته ننوتلم نو له پلار څخه مې وپوښتل: هغه مسلمان چیري دی؟ هغه د یو کس په لوري چې مخامخ ورته ناست وو اشاره وکړه. زه د هغه په لیدو حیران شوم.دا یو مسلمان نشي کیدلای.
ما د یوه قوي انسان د لیدو تمه کوله چې اوږدې جامې به یې په ځان کې وي، لوی پټکی به یې پر سر او اوږده ږیره به یې د کمیس تر لمنې پورې رسیږي، ګڼو وروځو به یې تندی پوښلی وي...... خو دې سړی ږیره نه درلودل، د سر ویښتان یې هم ډیر نه وو، هغه خوش برخورده، آرام، مهربانه او مؤدب وو او ما ته یې په مینه لاس راکړ.زما باور نه کیدلو. ما د دې ډول چلند تمه نه کول، زما په ذهن کې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



توند، تروریست، او بم ایښودونکی راګرځیدی. د دې وضعیت په لیدو مې له ځان سره وویل: دا مهمه نده چې له هغه سره سوداګري وشي او که نه، زما په آند خو دا سړی مرستي ته اړمن دی او باید ژر تر ژره هغه له ګمراهۍ څخه وژغورم او د الله(ج) لوري ته یې راوبلم. ځکه مې له لنډې مقدمې څخه وروسته تري وپوښتل:

: آیا په الله(ج) باندې ایمان لري؟
: هو
: ډیر ښه. آیا په آدم(ع) او حوا باندې ایمان لري؟
: هو
: ابراهیم علیه السلام څنګه؟ او دا چې هغه د خپل رب د خوښۍ لپاره د خپل زوی قربانۍ ته تیار شو؟
: هو
: موسیٰ علیه السلام او د هغه معجزې څنګه؟
: هو
: د نورو پیامبرانو لکه داود(ع)،سلیمان(ع)او یحيیٰ(ع)... په هکله مو نظر څه دی،آیا په هغوي هم ایمان لری؟
: هو

دې خبرو زه حیران کړم خو له حیرانتیا پورته ډیر خوشحاله شوم او له ځان سره مې وویل: ښه! خبره تر هغه څه ډیره آسانه ده چې ما تمه درلودل. اوس نو وخت رارسیدلی چې مهمه او اساسي پوښتنه تري وکړم.
: آیا په عیسیٰ علیه السلام ایمان لری او دا چې هغه د الله(ج) له لوري رالیږل شوی دی؟
: هو
دا ماته ډیره هیښونکې وه.ځکه تردې مهاله ما ګومان کوي چې مسلمانان د حضرت عیسیٰ علیه السلام دښمنان دي البته موږ ته دا راښول شوي وو. له همدې امله مې هغوي ډیر بد ګڼل خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس دا
زما لپاره ډیره حیرانونکې وه چې مسلمانان په تورات او هم انجیل باندي ایمان لري .په عیسیٰ علیه السلام باندې هم ایمان لري چې هغه د الله(ج) پیغمبر دی او پرته له پلار څخه په معجزانه توګه زیږیدلی دی او دا چې عیسیٰ علیه السلام آسمان ته تللی دي.او په آخیره زمانه کې به بیرته را ښکته کیږي او د دجال په وړاندي به د مسلمانانو رهبري کوي.
اوس نو عیسویت ته د هغه ننوتل دومره زیار ته اړتیا نلري او یوازي د تعمید غسل ته اړتیا ده او زه د دې کار لپاره وړ سړی یم.
ما ډیر خلك مسیحیت ته داخل کړي وو خو دا به زما لپاره ډیره لویه لاس ته راوړنه وي چې زه یو مسلمان، مسیحي کړم.نو ځکه مي ورته وویل:
که دې خوښه وي نو یو ځاي به سره چاى وڅښو، هغه هم موافقه وکړل. په ګډه سره یوې نږدې قهوه خاني ته ولاړو او زما د خوښي د موضوع(عقاید او ادیان) په هکله مو خبري سره وکړې.
ما ډیرځه وویل او په ډیره تونده مې په اسلام باندې تیری وکړ خو هغه زما ټولې خبرې په سړه سینه اوریدلې

ملګرتیا او اغیز:
وروسته لدې لیدو کاتو نه راضي شوم چې د هغه سره په سوداګری کې بوخت شم. زه پوه شوم چې دا مسلمان په ښه توګه خبرو ته غوږ نیسي. آرام اوبا وقاره سړی دی، هیڅکله داسي پیښه نشوه چې هغه دې زما خبره پرې کړي،د هغه مېنې زما په زړه کې ځای ونیوی او له ځان سره مي سوچ وکړ چې هغه په لوړه کچه بالقوه وړتیا لري او که لږ کوښښ پري وکړم کیدای شي ښه مسیحی شي خو پدې نه پوهیدلم چې د الله(ج) اراده بل څه ده او زه به پخپله د دغه مسلمان ښکار ګرځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ګډه سره مو په کار پیل وکړ او حتا څو سفرونه مو هم سره وکړل، په سفر او هر بل مناسب وخت کې به مو د عقایدو او ادیانو په هکله سره خبري کولې او پدې ترڅ کې به مي د خپلو موضوع هغه جالب ټکي چې په تلویزون کې به نشر کیدل هغه ته بیانول . کله کله به مي هغه ته د مسیحیت دعوتي او تبلیغي کسیټونه هم ورکول تر څو هغه ته د ځینو موضوعاتو په هکله معلومات ورکړم لکه: الله(ج)، د ژوند مانا، د انسان د پیدایښت موخه، پیامبران... همدا راز هغه به هم وخت ناوخت له خپلو تجربو څخه را ته اورولې.

یو ګام وړاندې.

یوه ورځ خبر شوم چې محمد غواړي د هغه کور څخه چې کې اوسیدی ووځي . له پلارڅخه مي غوښتنه وکړه تر څو هغه زمونږ سره په کور کې ژوند وکړي پدې توګه به له یوه پلوه خپل کارونه په ګډه سره پر مخ بیایو او له بل پلوه کوم وخت چې زه په سفر باندې ځم نو به هغه زما په کورکې وي.

پلار مې موافقه وکړل او محمد زمونږ کور ته راغی او زمونږ سره یې ژوند پیل کړ . ما به هم طبعاً خپل مبشرین او کشیشان ملګري چې په مکسیکو او نورو نږدې سیمو کې په دعوت بوخت وو له ځان سره کور ته راوستل تر څو هغه له دین څخه واړوو.

زما یو کشیش ملګری وو چې څو ګزه اوږد د لرګي صلیب یې درلود، هغه به یې تل په اوږه باندې کشولو، کله به چې سړك ته ورسید نو لاره به بنده شوه، کله به چې خلك له موټرونو څخه را کوز شول چې څه خبره ده نو ده به ورله د مسیحیت په هکله پاڼې او نشریې ویشلي .یو وخت دغه کشیش د زړه په ناروغی اخته شو او په روغتون کې بستر وو .زه به په اوونی کې څو ځله د هغه پوښتني ته ورتلم.

له هغه سره د روغتون په خونه کې یو بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناروغ هم
وو.یوه ورځ هغه ته د پوښتني په خاطر ورغلم.
ما ورته وویل
: نوم دې څه دی
:تا ته مهم ندی.
: د کوم ځای یې؟
: د مشتري د ستوري.
زه پوه شوم چې دا سړی د یوازیتوب څخه ډیر ځوریدلی او دې ته اړ دی چې یوڅوك ورسره خبري وکړي.
د الله(ج) د ذات په هکله مې ورسره خبري وکړې او د یونس علیه السلام د کیسې یوه برخه مې چې په (عهد قدیم) کې راغلې ده ورته وویل چې څرنګه الله(ج) هغه د خپل قوم د هدایت لپاره راولیږی اما خپل قوم هغه تکذیب کړ...
د داستان نچوړ مې داسې ورته بیان کړ چې موږ هیڅکله له ستونزو څخه نشو تښتیدلای او الله (ج)تل پر موږ باندې واکمن دی.
زما دخبرو له پای ته رسیدلو وروسته هغه له ما څخه د خپل ناوړه چلند له امله بخښنه وغوښتله راته وویل چې په خراب روحي حالت کې دی او غواړي په ځینو څیزونو اعتراف وکړي.
ما ورته وویل
: زما دنده د خلکو د اعترافونو اوریدل ندي او نه هم دلته کلیسا ده.
: پوهیږم. زه پخپله هم یو کاتولیك کشیش یم.
زه هك پك شوم او له ځان سره مې وویل: څرنګه مې غوښتل یوه کشیش ته نصیحت وکړم!هغه دا هم وویل چې له دولسو کلونو راهیسي یې په جنوب، مرکز، نیویارك او مکسیکو کې د دعوتګر او مبشر په توګه دنده ترسره کړې ده.
وروسته لدې چې هغه له روغتون څخه رخصت شو نو ما ورته وړاندیز وکړ چې زمونږ سره په کور کې یو ځای ژوند وکړي تر څو وکولاي شو له هر لوري محمد مسیحیت ته دعوت کړو او خپل دین ته یې راواړوو. هغه هم ومنله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نوي کشيش سره مو د اسلام په هکله خبري وکړې، هغه د اسلام نه ډير معلومات درلودل او د لومړی ځل لپاره يې را ته وويل:
کاتوليك کشيشان د اسلام په هکله ډير معلومات لري آن دا چې خپلې د دکترا رسالې د اسلام په هکله ليکي. وروسته لدې چې کور ته راغی نو هره ورځ وروسته له ډوډی څخه به سره کښينستلو او د اديانو او عقايدو په هکله به مو خبري کولې.
زما پلار به د (ملك جايمز انجيل) له ځان سره راووړ.ما به (مراجعه) راسره راووړ. ميرمنې مې بل انجيل درلود او جالبه خو لا دا چې کاتوليك کشيش به کاتوليکه نسخه له ځان سره راوړله چې زمونږ له انجيلو سره يې څرگند توپير درلود او اووه جزوې يې زياتي وې همدا ډول پروتستانت نور انجيلونه لري.
موږ د دې پر ځای چې محمد پدې قانع کړو چې اسلام پريږدي ډير وخت به مو پدې تيريده چې کومه نسخه د انجيل سمه ده او هر يوه به د خپل انجيل د صحت ادعا کول او نور انجيلونه به يې تحريف شوي گڼل.
يو شپه مو د تل په شان د انجيل د نسخو په اړه بحث او خبرې کولې چې زما ذهن ته يوه پوښتنه راغله او له محمد څخه مې وپوښتل: د دغو څوارلس سوو کلونو په موده کې چې د قرآن له نزول څخه تير شوي دي تاسې د قرآن کريم څو بيلابيلې نسخې لري؟
محمد په آرامی سره ځواب راکړ:قران يوازي يو قرآن دی او تر اوسه يو کوچنی بدلون هم ندی کې راغلی.بلکه همغه وخت چې نازليدی د پيغمبر په سلگونو صحابه وو حفظ کولو او په بيلا بيلو ملکونو کې نشر شو او په زرگونو مسلمانانو په بيلابيلو ملکونو کې پرته له کوچنی تيروتني څخه په ياد کړ او په تواتر سره ( د ميليونونو انسانانو په زړونو کې حفظ او په ميلياردو نسخو کې ليکل شوی) موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته رسیدلی دی.
زه د دې خبرې په اوریدو ډېر حیران شوم ځکه آن په هغه ژبه چې انجیل پرې نازل شوی اوس هیڅوك نه پوهیږي او د انجیل اصلي نسخې هم ورکې شوي دي خو قرآن په همدې ساده گی او آسانی سره دوي ته رارسیدلی دی او اوس هم په میلیونونو وگړي پرته له کومي ستونزي څخه په عربي ژبه خبري کوي .
یوه ورځ کاتولیك کشیش له محمد څخه وغوښتل چې هغه له ځان سره جومات ته بوزي تر څو د هغوي د عبادت څرنگوالی وگوري. کله چې بیرته راوگرځیدل نو ما له کشیش څخه د مسلمانانو د عبادت او مذهبي شعایرو په هکله پوښتنه وکړه.هغه وویل: مسلمانان مي ولیدل چې د خپل خدای(ج)په حضور کې یې لمونځ وکړ او بیرته له جومات څخه ووتل.
ما ورته وویل: د موسیقۍ د اوریدلو پرته له جومات څخه ووتل؟
هغه په ځواب راکړ : هو همداسي پرته له کومي موسیقۍ څخه یې لمونځ وکړ.
کشیش په نوې جامه کې.
څو ورځي وروسته بیا کشیش له محمد څخه وغوښتل چې هغه جومات ته له ځان سره بوزی. خو دا ځل له جومات څخه ژر را ونه گرځیدل او موږ تر ډیره هغوي ته منتظرو. هغوي نیمه شپه کور ته راورسیدل او د دروازې زنگ یې ووهلو، ماچې کله دروازه خلاصه کړه نو له محمد سره یو ځای چې کوم شخص ولاړ وو ما ونه پیژندلو، هغه سپینې جامې اغوستې وې او خولۍ یې پر سر وه . کله چې ورته ځیر شوم چې هماغه کشیش وو خو اوس په بله جامه کې راغلی و.
په حیرانتیا سره مې ورته وویل: ښاغلی کشیش! ته مسلمان شوی یې ؟
: الحمد لله چې په اسلام مشرف شوي یم.هو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کشیش مسلمان شوی وو .نور نو باید څه شوي وای؟ زه په زینو کې پورته شوم او دوهم پوړ ته لاړم تر څو له ځان سره سوچ وکړم. آیا هغه په رښتیا سره نیکه لار موندلې وه؟ که چېري داسي وي نو زه به ډیر بدبخته وم چې له میلمه څخه ورسته پاتې یم. پدې سوچونو کې ډوب وم چې ښځه مې کوټې ته راغله.ما ورته د کشیش د مسلمانیدو په اړه خبري وکړي او خپل سوچونه مې د هغې په اړه ورسره شریك کړل. په ناباوری سره مې له هغې څخه واوریدل چې له ډیر وړاندي څخه یې تصمیم نیولی چې اسلام ومني، ځکه چې هغه حق دین دی.
زه اوس پوره هك پك پاته وم. دا څه راوشول؟ زه باید څه وکړم. په همدې ذهني ستړیا کې چې خوب مې یې له سترګو نه وړی ،د محمد خونې ته ورغلم او هغه مې له خوبه راویښ کړ. له هغه څخه مې وغوښتل چې دباندي راسره ولاړ شي تر څو خبري سره وکړو. موږ ټوله شپه قدم ووهلو او خبري مباحثه مو کول.
د مسلمانانو د سهارد لمانځه وخت رارسیدلی و او حق ته زما د رسیدو نیته هم نږدې شوې وه.
د سهار تر لمانځه پوري مو سره خبري او مناقشه کول، ټول شبهات او پوښتني مې چې درلودې په سپینه مې ورته واورولې. وروسته زما یقین راغی چې اسلام د ځمکي پر سر یوازینی حق دین دی او د دې وخت را رسیدلی چې زه هم خپله دنده تر سره کړم او نور ځان لدې حق څخه بې برخي نکړم.

عجیبې شیبې.

ډیري عجیبې شیبې وې. پاملرنه وکړئ! زما په شان یو نشیط دعوتګر چې خپل ژوند یې د مسیحیت د تبلیغ لپاره وقف کړی وو مسیحیت پریږدي او د تل لپاره هغه دین مني چې تر ټولو زیاته کرکه یې تري درلوده.هو د اسلام دین! هغه دین چې د هغې پر ضد د غربي رسنیو تبلیغاتو د نړیوالو غوږونه کاڼه کړل او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسيحي دعوتگرو د شپو او ورځو دعاګانې د حکومتونو د پيسو تر څنګ د هغه پرخلاف کار کوي.

اي الله(ج) ! ما ته لارښونه وکړه.

د کور تر شا باغچې ته لاړم او تندی مې د مسلمانانو د قبلې په لوري په خاورو کيښود او د اوښکو څخه په ډکو سترګو مې په عاجزی زاريو سره له خدای(ج)نه وغوښتل چې ما ته حق دين را وښيي. څو شيبې وروسته مې سر راپورته کړ، نه مي پرښتې وليدې چې له آسمان څخه راښکته شي، نه مې کوم نور وليد، نه مې څه غږ واوريد، او نه مې هم سپينې کوترې ليدو ته راغلې، خو په خپل ځان کې مې يو عجيب شانته بدلون احساس کړ. له خپل تير تياره ژوند څخه چې په کفر، شرك او ناروا کارونو کې مې تير کړی و پښيمانه شوم او په نيکمرغه راتلونکي او د اسلام په روښنايي باندې چې د لمر له وړانګو څخه توده او له رڼا څخه يې رښنايي روښانه وه مطمين شوم.

خپلې خونې ته لاړم، غسل مې وکړ او سپين رنګه جامې مې واغوستلې ځکه غوښتل مي نوی او تازه ژوند پيل کړم.

د سهار يولس بجې وې چې د دوو شاهدانو په وړاندې چې يو يې مخکينې مسيحي مبلغ ( پلار پيتر جاکوب ) وو او بل يې مصري متعهد مسلمان ( محمد عبدالرحمن مصری ) وو ما شهادتين وويل:

(اشهد ان لا اله الا الله و اشهد ان محمد عبده و رسوله)

زه شاهدي ورکوم چې پرته له الله(ج)څخه بل هيڅ برحقه معبود نشته او شاهدي ورکوم چې محمدصلي عليه والسلام د هغه بنده او رسول دی.

څو شيبې وروسته زما ښځې هم ايمان راووړ،خو پدې توپير چې هغې د دريو مسلمانانو په وړاندې د توحيد کلمه وويل چې دريم شاهدزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله وم.
پلار مې تر اوسه هم محتاط وو او دې خبرې ته یې د شك په سترګه کتل. او څو میاشتې وروسته هغه هم ایمان راووړ او زمونږ سره به جومات ته تللو.

اوس څو شیبې تامل وکړئ او پدې کې سوچ وکړئ چې څرنګه یوه عیسوي کورنۍ چې د بیلابیلو ډلو پیروان د خپل خالق(ج) او رازق(ج) په پیژندلو کې سره متفق شول او اسلام یې غوره کړ. دا یوازې د الله تعالیٰ مهربانې وه چې زمونږ د سترګو نه یې هغه سترې پردې لیرې کړې تر څو په اسلام مشرف شوو. که چیرې دا کیسه همدلته هم ختمه کړم نو بیا هم جالب داستان دی، د دریو بیلابیلو مذهبي ډلو علما، په یوه وخت کې یوه کامله متضاده عقیده د ځان لپاره غوره کوي خو دا داستان همدلته پای ته نه رسیږي.

زمونږ ماشومان.

هغوي مو د نصرانیانو له مدرسو څخه راوایستل او د مسلمانانو په ښونځیو کې مو شامل کړل. د څو کلونو په اوږدو کې یې د قرآنکریم ډیره برخه حفظ کړه او د اسلام سپیڅلي ښووني یې زده کړې.میړه مې زموږ د کور وروستی غړې وه چې اعتراف یې وکړ چې عیسیٰ علیه السلام د خدای(ج) زوی نشي کیدلای بلکه دا د الله(ج) پیغمبر دی او د اسلام دین یې ومنلو.

دا یوازې موږ نه وو چې اسلام مو ومنلو بلکې ډیر زیات مسیحي کشیشان پیژنم چې د څیړنې او مطالعې وروسته یې د اسلام دین منلی دی.

په همغه کال کې د تکزاس په ایالت کې له یوه عیسوي زده کوونکي سره مخ شوم چې د قران کریم له مطالعې وروسته مسلمان شوی وو، همدا راز مې یو کاتولیك کشیش را یادیږي چې په یوه پوهنتون کې یې پداسې بڼه د اسلام ښیګڼې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیانولي
چې زه مجبور شوم هغه ته ورغلم او د مسلمانانیدو د علت پوښتنه مې ترې وکړه. هغه را ته وویل: زه مسلمان نه یم خو دا د اسلام ښیګڼې دي چې ما ته څرګندې شوې دي، هیله لرم چې هغه هم یوه ورځ خپل اسلام اعلان کړي.
پوره یو کال وروسته له مخکیني کاتولیك کشیش سره مخ شوم چې اته کاله یې په افریقا کې د مسیحي مبشر په توګه تیر کړي ول او بالاخره هملته له اسلام سره آشنا شوی و او هملته مسلمان شوی و. هغه د خپل ماموریت په پای کې خپل نوم عمر اړولی وو او بیرته تکزاس ته را ګرځیدلی و.
دوه کاله وروسته د تکزاس په سن انتنیو کې وم چې د یوه مخکیني روسي ارتودوکس سر اسقف سره مې وپیژندل چې د اسلام په راوړلو سره یې خپل مخکینی مقام او دنده له لاسه ورکړې ول.
له هغه نه چې مسلمان شوی یم د امام او مبلغ په توګه د امریکا په ګوټ ګوټ او نورو هیوادونو کې فعالیت کوم. له ډیرو رهبرانو، ښوونکو او څیړونکو سره پیژنم چې له څیړنې او تحقیق وروسته مسلمان شوي دي. هغوی وړاندې د بیلا بیلو ادیانو او مذهبو له هندویزم، یهودیت، کاتولیك، پروتستان، شاهدان یهوه، د روسي او یونان ارتودوکس، مسیحي قبطیان او آن ملحدین او بیدینان ول. ولې؟ دا جالبه پوښتنه ده. ځکه هغوي په رښتینې توګه د حقیقت په لټه کې ول.
د حقیقت پلټونکو ته.
زه د حقیقت پلټونکو د ذهن د پاکوالي لپاره لاندې نهه ګامونه ښیم.
۱خپل زړه، ذهن، روح او روان تر وسه پوري له هر ډول شکونو څخه پاك کړئ.
۲له هر ډول تعصب څخه خپل ذهن پاك کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳د قران کریم یوه سمه او ښه ژباړه که په هره ژبه چې ښه پوهیږی، پیدا او په دقت سره مطالعه کړئ.
۴د مطالعي لپاره ځانګړی وخت وټاکئ.
۵له مطالعي وروسته په آیتونو کې تدبر وکړئ.
۶له هغې وروسته سوچ وکړئ او له خپل خدای(ج)سره راز او نیاز وکړئ.
۷تل له هغه خدای(ج)څخه چې تاسي یې پیدا کړي یاست د هدایت غوښتنه وکړئ.
۸دا کار په منظمه توګه څو میاشتي تر سره کړئ.
۹پدې موده کې چې د نوي روح او روان د زیږیدو په تکل کې یاست هغو کسانو ته چې مسموم اذهان لري اجازه مه ورکوئ چې تر اغیزې لاندي مو راولي.
نور کار ستاسي او ستاسي د پالونکي(ج)تر منځ دی، که چیري تاسي په رښتینې توګه د هغه سره مینه لري،هغه له مخکې پرهغه څه خبردی چې مونږځني خبرنه یو.
الله(ج)دې موږ ټولو ته د نیکې لاري د تګ لارښونه وکړي او زړه او روح مو د حقیقت منلو ته تیار کړي.
شیخ یوسف په انټرنیټ کې.
شیخ اوس په نړیوال مسلمان بلونکي اوښتی چې د نړی کم شمیر مسلمانان به د هغه له نوم، هڅو او دعوت څخه ناخبره وي. د نړی په هر سر کې چې مسلمان علماو سره ټولیږي نو شیخ به حتماً هلته حاضروي.
هغه د انټرنټ پاڼي د ځان لپاره په یوه دعوتي ممبر اړولې او د نړی د ګوټ ګوټ وګړو ته د الله(ج)پیغام رسوي
په همدې ورځو کې چې په هند کې د وتلي مسلمان دعوتګر، ډاکټر ذاکر نایک په نوښت د سولې لس ورځنی نړیوال کانفرانس جوړ شوی و، شیخ یوسف هم هلته ورغلی وو چې د ماشومانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



روزنې په
هکله یې ډیره په زړه پورې وینا واورول.
(۱) په مسیحیت کې دا دود دی چې کله ماشوم د تمیز مرحلې ته ورسیږي نو د دې لپاره چې مسیحي شي نو هغه ته په ځانګړیو مراسمو کې غسل ورکوي کیږي چې دې ته د تعمید غسل یا **baptism** وایي او دا د هر نوي عیسوي کیدونکي لپاره اړین دی.
(۲) دا د عیسویانو یو ډول مذهبي موسیقي ده.

# فاطمه (نور) مسلمانه شوه

ژباړه: استاد عزیزالرحمن حبیبي

دادیوې داسي ښځې سره شوې مرکه ده چې داسلام راوړلوڅخه وړاندې یې دهندې مذهب سره اړیکې لرلې.کورنی یې دهندوستان دسخت دریځه هندوتنظیم (شیوسینا)سره اړیکې لرلې.دفاطمې (نور) نوم داسلام راوړلوڅخه وړاندې(کویتا)وچې دنوموړې سره یوه تفصیلي مرکه ددې په خاطرشوېده چې اسلام یې ولې اوڅنګه قبول کړ؟اوله دې پریکړې څخه وروسته دڅه ور ستونزوسره مخامخ شوه.
سوال: داسلام راوړلوڅخه وړاندې ستانوم څه شي و؟
ځواب: داسلام راوړلوڅخه مخکې زمانوم (کویتا)و،چې دکورنی غړودزیاتې مینې له کبله چې راسره یې درلوده پونم بللم.
سوال: اوس داسلام راوړلوڅخه وروسته ستانوم څه شي دی؟
ځواب: ماداسلام راوړلوڅخه وروسته دځان لپاره دفاطمه نور نوم خوښ کړ.
سوال: ته چیري پیداشوې یې؟ اودڅوکالویې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب: زه دهندوستان په ممبيي ښارکې پيداشوې يم. اوس دديرشوکلويم، خوزه ځان ديوپنځه کلن مسلمان ماشوم نه هم کم بولم، ځکه چې زمامعلومات داسلام په اړه ديوپنځه کلن ماشوم څخه هم لږدي.
سوال: دتعليمي استعدادپه هکله څه ويل غواړې؟
مامکتب دممبيې په ښارکې بشپړکړ، دلوړتعليم لپاره مي کمبرج په پوهنتون کې داخله واخيستله اودنوموړي پوهنتون څخه مي دماستری سندترلاسه کړ. همدغه رازمي دکمپيوټرپه برخه کې زيات تعليم کړي دي، پدي پښيمانه يم چې ددنيايي کارونولپاره مي زيات تعليمي اسناد ترلاسه کړي دي، خوداخيرت لپاره مي هيڅ ندي کړي، دادی اوس غواړم داخيرت لپاره هم ښه توښه برابره کړم.
سوال: دخپل ژوندپه هکله که له دې زيات څه وواياست مهرباني به مووي؟
ځواب: ماچې دممبيي ښارپه کوم مکتب کې زده کړې کولاي، هغه ډيرلويه ښوونځی وو، ددولتي لوړرتبه چاروکواوشتمنوخلکواولادونه پکې زده کړي کولي.
سوال: ستاوالده چيري شوي اوخواولادونه لري؟
ځواب: زماوالده دممبيې په ښارکې شويدی اوله واده وروسته له خپل خاونداودووزامنوسره بحرين ته راغلم.
سوال: اسلام دي څنګه قبول کړ؟
ځواب:
داپرمابانـدي دالله تعالیٰ فضل وچې په اسلام راوړلو يې مشرفه کړم. لکه څرنګه چې نبی عليه السلام فرمايلي دي( کله چې الله تعالیٰ دچالپاره خيروغواړي نوپه دين باندي پوهي ورپه برخه کړي)نوزه وايم چې داد الله تعالیٰ فضل اوکرم وچې اسلام مي قبول کړ. زه په يوه سخت دريزه کورنۍ کې چې داسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



اومسلمانـ
انوسره یې سخته دښمني درلوده ږیږدلې یم.ماله واده کولوڅخه وروسته اسلام ومانه،مادهمیشه لپاره دبوتانوعبادت نه خوشاوه،په ځانګړي ډول کله چې بلوغ ته ورسیدم زماپه یاددي چې یوځل مایوبوت دکورپه تشناب کې کیښود،کله چې زماموردهغه په هکله زه وپوښتلم نوماورته وویل: په داسي حال کې چې هغه تاسي ته هیڅ شي نشي کولای نوتاسي ولې دهغه عبادت کوي اودهغه په وړاندي ولې سرټیټوي؟زمونږپه ټولنه کې یوبل رواج داوه چې کله انجلی واده کیده نوهغې به دخپل خاوندپښې پریمنځلي اوهغه اوبه به یې څښلې چې ماددې رواج له سرته رسولوسره انکاروکړ،خوخلکوله ماڅخه پوښتنې شروع کړې چې داکاردي ولې ونکړ،خومایي پوښتنوته ځواب ورنکړ.
سوال: د اسلام په لور مو څنګه میلان پیدا شو؟
ځواب: دمسلمانانولمانځه زه زیاته متاثره کړم،دمسلمانانوداډول حرکت به مالیدل،خوزه پدې نه پوهیدم چې دوي څه کوي،ماداګمان کاوه چې دابه دورزش کوم ډول ځانګړي حرکات وي،خوپه اسلامي مرکزکې ماته معلومه شوه چې داحرکات نه بلکې لمونځ کول دي.
سوال: ستاکورنی ته ستاداسلام راوړل څنګه معلوم شول؟
ځواب: دواده څخه وروسته زه بحرین ته لاړم،چیري چې ماته په اسلام باندي دپوهیدلوزیاته زمینه برابره شوه ځکه دااسلامي هیواد و اودکورپه شاوخواکې دمسلمانانوکورونه و،زمادیوې مسلمانې انجلی سره ملګرتیا پیداشوه چې هغه زمونږکورته کله ناکله راتلله خوزه زیاته ورتلم.یوه ورځ ماغوښتل چې دهغوي کورته ورشم خوزه یې کورته پرینښودم،ماورڅخه پوښتنه وکړه چې داولې؟هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راته وویل چې دادرمضان المبارك (روژه) میاشت ده اوداتوله دعبادت میاشت ده،ستاپه راتګ سره زمونږپه عبادت کې خلل واقع کیږي.زه دهغوي کورته ددې لپاره زیاته ورتلم چې دمسلمانانودژوند اوطریقې څخه ځان خبرکړم.نوماورته وویل چې زماهدف دادي چې اسلام اومسلمانان وپیژنم،مامه منع کوه،زه به ستاسوپه عبادت کې هیڅ خلل واقع نکړم،زه ستاسي عبادت ګورم اوهیڅ ډول خبري به درسره نه کوم.

اخیرته هغې زماخبره ومنله،کله چې هغې عبادت کاوه مادهغې نقل کاوه ،بیاما ورته وویل:

ماته هم تمرین راکړه.

هغې ماته وویل:

دالمونځ دي داکوم کتاب چې مونږیې لولوهغه ته (قران مجید) وایي.

ماهغې ته وویل:

زه هم دغه ټول کارونه کول غوارم،بیاهغې ماته دقران کریم یوه نسخه راکړه چې ماله ځانه سره کورته یوړه اوپه یوه بنده خونه کې مي دهغه تلاوت کاوه چې زیاته وربانديي نه پوهیدم اوهملته په خونه کې مي لمونځ هم شروع کړ.یوه ورځ ددروازې بندول زماڅخه هیرشوي واولمونځ مي کاوه چې میړه مي خونې ته راننوت له ماڅخه یې وپوښتل چې داته څه کوي؟

ماځواب ورکړچې لمونځ مي کاوه،هغه راته وویل:

ته په هوش یې؟ حواس دي کارکوي؟ اوبیایې ډیر په قهراوغوسه راته وویل چې ته پوهیږي چې څه دي کول؟

ماچې کله هغه دقهراوغوصې په حالت کې والیدی زه هم یوڅه ځني وویریدم،د ویرې له امله مې سترګي بندي کړې،خوبیاماپه ځان کې داسي قوت محسوس کړچې زه وربانديي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دستونزومـ
قابله کولاي شم،ډیرپه زوره مې چیغي کړي اوورته ومي ویل چې مااسلام قبول کړي دي اوتاچې کوم څه والیدل هغه مالمونځ اداکاوه.
میره مې راڅخه بیاپوښتنه وکړه چې داتاڅه وویل؟یوارbیا هغسي ووایه؟
ماورته بیاپه ډیرقوت سره ځواب ورکړاوورته ومې ویل:
هو،مااسلام قبول کړیدی.داخبره یې چې کله واوریده نوزماوهل یې پیل کړل.کله چې زماخورزمادوهلواوټکولواوزواوریددستي راغله.میره چې مې زماخور والیده زه یې پریښودم اوهغې ته یې زماټوله کیسه وکړه.بیامي خپلې خورچې لماڅه ډیره مشره وه هغې هم پسي ووهلم.ماورته وویل:
زماپه وړاندي خندمه جوړیږي،کمه لاره چې مادځان لپاره غوره کړیده زه به پوهیږم چې همدالاره زمالپاره ښه ده اوزه به وربانديي تګ ته دوام ورکړم.دې خبري زمامیره ډیرپه غوصه کړاودومره زیاته یې ووهلم چې دزیاتووهلوله امله بې هوښه شوم.
سوال: کله چې تاسره زورزیاتي روان وستااولادونه چیري وو؟اوهغوي په هغه وخت کې دځوکلنوول اوبیاهغوي څه شول؟
ځواب: زمازامن په کورکې وو،زمامشرزوی په نهم صنف اوکشرزوی مي په اتم صنف کې زده کړي کولي،لدې څخه وروسته په مابندیزولیګیدی اود هیچاسره زماملاقات نه کیدی،زه یې په یوه بنده خونه کې بندی کړم،که څه هم مااسلام په منظم ډول نه وراوړی،خوهغه الفاظ چې انسان داسلام په دایره کې داخلوي زماپه یادوه اوهغه به مې لوستل چې کلیمه شهادت وه.
یوه شپه زه په بنده خونه کې وم چې زمامشرزوی مې خونې ته راغی اوپه مایي ځان راوغورځاوه اوراته وژړل.ماورڅخه پوښته وکړه چې دکورنورغړي چیري دي؟هغه راته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوي ټول دکوم پروګرام لپاره تللي دي اوپه کورکې هیڅوك نشته.بیایې راته وویل چې دکورنوروغړوستادوژلو اراده کړیده،ته بایدله کوره څخه وتښتې.ماورته وویل:

داممکن نده،خوهغه پدي ټینګارکاوه چې زه دکوره څخه وتښتم.بیاماورته وویل چې په ځان اوکوچنی ورورډي پام کوه،خوکه زه ولاړه شم بیاخوزمونږاوستاسوملاقات نه سره کیږي،بیایې راته وویل:

که ژوندي وحتماًسره لیدلاي شو،خو اوس هرڅومره چې ژروي ته بایدولاړه شي.زه یې مجبوره کړم اوله کورڅه دوتلواراده مې وکړه.زه هغه شپې نشم هیرولي چې زمامشرزوی خپل کشروروردخوبه څه رابیدارکړاوورته وویل چې مورځې،اوس یې لاووینه بیاخدای(ج) خبرچې وبه یې وینې اوکه یا؟زماکوچنی زوی دخوبه راپوره شو،سترګې یې موښلې اوزماپه طرف یې راکتل،کله چې زه دکوره څه راووتلم نوهغه ډیرسخت ژړل اوراته ویل یې مورې ته ځې؟ماورته وویل:

بیاسره ګوروواوس ډیرناوخته دي،بیامې له دواړوزامنوسره مخه ښه وکړه،زماپه زړه کې داولادونوزیات محبت ووخوداسلام مینه اومحبت وربانديغالب شو،که څه هم زمازخمونه چې دډیروهلوپه نتیجه رامنځته شوي ودپیاده تګ قابل نه وو،خودتللوتکل مې وکړ.دکورپه مرکزي دروازه کې زمادواړه زامن ولاړول،په سترګوکې یې اوښکي ځلیدي اوماته یې دخداي په امانې ویل.داشیبې زه هیڅ نشم هیرولای.ماته دمهاجرینو هغه حالات رایادوي چې هغوي کله داسلام په خاطرخپل کورونه اوخپلوان پریږدي.

سوال: له دې څخه وروسته چیري ولاړې،اواسلام دي څنګه قبول کړ؟

ځواب: زه چې کله دکورڅه ووتلم په لومړی سرکې دپولیسومرکزته ورغلم، هغوي زماپه ژبه نه پوهیدل،خویوې لږپه انګریزي خبري کولاي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې. زه
ډیره ستړې،ناارامه اوواړخطاوم.ماله هغوي
څخه غوښتنه وکړه چې لږارام ته مې
پریږدي،بیابه کیسه درته وکړم.لږوروسته مې
خپله کیسه ورته وکړه اوورته ومې ویل:
ماخپل کورپرایښي اوغواړم چې اسلام
راوړم. هغه پولیس چې په انګریزي باندي
لږلږي پوهیدی هغه راته تسلي راکوله اوویل
یي چې مونږهم مسلمانان یو،له تاسره به
مناسبه مرسته کوو،بیایې زه خپل کورته بوتلم
اویوه ځانګړې خونه یې ماته راکړه.بله ورځ
زماخاونددپولیسومرکزته راغی اوهغوي ته یې
ویل چې زماښځه چاتښتولې ده؟
پولیسوورته وویل چې ستاښځه چاتښتولې
نده،هغه په خپله دلته راغلې وه اوغواړي چې
اسلام قبول کړي اوله تاسره هم بیرته نه
ځې،ځکه چې ته اوس مسلمان نه یې.خوزمامیړه
په خپله خبره ټینګاړکاوه په همدغه مهال زه
په خپله دپولیسومرکزته وروړسیدم اوورته مې
وویل:
زه له تاسره په هیڅ صورت بیرته نه
ځم.زماچې څومره زیورات،دبانك
کتابچه،نمبراوځمکه ده هغه یې ټول ستا.خوزه
درسره نه ځم،بیایې هم خپل ضدکاوه چې بیلاخره
یې زماټول مال،ځمکه اوزیورات په یوکاغذکې
ولیکل اوپه خپل نوم یې کړل.
دچاپه کورکې چې زه اوسیدم هغه راته وویل
چې اوس هیڅوك تاته نقصان نشي رسولاي،اوس ته
کولاي شي چې اسلام قبول کړې.مادهغه څخه مننه
وکړه .بیازه یوه روغتون ته لاړم،ځکه چې
زمابدن ټول زخمي زخمي وه، زه په روغتون کې
بستروم.یوډاکټرزماڅخه پوښتنه وکړه چې ته له
کوم ځاي څخه راغلې یې؟ستاکوم خپلوان
یادوستان ولي ستاپوښتنې ته نه راځي؟
زه چپ شوم اودهغه دپوښتنې ځواب مې
ورنکړ،ځکه چې ماکور،خپلوان اوهرڅه داسلام په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاطرپریښودل،کله چې زه په روغتون کې وم نوما به همیشه دراتلونکې په اړه فکرکاوه،چې چیري به ځم،خوچې دروغتون څخه راووتم نولومړی یو اسلامي مرکزته ورغلم چې هلته یو اځي یوسپین ږیری اومشرسړی و نورهیڅوك هم په هغه وخت نه ول.ماهغه ته خپله ټوله کیسه وکړه،هغه لږ دشك په سترګه راته کتل،وروسته یي راته وویل چې لورې!دالباس اسلامي لباس ندی،ته لاړه شه یوباحجابه لباس واغونده اوبیا راشه.زماسره یوڅه روپۍ وې،بازارته ولاړم اوپه بازارکې مې اسلامي لباس واخیست اوبیرته اسلامي مرکزته راغلم.نوموړی مشرداودس کولوطریقه راوښوده اوبیایې زه یوې خونې ته بوتلم چې هلته په خونه کې دبیت الله شریفي عکس هم وچې مخکې مې څوځله په خوب کې هم لیدلې و.زه ډیره زیاته خوشحاله شوم،دبیت الله شریفي مې نه پیژنده خوهغه سپین ږیری سړی راته وویل چې دالله (ج) کوردی.زه ددې په اورویدوسره حیرانه شوم اوورڅخه مې پوښتنه وکړه څنګه الله(ج) دلته اوسیږي؟مشرسړی په ډیره مینه اوخندازما دپوښتنوځوابونه راکول اوداسلام په رابطه یې ځانګړي معلومات وړاندي کول چې له ماڅخه ټولي پریښانۍ لري شوې،هغه زه په هره خبره په ډیر ښه تفصیل سره پوه کولم،ماته یې دشهادت کلیمه وویله اوبیایې داسلام په اړه ډیرڅه رازده کړل،چې زه ډیره وربانديي خوښه وم.ماداسي احساس کاوه چې دډیروچټلواوناولواوبوڅخه راوتلې یم اوپه خوراډیروپاکواوبوکې ژوندکوم.داسلام مرکزمشرزه خپله لوربللم اوزه یې خپل کورته دځان سره بوتلم،بیایې زماواده دیوې مسلمانې کورنۍ دیوغړي سره ترسره کړ.اوس زمایوازنۍ غوښتنه داده چې دبیت الله شریفي زیارت وکړم اوعمره اداکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شریفه کارلو،له مسیحیته تر اسلامه

لیکواله: شریفه کارلو
ژباړن: ایمل امیدي

(مخکې له مسلمانیدوڅخه به پوړنی راته پېغور معلومیدي، خوکله چې دخدای (ج) په فضل اوکرم سره مسلمانه شوم نو نظرمي دمسلمانانو په حجاب کولوتغیروکړ(یعنی ډیره مینه مې ورسره پیداشوه)

مخکې له دې نه چې مسلمانه شم پر مسلمانوښځوباندي به مې ډیرزرحم کاوي،ځکه دوي مجبورې وې چې تریوخیمې لاندي په پټه سره ژوندوکړي.زه په خپله ټولنه کې دیوې ازادې اودخپلې خوښې ژوندکولوپه څیرمي په امریکاکې ژوندکاوه،خوچې مسلمانه نه وم هروخت به په ډیرصداقت،مینه اوله بدوڅخه پاك ژوندمې خوښیدي،که څه هم زمادعمرپه څیرډیري ښځې له صداقت کولوسره مینه نه لري.

کله چې دایمان په نورباندي روښانه شوم،نظرمې سل په اتیاکې دحجاب په اړه تغیروکړ.په حقیقت کې ماوکولاي شول چې په کمه ټولنه کې چې زه ژوندکوم هغې لاره ته تغیرورکړم کمه چې له درواغواوفریب ورکولوڅخه جوړه وه،خوزه شکردخدای(ج) تعالیٰ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشم پرځاي کولاي ځکه چې زه هم په دې فریب کاره ټولنه کې له سره څه نیولې ترپښوغرقه وم خووتوانیدم چې ځان ځیني وباسم.

په دغه موده کې زمالپاره داډیرجالب ول چې ډیري ښځې مې د فرهنگ دترقي لپاره خپلې ټولنې ته راوغښتلې ترڅووکولاي شم نورهم ټولنې ته بدلون ورکړم.هغه ښځې عبارت دي له هنرمندانې،موډلنډاوهم رقاصوڅخه، چې لدغه لارې څه مونږکولاي شول خپل کلتورته ښه خدمت وکړو،ددې لپاره ترڅودنارینه وونظردځان خواته جذب کړو،خومونږنه پوهیدواوپدې کارکولوسره موځان ته فریب ورکاوه داځکه چې حقیقت ډیرترخه ول، کله به موچې دنارینه وونظردځان لپاره جذبوي نوپه کالوکې به نه ځاییدو.

زه داسلام دنورپه واسطه وتوانیدم ترڅودژوندتوري شپې په رڼابدلې کړم،زه په اسلامي حجاب سره وتوانیدم ترڅودنوروله خطرې څخه وساتل شم.څه وخت چې په اسلامي حجاب کې پټه شوم دډیروناروینه وواحترام مې دځان خواته راجلب کړ،ځکه هغوي ماته متوجي شول چې زه دخپل ځان دحفاظت لپاره قایله یم.هغه موقع وه چې دعقل دروازې راته دحقیقت ټول څه ځرگندکړل..

دبدلون نښه:

زه یوه داسي انجلۍ وم چې ډیري اروزوگانې مې په ژوندکې درلودې.پلارمې منصب دارودامریکاپه پوځ کې. کله چې زه ځوانه وم زمادپلارله دوستانوڅخه یوه راته پشنهادوکړترڅوزه په انجمن کې گډون وکړم،داځکه چې ډیرځوانانوته ضرورت وي.ددې انجمن مقصداوه ترڅوداسي پروگرامونه ولروچې داسلام مبین دین تخریب کړو.

هغوي زمالپاره څوعلمي دوري راته برابري کړي ترڅولدې لارې څه له اسلام سره اشناشم

(c) ketabton.com: The Digital Library



اووکولاي
شم په اینده کې داسلام دین ته زوروره ضربه ورکړم.
دپلاردوست مې راته قول راکړ،که زه وتوانیدم دامرحله په کامیابې سره پای ته ورسوم او په خپله رشته کې بین المللي تخصیص واخلم نوپه اینده کې کولاي شم چې په عربستان کې دامریکاپه سفارت کې دېوې کارمندې په حیث کاروکړم.
البته زمانهایي هدف لدې گامه داوه ترڅوله خپلې وظیفې څخه په سواستفاده سره دمسلمانانودښځوعقلونه په خپله والکه کې راولم.مونږدښځودحقوقوحمایت کوې.مادخپل پلارددوست دامفکوره خوښه کړه.
نومې هغه ښځې کوم چې مې دتیلویزون پرپرده لیدلې وې چې څنگه له فقراوبدبختۍ سره لاس اوگریوان دي لومړی بایدله هغوې سره خواخوږۍ وکړم ترڅوهغوې دازادې اودتمدن خواته متوجې کړم اوورته دشلم قرن ارزښت په ښه توگه رهنما کړم.
زه په ډیرې خوشحالۍ سره په داسازمان (انجمن) کې شریکه شوم اوخپل تحصیل مې شروع کړ. قران کریم اونبوي حدیث اواسلامي تاریخ مي له حده زیات لوستل.هغه څه مې ډیر له حده زیات خوښ ول کم چې ماورته خپلې نقشې ایستلې وې،یعنؑی داسلام بدنامه کیدل زماهدف و.مادا ډیرزده کړي و چې څنگه له کلماتوسره لوبي وکړم اووټولوته وښایم چې زه حقیقت وایم اوپه رښتیاچې پدې کارکې زه ترډیره بریده کامیابه هم وم.
ما له ډیرویهودي استادانوترلاس لاندي اسلامي علم شروع کړل،لکه شریعت،فقه،سیرت،تاریخ ،حدیث اوقران اوددې سازمان یوه فعاله غړۍ شوم،ورسره دمسلمانانودښځودحقوق سره مې پوره بلدتیادرلوده.زماډیره هیله او ارزو دا وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترڅودوي له قیداوبندڅخه خلاصې کړم او دوي له خپل حجابه څخه چې ددوي دازادي مانع کوونکی و لیري کړم.
خو....
داسلام پیغام لږ لږ په ماکې څه اثرپیداکړ،هغه وخت زه پوه شوم چې داکارخوله یوې خواڅخه کیږي اوداکار زمالپاره ددې باعث شو چې دقیق فکروکړم اوخپله لدې حالته څخه بایدخبره شم اوبایدعکس العمل وښیم ترڅوددې دین لپاره لاښه واکسینه شم.
زمالپاره دادباوروړنه وه چې ماته دي دیهودي استادانودرس کفایت کړې واي، نومې دهاروړډ پوهنتون له یوه استادڅخه چې هغه دمسیحي دین پوره تعلیم کړی و ورغلم.دافکرمې وکړترڅو هغه ته ورشم نوبه لاښه خپل هدف ته ورسیږم،خو....
دامسیحي استادته چې کله زه دزده کړې لپاره ورغلم هغه یومسیحي استادو،خودنورومسیحیانوپه رقم نه،هغه یو بل ډول ته مسیحي و چې هغه دخدای (ج) په وحدانیت ایمان درلوداوحضرت میسحي یې دخدای (ج) زوی نه بلکې دخدای(ج) پاك پیغمبرگڼی اوله دري گوني عقیدي(پلار،زوی،روح القدس **trinity,**) څخه منکرو. زه دهغه ددې کارپه لیدلواوویلوسره ډیره متاثره شوم اوپه زړه کې مې دیوه خدای(ج) باوروړ په زیاتیدوو،داځکه دامسیحي استادماته پخواني کتابونه چې عبارت دي له یوناني،عبري اوارامي څخه، زه یې په ډیروعقلي دلیلوسره په (دري گوني عقیدي،**trinity**) باندې باوري کړم ترڅو دا رښتینی ونه گڼم.
که څه هم ماته په مکتب کې ددې په باره کې څه نه ول ویل شوي،خوبیاهم په خپل ایمان باندي شکمنه شوم.لنډه داچې خپل تحصیل مې لدې استاده څخه زده کړ اوماچې کمه عقیده په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل
مسیحي دین درلوده هغه مې هم له لاسه ورکړه،خولامې اسلام نه وقبول کړي.
ماتردریوکلونوپوري خپل تحصیل چې په مختلفواسلامي علوموکې وي سرته ورسوي،ماغوښتل چې په اینده کې ښه لاسته راوړني ولرم.په دغودریوکلونوکې مې له زیاتومسلمانانوسره ولیدل اوله هغوي څه مې دهغوي ددین په اړه څه پوښتنې وکړي.ددغوکسانوپه مابین کې کم چې ماځني پوښتنې کولاي هغه یومسلمان وروروچې په اسلامي موسیساتوکې یې کارکوي،کله چې ماهغه والیدی نوماداسلام په اړه ډیربیځایه دلیلونه هغه ته وویل چې ماپه خپل ژوندکې داسلام پرخلاف باندي زده کړي و،خوهغه زماپه خبروهیڅ خوانکړه بده اوزه یې لاددې دین دلا ښه اشناکیدولپاره هڅولم.
څوورځې بعدهغه مسلمان کوم چې زه یې داسلام ددین دښه اشناکیدولپاره هڅولم راته زنګ وواهي چې نن یوه ډله دمسلمانانویوځاي کیږي اوغواړي چې دښارشاوخواووینې،که غواړي له مونږسره ګډون وکړې،نوکولاي شي،که کمه پوښتنه هم داسلام په اړه لري کولاي شي چې له ټولومسلمانانوڅخه یې وکړي،ماخوهمداسي موقع غوښتل چې له داسي مسلمانانوسره مخامخ شم،نومې ددې ورور پشنهاد قبول کړ.
دماښام لمونځ به شوې وچې زه هغه ځاي ته ورسیدم کوم چې ماته ویل شوي و،کله چې هلته وروورسیدم ومې لیدل چې زیات مسلمانان سره رایوځاي شوي دي اوداسلام په اړه په خپلومنځوکې خبري سره کوي.کله چې دوي زه والیدمه نوماته یې یوځانګړی ځاي راکړ چې یوپاکستاني شیخ چې له عمره ډیر لړوه خو په دین کې یې ډیرزیات معلومات درلودل،دهغه مخامخ کښینستم.
ماله هغه څه ډیري پوښتنې دقران اوانجیل په اړه وکړي خوزه یې په هرپوښتنه کې ملامته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولم اوداسي یوعقلي دلیل به راته ووایه چې مابا ورنشوکولای،خوکله چې ده لماځه کمه پوښتنه کول زه به کې راگیرشوم. لنډه داچې دامناظره دسهارترا ذانه پوري ختمه شوه.

په اخیرکې دې نتیجې ته ورسیدم چې په زړه کې مي هیڅ شك اوشبهه نشوه پاته،ځکه چې دامسلمان شیخ ماته داسي خبرې وکړې چې ماته تراوسه هیچاهم نه وې کړي،هغه زه اسلام ته دعوت کړم،دالومړی ځل وچې ماته یوچا داسي وويل چې اسلام قبول کړه.په دغه دریوکلونوکې مې له ډیرومسلمانانوسره په ډیروبحثونواومناقیشوکې گډون کړي وخوهیچاهم زه داسلام دین ته نه وم دعوت کړې.وروسته له مناظرې څه پدې پوه شومه چې داسلام دین پرحق دی اونورټول دینونه باطل دي،نومې دشیخ دعوت قبول کړ اوورته ومي ویل چې زه غواړم مسلمانه شم.کلیمه طیبه مې لومړی په عربي ژبه اووروسته مې په انگلیسي ژبه تکرارکړه...

په یقین اوپه باورسره قسم اخلم داچې کله چې مې دشهادت (کلیمه طیبه)وویل نوکم درونددوزن چې پر سینه مي پروت و راڅه لیري شو،ماوکولاي شول چې ښه نفس واخلم،له خدایه (ج) څخه پدې خاطرشکرگذاره شوم چې ماته یې دیونوی اوښه ژوندهدایت وکړ.

- سفردایمان په لور:

وروسته لدینه چې مسلمانه شوم،نومې له خپل مورنی وطن امریکاڅخه هجرت وکړاودکویت هیوادته ولاړم ترڅوپه ژورډول سره له اسلام سره اشناشم.په کویت کې له ډیرواسلامي کتابونوسره بلده شوم اووتوانیدم په ډیرواسلامي مسایلوباندي ځان پوه کړم.اوس هم په کویت کې دعوت واسلام ته اوداسلام لپاره تبلیغ کوم.

دعوت شوې فعالیتونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په
یوپسرلي کې دخبروکولولپاره چین ته چې دښځولپاره یوسازمان جوړشوې وزه هم وردعوت شوم،یوله دغه برناموڅخه یوه داوه چې غیرمسلمانوښځوته داسلام په اړه زیات تعریف وکړم.کله چې دخبرولپاره ستیج ته وروللاړه شوم،ډیري زیاتې ښځې راغلي وې چې له حده اوحسابه اوښتې وې.
په لومړي سرکې مې دښځودحق په اړه خبرې وکړي،څوکله چې مې دښځوپه اړه چې په اسلام کې ورته حق ورکړل شوي هغه خبروته ورسیدم نوله شاوخوااوکونجونوڅخه اوازونه پورته کیدل اوددې خبروپه ناخوښه کیدو یې اعتراض وکړاوزماخبرې یې قطع کړې.هره یوه راته ډیره خواشنی شوه اوکم دلیل چې مې ورته بیان کړې و هغه یې قبول نکړ.بایدپدې اړه مې فکرکړې واي.خوتصمیم مې ونیوی ترڅوهغوې په قاطع اوقانع دلیل سره ورته قناعت ورکړم.ټول دوجودانرژې مې راټوله کړه اوله خدای(ج) پاکه مې کمك وغوښتی،خبرې مې بیاسوکه سوکه شروع کړې اوبیامې په لوړاوازسره دوي داسلام مبین دین ته درابللولپاره رادعوت کړل اوپه همداسي ډول مې خبروته دوام ورکړ.هغوي ته مې وویل زماخبروته غوږونیسي، زه تاسوته دژوندکولوپه اړه دوه شیان دژوندپه اړه بیانوم اوبیاقضاوت ستاسوپه لاس کي دي چې کم ژونددځان لپاره بهتربولي.
لومړی ژوند.....
فرض کړي ستاسودعمرزیات وخت تیرشوې وې اوستاسولپاره لاتراوسه کم څوك دخواستګاری(مرکه) لپاره نه وي راغلي اوته دواده کولوله قطاره وتلې یې اوخپل ژوندبایدپه یوازي ډول سره سرته ورسوې اودژوندټول حاجیات په خپله برابرکړې. یادعاموخلکودلاس دلوبوسامان شي اوپدي توګه باندي خپل ژوندوکوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په غربي معاشره کې دهرسړي لپاره ګرل فرینډ(انډیوالـه) ساتل او بېغیر له واده څخه دسړي اوښځي تعلقات کومه نوې خبره نده مګر پداسي صورت کې ښځه یوبې سرنوشته ژوندکوي اودهغې پداسي صورت کې هیڅ قسم تحفظ نه وي مګر په هغه معاشره کې سړی نشي کولي دوهم واده وکوي ...داینده په اړه نه پوهیږي چې څه به وشي اوڅوك به درسره مرسته کوي... څنګه له چاسره پیژندګلوي بایدولري...څه شول ستا اولادونه ترڅودهغوي واده اوخنداګاني ووینې...څه وخت چې سپین سري شوې حتمي به له دوستانوڅه داطمعه لري چې ستاحفاظت وکړي... ایاستاسوداخوښیږي چې په تنهایي سره مړې شې؟ لکه څنګه چې په غرب کې له ډیرومجردوښځوسره همداسي شوي هم دي.

خودوهم ژوندمو:

فرض کړي داچې که موله عمره څه ډیروخت تیرشو...ډیرژراوپه چټکۍ سره دافکرکوې چې وخت تیریږي اماترڅوچې دواده له قطاره ځان ایستلی وبولې نوستالپاره دحل لاره شته...ته کیداي شي چې دوهمه ښځه دنارینه لپاره شې دشریعت له نظره ټول اختیارات به تاته درکول کیږي اوتاته به هرڅه معلوم شي چې ته واقعي یوه واده شوې ښځې یې...ته دخاوندله څنګه یوه له کرامته څخه ډك ژوندبه لري...هوته به دوهمه ښځې یې خوته بایدپوه شې چې ته په واقعیت کې په ټولوشیانوکې له هغه سره شریکه یې،دنارینه لپاره داواجب دی ترڅودښځوپه منځ کې حقوق یوشانته وساتي.هغه موقع ده اوکولای شي چې خپلو ارزوګانوته ورسیږې،دخاوندااولادونوپه منځ کې له اطمینانه څخه ډك ژوندبه لري...

هیڅ مسولیت ښځه دکارکولولپاره نه لري اوپه اسلام کې دټولي کورنۍ خرڅ په خاوندپوري اړه لري.دغه دکورنۍ خوشحالۍ پدې پوري اړه لري ترڅوښه په خوشحالۍ سره خوب وکړي اوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژونده
څخه راضي واوسې. تاسي پوهيږې چې کله مريضانې شوې نو هغه خاوندستاسوپوره مواظبت کوي اوستاسودتداوي لپاره شپه په ځان ورځ کوي اوتاسوتداوي کوي،کله چې له هغه څه ليري شې نوپه تاسوپسي يې زړه ناکراره وي اوتاسي به ورته ډيرې ياديږې....او..او..او....

کله چې مې دادوه دوره دژوندورته بيان کړل نومې پوښتنه ځني وکړه چې اوس راته ووایاست له دغه دوو څخه موکم ژوند خوښ دي،له تاسوڅخه هيله کوم په ډيرمينه ،ادب اوصادقانه ډول راته ځواب راکړي. هرڅوك چې دځان لپاره لومړی ژوندخوښوي خپل لاسونه دي پورته کړي...

خوچې وامي ليدل چالاسونه نه دي پورته کړي، بيامې ددوهم ځل لپاره خپل سوال تکرارکړ،خوهيچاهم لاسونه نکړل پورته.وروسته مې ددوهم ژوندپه اړه پوښتنه ځني وکړه کوم څوك چې ددوهم ژوندسره موافق وي هغه دي لاسونه پورته کړي.په ډيرتعجيب سره مې واليدل چې ډيروښځوخپل لاسونه پورته کړي ول،دهغوي له پاکه نيته اوصداقته څه مې مننه وکړه اوبيامې ورته وويل:

دادوهم ژوند،داژونديوي مسلماني ښځې دی چې داسلام په مبين دين مشرفه شوې وي اوداحق ورته يوازي اويوازي اسلام ورکړی دی.

اميدلرم خداي(ج) پاك زمونږدټولولپاره داسلام مبارك دين دهدايت ،امن اوسولي دين وګرځوی اوومونږته دحق لاره عطاکړي.

والسلام.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډېره خوشاله یم چې مسلمانه شوم
# (عایشه وایټ)

ژباړه: عبدالغفار جُبیر

دا یوه امریکایي مېرمن ده چې **(Patel White)** پیټل وایټ نومېده په (لاس انجلس) کې په جنوري، 25، 2009 کې مسلمانه شوه او دغه لاندنۍ کرښې د دې خپله لیکنه ده:
زما له کوچنیوالي څخه له مذهب سره ډېره مینه وه، د بې مذهبه شخص مې کرکه وه لکه د سیکولر، کمونیست او داسي نورو څخه.
په امریکا کې خو دومره ازادي ده چې لور مور ته او پلار زوی ته دا نه شي ویلای چې ته دکوم مذهب یا غیرمذهب پیروان یې. د زده کړي پر مهال مې هم له مذهب سره ډېره زیاته مینه وه.ژوندتېرېده، د هر مذهب خلک، رسوم، عقاید او خرافات به مې تر سترګو تېرول،کله خواشیني او کله بیا خوشاله، د تعلیم په سلسله کې و **(Bible College)** بایبل کالج (د انجیل پوهنځی) ته ورسېدمه.په بایبل کالج کې یوازې د اوسني انجیل **(Bible)** د حقانیت، د عیسایت، د قران خلاف توطیې، د مسلمانانوپه یونوم نه په یونوم تورول او بدنامول، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلام په
خلاف پروپاګندې او تورونه، مسلمانان هر ځای
ځپل، د حضرت محمد (ص) سپکاوی ثواب ګڼل او د
اوسني عیسایت ریښتنوالي او داسې نور د دې
کالج مهم درسونه ول.پوره دوه کاله مې په
بایبل کالج کې تېر کړل تر دې چې ترې فارغه
شوم، اوس نوموړ ته دا دنده راکول شوه چې
عملي کار وکړو، مطالعه وکړو، څېړنه وکړو او
څه ولیکو ترڅو بیا دولت موږ ته انعام راکړي
او په ټولنه کې نفوذ ومومو. له ځان سره مې
دا پرېکړه وکړه چې په انجیل خو خبره یې ښه
به دا نه وي چې د مسلمانانوپه کتاب
(قرانکریم) هم خبره شم؟!، چې دوی وایي دا د
خدای (ج) کتاب دی، د هندوانوپه کتاب (ویدا
او نورو) هم خبره شم دوي هم وایي چې دا هم
د خدای (ج) کتاب دی او داسې نور--- تر هر څه
مې لومړی دا هوډ وکړ چې په اسلام ځان پوه
کړم، نوپه دې تکل کې شوم چې یوه مسلمانه
ملګرې پیدا کړم، ډېر نژدې په ګاونډ کې مې
یوه مسلمانه پرتمینه مېرمن چې (فاطمه
محمود) نومېده اوسېده، دې په یوه اسلامي
مدرسة امحصنات کې ښوونکې وه.کور ته ورغلم د
سهار ناري (**Breakfast**)لپاره،دا ډېره په مینه،
ورین تندي او په خنداسره راووتله اوزماښه
هرکلی یې وکړ،څومره عزت یې چې په وس کې وه
په هغه اندازه یې زماميلمه پالنه وکړه، په
خندا مې ورته وویل:
تاسې مسلمانان تر ټولوخلکو مېلمه پال
یاست-
دې خواب راکړ:
زموږ خوږ پېغمبر(ص) موږ ته امر کړی دی چې
تاسې د خپلو مېلمنو عزت وکړئ.
بیامې پوښتنه ځني وکړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا زماسره دومره ښکلي رویه په خندااو ورین تندي وکړه چې زماڅخه دې ټول غمونه هېرکړل! دې وویل:

زموږ خوږ پېغمبر(ص) تر ټولو انسانانو لوړ اخلاق لرل، او هغه موږ ته ویلي دي: هر څوک چې له یوچا سره په ورین تندي ملاقات وکړي او له هغه څخه پرېشاني لیرې کړي نو لومړی به الله(ج) له دې سړي ګناهونه لیرې کړي او بیابه یې جنت ته داخل کړي-

د دې هرې خبرې په اورېدو سره مې د زړه په کوګل کې د بدلون احساس کاوه، دا خبره مې ورسره شریکه کړه چې مابایبل کالج پای ته رسولی که مې د اسلام مطالعه کوله نو ته به هرومرو را ته لارښوونه کوې، او کتابونه به را ته پیدا کوې، خوپه خندا کې مې ورڅخه وپوښتل چې د قرانکریم قېمت خوبه ډېرګران نه وي؟

دې را ته وویل:

لومړی خو قرانکریم وړیا دی، او که وړیا نشي پیدا نو ستاسو د یوه انجیل په قېمت زموږ پنځه (5) قرانکریمونه رانیول کېږي.

نوره پسې خوشحاله شوم، دا ځکه چې امریکا له ډېر بد اقتصادي بحران سره لاس او ګرېوان ده.بانک مې ډېر پوروړی دی او حال دا چې په بانک کې هېڅ ډالر نشته د یو نیم ساعت تېرولو څخه مې د اجازې غوښتنه وکړه، اجازه یې راکړه، د خپل مبایل، فاکس، ایمېل پتې اونمبرونه مې ورکړل، اوس نو زه د دې مسلمانې مېرمنې هر څه ځارم، د راوتلو پر مهال یې زما څپلۍ سمې کړې او دا یې راته وویل چې لومړی ښۍ څپلۍ په پښه کړه او بیاکینه، ما ورته وویل:

دا ولې؟

دې ځواب راکړ چې زموږ خوږ پېغمبر(ص) امر کړی دی چې خوراک په ښي لاس کوی، چې کله جامې اغوندی نو له ښي لوري یې پیل کوی، او چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله څپلۍ

په پښوکوئ نو لومړی ښی او بیا کینه په پښو کړئ زه پر همدغه ځای باندې هک پکه حیرانه شوم او له ځان سره مې په زړه کې وویل: څومره ښه دین دی، (1400) کاله وروسته د پیغمبر(ص) یوکوچنی امر څومره په مینه او لېوالتیا سره دا مسلمانان پر ځای کوي.دا واقعاً یوه غټه معجزه ده او دا پېغمبر(ص) سل په سلو کې ریښتنی دی دا ځکه چې ډېر غټ طاقتور خلک او پاچاهان تېر شوي دي خو سل کاله وروسته د هغه نوم او نښان ټول ورک شي. او دا د دې پیغمبر(ص) معجزه ده چې هره خبره یې هرمسلمان په خپل ژوند کې عملي کوي. په خوښی سره راووتلم او خپل کور ته راغلم،له خپل ځان سره مې نیم ساعت فکر وکړ،کښېناستلم یوه پیاله قهوه مې وڅښله اوپه دې سهارنی لنډ سفر کې مې فکر وکړ، ډېره خوشاله او هوډ مې وکړ چې دا مسلمانه به ستا دوسته او هر ځای چې تللې درسره به وي- نوی کال را روان دی د نوي کال (2009) په مناسبت مې د پخوا د عادت په خلاف دې مسلماني خور ته ټلیفون وکړ چې ته او ستاسره لس نورې مسلمانې مېرمنې راوله اوسبا شپه زماپه کور کې زما مېلمنې یاست، دې راسره ومنله، او ما خپل تیاری پیل کړ.ګلان مې رانیول اود کرېسمس ونه مې هم راوړه، هر څه مې تیار کړل، اوس نوزما موخه دا ده چې څه پوښتنې ګروېږنې د قران اوانجیل په اړوند وکړم، چې یقینا دا ورځ زما د ژوند یو نوې پړاودستر انقلاب پیل دی، چې زه هم ورته ډېره لېواله یم، د تش په نامه عیسویت څخه مې د کرکې سلنه مخ په لوړېدو ده، د فاطمې له ملاقات وروسته طبعاً ډېره خوشاله ښکارم، چې هر ملګری مې ویني نو راته وایې پټل وایټ، څومره روښانه او خوشاله ښکارې! زه په مسکا سره ځواب ورکوم او نور ورته هېڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وایم، او د خوښۍ له کبله مې په ټول بدن کې یونه لیدونکې خوځښت پیدا شوی دی چې زه یې ډېر ښه ادراک کولای شم، هغه ورځ چې شېبې مې ورته شمېرلې راورسېده او د پنجشنبې (زیارت) ورځ او د جنورۍ د (2009) کال لومړۍ نېټه ده، هغه وخت چې ما فاطمې ته ټاکلې وه پر هغه مهال دوی راورسېدلې، د حورو په شان ښکلې مسلمانې چې د خوښۍ او د مخونو ځلا یې له ورایه جوتېده راغلې، ما داسې فکر وکړ چې دا څه ښکلې رڼاوې زما کور ته رانښوتې، کېدای شي دا بشر نه وي، له ډېرې خوښۍ څخه مې اې زما خدایه! چیغه له خولې ووته، فاطمه پوه شوه چې دا هیجاني شوه نو یې په غېږ کې ټینګه کړم، ما ورته ښه راغلاست ووایه او ټول کښېناستلو. د دوی په مزاج زه څه پوه وم هغه څه چې په اسلام کې حلال و، هغه مې ورته برابر کړي وو، تر هر څه مې لومړی ډوډۍ ورکړه، ډوډۍ په ډېرې خوشالۍ سره وخوړل شوه، ماپه دغه ورځ دومره ډوډۍ د فاطمې په څنګ وخوړله چې په ژوند کې مې په یاد نه راځي او د هغې ډوډۍ خوند مې د ژوند له یوې ښې خاطرې څخه ده؛ د ډوډۍ له پروګرام څخه مې وروسته له فاطمې وپوښتل چې تاسې زموږ د انجیل او عیسویت په اړه څه وایاست؟

دې ځواب راکړ چې اسلام یوازینی غیر عیسایي دین دې چې وایي: هېڅ مسلمان، مسلمان کېدای نه شي که پر دې ایمان رانه وړي چې حضرت عیسی (ع) پیغمبر نه دی، او انجیل د خدای (ج) کتاب نه دی.موږ په دې ایمان لرو چې حضرت عیسی (ع) د الله (ج) ګران پیغمبر دی، هغه د بي بي میریم (رض) څخه په معجزانه ډول سره بې له پلاره پیداشوی دی، هغه د الله (ج) په امر سره مړي راژوندي کول، له موره پیداشوي ړانده یې بیناکول، د پیس د ناروغۍ علاج یې کاوه او داسې نور اوداهرڅه یي د الله (ج) په امر او اجازې سره کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا مې
پوښتنه ځنې وکړه چې تاسې پر انجیل ایمان لرئ؟ نو داخو هم د الله (ج) کتاب دی؟
فاطمې په خندا را ته وویل:
چې ته خواشینې نه شې او احساسات دې ژوبل نه کړم.ورغبرګه مې کړه چې ته خو لومړی مېلمنه یې او ما ته حق راوښیه هر څه چې دي منم یې او قناعت به راکوې؟
دې را ته وویل:
خپل بایبل دې را واخله.
زه هم ورولاړه شوم او له الماری څخه مې **(King James Version Bible)** کینګ جیمز ورژن بایبل راواخیست.له ما څخه یې وپوښتل چې دا اوسنی انجیل خوانجیل یوحنا، انجیل لوقا، انجیل مراقس او انجیل متی دي،خوانجیل عیسي چېرې دی؟ موږ پر هغه ایمان لرو.زه یقیناخجالت اوخاموشه شوم، بیا یې راته وویل:
دا خپل انجیل دې خلاص کړه ما هغه خلاص کړ دې راته وویل، چې لومړی کتاب لومړي مخ او لومړی لیکې ته راشه.ما د متی کتاب خلاص کړ او په لومړي مخ کې یې د حضرت عیسی (ع) د نسب لړې ده چې د حضرت عیسی (ع) د یوسف نجار زوی دی.
بیا فاطمې راته وویل چې دا یاد وساته اوس دویم کتاب خلاص کړه.ما دویم کتاب چې د مراقس په نوم دی خلاص کړ په هغه هم د حضرت عیسی (ع) د نسب لړی ده چې په هغه کې حضرت عیسی(ع) د ابراهیم زوی دی.بل مو خلاص کړ چې هلته نعوذبالله د خدای(ج) زوی دی، بیا یې مخ راته را واړاوه اوراته وویل چې دا څنګه د خدای(ج)کتاب دی یو پیغمبر او څو پلرونه؟ زه یقیناً بې ځوابه وم او داسې شل نور ځایونه یې راته وښودل چې خپله انجیل ایاتونه سره په ټکر کې وه او ما ته یې وویل، چې زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوکوچنی کتاب (**Booklet**) لرم چې په هغه کې د اوسني انجیل (101) تعارضونه پکې راغلي دي او درته به یې راولیږم، بل ځای یې انجیل خلاص کړ چې پکې لیکل شوي وو:
یوه ورځ عیسی وږی شو، او دا نځرو ونې ته ورغی چې انځر وخوري، په داسې حال کې چې د انځرو وخت نه و، ونې خالي او سپېرې وې نو یې انځرنه کړل پیدا چې بیا یې انځرو ته شیرا وکړه او (۲۰۰۰) ونې یې له منځه یوړي.
بیا فاطمې مخ را ته راواړاوه چې اوس په امریکا کې هر کوچنی په دې پوهېږي چې د انارو وخت کوم دی، د منو وخت کوم دی، او هم داسې د هر شي وخت که سبزي وي اوکه مېوه وي وخت یې معلوم وي، او حضرت عیسي (ع) چې د خدای یو نازولی پیغمبر و، نو ده ته لا دا نه معلومېده چې کله د انځرو وخت دی، نو داټول له ځان څخه لیکل شوي دي او دا د الله (ج) کتاب نه دی.د انجیل (۲۴۰۰۰) نسخې لیکل شوې دي او دوې یې هم یو ډول نه دي، دا ځکه چې دا د بندګانو له خوښې سره سم کتاب دی، په دې اوسنیو انجیلونو کې په (**King James Version**) کې تثلیث شته مګر په (**Revised Version**) کې بیا دا ایات نشته دا ولې؟ زه په دې وخت کې د خاموشۍ پر بستره ناسته وم او نه مې تور تر خولې وتل او نه سپین-
بیا مې وپوښتل چې موږ خو (**Salvation**) نجات لرو او هغه دا چې حضرت عیسی (ع) زموږ د ګناهونو پېټی پر غاړه اخیستی او خپل ځان یې قرباني کړ او موږ به خامخا جنت ته ځو، فاطمې بایبل خلاص کړ او دا ایات یې راته ووایه:
زوی د پلار اوپلار د زوی معاوض نه شي کېدلای یا نې یو د بل په ګناه نه نیول کېږي- کله چې مې دا ولیدل نورنګ مې ولاړ او خپله مې ورته وکتل چې دې ښځې خوبه څه جادو نه وي درباندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی،خو هغه
ه واقعاً همداسې وه، له ځانه سره مې وویل، چې زه څومره غولېدلې یم اوټول عیسویت د خرافاتو او بې بنسټه عقیدو څخه ډک دی؛دا ټوله قرباني چې ماپه عیسویت کې ورکړې ده، هغه ټوله له اوبو سره لاهوشوه،کله چې مې دې ایات ته وکتل نو هغه په سره رنګ باندې لیکل شوي دي دا زما انجیل (**Red light Bible**) دی مطلب دا چې هغه کلیمې چې حضرت عیسی (ع) ته منسوبې دي هغه ټولې په سره رنګ لیکل شوې دي او د حضرت عیسی(ع) وینا وې د ټولو څلورو انجیلونو(10) په سلو کې دي او هغه نور چې په تور رنګ سره لیکل شوې دي هغه د ده وینانه ده، نو مې ښه یقین شو چې دا خو د حضرت عیسی (ع) وینا ده نو دې څنګه زموږ ګناهونه پر خپلو اوږو اخلي، له دې پوښتنو او ځوابونو څخه وروسته زه په خپل دین (عیسویت ) کې نوره هم شکمنه شوم،فاطمې ته مې وویل، چې که ما هر وخت درته ټلیفون وکړ نو ماته به خامخا ځواب راکوې او وخت به راکوې، له نن څخه به ما ته یوټوک قرانکریم سره له ترجمې او تفسیره او څه نور اسلامي اړین کتابونه پیدا کوي او زما کور ته به یې راوړې-
درې ورځې وروسته مې پارک ته د تللو بلنه ورکړه، فاطمې راسره موافقه وکړه دا راغله او دواړو پارک ته په بس کې رواني شوو، چې زما او د دې پر ټوله لاره باندې د بحث تود ټکي اسلام او عیسویت وو.کله چې پارک ته ورسېدو نو ما ټیکټان راواخیستل او داخل شوو، د پارک مرکزي برخې ته لا نه وو رسېدلي چې پر ما د زړه یوه کوچنۍ دوره راغله او بې هوښه شوم، یو وخت چې په هوښ کې راغلم چې ومې کتل په روغتون کې پر کټ باندې پرته یم سپین رخت مې په ځان دی او زما خوږه دوسته فاطمه مې ښې لور ته ناسته ده، په خبرو مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیل و

کړ

په کرار سره یې راته وویل، چې زه ستا د زړهٔ ګراف ته ګورم له خبرو څخه منع یې، د زړه په ګراف کې دې بدلون راځي او په تکلیفېږې، دې دومره په مینه سره وضعه لکه له یوې ډېرې خوږې خور سره. د دوو ورځو تېرولو وروسته زما د زړه حرکتونه سم شول او روغه شوم کله چې کور ته راغلو نو مې ورته وویل:

زما خورې په پارک کې به دې پرېښودلې وم چې مړه شوې وای ولې دې روغتون ته یوړم؟ دې ځواب راکړ چې زما ګرانې خورې ته زما د بدن یوه غړې یې اوالله (ج) په قران کریم کې موږ ته فرمایي:

که مو یو چا ته ژوند ورکړ لکه ټولو انسانانو ته مو چې ژوند ورکړی وي.

له دې ټولو حالاتو وروسته مې د لوی خدای (ج) په مرستې مې د (۲۰۰۹) کال د جنوری په ۲۵ مه په مدرسة المحصنات کې چې مخکې مې له د اسلامي اصولو سره سم غسل وکړ او اسلامي جامې مې په تن وې د ډېرو مسلمانانو په حضور کې مي اسلام راووړ او د شهادت کلمه مې وویله او په خپله خوښه مې خپل نوم چې **(Patel White)** پاتل وایټ و په **(Ayesha White)** عایشه وایټ بدل کړ. واقعاً چې اسلام دومره غټه هستې ده چې زه یې په ژوند کې شکر نه شم ادا کولای.

زما د اسلام قبولومبارکې وټول امت مسلمه ته ورکوم-

(c) ketabton.com: The Digital Library



له
ټولومسلمانانوورونواوخویندوڅخه داهیله
اوارزولرم چې دهرلمانځه وروسته چې دوعاکوي
نوددعاوروسته دي دغه یوه جمله ورسره زیاته
کړي، چې خدایه(ج) ته خوددنیاټولوانسانانوته
هدایت وکړي،له تاریکی څخه یې راوباسي
اوداسلام په مقدس دین اودروښنایي لورته یې
راوبولي. امین

# اسلام ته د کریسټینا بیکر د سفر کیسه

## دلویدیځوال تهذیب له تیارو نه داسلام تر روښنایې پوري

ژباړه: رفیع الله

د**MTV** اروپایې چینل یوه جرمنۍ مشهوره
کوربنه چې نوې مسلمانه شوېده پخپل قلم لیکل
شوې داستان کې داسي وویل:
داسلام دمطالعې سره لاتنګ اوچسپ لباس
اغوستي اودسګریټوځکول مي چې لامسلمانه
شوې نه وم پریښودل.
واقعاًچې مسلمانان ډېرمینه ناك،مېلمه پال
اودنورو آسماني
کتابونواوادیانودپېروانوډېرعزت کوونکي خلك
دي.
دغه خلك که څه هم چې ډېرغریب دي خوپه
څېروکې یې خوشحالي اوسترګوکې یې دایمان
ځلالیدل کیږي. ولې دنورې دنیاپه خلکوکې داسې
څه نه لیدل کیږي.په ۱۹۹۲م کال کې مې دکرکټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوبغاړي عمران خان سره مرکه وکړه دا مې ديو مسلمان سره لومړی ملاقات و، له هغه سره مې د اسلام په هکله مفصلي خبري وکړې. چې ددې خبرو نه وروسته هغه ماته داسلام پېژندنې په خاطر یو څه کتابونه راکړل ، اوددې نه وروسته مې داسلام مطالعه په دقیقه توګه شروع کړه. اسلام د ټولو دينونو نه وړاندي په اومه عيسوي سليزه کې ښځي ته د انتخاب حق ورکړی دی.

اسلام زما د ژوندمتاع ده له دې نه مخکې مې د ژوند هیڅ اهمیت نه و.

کریستینا بیکر په يوې ډيرې متعصبه پروتستاني عيسوي کورنۍ کې پيدا شويده. نوموړې د جرمني د همبرګ په ښار کې د ماشوموالي نه تر لويوالي پوري پړاونه تيرکړيدي. نوموړې په ۲۱ کلنۍ کې د همبرګ په راډيو کې د خبريالې په حيث کار کاوه. ددوه کاله خبريالۍ نه وروسته يې د اروپا د موسيقۍ د يو مشهور چينل **MTV** د پروګرامونو د کوربه کيدو د مرکې لپاره چې په زرګونو خلك ورته کانديدان کيدل يو هم بيکر وه چې يواځي همدا ترې انتخاب شوه او بيا همبرګ ته ولاړه.

لندن ته بيکر خپل سرګزشت بياناوه او ويل يې:

پدې زمانه کې وخت ډير ښه تيريده زه پدې وخت کې ۲۵ کلنه وم،په (نيو ټنګ هل) کې زما ژوند وو. زه دې ښار ته نوې راغلې وم،مختلفو دعوتي پروګرامونو(محفلونه) او پارټيو(ميلمستياوي) ته دعوت کيدم. ددي پروګرامونو د جوړولواو وړاندې کولو لپاره ډيرو مشهورو فوټوګرافرانو کار کاوه. ددغو فوټوګرافرانو با وجود زه پدغه پروګرامونو کې خلکو ته ډير د توجه وړ وګرځيدم. پدې فوټوګرافرانوکې ډير مشهور روبی ولميز ويلين ګرافټس هم و...

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما له
خپل ژوندنه ډیر ښه خوند اخیستي. ما به د
خپلې تنخوا ډیره برخه د نوو جامو په اخستلو
مصرفولي. د اروپا ډېر ځایونه مې لیدلي دي.
او د همیشه لپاره به مې د سیر سیاحت لپاره
ښه ښه ځایونه انتخابول. . لکه بارسلونا،
استامبول او پاریس او یو ځل مي بوسټن ته هم
د سفر اراده وکړه . او هلته مې د (رولنګ
سټونر) سره مرکه وکړله. او یو ځل زه د
شهزاده سره په یو رسمي سفر کې د یوې هفتې
دپاره انتخاب شوې وم.ما پدې وخت کې د**MTV**
چینل د یوې مشهورې کوربنې په ډول کار کاوه.
هر وخت به زما ثبت شوې پروګرامونه ددي چینل
په پرده نشریدل (خپریدل) په **MTV** اروپائي
چینل باندې د (کوکا کولا) اشتهار زما په
آواز ثبت شوی وو.
په همدې چینل باندې د شلو مشهورو سندرو
دپروګرام (**Most wanted**) میزباني هم زما په
غاړه وه. د ډیرو مشهورو سندرغاړو سره مي
هم مرکې کولې. د **T.V** په پرده زما تعریف ته
ضرورت نه و. ځکه زما د پروګرامونو له وجې
داروپا لکونو لیدونکو زه پیژندلم. یو ځل د
(روك ډانس) په یو پروګرام کې زما د شرکت په
وجه ددې پروګرام د سیالبینو تعداد د
(۷۰۰۰۰) زرو څخه هم زیات شوې وو. د یو کال
په جریان کې د **MTV** چینل په پرده زما مختلف
پروګرامونه نشریدل چې زمابه یي هم د پاپ
میوزك د ستورو پشان درناوی کاوه. لیکن ددې
دومره احترام سره پدې خبرو زما هیڅ پروانه
وه او دغه نمایشي ژوند زما زړه ته هیڅ
حقیقي سکون او آرام نه ورکاوه.
زماپه شعورکې داخبره راغله چې
زماژونددغوسرګرمیومقصدډیرمحدوددی زه غواړم
چې دتعمیر اوترقۍ دپاره دنمایشي
کرداراداکو لوپرځای حقیقي کاروکړم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



گویا زماپه سینه کې یوتږی روح وو. اوهغه پرورش غوښت کله به دغه روح تنده اختیارول لیکن ددې سره څه ډیر توجه ورته نه کېده، اووددې لویه وجه داوه چې شاید څه مناسب لارښود ورته نه میسرکېده .

نوبیادادالله تعالیٰ فضل وبولی چې په ۱۹۹۲کال کې زما ملاقات دکرکټ لوبغاړی عمران خان سره وشو. په دی وخت کې عمران خان دنړیوال کپ لپاره دپاکستان دډلې کپتاني کوله. دعمران خان ایماني خبرې اوداسلام دروح پروره تعلیماتونه دهغه پوره اګاهي زما د روح دپاره درحمت باران ثابت شو. هغه ماته داسلام دنورې مطالعې لپاره یوڅه کتابونه راکړل اوبیامې داسلام مطالعه شروع کړه اوس ماته دتیلویزوني پروګرامونه یو چیلنج جوړشوی دی. اوله دې نه بی نیازه یم چې راتلونکي حالات به څه ډول رُخ اختیاروي.

مااوس دقران مجید مطالعه په اساسي ډول شروع کړې اوس زما نه داسې اعمال کېږي چې په هغوي کې یوڅه معقولیت اوخوښي هم شامله وي.

دکله نه چې ما داسلام مطالعه شروع کړې ده په بعضومسائلو کې مې په خپله خوښه اوذوق سره مطالعه وکړه . چې دازمادپاره یوه فطري رهنمایې هم وه لکه ( ښځه داسلام له نظره ) چې دازمادپاره ډېره داهمیت وړ موضوع وه. څرنګه چې زه دنوې غربي نړی مُؤظفه (وظیفه داره ) ښځه یم نوله دې وجې ماته دایوه ضروري خبره وه چې په اسلام کې دښځې په اړه ښه مطالعه اومعلومات ولرم .

زمالپاره داسي یوپه یوبدلون ناممکن و،خوداسلام له وجې ماته داخبره واضحه شوه چې دادین (اسلام)دښځې اونارینه لپاره دمساوي حقوقوغوښتونکی اوعلمبرداردی.

اسلام ښځې ته په ۶۲۹م کال کې دراي ورکولوحق ورکړی و. دښځې اونارینه لپاره یومناسب اوښایسته لباس اغوستل غواړي. او په دواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندي
یې په مساوي ډول دالازم کړي دي چې
دخپلونظرونوحفاظت وکړي اودبدنظرنه خپل
ځانونه وساتي،زه پدې پوه شوې یم چې کله
یوسړی دخپل جنس دفوقیت له وجې ځان جګ ګڼي
دارویه یونامناسبه رویه ده ځکه
دادتکبراحساس سړی ته ورکوي.اوس ماچسپ اوتنګ
لباس اغوستل اوسګریت څکل پریښي دي ،اوس زه
دیومکمل محجب لباس سره د**TV**دپاره پروګرامونه
ثبتوم ماته په هغوښځوچې لنډاوتنګ لباس
اغوندي اودمشهوروچینلونودټایټلونودښایسته
کولولپاره ځان لوڅول هم عار نه ګڼي په زړه
کې ویره راځي داپه حقیقت کې دښځو توهین دي
او دښځي لپاره چې الله جل جلاله کوم حق او وقار
ورکړی دی دهغه نه سرغړاوی دی.

دایورښتني واقعیت دي چې نن سباپه
اروپاکې نه بلکي په ټوله نړی کې اسلام په
خپریدودی خصوصاًپه ښځوکې.ځکه ښځي
پررښتینوالي باندي باورکوي اوپه رښتینوالي
باندي پوهیږي.دوي له غربي قانون اوظلم څخه
په تنګ شوي اوداسلام له هدف اومطلب سره
اشناشوي دي.

اسلام هغه سپیڅلي اومقدس دین دی چې
هیڅوك به ورته یوه زره تاوان هم ونه
رسوي.پدې ددنیاټول مسلمانان څه چې
غیرمسلمانان هم اوس پدې عقیده شوي چې اسلام
ته په هیڅ رقم زیان نه رسیږي،که څه هم چې
دوي خپل ټول پرمختللي وسایل اوخپل ټول وس
اوقدرت داسلام پرخلاف وکارول خوکمه نتیجه یې
ځني ونه لیده اونه په اسلام کې کوم بدلون
راغلی دی.

عجیبه خبره خولاداده چې اوس ساینس پوهان
چې غیرمسلمانان وربانـدي زیات باورکوي
اوددوي هرنظرورته له هرڅه باارزښته دي،هغوي
هم داسي ځیړني کوي چې ۱۴۰۰سوه کاله وړاندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسلام سپیڅلي پیغمبرعلیه السلام خپلوامتیانوته کړي وې.
نوهرمسلمان ته پکارده چې له غیرمسلمانانوته داسلام دمقدس دین پیغام په سحي توګه ورسوي ترڅوهغوي داسلام له اهدافواومفهوم څخه اګاه شي.

# له عسیوي مبلغې څخه ترمسلمانې دعوتګرې

سرچینه:نور اسلام سایت

ژباړه: هدایت الله حمیدي

د پیل خبرې:

د شك او یقین تر منځ ډیر اوږد واټن پروت دی خو د خیر او شر تر منځ یوازې څو ګامه فاصله ده. پرونی مري واتسون او ننني خدیجه چې د الله تعالٰی په فضل او لورینه په اسلام باندې مشرفه شوې ده یوه له هغوو په زرګونو انسانانو څخه ده چې د شر له تیارو نه د خیر روښنایی او د شکونو له بیدیا څخه د یقین آبادۍ ته راغلې ده.
دغه فعاله عیسوي مبلغه او کشیشه چې د دعوتي چارو تر څنګ یې د فیلیپین په یوه پوهنتون کې د عیسوي الهیاتو په څانګه کې تدریس هم کولو اوس په یوه مسلمانه دعوتګره اوښتې چې د عربستان د قصیم په سیمه کې د مهاجرینو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



چارو په
اداره کې اسلامي دعوت پر مخ بیايي.هغه د شر نه د خیر لور ته د خپل سفر کیسه داسې بیانوي.
له اسلام راوړلو څخه وړاندې زما نوم مري واتسون وو، زه د امریکا د اوهایو په سیمه کې زیږیدلې یم، له خپل فلیپیني خاوند څخه اووه اولادونه لرم. د ځوانی پړاو مې ډیر د لاس آنجلس او فلیپین تر منځ په سفرونو کې تیر شوی دی.

ولې مي خدیجه نوم دځان لپاره غوره کړ؟

له اسلام راوړلو څه وروسته مې خدیجه نوم ځان ته غوره کړی دی، دا ځکه چې زما او د خدیجې رضی الله عنها د ژوند تر منځ څه ورته والی شته،هغه داسې چې کله خدیجې له حضرت محمد صلی الله علیه وسلم سره واده وکړ نو څلویښت کلنه کونډه وه، ما هم چې کله اسلام ومنلو نو څلویښت کلنه کونډه وم. په ټولیزه توګه د حضرت خدیجې رضی الله عنها شخصیت پر ما باندې ډیر اغیز کړی دی او هغه زما په وړاندې ډیر لوړ مقام لري،ځکه د لومړی ځل لپاره چې په حضرت محمد صلی الله علیه وسلم باندې وحي نازلیدلې نو دا خدیجه رضی الله عنها وه چې د هغه ملاتړ یې وکړ او پرته له هیڅ ډول شك او تردید څخه یې هغه ته د زړه قوت ورو باخښه، د همدې ځانګړتیا وو په لرلو سره زه له هغې سره ډیره زیاته مینه لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما په امریکا کې پوهنتون لوستی او همدا راز مې په فلیپین کې د مسیحي الهیاتو په څانګه کې زده کړې تر سره کړي دي، د دې تر څنګ مې په همدې دواړو پوهنتونو کې تدریس هم کړی دی، زه په یوه وخت کې د الهیاتو د څانګې استاده او دیني مبلغه وم، له همدې امله مې د عیسویت د خپراوي لپاره په راډیو کې هم کار کولو، سربیره پردې به مې په ډیرو تلویزوني برنامو کې هم ګډون کولو. له اسلام راوړلو څخه وړاندې مې د اسلام پر خلاف ډیرې لیکنې کړې دي چې له الله تعالیٰ څخه هیله لرم هغه ګناهونه راته وبخښي. زه واقعاً ډیره متعصبه وم.

د ایمان نور څرنګه زما زړه روښانه کړ:

د دینې مبلغې په توګه په یوه نړیوال کانفرانس کې د ګډون او وینا کولو لپاره دعوت شوې وم، په کانفرانس کې ډیرو خلکو برخه اخیستې وه خو یوه ګدوڼ کوونکی په خپلو وینااوو او کړو وړو سره زما پاملرنه ځانته واړوله، هغه یو فلیپینی استاد و چې له کوم لویدیځ هیواد څخه کانفرانس ته د وینا لپاره راغلی وو. له ډیرې پلټنې څخه وروسته پوه شوم چې هغه مسلمان دی خو له اسلام راوړلو څخه یې څوك خبر نه و. کله مې چې د لومړی ځل لپاره د هغه له خولې څخه د اسلام په هکله

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې

واوریدلې نو په ذهن کې مې ډیرې پوښتنې پیدا شولې او تر ټولو مهمه او اساسي پوښتنه دا وه چې هغه ولې مسلمان شوی دی؟
په همدې سوچونو کې مې یو پخوانی دوست را په یاد شو چې هغه هم فلیپینی و او عربستان ته له تګ څخه وروسته مسلمان شوی و. ومې غوښتل چې د اسلام په هکله پوه شم او دا چې ولې دغه خلك خپل دین پریږدي او اسلام مني.
له همدې امله د کانفرانس له پای ته رسیدو څخه وروسته خپل پخواني دوست ته ورغلم او د اسلام په هکله مې ورڅخه پوښتنې وکړې، لومړی پوښتنه مې دا وه چې په اسلام کې د ښځې سره څه ډول چلند کیږي. ځکه موږ داسې پوهول شوي وو چې په اسلام کې ښځې له ډیرو ټیټو ټولنیزو حقوقو څخه برخمني دي، البته زه وروسته پوه شوم چې دا غلطه عقیده ده، همدا راز ما فکر کولو چې اسلام نارینه وو ته اجازه ورکړي تر څو خپلې ښځې ووهي او ورټې او له همدې امله ښځې په خپلو کورونو کې پټې دي. کله چې مې ملګري په اسلام کې د ښځو حقوق را ته بیان کړل او ویې پوهولم چې دا هر څه د اسلام پر ضد د دښمنانو تبلیغات دي نو د هوساینې او ارامی یو ډول عجیب احساس راته پیدا شو. بیا مې له هغه څخه د الله جل جلاله او د هغه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په هکله پوښتنې وکړې، هغه غوښتنه را څخه وکړه تر څو د اسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هکله د ډیرو معلوماتو د تر لاسه کولو لپاره اسلامي مرکز ته لاړه شم، لومړی دې مرکز ته په تلو کې زړه نازړه وم خو وروسته د هغه د تینګار په پایله کې هلته لاړم. کله چې هلته لاړم نو هغوي په عیسویت کې زما د زیاتو معلوماتو او د اسلام په هکله د غلطو اعتقاداتو له امله په تعجب کې شول، هغوي زما سره خبرې وکړې او زما غلط عقاید یې تصحیح کړل، بیا یې راته بیلابیل کتابونه راکړل چې د کوچني حجم سره سره ډیر پر محتوا ول. هره ورځ به مې دا کتابونه لوستل او د ورځې به مې دری ساعته د اسلامي مرکز له مسئولینو سره بحث او مناظره کوله، دې لړۍ یوه اونۍ دوام وکړ او پایله یې دا شوه چې د اونۍ تر پایه پورې مې کابو دیارلس کتابونه لوستي وو او دا لومړی ځل و چې ما د اسلام په هکله هغه کتابونه لوستل چې لیکوالان یې مسلمان و. پدې توګه زه پوه شوم چې هغه کتابونه مې چې وړاندې د اسلام او مسلمانانو په هکله لوستي وو له اشتباهاتو او غلطیو څخه ډك وو چې مسیحي لیکوالانو د اسلام سره د کینې او دشمنۍ پر بنسټ لیکلي ول. د دې سره سره لا تر اوسه هم زما په ذهن کې ډول ډول پوښتنې ګرځیدلې، دا چې قرآن کریم څه ډول کتاب دی؟ مسلمانان په لمانځه کې څه وایي .....؟ شیطان تل انسان ته ویره او وسوسه اچوي او زه هم لدې نه خالي نه وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلامي مرکز چې کله په شکونو کې ولیدلم نو اړیکې یې را سره زیاتې کړلې، ما به هم الله جل جلاله ته دعا کوله چې مرسته راسره وکړي تر څو په مستقیمه لاره روانه شم.

اوس په یوه الله جل جلاله ایمان لرم:

یوه شپه چې د خوب لپاره په بستره کې پرته وم، داسې مې احساس کړل چې زړه مې پوره ډاډ او اطمینان ته رسیدلی دی او د آرامۍ او سکون احساس کوي، زه پوه شوم چې اسلام حق دین دی او الله جل جلاله یو دی او هیڅ شریك نلري او یوازې همغه دی چې زمونږ ګناهونه را ته بخښي او د آخیرت له عذاب څخه مو خلاصوي. د شپې په تیارو کې دخوب له بستر څخه راپاڅیدلم او الله جل جلاله ته مې لاس په دعا پورته کړل.څو شیبې وروسته نور زما په زړه کې د شکونو نښه هم نه وه موجوده، په پوره ډاډ او یقین سره مې وویل: " ای الله! زه یوازې پر تا باندې ایمان لرم" بیا مې د شهادت کلمه ادا کړل، پدې سره مې د بې کچې آرامۍ احساس وکړ. زه په زغرده سره ویلای شم چې دا هغه ورځ وه چې زه له سره پکې زیږیدلې یم او هیڅ کله هم په هغې ورځې پښیمانه نه یم.

نوی ژوندمي له مسلمانیدووروسته پیل کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته لدې چې مسلمانه شوم، له پوهنتون څخه مې استعفا ورکړه تر دې چې یوه میاشت وروسته د فلیپین اسلامي مرکز را څخه د همکارۍ غوښتنه وکړله تر څو په هغو جلساتو او کانفرانسونو کې ګډون وکړم چې دوي به په بیلابیلو سیمو کې د اسلام د خپراوي لپاره جوړول.
یو نیم کال مې دغه دنده پر مخ بوتله تر دې چې د عربستان د مهاجرینو د چارو اداري را څخه غوښتنه وکړه تر څو له هغوي سره همکاري وکړم ځکه زه په دوو ژبو انګلیسي او فلیپیني باندې پوهیدلم، دا غوښتنه مې پرته له زړه نازړه کیدلو څخه ومنله،اوس په دغه اداره کې د ښځو په څانګه کې د مسلمانې دعوتګرې په توګه دنده تر سره کوم.

زما کورنۍ:

له اولادونو څخه مې یوازې یو زوی (کرستوفر) له ماسره په فلیپین کې اوسیدلو، کله چې هلته وم نو قصداً به مې څه کتابونه له اسلامي مرکز څخه راوړل او په میز باندې به مې ایښودل تر څو کیدای شي هغه یې ولولي او اغیز پرې وکړي.
کله به چې له کور څخه ووتلم نو هغه به دا کتابونه لوستل او بیرته به یې همغسې منظم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په میز
باندې ایښودل. څه موده وروسته مې ولیدل چې
هغه د کتابونو تر اغیزې لاندې راغلی او اسلام
ته لیواله شوی دی.پدې سره ډیره خوښه شوم او
هغه مې دې نیك کار ته وهڅولو، له اسلامي
مرکز څخه څه ورونه راغلل او له هغه سره یې
ولیدل او هغه هم د شهادت کلمه ادا کړله او
خپل نوم یې په عمر باندې واړولو.
تر اوسه زما له بچیانو څخه یوازې هغه
مسلمان شوی دی او له الله جل جلاله څخه غواړم
چې نور اولادونه مې هم د اسلام له نعمت څخه
برخمن کړي ځکه اسلام د ژوند تر ټولو غوره او
کامل نظام دی چې د ژوند د هر اړخ لپاره یې
بهترین اصول او لارښونې واضع کړي دي. دا که
سیاسي اړخ وي او که اقتصادي، اجتماعي ،
اعتقادي او که بل هر اړخ وي.

کله چې مسلمانه شوم ستونزو راته مخه کړه:
ما هم د اسلام راوړلو په سفر کې څه
ستونزې ګاللې دي، زه مخکې په امریکا کې
اوسیدلم او ټولې لوراني مې هلته ودونه کړي
دي او همدلته اوسیږي، کله چې مسلمانه شوم د
هغوی دریو تنو ډیر تونده عکس العمل راسره
وښود،زما سره یې ډیر بد چلند کولو او آن
زما کور او تلیفون به تل څارل کیدل، لنډه
دا چې د ژوند ساحه یې را ته ډیره تنګه کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه، بالاخره مې تصمیم ونیو تر څو بیرته فلیپین ته لاړه شم او هلته د خپل خاوند له مور او پلار سره چې زما سره یې ډیرې ښې اړیکې درلودې او د خپل مور او پلار تشه یې راته ډکه کړې وه واوسیږم، خو کله چې هلته لاړم ،هغوي هم زما په مسلمانیدو خبر شول ،هغوی هم راسره ښه چلند ونکړ او له ځان څخه یې لرې کړم. پدې کار باندې ډیره ناراحته شوم تر دې چې دري ورځې مې پرله پسې وژړل. کله به چې له اسلامي حجاب سره په کوڅه او بازار کې روانه وم، نو ماشومانو به ملنډې راباندې وهلې او (بوډۍ) او (خیمه )به یې را ته ویل.

کله چې له ستونزو سره مخ شم:

اوس ډیره هڅه کوم چې ځان د کتاب په لوستلو باندې بوخته کړم، ځکه چې له مطالعې سره ډیره مینه لرم، تر اوسه مې د قرآنکریم تفسیر، صحیح بخاري، صحیح مسلم، د پیامبر صلی الله علیه وسلم او صحابه وو سیرت او ډیر نور کتابونه لوستي دي. کله چې سختي را باندې راشي او له ستونزو سره مخ شم نو په لاندې آیت سره د ځان ته تسل ورکوم. ( هم درجات عندالله، و الله بصیر بما یعملون ) یعنې ((د دوی لپاره د الله تعالیٰ په وړاندې بیلابیلې درجې دي، او الله تعالیٰ دهغه څه ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کامیابی په لور

لیدونکی
دی چې دوي یې تر سره کوي))
په ډیرو زیاتو کنفرانسونو کې مې ویناوې کړي
دي آن تر دې چې د ځینې دولتونو مشرانو
راڅخه غوښتنه کړې تر څو د یوه مسلمان او
مسیحي تر منځ په مناظره کې ګډون وکړم خو ما
دا غوښتنې رد کړي دي ځکه زه اصلاً لدې مناظرو
سره مینه نلرم بلکه مؤدبانه او آرام روش مې
ډیر خوښیږي.
په راتلونکي کې اراده لرم چې ان شاء الله
افریقا ته لاړه شم او خلك د الله جل جلاله لوري
ته راوبلم، هیله منده یم چې مصر ته هم یو
سفر وکړم.

وروستی خبره:

زما وروستۍ خبره دا ده چې په اوس وخت کې
اسلام د ټینګ ایمان والا مسلمانانو ته اړتیا
لري تر څو وګړي د الله جل جلاله لوري ته راوبلي
او د اسلام له سپیڅلي حریم څخه چې د لویدیځ
رسنۍ ډیر ناوړه انځور تري وړاندې کوي ننګه
وکړي. او پدې ډول ماحول او شرایطو کې د
اسلام د سپیڅلي دین صحت، قوت ،وړتیا او
سپیڅلتیا نندارې ته کیږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ما هندومذهب پرېښود او په نړیوال الهي دین مشرفه شوم.

پېغله چاندا (هندوستان)
ژباړن : عبدالغفارجُبیر

زه اوس (۳۱) کلنه یمه اوداقتصارشته مي په بمبی کي کړېده، دشاګردۍ پرمهال زموږسره یوفکرداراسره ووچي څنګه خپل درسونه وواېواوبیاپخپل هیوادکي وخپل ملت ته څنګه دزړهٔ له کومي خدمت وکړو،ژوندبه موڅنګه وي، څوک به مي دژوندملګری شی، هغه به دکومي ریښتي خاوندوی،څنګه خویونه به پکښي شتون ولري اوکله به هم داسوداراسره وه چي ایاکله به زه هم مورشم؟؟؟ ایاکله به زه هم خپل ښکلي ماشومان په غیږکي ونیسم اوداسي نورسوالونه زماسره بي څوابه وه - په ښوونځی اوپوهنتون کي غولېدونکي یاراني هم زښته ډېري وي، چي دهندوستان ټولنه یي دډېربدناورین سره لاس اوګریوان کړیده اولانورهم هندوستان ددي اورپه لمبوکي سوځی چي داحقیقت دی، هرځای دمیني په نامه سره جالونه غوړېدلي اوغولونه ډېره زښته ده، هیڅ یوداسی هلک یا انجلی په سترګورانه غله چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی یادي
بډایه وي اوديوي ناداره هلک یا انجلی سره دی مینه ولری، حتیٰ کله خوداسی ډیرځله پیښېږي چي ډېري ناداري انجوني چي دخپل ژوند ملګري ونه مومي خپل ځانونه وژني ، یاځان سوځي چې داپه حقیقت کې ځومره لعنتی ژونددی اواوس یې دهندوستان حکومت هیڅ جبران نشی کولای له همدې کبله ایډزپه زیاتیدودی، قتلونه، بې باوري،طلاقونه، بې سرپرسته ماشومان، بې سرپرستي، تښتول، بې حیایی،فسادونه اوځان وژني وخپل اوج ته رسیدلې دي -
دژونددناخوالوڅخه راتېرېږم اودژوندبل پړاوته راځم، کله چي زه فارغه شوم له دې ځخه وروسته زه پرهندومذهب معتقده وم چي خوشبختانه دډاکټرعبدالکریم ذاکرنایک چي د (ای ار ایف) مشردی اودده بیانونه مي کله ناکله د( پیس تیلویزون) له لاري اوریدل،زما مینه له ده سره پیداشول داځکه چي دی په هرمذهب کي پوره معلومات لري اووهرچاته معقول ځواب ورکوی (ژونددي ښادوی) یوه ورځ مي دده یوه مباحثه چي دده اود(شي شي راوانشنکار) په مینځ کي د (اسلام اوهندویزم په سپېڅلونسخو) باندی جوړه شوې وه هغه مي کتل ډېردخوندنه ډکه اوډېرزوریې هم راکاوه، دخوندځای یې داووچي عبدالکریم ذاکرنایک دهندومذهب هرکتاب په یاداودهندومذهب په هکله یې پوره معلومات راکړل اودتکان ورکولوځای بیاداووچي ده د(شي شي راواشنکار) هغه کتاب چي هغه د(اسلام اوهندویزم) ترسرلیک لاندی لیکلی وهغه یې توله رداویواو دوه ځایونه یې پکښې درست ومنل .څرنګه چي( شي شي راواشنکار) زموږیولوی مذهبي مشراولوی کومک کونکي و او وتولوهندوانوته یې دزړۀ له کومي نه هېرېدونکي خدمتونه کړیدي، نوځکه چي هره

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره عبدالکریم ذاکرنایک کول اودده ویناییې ردوله راته ښه نه ښکاره کېدله اوبې واکه به احساساتي شوم -
زمادمطالعي اومعلوماتوپه رڼاکې داماته معلومه شول چي داسلام مُبارک دین څخه ماسوا نورټول غولیدلي دي،په پټوسترګویې خپل دینونه منلي دي،هغه داچي عیسایان پرباییل ایمان لري مګربغیرله راهبانوبل هیڅوک په بایبل نه دي خبرچي څه پکښې لیکلي دي، ایاداالهي کتاب دی؟ اوڅومره ریښتنی ده ؟ دراهب هره خبره ورته دخدای(ج) کلام ښکاری اوپخپله دانه کوی چي څیړنه پکښې وکړي .همدارنګه بودایان، هندوان، زردشتیان اودنړۍ نورمذهبونه؛ پخپله ددې مذهبونوراهبان پخپلومقدسوکتابونونه دي خبرچي څه پکښې دي. زه اوس دهندومذهب چي زمامذهب وراځم. دهندومذهب مقدس کتابونه لکه بګوت ګیتا، اُپنشد، اوویدا، اوس هندوان په دې نه دي خبرچي دبېلګې په ډول سره بګوت ګیتاچا لیکلی؟ څه وخت لیکل شوی؟ اوڅه شی پکښې دی اوداسی نور....
نوداټول په دې باندی بې لاري شوي دي، چي پخپله پکښې څیړنه نه کوي اوپه ړاندوسترګوهرڅه مني- اوکه موږ واسلام ته راشوهرمسلمان ماشوم دلومړی ځل لپاره دلوی اوبې مثله څښتن تعالی جل جلاله کتاب قرانکریم زده کوي، چي لومړی یې لفظ زده کوي، بیایې حفظ کوي اوپخپل ژوندکي یې په معنااوتفسیرزده کول فرض بولی، په ټولوالهی احکاموځان پوهوي څیړنه پکښې کوي اوپوره ځان په پوهوی اوداهرنراوښځه مسلمانه داخپله فریضه بولی له همدې کبله مسلمان که هرڅوک وی، که ډاکټروی، که انجینروی اوکه هرمسلک واله وی په اسلام خبروي -
د(شي شي راواشنکار)اوډاکټرعبدالکریم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذاکرنایک
دمباحثې څخه مي داتلوسه پیداشوه چي زه ترڅولولومړی بایددهغه مذهب کتابونه مطالعه کړم چي زه يې منم(هندومذهب)؛ په هندومذهب کي هرشی معبوددی.ځینی په هندومذهب کي درې خدایان منی، ځینی يي (۳۳) دیوتاګان (معبودان) مني اوځینی پکښې (۳۳۰) میلیونه معبودان لري اوحتیٰ ځني لاداسي دي هرشی چي خدای(ج) پیداکړي وي هغه دخدای(ج) مظهرحق بولی اوهغه دیوتابولی اوددې سره سره دهرشی لپاره معبود بېل دی، دباران دیوتابېل، ناروغیودیوتابېل درزق معبودبېل اوداسي نور...

دخدای(ج) تصوردهندومذهب په مقدسوکتابوکې:
په هندومذهب کي پلټنه نشته، هرڅه چي هر مذهبي مشروویل هغه ټول ریښتني دي،حتیٰ دځینوکتابونوویل خوددوي لخوامنع دي. زه ترټولووبګوت ګیتاته راځم چي دادهندومذهب دعقایدوترټولومعتبرکتاب دی:
کوم خلک چي له ځانه جوړشوي معبودانو(دیوتاګانو)په وړاندي سرونه ښکته کوي (سجده ورته کوي ) اوپخپله خوښه دعبادت طریقې جوړوي دداسي خلکوپرعقلونودمادي اودنیوي غوښتنوپردې غوړېدلي دي .( بګوت ګیتا ۷باب ۲۰ بند):
هغه (معبودبرحق) یوذات دی اوشریک اومثل نلری. (چندوګیا اُپنشد ۱\۱\۱۶)
هغه (برحق معبود) نه موراوپلارلری اونه مالک اوڅښتن . (سویتا سوېترااُپنشد ۹\۶ دویمه برخه ۲۶۳ مخ)
دهغه په شان هیڅوک نشته .( سویتا سوېترا اُپنشد ۱۹\۴ )
په ویداکې دخدای(ج) تصور:
هغه (معبود برحق) ټاکلی شکل نلری.( یجروید

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳\۳۲)
هغه (معبوبرحق) جسم نلری، بې داغه دی، داجزاء ومرکب نه دی، دشیطان زورنه پررسیږي، هغه حکیم، مهربانه اوهمشه ژوندی دی۔ (یجروید ۳۷۷ مخ)
هغه خلک(معبودبرحق) په تیاروکې غورځوي چې دطبیعي شیزونولکه باد، اوبه لمراوسپوږمۍ اونوروعبادت کوي اوهغه په تیاروکې ډوبوی چې پخپل لاس دجوړشوي شیزونو(مجسمواوبتانو) عبادت کوی - (یجروید ۹۴۰)
خدای(ج) پالونکي اورښتیاهم ډېرلوی دی - (اتروید)
زمالګرودهغه چانه پرته چې په اسمانوکي دی دبل چاعبادت مه کوي۔ (رګ وید ۸ ټوک ۱۱)
لکه څرنګه چي داکتابونه ډېرلوي اوهریویې پرډېروټوکونومشتمل دی نودټولوپوره مطالعه کول زماپاره ډیره ناشونې وه، دډاکترعبدالکریم ذاکرنایک هغه کتاب چې د هندومذهب څه شی دی؟؟ ډیرراسره مرسته وکړل اومهموځایونومطالعه مي دزړهٔ له کومي وکړل، له دې څخه مي وروسته دقرانکریم ژوره مطالعه پیل کړل چي پایلي یې ډېري روښاني اوپه پایله کې زماددهدایت سبب شوې. په اسلام کې دخدای(ج) اومعبودبرحق تصورډېر اسانه ، سپین اوروښانه دی اوهغه داچي الله جل جلاله یودی، شریک اومثل نلری، هیڅ سیال هم نلری، نه څوک ورڅخه پیداشوی اونه هم له چاڅخه پیداشوی دی. په هندومذهب کي دخاتم الانبیاء حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په هکله هم ډېرڅه ویل شوي دي چې ټولي پېش ګویاني یې د(هندودمقدسو) کتابورېښتني دي دده ټول احوال پکښې دی، دده نوم مُبارک پکښې دی، اوهرڅه ....
اوس راته ترلمرروښانه شوه چي اسلام یوحق دین دی اوله ځانه سره مي داټینګ هوډ وکړچي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضروربه
اسلام راوړم.دموراوپلارسره مي داخبره (چي زه اسلام راوړم) شریکه کړل، هغودواړودېري سپکي سپوري راته وکړي اودایې هم راته وویل چي که دي اسلام قبول کړ اول خوبه دي ووژنواوکه پاته شوې نوموږبه داونه وایوچي موږلورلرو، په دغه ورځ مي هیڅ ونه ویل اوله کوره ووتلم، دخپلې ګرانې همصنفۍ اوملګرې (لیلا ) کره ولاړم اوهغې ته مي داجریان ووایه، هغې مخکي لاداسلام مطالعه پیل کړیوه،په یوه سوړاسویلی اوږده غوني اوازسره یي راته وویل:
قسم په هغه رب(ج) چي زه،ته اوداټول مخلوقات یي پیداکړیدي چي دادین حق دی اوکه موقبول نه کړ زه خپل ځان اوهرهغه څوک چي اسلام نه مني داورپه داسې لمبوکې وینم چي احساس اوبیان یي ناشونی دی.
ماورته وویل:
ته خوترما لاجذباتي یي،داحساساتواوجذباتوڅخه کارمه اخله، یوه معقوله لاره به وموموواوکاربه پري وکړو په ګډه سره اوهغه معبود(ج) برحق چي زه اوته یي اوس وحقي لاري ته اوړوپوره مرسته به راسره وکړي.
لیلا راته وویل:
داڅنګه؟؟؟
ماورته وویل:
ستاموراوپلارڅه احساس لري داسلام په اړه؟
لیلا راته وویل:
دوي وایي که تاایمان راوړی موږ هم ضرورمسلمانان کیږو اوبله چاره نلرو،وروړمي بیادموراوپلاردخبرو څخه نه اوړی.
ماورغبرګه کړه چي زماموراوپلارخوداسی ځواب راکړ،اوس څه کول پکاردی؟؟؟
څلورشپې مي دلیلاسره داسلام په نوره مطالعه اوخوښی سره تېري کړې ،لیفون مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بندکړ اودهرچاسره مي رابطه وشکول اوهیڅوک راخبرنه و چي زه چیری یم، خوضروربه مي موراوپلارپه دې خبرو چي زه چیري یم، داځکه چي (لیلا ) زمایواځنی دوسته وه.په څلورمه ورځ یوه تکسی دلیلا وکورته راغله چي زماموراوپلارپکښې سپاره دي، دموردسترګوڅخه مه دسیلاب په شان اوښکي بهېدلي،کله چي یي پرماسترولګېدې په غیږکې یي ونیولم، هیڅ مي ورته ونه ویل اوزماهم بې اختیاره دسترګوڅخه څاڅکي څاڅکي اوښکي تويي شوې،دوي چي هرڅه راته وویل ماپه ګونګ توب سره ځواب ورکړ؛اوراته یي وویل چي ته چیری یي؟؟؟ اوولی کورته نه راځې؟؟؟اوداسی نور.... په اخیرکي مي بې اختیاره ورته وویل چي تاسي غواړي چي خپل اولاد، دزړهٔ ټوټه ووژني، زه داکوردامورااوپلارڅه کوم؟!! مورمي په چیغوسره زمادخبروځواب راکړ اوپلارمي له خښمه وویل چي ایاته مسلمانه یي؟؟؟ ماورته په ډېر حیجاني اواحساساتی ډول سره ځواب ورکړ چي هو!!! مسلمانه یم!!! اواوس مي سرله تنه بېل کړي!!! اوله کوټې څخه ووتلم، زماملګرې زه چوپ کړم اودوي ته وویل:

دااوس لیونی شویده اوخبري ورسره څه ګټه نه لري، زه وبلي کوټي ته ولاړم اودکړکی له لاري څخه مه هرڅه اوریدل؛ په دغه وخت کي مي لاایمان نه دي راوړی.مورمي وایی چي زماپه لورخوبه چا (تورجادو) نه وي کړی؟

زماملګرې ورته وویل:

هغه په پټوسترګوپه اسلام نه مشرفه کیږی، هغې پوره مطالعه کړیده، هم دهندومذهب اوهم داسلام اودادرته ویل غواړم چي دابه ضرورمسلمانه شي که یي وژني اوکه هرڅه ورسره کوي.

اوزمامشوره داده چي مه خپل ژوندترخوي اومه دهغې ژوندته ګواښ کوي،هرڅه بایدپه صبر، حوصله ، زغم اوپرانستوسترګوترسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي.داوه
رچاته معلومه ده چي داسلام دین حق دین دی اودځمکي پرمخ یواځنی الهي دین دي، دالمرپه دووګوتونه پوهیږی؛ زه هم اسلام راوړم اوزماټوله کورنی هم ایمان راوړي اوپه دې کي هیڅ شک نشته اوددې ټولومسلمانانووژل ستاسوتروس وتلې خبره ده،مخکي له دې چي و(چندا) ته څه ووایاست تاسو هم تعلیم کړیدی داسلام پوره مطالعه وکړي دابه ډېره ښه وي.
ډېرخوندوکړي چي ټوله مسلمانان شو.
موراوپلارمي زمادملګرې په خبروسره ډېرنرم اوارام شول اوداژمنه یي وکړل چي موږدې ته څه نه وایووخپل کورته دې راشی اوداسلام په راوړولوکي به غوروکړو، دوی ولاړل ، زه دخپلې ملګرې سره پاته شوم. دتعجب خبره خودادا چي زماملګرې ترماحساساتي وه؛ اوویل یي چي نن ځواواسلام راوړو. ماورته وویل:
ته څه صبروکړه که زماموراوپلارهم راضي شول نودابه هم ډېره ښه وي چه ټول په اسلام مشرفه شوپه ټولیز ډول سره .په همدې ورځ دمازدیګرپه مهال وخپل کورته ولاړم، موراوپلارمي هرکلی وکړ ښه راغلاست یي په مینه راته ووایه،ډېره یي ونازولم اوداپوښتنه یي راڅخه وکړل چي ولي اسلام قبلوې؟؟؟
ماورته په ځواب کي وویل:
ماداسلام اوهندومذهب دواړه مطالعه کړیده اوداراته ثابته شوه اوتاسوته یي هم په ثبوت رسوم چي اسلام یواځنی دځمکي پرمخ دسوکالی، امن، پوره قناعت اوالهي دین دی.څومره ارام چي په اسلام کي شته په بل هیڅ دین کي نه ترسترګوکیږي اوزه هیچانه یم مجبوره کړې چي اسلام راوړم بې زمادعقل څخه.دهندو مذهب دمقدسوکتابوڅه بیان مي دسترلارشودحضرت محمدصلی الله علیه وسلم اودریښتنی خدای(ج) دتصورپه هکله ورته وکړ اوپوره قناعت مي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړاودامي ورته وښودل چي په هندومذهب کي هم خدای(ج) یودی،هیڅ شریک اومثل نه لری،دابوتان اومجسمې چي انسان پخپلولاسوجوړکړیدي څنګه خدای(ج) کېدلاي شي؟؟؟ اوڅنګه ویوچاته نجات ورکولاي شي؟؟؟ داصرف بې عقلي اوبې وقوفي ده. دقرانکریم یوه نسخه چي زماپه الماری کي وه په انګلیسی ژبه یي ژباړه اوتفسیر (فکتال ) کړې وه هغه مي ورته راواخیسته اوځه ایاتونه مي هم ورته وویل چي دواړوپه پوره توجه اوغورسره واورېدل؛ چي دې خبره تقریباً دوه ساعته وخت واخیستی،اودماښام کیدووخت نیږدي کیدی چي درحمت اوبه یي پرزړۀ تیري اوداسلام راوړولو ژمنه یي راسره وکړل چي ضروربه موږهم ایمان راوړو،ددوي ددې پریکړه په پایله کې زه دومره خوشحاله شوم چې په ځان نه پوهیدم اوترسترګو مي اوښکي بې اختیاره تویدلې...

زموږ په سیمه کې یوه لویه مدرسه وه چي دهغې مدرسې مهتمم یوشیخ الحدیث چي دداړالعلوم دیوبندڅخه فارغ اوډیرپرهیزګاره انسان وو، دهغه سره مي وکتل اوداټوله کیسه مي ورته بیان کړل، چي هغه په دې کاربانندی ډېرخوشحاله شو،څه کتابونه یي هم راته راکړل چي ځیني په اردوژبه اوځیني په انګلیسي ژبه باندي لیکل شوي وه،څه مشورې اولارښونه یي هم راته وکړل اوله هغه وروسته خپل کورته راغلم.

اوس مي په اسلام دمشرفه کیدوهلي ځلي ډېرتودې اوګړندې کړې اودټولوپه مشوره مودراتلونکي مبارکي جمعي ورځ وټاکل.دلوی څښتن تعالی په پوره رحمت سره موږدواړوکورني چي ټولوسپین کالي په تن وه دجمعي دلمانځه وروسته مدرسې ته ورغلو،ترټولومالومړی ایمان راوړ او بیازماملګرې لیلااوبیاپه وارسره زمامورااوپلارااوبیازمادملګرې موروپلارااووروره اسلام مشرفه شول. ما خپل نوم پخپله خوښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندي
(عایشه) پرځان کیښود، زماموږخپل نوم (فاطمه) اوداسي نوروتېولوخپل نومونه واړول اوخداى (ج) په کورکي موداژمنه وکړل چي ترمرګه پوري به داسلام لپاره په پوره مینه سره چوپړوکړو.

# امریکایی سندرغاړی د اسلام په لمن کې

ژباړن: نورالحق آرین

دامریکامشهورسندرغاړی (چاونسي هاوکینزلون) داسلام په مشرف دین مشرفه شواودځان لپاره یې امیرمحدث نوم غوره کړ.
ښاغلی امیرمحدث هغه څوك دي چې دامریکاپه لسولومړینوسندرغاړو په قطارکې و.
دده سندرودډیروخلکوپه زړونوکې ځاي درلود.دی زیاتوي چې زه سندرو ډیرمشهوره کړم،خوشهرت اوپېسې هیڅکله هم زمادباطني ارامتیاباعث نه کیدي
تردې چې داماراتوپه پلازمینه ابوظبي کې داسلامي کلتورتر اغېزې لاندي راغلم.هلته به مې خلك لیدل چې دآذان په غږسره به مسجدشریف ته تلل اولمونځونه به یې ترسره کول.
مابه دمسلمانانوښه چلنداواخلاق لیدل اوله هماغه وخته مې هوډوکړ ترڅوداسلام ددین په هکله چې ټولومعلوماتونواوپرګنوته یې په خپله سینه کې ځاي ورکړي خپله پلټنه اوڅېړنه وکړم.
امیردخپلوخبروپه دوام کې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



تردې چې دې پایلې ته ورسیدم چې اسلام یوسپېڅلی، الهي اوحقیقتي دین دی اوپدې اساس سره مې اسلام راوړ.

کله چې داسلام په مشرف دین مشرفه شوی یم سندرې مې هم پریښودي،که څه هم چې سندرې زما داولسوکلنوراپدې خوا ملګرې وې،خوکله چې مې پرایښي دي دډیري خوښۍ اوخوشحالی عجیب احساس لرم.

نوموړي دیوې کاناډایي تبلیغي ټولنې سره یوځاي داسلام ددین لپاره تبلیغ کوي اوله تبلیغي ټولني سره خپل تړل کېدل له اسلام سره خپله بې اندازي مینه ښیي اووایي چې یوتبلیغي پروګرام لري چې موخه یې دهنرمندانو اوسندرغاړو بلنه داسلام مبارك دین ته ده.

داڅومره دافتخارځاي دی چې یوامریکایي سندرغاړی چې ورته هرڅه په امریکاکې رسېږي شهرت، عزت،قدر،پیسې،ځایونه اومکانونه اوحتاچې هرڅه وغواړي ورته رسیږي،مګر بیاهم په خپله خوله باندي دااقرار کوي چې هیڅ دزړه لپاره مي داټول څه تسکین کیدل نه،خوکله چې داسلام په دین مشرفه شوم یوعجیب احساس مي درلود.

څوك دي ددې سندرغاړی سهلتونه ته ښه پام وکړي چې هرڅه یوچاته رسیږي نوهغه بیاولي یوداسي لاره دځان لپاره غوره کړي چې په هغه کې دایمي غربت اوعاجزه وجودولري.بیشکه چې اسلام هغه دین دی چې په ټولودینونوکې غوره اوبهتره دین دی. کوم څوك چې اسلام ته نوی راغلې وي نوله هغوي څخه دي څوك پوښتنه وکړي چې په اسلام کې څومره خوندونه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# امریکایي ملیونر مارک شیفر سعودي عربستان ته د یوه لس ورځني سفر په درشل کې خپل اسلام په ډاګه کړ

کابل – افغانستان

مأخذ : الریاض ورځپاڼه

مارک شیفر چې په خټه امریکایي او د لاس انجلس په مشهورو ځیروکې شمیرل کیږي، ښه مخکښ مدافع وکیل دي او د رسیدلو تاوانونو او خساراتو د بیا لاسته راوړنې په قضیو کې یې په ټوله امریکا کې خورا لوړ شهرت درلود. ښاغلي مارک شیفر د امریکایي مشهور سندرغاړي مایکل جکسن د مړینې نه یوازې یوه اوونۍ وړاندې هغه دوسیه هم په محکمه کې ګټلې وه چې د مایکل جکسن څخه د خساراتو دلاسته روانې په موضوع کې محکمې ته وړاندي شوې وه. دښاغلي مارک شیفر د اسلام رواړلو دکیسې په اړه په سعودي عربستان کې د سیلانیانو لارښود ښاغلي ضاوي بن ناصر الشریف داسې زیاتوي:

ښاغلي مارک شیفر سعودي عربستان ته له رسیدو سره سم د اسلام دسپیڅلي دین په اړه پوښتنې ګرویږنې په پرلپسې توګه دهرځاي او شي په لیدو سره جاري ساتلې وې. مونږ چې دلومړیو دوو ورځو لپاره دسعودي په پلازمینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ریاض ښارکې اوسیدو نوهغه لومړي د اسلام او لمانځه په اړه پوښتنې کولې.
له ریاض ښار وروسته مونږ نجران ته ولاړو او له نجران څخه بیا د سعودي عربستان سوهیلي ښار ابها ته لاړو او له هغه ځایه بیا د العلا په لور روان شوو، چې له دې وروسته د ښاغلي شیفر له اسلام سره نوره مینه هم پیدا شوه او همدا لامل ووچې خپلو پوښتنوته یې نورزور هم ورکړ.
کله چې مونږ د العلا په سیمه کې د سیل لپاره ووتو نو د ښاغلي سترکې په دریو هغو سعودي ځوانانو خښې شوې چې هغوي ټول په ریګونو ولاړ وو او خپل لمونځ یې په ډیرې عاجزۍ سره اداکاوه. هغه ته دا دسعودي ځوانانو پرته له کبره لمانځه او ځاي ځایګي زیات خوند ورکړ.
په العلا کې له دوو ورځو وروسته مونږ الجوف ته سفروکړ او هلته ښاغلي مارک شیفر زماڅخه په ډاګه د اسلام دسپیڅلي دین په اړه کتابونه او معلومات وغوښتل.
ښاغلي الشریف زیاتوي: چې ښاغلي مارک شیفر د دغو کوچنیو کتابونو په لوستلو سره اسلام ته لاره وموندله، دهماغې ورځې په پاي کې شیفر له ماوغوښتل چې داوداسه او لمانځه په اړه ورته معلومات ورکړم. هغه په ډیره ښه توګه اودس وکړ او لمونځ یې اداکړ. له لمانځه وروسته یې ماته وویل چې: له دې لمانځه نه وروسته خوزه خپل ځان زیات په راحت او بې غمۍ کې وینم
د پنجشنبې په ماښام مونږ دجدې ښار ته راوګرځیدو خو ښاغلي شیفر د هماغو کتابونو په لوستلو کې بوخت وو. د جمعې په سهار مونږ د زړې جدې په لیدو لګیا وو چې دماسپښین دلمانځه وخت شو او خلک د جمعې مبارکې دلمانځه لپاره جوماتونو ته تلل. ما هم په هوټل کې ښاغلي مارک شیفر ته وویل چې زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمانځه
ته ځم او ډیر زر به راشم. ښاغلي شیفر راته وویل : زه هم درسره ځم او غواړم چې له نږدې د لمانځه ننداره وکړم. ماښاغلي شیفر ته وویل:
مهرباني وکړي او راځي. زه د نورو لمونځ کوونکوسره یوځاي په جومات د زیات خلکو له امله دباندي دجومات په شا په سړک کې په لمانځه ودریدم. ښاغلي شیفر له نږدې دلمونځ کوونکو ننداره کوله، خورا زیات حیران وو، چې داکومه مینه ده چې دسعودي عربستان په سره ګرمی کې هم دوي دلته دسره لمر لاندې خپل سر په سره ځمکه ږدي؟ داچاته ږدي؟ دوي ولې دومره له خپلې میني سره ریښتیني دي؟ آخر ددې ټولو کړونو تر شا کوم داسې راز دي چې زه ځني بې خبره یم؟
له لمانځه وروسته ښاغلي شیفر مسلمانان ولیدل چې له یوه او بل سره په غیږو ستړي مسې کوي اویوله بله د حالاتو او ژوندانه په اړه پوښتنې کوي او د هر یوه په مخ دخوښیو داسې ولولې راڅرګندې دي چې انسانې ژبه او قلم یې له تعبیرولو خورا لیرې دي
دغې منظرې ښاغلي شیفر ته زیات خوند ورکړ. مونږ بیرته دواړه هوټل ته راوګرځیدو. هوټل ته له رسیدو سم ښاغلي مارک شیفر راته په ډاګه وویل چې غواړم مسلمان شم. ماورته وویل:
سمدلاسه دې غسل وکړي او کلمه طیبه ووایه،هغه هم لومړی غسل وکړاووروسته یي کلمیه طیبه په ښه جوش اوجذبي سره راسره تکرارکړه.
ښاغلي مارک شیفر له اسلام راوړلو وروسته راځه وغوښتل چې مکې مکرمې ته ورسره ولاړ شم. هغه غوښتل چې یوځل دوروستي ځل لپاره خپل تندي هلته الله تعالیٰ ته په ځمکه کیږدي،داټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې په خاطر چې ده په هغه هفته کې له سعودي عربستان څخه دامریکې په لور سفر درلود.

هماغه وو چې مونږ د الحمراء ددعوت او ارشاد دفتر ته ورغلو اوهلته ورته د اسلام راوړلو وثیقه هم جوړه شوه او له هغې وروسته دښاغلي مارک شیفر مکې مکرمې ته د رسولو لګښت او تکلیف ښاغلي استاذمحمد ترکستاني په غاړه واخیست او په ګډه سره د مکې مکرمې په لور وخوځید،.

ښاغلي استاذ محمد ترکستاني د ښاغلي مارک شیفر مکې مکرمې دتلو او هلته د زیات او لمنځونو کیسه داسې بیانوي:

کله چې مونږ مکې مکرمې ته ورسیدو او دښاغلي شیفر سترګې په کعبه شریفه ولګیدي نو بیدریغه یې له خولې د الله اکبر نارې سرشوې، مخ یې سور شو، له زیاتې خوښۍ یې له دواړو سترګو داسې اوښکې روانې شوې چې زه یې هم دالله تعالي سره دریشتیني مینې په خوند پوه کړم. په دې لړ کې داسې څه ترسره شول چې زه یې له ویلو ناتوانه یم. هلته ښاغلي مارک شیفر لمونځونه وکړل او زیات یې الله تعالیٰ ته وژړل، له هغې یې وروسته په طواف پیل وکړاو پوره طواف یې اداکړ. کله چې ما ورته د ناوخته کیدو وویل، هغه راته وکتل او د حال په ژبه یې دا راته وویل: داځاي خو دپریښودلو نه دی.

لنډه داچې بیرته را روان شوو ترڅو ښاغلي مارک شیفر له خپلې ډلې سره بیرته امریکې ته ستون شي، خو داهغه شیفر نه وو چې په لومړي ورځ سعودي عربستان ته راغلي وو، هغه شیفر لاړ او دهغه پرځاي یو نوي ښاغلي مارک شیفر وزیږیده.

**(زه نوی وزیږیدم)**

دا د ښاغلي مارک شیفر هغه جمله وه چې په پلازمینه ریاض ښارکې یې د الریاض ورځپانې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو
ولولو او خوښیو په اړه څرګندونې کولې. هغه زیاته کړه: زه دخپلو هغو ولولو او خوښیو په اړه تاسې ته ډیرزیات څه د تعبیر په ژبه نشم ویلای چې د مکې مکرمې په لیدو سره راته په برخه شوې وې
هغه له الریاض ورځپانې سره دا هم په ډاګه کړه چې هغه اوس یو نوي ژوند پیل کړ. کله چې له هغه څه وپوښتل شول چې له دې وروسته به دې کومو کارونو ته مخه کوي؟ ښاغلي شیفر ځواب ورکړ: لومړي به زه خپل معلومات د اسلام دسپیڅلي دین په اړه ژور کړم اوله دې سره سره دا ژمنه هم کوم چې زه به ددې کال د حج مبارکو مراسمو ته حتماً راځم.
اسلام مو ولې دلته په ډاګه کړ؟
مخکې له ماسره د اسلام دسپیڅلي دین په اړه اړین معلومات نه وو، کله چې زه سعودي عربستان ته راغلم او دلته مې د اسلام په اړه معلومات وموندل، خلک مې ولیدل چې له اسلام سره ترکومې کچې مینه لري نو زه پدې وپوهیدم چې اسلام دالله تعالي هغه حق دین دي چې زه هم باید وربانديدي د الله تعالي سره مینه او دوستي پیل کړم . همدا لامل وو چې داسلام دین مې ومنی او په ډاګه مې خپل مذهبي یون اعلان کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# میرمن لسلي کارترمسلمانه شوه

ژباړه: ایمل امیدي

زه لسلي کارتریم،دري کاله وړاندي له مسیحیت څخه داسلام په مشرف دین باندي مشرفه شوې یم.زه ډیرسوالونه دمسیحیت له دین څخه له هغه وخت راپدې خوالرم کله چې زه ځوانه وم.

زه اوس په خپل هیواداېرلنډکې په یو فرهنګي اواسلامي دفترکې دښځودمعاونې په حیث کارکوم.زمادمسیحیت دین څخه پدې وجه کرکه وشوه چې کله به چاګناه کوله نوراهبانوبه ورته داویل چې ستاسوګناهونه بخشل کیږي داځکه چې حضرت عیسیٰ (ع) ستاسولپاره کفاره شوی دی.زماد دې خبرو په اوریدلوسره په زړه کې لړڅه کرکه پیداشوه چې داڅنګه کیداي شي چې ګناه یوڅوك وکړي او سزایې بل څوك ووینی.مافکروکړچې ګناه بایدزما اودخداي (ج) پاك ترمنځ وي.

ماله خپل ځان سره قضاوت وکړچې یوه ایرلنډې ښځه بایدڅنګه مسلمانه شې،زه پدې کارکې وتوانیدم،خوزماملیت اوقوم بل رقم و،دوي په یوه لاره نه ځي،دوي په مختلفومذهبونوویشل شوي او هرمذهب ځان ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته خپله
تګلاره لري چې زه ددوي په دې کارونونه پوهیږم.
په ۱۹۹۶ زیږدیزکال کې اسلامي اوفرهنګي مرکزپه دوبي کې دال مختوم بینادله خوا څه افتتاح شو،ماپه هغه مرکزکې ګډون وکړاوورته مي دخپل هیواد په اړه پدې مرکزکې ډیرڅه وړاندي کړل، په اخیرکې ماچې کم پشینهادونه کړي وهغه ټول راته منظورشول.دازمالپاره ډیردحیراني ځاي وچې زماکم مقصدوهغه ته ورسیدم.په خپل هیوادکې یې راته یوه مسجدشریف جوړکړاوورسره هم یولوی اسلامي مرکزچې په ټوله اوروپاکې سارې نه لرې. زماخاوندله ماډیرمخکې مسلمان شوی و،خوزه لاعسیوې وم،خوزمونږپه منځ کې هیڅ کمه لانجه اوجګړه نه وه.زه به کلیساته تلم اوهغه به مسجدته تلی.کله به چې نوي کال رانوی کیدی مابه کریسمس لمانځی اوزماخاوند به دوه اخترونه کم چې یوکوچنی اوبل لوی اختر وي. خوزمااوزماد خاوندپه منځ کې دمذهب په اړه هیڅ وخت اوکله هم یوه کوچنی لانجه نده راغلی.
سربیره پردي ماته زیاتي پوښتني په مسیحیت کې راپیداشوې، خوهیچاهم نه راته ځوابولي،ترڅو مجبوره شوم چې داسلام په اړه مطالعه وکړم.مالومړی دښځودحقوقوپه اړه خپل تحقیقات وکړل،چې وګورم اسلام څومره حق ښځوته ورکړی دی،کله چې مې خپله مطالعه پاي ته ورسیده نوکمي پوښتني چې زماسره له ډیره پخواڅه وي ټولي راته په اسلام کې ځواب شوې.وروسته له هغه مي له ځان سره فیصله وکړه ترڅو کلیمه طیبه ووایم اومسلمانه شم.
کمه ورځ چې ماغوښتل چې اسلام قبول کړم حیرانه وم چې څنګه وکړم،زه په خپل فکرکې غرقه وم چې خاوندمي کورته راغی اولمونځ یې هم په کورکې وکړ.غوښتل مې چې زماددې تصمیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نیولو سره خپل خاوند حیران کړم خوونتوانیدم. هغه چې کله لمونځ پاي ته ورساوه له هغه سره بازارته ولاړمه. په لاره کې هم راسره چورتونه وه چې زه څنګه وکړم، خووروسته مي ذهین ته داراغلل چې یوه مسلمانه ښځه کم چي زماملګری وه اوپه یوه دفترکې یي کارکاوه بایدله هغې سره وینم اوداسلام په اړه ورسره وږغیږم.
کله چې مي له هغې سره والیدل هیڅ پلان مي په هغه ورځ نه درلودچې مسلمانه شم اونه مي هغه میرمن له خپل رازه خبره کړې ده چې زه مسلمانیږم، له هغې څه مي دمعلوماتوپه اړه مننه وکړه اورخصت مي ځني واخیست.له ځانه سره مې بیرته داتصمیم ونیوي چې له اسلام راوړلو څخه تیره شم اویاهم په راتلونکي لسوکلنوکې که مي بیاغوښتل مسلمانه شم،خوکله چې لا له دفتره نه وم راوتلې چې اذان مي واوریدی که څه هم زه داذان په معنا نه پوهیدم خودومره معلومات راته و چې ټول لمونځ کوونکي یې لمانځه ته رابلل .کله مي چې اذان واوریدی نوبي اختیاره مي وژړل اوپه زړه کې مي یوقسم دارامي احساس وکړ،دمسجدپه لورروانه شوم ځکه زه پوهیدمه چې بغیرزماداسلام داعلانیدولوڅخه نشم تللاي.
په مسیحیت اواسلام کې مي داهم احساس کړل چې دواړه مذهبونه سره نیږدي دي.مونږپه ټولو پیغمبرانوایمان اوباورلرو.خوفرق یوازي په اسلام اومسیحیت کې دري ګوني عقیده ده چې په مسیحیت کې په دري ګوني عقیده باندي ټول عیسویان ایمان اوباورلري خوپه اسلام کې مسلمانان یوازي اویوازي په یوه واحدخدای(ج) باندي ایمان اوباورلري اومسلمانان بیا حضرت عسٰی (ع) دخداي (ج) پیغمبراواستازی بولی ،بیشکه چې مسلمانان پرحق دي اوعسیویان ټول خطادي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږنه بایدڅوك ووژنواویاهم چاته ازاروررساوو، بایدپریوه او واحدخدای (ج) باورولرواودهغه عبادت وکړو.
زه اوس همیشه حجاب کوم او عادي لباس اغوندم لنډ،تنګ اوښکاره کالي ځځه مي ډیره کرکه کیږي،مخکې له اسلام راوړلو څه مي هم نه اغوستل.
زمامشره پنځه کلنه لورچې کله اوس په ناسته یاپه ولاړه تلویزون ګوري نوکله چې په تیلویزون کې څوك دښځودلنډوکالیوپه اړه خبري کوي ،نوزمالورورباندي ږغ کړي چې لنډاوتنګ کالي حرام دي،ژرکوي دغه چینل بدل کړي.که څه هم چې مونږاوس زیات وخت تیلویزون نه ګوروونه هم ورته خلاصیږي خوبیاهم چې کله مي لورډیرتینګاروکړي نو ورته یوچینل نیسوخوچې کله هغه له یوداسي خبري سره مخامخ شي نوهغه وایي چې هله ژرشي داچینل بدل کړي.داماته ډیردحیراني ځاي دي چې زماپنځه کلنه لورهم په حرامو پوهیږي.
په نړۍ کې دټولومذهبونوخاص پاملرنه اوس اسلام ته شوې،زیاتره خلك کم چې اسلام ته دعوت شوي دي دټولوهغووتوجه یې ځانته کړي کوم چې غیرمسلمانان دي.
ایرلنډډیرغټ هیوادندی خودلته هم ۲۳۰۰۰ زره غیري مسلمانانو اسلام قبول کړي داځکه چې زماغوندي دټولولپاره چې کمي پوښتني وې هغه یوازي په اسلام کې ورځواب شوي.دایوواقعیت دي چې داسلام پرمختګ په ټوله نړۍ کې ورځ په ورځ مخ په زیاتیدودی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لورامیلر مسلمانه شوه

ژباړه: ایمل امیدي

ډیر خلك په ټوله نړۍ کې داسلام منلولورته مخ کړي دي،هغوي اسلام مطالعه کوي اودعربې ژبې زده کړه کوي،ددې لپاره ترڅوهغوي حقیقت ته ورسیږي اوحقیقت یې لاس ته راوړي هم دي چې له هغوي له جملې څخه یوه هم ښاغلې لورامیلرده..

:لورامیلر:یوامریکایې یهودي وه،هغه اسلام ته په دوه زره اووم کال کې چې خپله بشپړه مطالعه یي داسلام په اړه کړي وه مسلمانه شوه.هغه دعربې ژبې زده کړه او داسلام مطالعه کولوته هغه وخت اړشوه کله چې مصرته تللې وه او داسلام تراغیزې لاندي راغله اوله خپلومصري ملګروڅخه یې پوښتنه وکړه چې باید زه څنګه مسلمانه شم؟اوزه غواړم چې همداشیبه مسلمانه شم.

مصري ملګرویې هم ورته داسلام راوړلوطریقه وښوده چې ته بایدلومړی کلیمه طیبه ووایه اووروسته غسل وکړې چې پدې سره ته مسلمانه کیږي.

لورامیلرهم دخپلوملګروپه همکاري سره چې هغوي ورته کلیمه طیبه ویل اودې پسي تکرارول

(c) ketabton.com: The Digital Library



اووروسته له کلیمه طیبه له ویلوڅخه یې په اسلامي طریقه سره غسل وکړاومسلمانه شوه.

کله چې هغه داسلام په مبین دین مشرفه شوله وروسته له هغه یې،دشرابوڅښل اودرقصونوکلبونه څخه ډډه وکړه.هغې چې کله اسلام ومانه نواوس لنډکالي اولڅ کالي نه اغوندي،حجاب کوي اوپه اسلامي طریقي سره خپل ځان پټوي.

مګردغه ځوانه انجلۍ چې کله خپله کورنۍ له خپلې پریکړې څه خبره کړه ټولو ورسره مخالفت وښوداوخپله ددې پلارورته وویل:

زمالپاره به داډیرښه وچې تابغیرله اسلام څه بل هر دین قبول کړي واي،خو داسلام دین په قبلولوسره مونږټول درسره مخالف یو،ته بایدبیرته یاخپل دین قبول کړي اویاهم بل دین.

خودې دخپلې کورنۍ پریکړه ونه منله اوداتینګاریې کوی چې اسلام زمانوی دین دی اوبغیرله اسلامه بل هیڅ دین نه منم.زه تاسوته داوایم چې تاسي هم بایداسلام قبول کړي،ځکه اسلام یودصلحي اوسلامتي دین دی،ټول مسلمانان په ښه وروروګلوی،مینه اوصداقت سره ژوندکوي.پرته له اسلام ټول دینونه باطل دي.تاسي که هرڅه وکړي خوزه له اسلامه نه اوړم.که تاسي راته لیونۍ اویایوه ترهرګره راته ووایې دازمالپاره کافي ده ځکه داستاسو عنقد دي له اسلام سره چې ورسره لري یې.تاسوداسلام له هدف اوتګلاره څخه نه یاست خبر.زه اوس هم یوه عادي ښاري انجلۍ یم خوکمه ترهرګره اولیونۍ نه،نورنه غواړم چې له تاسوسره ګډژوندوکړم.

ددې داخبروکم چې یې خپلې کورنۍ ته وکړي داپه ډاګه کوي چې دغه انجلۍ څنګه یې له اسلام سره زیاته منیه پیداشوه اوخپل ځان یې داسلام په پړۍ باندي داسي ټنګ ونیوي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



حتا هیڅ‌ا هم لدې پرې ښخه خلاصه نکړه که هم چې هغې د افکرکوي چې ښنګه یې له خپلې کورنۍ سره خیانت وکړاوپه ټولنه کې یې هغوي بدنامه کړل،خود اسلام مینه له هره څه ورته باارزښته وه چې نه یې دخپلې کورنۍ اونه یې دخپل کلتوراو ټولنې پرواوکړه ځکه داپدې وپوهیده چې اسلام دحق دین دی له اسلام پرته نورټول دینونه منسخ شوي دي. اوله خدای(ج) پرته بل هیڅوك لایق دعبادت نشته اوحضرت محمد(ص) دخدای (ج) رسول اودهغه بنده دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په خوست کې یو عیسوی مسلمان شو

د سوېلي افریقا یو تن عیسوي اوسېدونکي دلړم په ۲۷مه، په خوست ولایت کې د یو لړ مراسمو په ترڅ کې د توحید کلمه وویله او د اسلام په سپیڅلي دین مشرف شو.

دغه ٤٠ کلن افریقایی چې پخوانی نوم یې جېډالمیدا و په اسلام له مشرف کېدو وروسته پرې احمد نوم کېښودل شو.
د هغه د مسلمانېدو په مراسمو کې، چې د ولایت په مقام کې جوړه شوې وه، سرپرست والي طاهر خان صبری ، د استناف د محکمې رییس عبدالرزاق فاضل یو شمېر نورو خلکو هم ګډون کړی وو.
د استناف محکمې رئس عبدالرزاق فاضل وویل، چې دغه مسلمان شوي افریقایي خپل ځانته د احمد نوم غوره کړی دی.
نوموړي وویل، چې د احمد نوم د پیغمبر له نومونو څخه یو غوره نوم دی او زیاته یې کړه، هر هغه څوک چې دغه نوم ولري په هغه باندې د جهنم اور حرام دی.
احمد له مسلمانېدو وروسته دا وویل:
دوه کاله کېږي چې افغانستان ته راغلی او له هندي کمپنۍ سره د اکمالاتي کارکوونکي په توګه کار کوي ، چې د خوست ـ ګردیز ترمنځ پرغځېدلي سړک کار کوي.
څلوېښت کلن احمد داهم وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسلام په اړه یې مطالعه وکړه او پدې برخه کې ورسره خپل افغان ژباړن فضل ډېره مرسته وکړه.
ده اسلام د عدل، مېنې او ورورولۍ دین وباله او ژمنه یې وکړه چې د خپلې کورنۍ د مسلمانولو هڅه به هم وکړي.
د خوست سرپرست والي طاهرخان صبري ، احمد ته مبارکي وویله او دی یې یو نیکبخته انسان وباله.
هغه زیاته کړه چې که غېر مسلم، اسلام په سم ډول مطالعه کړي ، نو نور به هم مسلمانان شي.
د غونډې په پای کې احمد ته یو ټوك قران کریم او د لمانځه جاینماز ورکړل شو.
د احمد لیدلو او هرکلي ته ګڼ شمېر خوست مېشتي راغلي وو ،ده ته یې مبارکۍ ورکولې او له ده څخه یې په خپلو ګرځنده ټېلېفونو کې ویډیوګانې اخیستې.
د ګوربزو ولسوالۍ یو تن اوسېدونکي بسم الله ، احمد ته وویل چې که خپل هیواد ته تلل نه غواړي، نو دی حاضر دی چې د کورجوړونې لپاره په خپل کلي کې ځمکه ورکړي .
تر دې وړاندې د همدې کمپنۍ یو تن هندي انجینر د اسلام په مبارک دین باندې مشرف شوی و.

اصلاح سایټ څخه په مننه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دمبارکې روژې په برکت سره مې اسلام قبول کړ (فاطمه سکاټ)

ژباړه اوغورچاڼ: عبدالغفارجُبیر

زما د مسلمانېدو لړۍ یو الهاهي کار و، هغه په دې مطلب چې زمادبدن په یوه رگ کې هم داسې احساس اونښې نښانې نه وې چې اسلام قبول کړم؛ خوچې هدایت راشي نوضلالت ځي، چې رڼاراشي تاریکه خپل ځان ټولوي، چې ورځ پیل شي شپه خپل کډه کوي اوچې کله دحق څرک دانسان پردماغ اواحساس دښکاري په شان راښکاره شي نودباطل جنازه پورته کیږي اوله خاوروسره خاورې کیږي-

مخکې اسلام راوړل په اروپاکې یوپېغوراوشرم احساسېده، په ځانګړي ډول سره په هغوسیموکې چې هلته به کلیساوې ډېرې وې، دعیسایت لمن به پراخه غوړېدلې وه اوهرځای به دبایبل پوهان اومبلغین ناست وه اوخلک به یې وعیسایت ته رابلل اودعیسایت دمینې تخم به یې پکښې شینده، وکلیساته به یې بلنه ورکول اوکله کله خوبه یې په کرسمس کې یوه نسخه دبایبل دسوغات په ډول سره ورکول.نوپه داسې سیموکې ومسلمان ته په سپکه سرګه کتل، سپکې سپورې ورته کول، تجاوزوربانډي کول دایوه عادي خبره وه،داټولې هلې ځلې دعیسایي مبلیغینووي اودوي تراوسه داپوره کوښښ کوي چې داټوله نړې (**Christianized**) کړي،یاپه بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبارت داتېوله نړۍ عیسايي کړي، خوداناشونې اوداامکان نه وتلې خبره ده، چي په دې خوبوکي ډېرپاپان، راهبان اوکشیشان ترخاورولاندي شول اوداارمان یې پوره نشواونه به هم پوره شي- دایوحقیقت دي چي عیسايي ګروپواسلام ومونږ(ښځو) ته ډېرسپک معارفي کاوه اوحال داچي کومي کامیابي، خوښي، سکون اوښکلی احساس چي په اسلام کي شته په بل هیڅ دین کي یې زرمه برخه هم نشته؛ نوځکه که یوڅااسلام قبول کړی واي نوهغه به دلوي ګواښ سره لاس اوګرېوان و،داسي خولاهم پېښه شوه چي زمایوه دوسته (عایشه اسلام) چي کله په اسلام مشرفه شوه نودعیسايي وحشي ځناورولخواڅخه په مرموزډول سره لومړي هغه وتښتول شوه، ووهل شوه، په ژوندیې ویښتیان ورڅخه وکښل شول اوبیایې په ډېربدحالت کي شهیده کړل، چي ددې شهادت دټول امت مسلمه لپاره یونه هېرېدونکي ویاړدی.پخپله عایشه اسلام یوه ډېره نیکه، رښتینې، مخلصه اوزړه وړونکې څهره وه،اوداسلام لپاره یې دومره کوښښ شپه اورځ کاوه چي لکه داسلام درنګا غوړېدل چي پردې باندي فرض وي.حال داچي عایشه اسلام مخکي یوه متعصبه عیسايي وه، خوچي کله مسلمانه شوه نوواسلام ته یې چوپړنه هېرونکي دی،تراوسه دچانه ده هېره اودټولوپه زړونوکي پوره ځاي لري، هرچاودې ته احترام کاوه، داځکه چي داپه ډېرومذهبونوکي ماهره وه، اوپوره معلومات یې درلودل اوله همدې کبله ددې په جنازه کي علاوه دمسلمانانوڅخه هندوان، عام عیسایان، زردشتیان، یهودان اودنورومذهبونوخلکوګډون درلودي.مادشهیدې خورپه جنازه کي دخپلې بلې ملګرې (مریمې) سره دومره وژړل چي وروسته دتګ نه وم اوهغه دومره بوږنونکې ورځ وه چي یادول یې له دماغ اوفکره څخه لوړدي.خدای(ج) بخښلې عایشې به تل ماته داتوصیه کوله چي مسلمانه شه اودابه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم راته
ویل که دي په اسلام کي دزړۀ مراداودژوندهدف
ترسره نشواوتولې نیمگړتیاوې دي بشپړې نشوې
نوبیاماته سزاراکړه!!! خوماد هغې وخبرو ته
کومه توجه نه کول ارمان!!! چي زه هم
په هغه وخت کي مسلمانه شوې واي اودشهادت
ویاړمي گټلي واي. زه اوس هم داسلام په لاره
کي دلوړشهادت انتظارکوم، الله جل جلاله دي
رانصیب کړي-
نوپه داسي تولنه کي اسلام راوړل ومرگ ته
ښه راغلاست ویل وو، خودعایشې اسلام دشهادت
څخه وروسته په دروکلونوکي چاپېریال په مکمل
ډول سره بدلون وموموي، اوددې وینه ضایع نشول
اودومره انقلاب په ځوانانوکي راغي چي اوس
اسلام دشرم پرځاي یوویاړدي، هرڅوک داکوښښ
کوي چي قران ولولي، احادیث نبوي صلي الله علیه
وسلم زده کړي، په سیرت نبي صلي الله علیه وسلم
ځان خبرکړي اوداسلامي ویاړلي تاریخ اواسلامي
فکرمطالعه خپله کړي، لله الحمد!!!اودپوره
مطالعي اوڅیړني څخه وروسته ډېرځوانان هره
ورځ زماپه شان اسلام راوړي، لله الحمد!!! اوس
ډېراسلامي مرکزونه جوړشویدي، دمسجدونوډېري
کښېښودل کیږي، اواسلامي حجاب ډېرعام دي، خلک
خپل شخصي کورونه نړوي اومدرسې اومسجدونه
ورڅخه جوړوي چي داهغه ویاړدي چي موږیې
شُکرنشواداکولاي؛ دپوره ویاړځاي خولادادي چي
ځوانانوپه پوره لیوالتیاسره داسلام نه ستړې
کېدونکي چوپړکوي اوداسلام لپاره هرکوښښ دخپل
ځان لپاره ددې دنیااواخرت سعادت اونیکرغي
گڼي-
مخکي پرمسلمانانودومره سختي وه چي
بیانول یې ناشوني اوددردونکي دي، خوزه دخپلي
سیمي یوه بېلگه وړاندي کوم:
هغه داچي یووړوکي مسجددعمرفاروق رضي الله
عنه په نامه تعمیرشو، اود(۲۵ـ ۳۵) پوري به

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانان ورته راتلل. اذان هلته ددې سیمې دعیسایانوله خوا څخه بنداعلان کړل شو، مسلمانان ووهل شول، دمسجدامام بې عزته شو، اودخنځیرپه وینوباندې په عام محضرکې ولمبول شو هغه وخت راورسېدې چې مسجدشهیدکړل شي اومسلمانا ن له دې ځایه پسې وشړل شول، خودولت ژر مداخله وکړل اودمسلمانانوپرتېولوسیمویې دپولیسوځنځیرونه راتاوکړل اودمرګ اودردڅخه یې وژغورل اوفیصله په دې وشول چې اذان دې بندکړل شي اوپه مسجدکې داذان پرځاي یو ګروپ ولګول شي ترڅخه دګوتوپه شمېرمسلمانان ورته راشي، په مسجدکې به هیڅ ډول تبلیغ نه کیږي، دقرانکریم تعلیم دي نه وي، غیرمسلمانان دي واسلامي مراسیمواومسجدته نه دعوت کیږي اوداسي نور----------

خواوس الحمدلله په هغه سیمه کې ډېرمسجدونه، جامع مسجدونه، مدرسې اودمسلمانانوټولني اومرکزونه شتون لري اواسلام په چټکی سره خپله لمن غوړوي-

چې اوس په اروپااوامریکاکي داسلام دحقانیت څخه هیڅوک انکارنشي کولاي چې دایونړیوال کوټلي واقعیت دي-

زماسفر واسلام ته!

داپریل پر(۲۵) دجمعې په شپه زمادوینې فشار**(BP)** جګ شو، اوهغه داسي چې یوه میلمستیامي درلودل اوهرڅه مي بي کنترولہ وخوړل، چې دڅه وخت وروسته مي یوڅه دعادي حالت څخه دبدلون احساس وکاوه، هغه دفشاردلوړیدوټولي نښې راپکښې پیداشوې چې هیڅ مي ځان نشوکنترولولاي.یو ې ملګرې (نانسي) وروغتون ته یووړلم اوتداوي مي دډاکټرجان جوزف**(Dr. John Josef)** په غاړه شول.ددووساعتولپاره په روغتون کي داخله وم اوفشارمي څه کنترول شو، داروډرمل یې راکړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوهغه
داسي دارودرمل وه چي زه يې بايدتل لپاره و
خورم، اوپوره پرهيزبه ورسره کوم، چي
دازمالپاره واسمان ته تګ و.دډاکټردمشورې
مطابق يوه اونۍ وروسته ورغلم فشارمي عادي
اوډېره هوساوم،ماورڅخه وپوښتل چي ډاکټرصاحب
که دفشارلپاره يوه طبعي درملنه وي، داځکه
چي ددارودرمل څخه مي ډېره کرکه کيږي
.ډاکټرجان جوزف راته وويل چي سکاټ!!!
د(۲۰_۳۰) ورځوپوري دمسلمانانوروژه ونيسه،
نوددې ټولوناروغيوڅخه به دايمي خلاصون
ومومي.ماورته وويل:
ډاکټرصاحب په دې خبره پوه نشوم دادي څه
راته وويل؟؟؟ ډاکټرصاحب بياراته وويل: چي
د(۲۰_۳۰) ورځي دسهارڅخه ترماښامه پوري هيڅ
شي مه خوره اوڅښاک هم مه کوه، نوضروربه
ددايمي فشارڅخه دتل لپاره خلاصه
شې،داموږتجربه کړېده.دادرملنه موچاته لس
ورځي، چاته شل ورځي اوکله خوبياکه يوڅوک
ډېرپه تکليف وي تر(۳۰) ورځوپوري داهدايت
ورته کوو- بيامي ورڅخه وپوښتل چي
داخودمسلمانانوروژه ده اوکه بل څه؟؟؟
ډاکټرصاحب راته غبرګه کړل چي ته يوڅودقېقې
پردې چوکۍ باندي کښينه چي دزړه براس درته
ښکاره کړم اوحقيقت درته څرګندکړم،هغه داچي
روژه دمسلمانانويوسپېڅلی عبادت دی،داپه کال
کي يوه مياشت ده اوخپله مياشت يې معلومه
ده، اوودې مياشتي ته مسلمانان ډېرتقدس لري
، زموږاوستاسوپه بايبل کي هم دروژې څه بيان
شته خودادکليساووواکداران ورباندي لومړي
خبرنه دي اودوهم داچي موږاوتاسي يې ډېربې
خبره ساتلي يو اواوس عيسايانوروژه له عبادت
څخه غورځولې ده اوهيڅ ارزښت نه ورکوي.برعکس
مسلمانان خپل هرعبادت په پوره مينه
اولېوالتياسره کوي اودتعجب خبره خولاداده چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددوي په هرعبادت کي ډېررازونه اوارزښتونه پراته دي؛ یودروژې ګټي دشمارڅخه وتلي دي چي شکره، فشار، دزړۀتکلیفونه، دمعدې ناروغیانې اودچاغښت اوکولسترول دکانترول لپاره یواځني بې مثله دایمي درملنه ده نودابه منوچي داسلام دین حق دی.داچي زه هم عیسایي یم اوته هم اوداسلام پرحقانیت موسترګي پټي کړیدي دابله خبره ده-

ماورڅخه وپوښتل ایاته مسلمان شوی یې؟؟؟!!! اودادي څه داسلام تبلیغ پیل کړیدی؟ ډاکټرصاحب په خنداسره راته وویل :نه! خورې!!! دغاړې صلیب یې راښکاره کړ، اوبایبل یې راواخیستي چي زمادي په دغه صلیب اوپه دغه بایبل قسم وي که زه مسلمان شوي یم بلکه زه دکاتولیک عیسایي ډلي یوغړي یم، مګرتحقیقات، حقیقت اودهدایت رڼا څوک نشي پټولاي.ماورته وویل چي زه خوپه اسلام دومره خبره یم چي اسلام دترهګرۍ دین دی، هغه دښځوضددین دی، هغه دسولي پرځاي دجنګ اوجګړې دین دي اوبس-

ډاکټرصاحب چي دناروغانوربانډي ګڼه ګوڼه ډېره وه راته وویل :خورې! واقعیت اوحقیقت ترخاورولاندي کیږي، داسلام څه ناڅه مطالعه ماکړیده، دومره بده څهره چي رسنیودلته په لویدیځ کي ورکړیده داټول غلط اوبې بنسټه دي؛ خودادرته وایم چي داسلام مطالعه وکړه ضرور، پخپله به هرڅه درته جوت شي.

ډاکټرصاحب څه دارودرمل راکړل اوله روغتون څخه راووتلم اوله ځانه سره مي داهوډ وکړچي لومړی بایدداسلام پوره مطالعه وکړم-

ډاکټرصاحب چي کومي خبري وکړې ددې څخه داجوتیږي چي موږ(عیسایان) ترغوږوپوري غرق یو، داځکه چي اسلام حق دی اوموږیې نه منو، داسلام هرقانون رښتینی دی خوموږیې نه منو.اوبل فکرداراته پیداشوچي کیداي شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر
مسلمان شوي وی اوزه یې هم واسلام ته هڅولې یم،بیامي خپل عقل داراته وویل چي دلته ډاکټر،نه وډگری ته اړتیالري، نه وپیسوته اړتیالري اونه هم وامتیازاوشهرت ته اونه هم مسلمانان دومره څواک اوواک لري چي دومره گټه ورته ورسوي داځکه چي دوي په **(Minority)** یعني لږکیوکي راځي، نوښه به داوي چي ترټولولومړی دمسلمانانودیوه عالم څخه دروژې په اړه معلومات پیداکړم چي دازمادرملنه ده اوبیاداسلام مطالعه وکړم.په زړۀ کي مي یوه خبره په وارواررااگرځېده اوهغه داچي زما داسلام څخه څومره کرکه کیږي اواوس څومره ورته اړینه یم چي زمامرگ اوژوندپه اسلام پوري وتړل شو.له ځانه سره مه دافیصله وکړل چي دیوه بل ډاکټرسره هم په دې هکله مشوره وکړم چي ښه مي یقین شي دسرطان دمرکز **(Cancer Center)** یوپروفیسرډاکټر(رابرټ هال) سره مي تلیفوني تماس ونیوه هغه داخبره راته وکړه، چي داخبره چادرته کړېده؟ ماورته وویل چي داخبره( ډاکټرجان جوزف) په یقیني ډول سره راته کړیده اوورته ومي خندل. (رابرټ هال ) راته وویل چي په دې کي هیڅ شک نشته ، مگرموږداخیړني ډېرې پټې ساتو، ترڅوخلک واسلام ته تشویق نشي، خودانټرنیټ په مټ اوس هرڅه چي زموږترخوله ووځي هغه سباپه هرهیواداوهره ژبه کي شتون لري؛ په دې کي هیڅ شک نشته چي روژه دانسان د(۸۵) په سلوکي دناروغیوښه درملنه ده اوداچي ته وروژې ته لیواله یې نوخیړنه پکښې وکړه-

دډاکټررابرټ هال ددې خبروڅخه وروسته مي قسمت واوښتي او(۱۰۰) په سلوکي مي دادزړۀ وتل ته کښته شوه چي داسلام مبارک دین حق دی اونور نوزه بایدپخپله پکښې څیړنه وکړم،دتوفیق غوښتنه مي دخدای جل جلاله څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړل.ډاکټررابرټ داهم راته وویل چي سکاټ!!! ستاوزن هم ډېرزیات دي، یعني ته **(Over Weight)** یې نوروژه دچاغښت لپاره هم ترتولودرملنوښه درمل ده.اوس زه دځانه سره په دې فکرکي یم چي لومړی بایدزه څه وکړم؟؟؟ اوچیري ولاړه شم؟؟؟ وچاته ولاړه شم؟؟؟ مشوره مي دخپلي خور(کینګ سکاټ) څخه واخیستل اوهرڅه مي ورسره شریک کړل، هغې دامشوره راکړل چي زه باید دمحمدي مسجد وخطیب اوقاري مصطفي عزت ته ولاړه شم اودهغه مشوره واخلم.نوداسباسهاروختي ومرکزته ورغلم اوددده دملاقات غوښتنه مي وکړل، هغه په ډېروړین تندي راته ښه راغلاست وواېه؛ اوودفترته یې دتلوبللنه راکړل، هلته ورغلم اوورسره کښېناستلم ،ترټولولومړی مي ورڅخه وپوښتل چي ایاپه اوسني بایبل کي دروژې څه بیان شته اوکه نشته؟

قاري صاحب راته وویل:

روژه دالله جل جلاله یوسترعبادت دی، په دې میاشت کي موږدسولي، حوصلې، دخداي جل جلاله دپوره اطاعت، دمسکینانواوبې وزلوسره دخواخوږۍ اوزغم درس راکوي اوداروژه په تورات کي هم وه، په انجیل کي هم وه، اوپه قرانکریم کي هم شته اوس درته داوسني بایبل درې ځایونه درته وایم:

١: اوچه کله تاسي روژه نیسي نودریاکارانوپه شان ځانونه خفه مه ښکاره کوي، هغوي څکه خپل مخونه ورانوي چي خلک ورته ووای چي دوي روژدار دي، زه (عیسؑي) وتاسوته وایم چي هغوي خپل اجرپه دې دنیاکي ومووندي خوکله چي تاسي روژه نیسي خپل سرغوړوي اومخ پرېمینځي ددې لپاره چي څوک ونه وایي چي ددوي روژه ده-

(متي شپږم باب، دروژې په هکله تعلیم ١٦ــ ١٩)

بل ځاي په بایبل کي راځي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



2: زه
په هفته کي دوه ځله روژه نیسم (لوقا اتلسم باب ۱۲)
3: هرکله چي دوي دمالک عبادت کولونوروژه يې نیوله- (اعمال درسولانو ۲)
داسي ډېرځلي دروژې بیان په اوسني بایبل کي شته اوپردې باندي قرانکریم هم گواهې ورکوي اوموږته قرانکریم وايي چي په مخکنیوامتونوباندي هم روژه فرض وه لکه چي وايي:
کُتب علیکُم الصیام کماکُتب علي الذین من قبلکُم---
ژباړه:فرض کړل شوې ده پرتاسوباندي روژه(اي مسلمانانو) لکه پرمخکنیوامتونوباندي چي فرض وه-
داچي بایبل اوس تحریف شوی، اواصلي متن يې له مینځه تللی نوځکه هیڅ حکم يې پرخپل اصل ولاړنه دی اونه هم عیسایان ورته دیوه الهي قانون اوکتاب په سترگه گوري-
ماورڅخه وپوښتل چي داځنگه امکان لري چي بایبل هم دخدای(ج) کتاب دي اوقران هم خوقران نه دي تحریف شوي اوبایبل تحریف شویدی؟
قاري صاحب په مُسکاراته وویل چي بایبلونه دي لیدلي اومطالعه کړي دي دي؟
ماورته وویل چي زه کاتولیکه یم اودکاتولیکانوبایبل اوهم مي دپروتستانوبایبل مطالعه کړیدی- قاري صاحب راته وویل چي ددغودووبایبلوترمیځ څومره توپیرشته؟ ماورته وویل چي ډېرتوپیریي شته خوزماپه یادکي نشته، قاري صاحب بیاراته وویل چي (۲۴۰۰۰) نسخې دبایبل لیکل شویدي اوپه دې ټولونسخوکي دوې نسخې یوشانته نه دي ته کولاي شي دي **(The Root of Bible)** داکتاب وگوري اویوه ساده بېلگه درته وړاندي کوم چي هرعیسايي يې مني اوډېرژريې منلاي شي اوهغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



داچي که موږومتي اولوقاته وګورو نودځانه ځخه جوړه شوې دحضرت عیسي علیه سلام نسب پانه ځومره اختلاف پکښې شته اوبل داچي که غواړي چي دبایبل په تعارضونوره هم پوه شي نودادرته وایم چي موږداتول یوځاي کړیدي اوکولاي شي چي ویې ګوري اوخپل پوره فکرپکښې وکړې.اوبل داچي داسي پوچې، بې بنیاده کیسې اووینااوي پکښې دي زه دیوانسان په حیث ورځخه شرمېږم نودابه ځنګه دالله جل جلاله کتاب وي که په لنډوکي درته ووایم نوویلاي شم چي بایبل ټوله د پخوانیو یوناني افکاریوه مجموعه ده، اوداټوله دبشردلاس کاردي اوبس؛ اوقرانکریم په ټوله نړۍ کي چي دهرمسلمان په لاس کي دی که په شرق کي دی اوکه په غرب کي یوشانته دی، دیوه توري په اندازه توپیرپکښې نشته،اونه یې ځوک پکښې راوستلاي شي.په قرانکریم کي دابراهیم علیه سلام نوم په دوه قسمه املاء راغلي دي (ابراهیم،ابراهم)، په دې (۱۴۰۰) کاله کي دیوه توري پرځاي بل توري نه دی راغلی اونه هم چابدل کړیدی اونه یې هم ځوک بدلولاي شي ،چي داخپله دقرانکریم معجزه ده حق دی.داهم درسره په یادوساته چي قرانکریم پخپل اصلي بڼه سره دی اوترقیامته پوري به پاته وي-

وقاري صاحب ته مي وکتل اوورته مي وویل چي تسلي مي وشوه، خوځوپوښتني درځخه کوم :

اول داچي دلته ستاسوسره په دفتر کي دپوره سکون احساس کوم اوځه ارامه شوم داولي؟

قاري صاحب:

داخودمسلمانانومرکزاومسجددی هرهغه ځاي چي دخدای(ج) کوروي اودخدای جل جلاله ددین خدمت پکښې کیږي هلته به ضرورسکون وي اوزموږخوږپېغمبرصلي الله علیه وسلم فرمایي:

احب البلاد الي الله مساجدها-

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهترین
دځایونوخخه دالله جل جلاله په نزدمسجدونه دي.
ایامسلمانان لکه درسنیوپه اندظالمان اوبې رحمه دي اواسلام په زورسره خپرېږي؟
قاري صاحب:
نه هیڅکله نه! دادعیسایي نړۍ یوه پروپاګنددی اودادکرکي توررنګ دي چي مسلمانه نړۍ په بدناموي. ایادلته په لویځ کي کوم مسلمان دخلکودمسلمانیدواویاهم داسلام دخپرېدولپاره بې ګناه خلک وژلي دي؟دلته اسلام چاپه زورسره خپورکړ؟! ایادااوسنۍ داسلام شغلې چي خپرېږي دازوراوظلم دي؟ داچي امریکااونورمتحدین یې په عراق اوافغانستان کي بې ګناه خلک وژني ایادا انصاف اوعدل دي؟ ایاداوحشت اوبربریت نه دي چي په میلیونوانسانان ووژل شول اووژل کیږي، پوره هیوادونه بې ثباته اودتوروخاوروسره خاورې شول،مسلماني مېرمنې بې کوره، سرتورې اوبې عفته شوې؟اوددې اسلامي هیوادو سوله یې په جنګ بدله کړل، مینه په ژړابدله شول اوهرڅه یې لکه تعلیم، اقتصاد سیاسي ثبات له مینځه ولاړل؟ اوهغه څوک چي پخپلوهیوادونوکي ددې اشغالګروپرضدجنګیږي دادهغوي حق دی اوموږمسلمانان دمځکي پرمخ زړه سوانده، میلمه پاله اودښواخلاقوښتنان یو داځکه چي زموږخوږپېغمبرصلي الله علیه وسلم وموږته فرمایي:
لایرحم الله من لایرحم الناس.
که څوک پرخلکورحم ونه کړي نوخدای جل جلاله وربانډي نه رحمیږي.
اسلام دسولي، رحم، دمینې اودټولني دهري ناروغی یواځني درمل دی.
دقاري صاحب دتایدلپاره ماورته وویل چي هو!!! دامنم چي دامریکاجمهوریس ډبلیوبوش پرافغانستان اوعراق دحملو مخکي په واتیکان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي دپاپ سره دوه ساعته غونډه درلوده، اوموږته حکم وشودواتیکان له خواڅخه چي تاسي وصدربوش ته په کلیساووکي دعاوي کوي اوپاپ پخپله ورته دعاوي کولې.
داوټولوامریکایانوته جوته ده چي ټولې عیسایي نړۍ ودې جنګ ته دصلیبي جنګونوسرلیک ورکړ چي صدربوش پخپله هم په لومړی ځل دادصلیبي جنګ اوجګړې اعلان وکړ-
دښاغلي قاري صاحب سره زمامجلس ډیرښکلی اوپه زړۀ پوري ووټولي خبري یې رښتني اوزماپه زړۀ کي یې خاص ځاي پیداکړ.یوقرانکریم، بل دعباداتو اویودروژې په هکله یې یوکتاب راکړچي ډیرپه زړۀپوري وواوټول معلومات پکښې وه. اوفیصله مي له ځانه سره داسي وکړل چي لومړی به روژه نیسم خپله ناروغي به ګورم اوبیابه اسلام راوړم، همدغسي وشو؛ دیوې روژې په نیولوسره مي څه حالت بدل شو، خوبل لورته روژه نیول زماڵپاره یوناشونې کاروو، اوملګروبه راته ویل دابې عقلي ده، چي ځان دي تږي وږي کړیدی.مابه صرف په مُسکاسره ورته ځواب ورکاوه اوبس.لومړۍ روژه مي ترخپل وخت مخکي ماته کړل یعني لمرلاخپله سترګه نه وه پټه کړې چي ماروژه ماته کړل حال داچي مسلمانه لاهم نه وم . پوره درې ورځې وروسته دروژې نیولوسره څه عادي شوم هره ورځ مي فشارکاته، په (۱۵) ورځوکي مي فشاروخپل عادي حالت ته راغی اودارودرمل مي پرېښودل چي دازمادزړۀ ارمان اولویه هیله وه چي راته په لاس راغلل.روژه نیول مي داسلام مطابق جاري وساتل دپوره یوې میاشتي روژې نیولوڅخه وروسته ترپخواځوانه، روښانه، دماغ مي تازه، اودپوره خوښۍ احساس کاوه اوس داراته ثابته شوه چي واقعاً اسلام حق دین دی اوپه هرعبادت، امراونهي کي یې ضرورډیري ګټي شته.دقاري صاحب دملاقات څخه وروسته یوه میاشت اولس ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسته مي
داسلام دمبارک دين دقبولوهوډ وکړ اودقاري صاحب سره په تماس کي وم، چي هغه دجمعې مبارکي ورځ راته انتخاب کړل اودده دلارښوني مطابق دجمعې په ورځ سهارورغلم اوهلته يوه غونډه هم راغوښتل شوي وه،څه تقريرونه وشول اوپه اخرکي وماته بلنه راکړل شول اوڅه خبري مي دخپلي ناروغۍ اوپه روژې ددرملني په هکله ورته وکړي اوبيامي دشهادت کلمه چي قاري صاحب راته ويل وويل اوداسلام په مبارک دين مشرفه شوم لله الحمد-
زماتوصيه :
زماتوصيه وټول اُمت مسلمه ته داده چي هرمسلمان که نردی اوکه ښځه داسلام پوره ــ پوره احکام په بشپړډول سره عملي کړی.دکفاروپه پټوتوطيوڅانونه خبرکړي.دزړهٔ له کومي داسلام چوپړوکړي که څه هم تکليفونه، کړاوونه، شهادت، دسراومال تاوان پکښې وي، داځکه چي الله جل جلاله لوي ذات دی اوداخرت يوه زره دنعمت ددې نړی دټولومادي شيانوڅخه ډېرزيات اوابدي دي؛ هغه خوښي اوښه ژوندچي په اخرت کي شته هغه زموږلپاره کافي دي؛ اوداهم درته وايم چي که موږ(مسلمانان) پخپل دين باندي په بشپړتوګه سره ټينګ ودرېږونوهيڅوک به په مونږڅه ونشي کړاي،هم به په دې دنياکي ښاديواوهم به په اخرت کي-
دکفري نړی يوه بله توطيه داده چي غواړي چي اسلامي حجاب بندکړي زه ومسلمانوخويندوته که په فرانسه کي دي، که په بلجيم کي اويا هم دنړۍ په هرګوټ کي دي داوايم چي پخپل اسلامي اوصولوباندي ټينګې اومستقيمې شي، اوپه دې لاره کي شهادت تربې حجابۍ غوره وګڼي- انشاء الله دکفرداټولي توطيې به شنډي اودخاوروسره به خاورې شي- امين

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عایشه کیم مسلمانه شوه

مرکه اسلام ویب سایټ
ژباړه: ایمل امیدي

عایشه کیم دکوریا اوسیدونکې په زړه ډیره نرمه،هوښیاره اودټینګې اراده څیښتنه ده. داله هغه وخته څه داسلام په لټه کې شوه کله چې داسلام وړانګې یې زړه ورلمس کړي و.
هغه اوس داسلام په لاره کې ترډیره ځاي تللې ده. هغه اوس ټول په اسلامي نامه سره چې دي خپلې دځان لپاره انتخاب کړي (عایشه) پیژني. هغه اوس دکوریادښځولپاره یوه څراغ ګرځیدلې ده اوخصوصاً دهغه پیغلوشاګردانولپاره کم چې ددې په هیوادکې دي. هغه اوس ټولوته دارهنمایي کوي چې په حقیقت ځان پوه کړي.
په لومړي سرکې دهغې خاوند اسلام قبول کړي و اووروسته بیاخپله عایشې. دعایشې خاوند میډهون نومیږي اوهغه اوس په شمالي کوریاکې دمسلمانانود اتحادیي مشردی.
خومیرمن عایشه له خپل خاوند څخه ډیره وړاندې ده اودوي دواړو یوځاي دحقیقت لاره تعقیبوي.
عایشه هغه وخت پدې وتونیده چې دځان لپاره دحقیقت لاره پیداکړي
کله چې صلبي جنګونه شروع شول،داهم هغه وخت دې ته مجبوره شوه او دځان لپاره یې دحقیقت لارپیداکړه،په همدې دلیل سره یې داسلام مذهب انتخاب کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې
پرخپل ځان دعایشه نوم پدې خاطرکیښودچې داسلام دسپڅلی پیغمبرمحمد(ص) دښځې نوم هم عایشه و.

پوره یونیم ساعت مرکه یې دکوریاله اسلامي اوفرهنګي مرکزسره چي دعربستان په جده ښارکې موقعیت لري وکړه.هغې له ځانه سره خپلې زده کوونکې انجوني هم دحج دعمري لپاره راوستلي وې اودعمري له کولووروسته بیرته خپل هیوادکوریاته ستانې شوې، څه وخت چې موله هغې څخه پوښتنه وکړه چې څنګه دا په اسلام کې شامله شوه؟داالومړی خاموشه شوه اوخپلي سترګي یې بندي کړې، دې کوښښ کاوه چې یوشي ته په ډیره ژوره توګه وګوري هغه هم په خپل زړه کې،وروسته له ډیرې خاموشی څخه یې یوه اوږده ساه وکښه اوپوښتني ته یې داسي ځواب راکړ.

زماکیسه چې څنګه مي له اسلام سره زړه ولیګیدی هغه په داسي ډول سره ده،کله چې زه په کوریاکې په مکتب کې کامیابه شوم،په یوه داسي کورنی پسي مربوطه ومه چې هغوي ارتدوکس (دچین دسرسختوپیروانوڅخه ) ول. په کوریاکې جنګونه ډیرشول اوما واده له امام مهدیون سره وکړ.مونږدواړو(خاونداومیرمن) هغه وخت موهم همیشه دااحساس درلوداودافکرموکوي نه داچي له اسلام ډیرلیري وبلکي له حقیقته هم ډیرلیري و،ځکه مونږپه داسي یومحیط کې اوسیدوچې هلته اسلام ته هیڅ توجه نه واونه هم هلته اسلام په ښکاره ډول سره و.

ډیردحقیقت په لټه کې.

تل به مي په زړه کې لکه سنجاق چې وهل کیدي داسي احساس به مي کوي،ددې لپاره ترڅوځان په حقیقت وپوهوم اووربانديي پوه شم،دزړه په دننه کې مي چې کم ږغ وهغه ددې باعث شوچې وحقیقت ته درسیدو لپاره لاري شته،خوهلته بیاډیرمختلف مذهبونه و

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوماغوښتل چې دټولومذهبونوپه تگلاروباندي ځان خبرکړم.

په هغه وخت کې کوریابیا له زیاتوجنگونوڅخه بیاوجاړه شوه اومونږبیا له هغه ځایه څخه ولاړلو،خوددغه وخت مسافري موپه خپل هیوادکې وکړه،مونږ له شمالي کوریاله ښاره راووتواودسمندروڅنډوته ولاړلواوهلته اوسیدلو،چې دادسمندرشاه وخواسیمه په پوسن پوري اړه درلوده اوپوسن دشمالي کوریایوه سیمه ده.

دوخت په تیریدوسره مونږله هغه حالته څخه ډیرپه تنگ شولو اوماخپل خاوند(امام میډهون) ته وویل:

زه اوته بایدخپل ځانونه له دغه کلابندۍ څخه وساتو،کله چې موخپل ځانونه وساتل نوداپه دي ماناده لکه ټوله ټولنه چې مو ساتلې وي.

مونږهلته یو ملگری پیداکړچې هغه عمرکیم نومیدی اوهغه هلته دهرکلی لپاره یو اسلامي مرکز درلودچې دټولو انسانانولپاره یې جوړکړي و،خوهغه اوس مړدی الله (ج) دي وبخښي،هغه زمونږسره هلته شناخته شواومونږیې هم واسلام ته اوهم یې خپل اسلامي مرکزته راوبللو،مونږته یې وویل:

ترڅوچې جنگ روان وي،مونږله تاسوڅخه هیله کووڅوپه دې ځاي کې خلکوته داسلام په اړه تبلیغ وکړي اوخلك واسلام ته رادعوت کړئ؟

زمونږعقل دعمرپه خبروکولو اومونږته په پشنهادکولو سره قانع شو،ددې ترڅنگ جنگ موټوله هیوادخراب کړ،یوازي اقتصادته زربه نه وه بلکې له هره اړخه څه یې دټولو انسانانو فکرونه سره گډوډکړل اوهیڅوك پدې نه پوهیدی چې لا به نورڅه کیږي اودڅه بابلده پیښوشاهیدان به واوسي،ځکه حالات ډیرورځ تربلې خرابیدل،بیخي دزړه سوانده وړ و اولاترډې هم بدتر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه وخت
چې یې زماڅه بیاپوښتنه وکړه زماخاوندهم ډیرپریشانه وه،مخکې لدې چې اسلام قبول کړوماورته وخندل اوورته ومې ویل:
کله چې زماخاوندزماسره سلااومشهوره کوي اوماونیکې لاره ته هدایت کوي بیاخوکمه خبره نده،پوښتنه مې ځني وکړه په هرصورت واقعي چې اسلام یو له هغه دینونوڅخه دی چې هرچاته لارښوونه کوي اوومستقمي لاره ته یې دعوت کوي. خوهغه لدې څخه ډیره ویره درلوده چې ترڅوبه داجګړه زمونږپه هیوادکې روانه وی اوپدې هم پوهیدی چې څه به کیږي. هغه له حده زیات پریشانه وه چې مونږبه څنګه په داسي ترتیب سره دوه ژونده تردې وروسته پرمخ بوزو.
دغه کلمات مې په زړه باندي ډیرمحکم اوخواړه ولګیدل.زماخاونددې لپاره ډیرراته حیرانه پاته وه چې ماله هغه څه وړاندي په ټولو حقیقتونو ځان پوه کړي و،
بیامې ورته وویل:
کله چې اسلام قبول کړو نوانشاء الله عمرکیم به هم زمونږسره هلته ولاړشي اوډیره مرسته به راسي وکړي.
زماملګری عمرکیم اوزماخاوندله ډیرو نظامي تورکي عسکروسره معرفي کړم کم چې وروسته بیاهغه عسکرکوریاته انتقال شول. هره ورځ دوي به تلل اوشل کیلومتره به یې له شمالي کوریا له پایتخت سویل څخه لیدنه کوله. لنډه داچې هغه ورځ هم راغله کم چې موله ډیروزحمتونوباوجودزغملي وي،په خوشحالۍ بدلې شوې. یوه ورځ دجمعه ورځ وه زماخاوند دترکي امام عبدالرحمن سره یوځاي دزبیرکوچی په لاسونود جمعي په ورځ دلمانځه وروسته اسلام قبول کړ. دواړه دغه محترمین دترکي له پوځیانوڅخه ول.

دکوچنیانوپه اړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته له دغوپیښوڅخه،مي خپله توجوتوله خپلوکوچینانوته واړول.مافقط دوي لوراني درلودې،خومادودي په اړه ډیره اندیښنه درلوده،خوماخپل ځان ته یقین ورکړ چې هرڅه به شم شي. زمامشره لور دپنځه وشتوکلنووه.هغې ماته وویل :

زمازړه ستاسره دی اوهمیشه به ستاسره په یوه اتفاق وي،خودهغه سربیره ماپه خوښۍ سره کمي خبري چې مي په زړه کې وي ټولي ورته داسلام په اړه وکړې. اودوي مي داسلام له هره څه نه خبرول.

وروسته له یوڅه مودې څه،هغې هم اسلام قبول کړ.داسلام مخکې دهغې نوم یونګ اود اسلام راوړلووروسته یې نوم بدل کړاوپه ځان یې جمیله کیښود،له هغه وروسته یې بیا واده هم له یوه مسلمان کوریایي سره وکړ.زمادوهمي لورهم اسلام په شل کلنۍ کې قبول کړاوهغې هم له یوه کوریایي مسلمان سره واده وکړ،هغوي اوس زمونږسره نیږدې یوځاي اوسیږي.

همدارنګه زماټوله کورنۍ مسلمانه شوه اوزه له خدایه (ج) ډیره شکرګذاره یم،چې ماته یې په ژوندکې داموفقیت داسلام په رڼاکې راپه برخه کړ.سره له دې زه پدې وپوهیدم چې داهرڅه داسلام له لوري راته راکړل شوي دي.

ماډیرې ښځې داسلام مبین دین ته رادعوت کړې،اوهغوي مي داسلام په مبین دین وپوهولي چې څنګه خاونداومیرمن یوځاي کارکولاي شي اوددوي ترمنځ کم حقوق چې دي ټولوته ورپه ګوته کړل،ورسره ددې ترڅنګ دکورنۍ دګډژوندپه تیرولواویوبل ته په مینه ورکولوسره خبرکړل چې دامینه یوازي اویوازي په اسلام مبین دین کې ورته ورکول کیږي نه په نورودینونوکې.

یوازی اویوازي یو خداي (ج) پاك دثناویلواوعبادت کولووړدی. زه په دې وتوانیدم چې زیاتره ښځي ته رهنمایي وکړم اودحقیقت څخه یې خبرې کړم.مایونوي تنظیم هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړکړترڅ
ودهغوښځولپاره کاروکړم او واسلام ته يي رادعوت کړم.
زه اوس خپله په عربي ژبه خبري کولاي شم خوډيرپه مشکل سره،ځکه مايي زده کړه ډيره ناوخته شروع کړه،دنوو رادعوت شووښځولپاره عربي زده کړه په لومړي سرکې ډيره مشکل ده. ددې لپاره چې لدې مشکله څخه ځان خلاص کړو،مونږبايدکوښښ وکړوترڅو يوعربي اوکلتوري مرکزتاسيس کړو هغه هم دلته په کورياکې.
اويوبل مشکل دادی چې کمي نوي انجوني چې اسلام ته دعوت شوي هغوي په داسي يوه ټولنه کې ژوندنشي کولاي کم چې په هرڅه برلاسه واوسي،ځکه دلته ډيرنورمذهبونه هم شته،خوددې نتيجې لپاره داضروري ده چې يوازي دمسلمانانواوهم مسلماني موسيساتوله خواڅخه اداره اوکنترول شي.
په شروع کې اوس په کورياکې بايدمسلماني ښځي سره راټولي شي هغه هم يوازي دکورياپه پايتخت سيول ښارکې.اودخپل ژونددهوسايني،ښيگني اوخوښي لپاره يوبل سره ووينی اوخپل پروگرامونه سره شريك کړي اوهم له غريبانواوبي وزلوسره کمك وکړي.
مونږهمداسي ډيرپروگرامونه نورهم سره تنظيم کړي دي.
ډيري نوي مسلماني جوړي(خاوندان اوميرمني) اوس خپل ځانونه دې ته وقف کړي ترڅوداسلام پيغام ټول انسانانوته ورسوي.

اميددراتلونکی لپاره:
په اخيرکې موله هغې څه پوښتنه وکړه چې ستااخيرني خواهش ستاپه ژوندکې څه شي دي،هغې راته وويل:
ټول ثنااوصفت يوازي يوه واحدخدای(ج) پاك ته ده.زماخاوند،زمالوراني اوزه خپله هم په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلام مشرفه شولو.مونږغواړوچې حج وکړواوډیرځلي عمري ته ولاړشو.مادلومړي ځل لپاره حج په ۱۹۷۸ زیږدیزکال نولس سوه اته اوویاکې وکړ،اوهم مې په مناسب وخت کې کوښښ وکړچې څنګه ژوندپه یوه مسلمانه مشایره کې پرمخ وړل کیږي.اوس زه له عربستانه څه بیرته کوریاته ځم او خپل زړه ترشاه پدې خاطرپریږدم چې له سعودي عربستانه څخه لیري کیږم.

هلته یوداسي ځاي شته چې هیڅکله هم دچازړه له هغه ښاره څخه نه راځي،ځکه هغه یوداسي مقدس ښاردی اوهغه ښاردهغه پیغمبردی چې هغه دټولوانسانانو افضل دی هغه ښاردپیغمبرمحمد (ص) دی.

په اخیردمرکه کې،ښه ارزوګاني اوهغې ته همیشه کامیابي په خپل هرتبلیغي اجتماعه کې.

الله پاك (ج) په قران کریم کې (۳:۱۶۰) ایات کې فرمایلي دي چې کچیري الله پاك (ج) له تاسوسره کمك وکړي،نوهیڅوك به له هغه څه بغیرتاسوکمك ته درونه رسوي.

هوکې زه په اسلام مشرفه شوم اوداپه دې دلیل کم چې مه له تاسوسره شریك کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فرانسوي عالم مسلمان شو

ژباړه: محمد شفیق جاوید

فرانسوي عالم په سعودي عربستان کي د یوه کانفرنس په ترڅ کي خپل اسلام اعلان کړ.
د تاهِیل او وړتیاد دریم نړیوال کانفرنس عمومي منشي امیر سلطان بن سلیمان بن عبدالعزیز د رواني ناروغیو د ډاکټراو د پاریس دډیکارټ د پوهنتون پرفیسور (رولاند داردینیز) ته چي د کافرانس په ترڅ کي یي خپل اسلام اعلان کړ او د عمري حج یي هم اداکړورته ښه را غلاست ووایه .
امیر په خپلو خبرو کي له رولاند سره زیاته کړه چي : د اسلام دین د فطرت او هدایت دین دي او موږ مسلمانان ویاړو چي تاسو غوندي علماء اسلام مني ، دا ځکه چي په ټولنه کي ستاسو اهمیت او رول ډیر لوړ دی همدا شان ستاسو مسئولیت هم له نورو مسلمانانو زیات دي ،دا د یوه مسلمان حقیقي دنده ده ، دا حقیقي جهاد دي ، د علم ، عمل او خلکو ته د خیر رسوني جهاد .
فرانسوي عالم ( شریف داردینیز) ،( چي اوس یي د رولاند په ځاي شریف نوم ایښي ) زیاته کړه: زه د الله تعالٰی شکر کوم چي ماته یي دا توان را په برخه کړ چي زه د اسلام حق دین ومنم ، د امیر سلطان څخه یي هم ددي اهتمام مننه وکړه .
د اسلام د راوړلو په اړوند ډاکټر(داردینیز رولاند ) زیاته کړه ماته د تاهیل او وړتیا په کانفرنس کي ګډون دا فرصت را په برخه کړ تر څو په سعودي کي د حقیقي اسلامي ټولني د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند څخه خبر شم ، هغه زياته كړه : زما په ژوند كي د بدلون مهم ټكي چي په ما يي ډير تاثير وكړ، د مسلمانانو تر منځ ګډ او ډليز فعاليتونه ؤ ، په تيره بيا په لمانځه كي ، ما په ځيردوي ته كتل چي څنګه په احترام او درناوي لمونځ كوي ، تر ټولو مهم څه چي زه يي ډير متاثره كړم هغه د لمانځه تاثيرات ؤ، چي د لمانځه له ادا وروسته به هم په هغوي كي ښكاريدل ، له جومات د باندي به هم په دوي كي د راحت او ډاډ او اطمينان نښي له ورايه ښكا ر يدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یوه ستره عیسایي میرمن (بُشرا فینچ) په اسلام مشرفه شوه او خپل نوم یې ((الحمدلله)) پرځان کښېښود.

ژباړه او غورچاڼ: عبدالغفار جُبیر

بشرا فینچ **(Bushru Finch)** یوه ستره عیسائي ښځه وه چي د ډېرو هغو پوښتنو د ځوابونو چي اسلامي نړۍ د عیسایانو څخه پوښتلي وې د ځوابونو د موندلو په سبب دا په دې تکل کي وه چي د خلاصون لاره ومومي او یوه داسي ورځ پیدا کاندي تر څو یې د ژوندنا خوالې پایته ورسیږي او زړه یې سکون ومومي...

دا مېرمن د لومړي ځل لپاره د یو مسلمان ملګري په مرسته مسلمانه شوه او داوایي:

زه مخکي پرکوم مذهب باندي معتقده نه وم، خو په مکتب کي د بایبل د مقدسو نسخو په ویلو سره عیسایي شوم. زه همېشه کلیساته نه تلم، خو کله - کله چي به ځانګړي مراسم وه (کرسمس، ایستر...) نو تلمه او هلته به د شپې ترنیمایي او کله هم تر سهاره تمېدم. د وخت په تېرېدو سره مي د کلیسا او عیسایت سره د ومره مینه شوه چي مابه د تل لپاره د حضرت عیسیٰ علیه السلام په نامه په کلیساکي مرګ غنیمت ګانه، برعکس د اسلام د مبارک دین او مسلمانانو سره مي د ومره نفرت او کرکه وه چي کله به مي د یو مسلمان د وژلو خیال هم کاوه، د از ما نفرت یوازې او یوازې د **(Media)** رسینیو اغیزې او پوچ تبلیغات وو چي مسلمانان بې ګناه خلک وژني، ترهګردي، بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



قانونه دي، دښځوپه اړه يي سخت چلندغوره کړيدی، دمځکې پرمخ دفسادسرچينه يوازي دوي دي اوداسي نور...

هرکال به په اوسط ډول سره (۷۰۰۰۰)ټوکه کتابونه داسلام، مسلمانانواوداسلامي مقدساتودتوهينولوپه موخه چاپېدل اودادي پټه نه وي چي ددې کتابونومطالعه زمورفرېضه وه.ددې کتابونودليکلواوچاپولواندازه هغه مهال جگه شوه چي دسپتمبر (۱۱ ) پېښه رامنځته شوه.

هرڅه وه(روپی، جايداد، ملگري، عزت، مقام، وظيفه...) مگردخولې خوندمي دزهروپه شان تريخ اوباطني خوشحالې راته دکيمیابوټي ؤ، ديومسلمان ملگري په درلودلوسره چي ډېرمخلص، دښواخلاقوخاونداودمخ نوريي دومره زيات وه چي مايي تصورنشوکولاي اوکله خومخامخ ورته نه شوم کښېنستلای. کله چي مي دعيسايانو اومسلمانانوپرتله شروع کړه نودځمکې اوداسمان ترمينځ توپيرؤ، ددې نه وروسته مي دهغه کتابونومطالعه پيل کړه چي داسلامي علماؤ، پوهانو، څېړونکواوړونداندوله خواڅخه پرعيسايت باندي ليکل شوي وه ددې کتابونوپه لوستلوسره مي ورځ په ورځ دبدلون اوخوښی احساس کاوه .يوه ورځ مي پر يوې ورځپانې باندي سترگې ولگېدې چي هغه داوېك(Awake)په نامه وه چي پکښې ليکلي وه چي په اوسني بايبل کي(۵۰۰۰۰) غلطياني دې اوڅه بيان شوي هم وې، کله چي مي وبايبل ته مراجعه وکړه

اوڅېړنه مي پکښې وکړه راته جوته شوه چي ټوله تحريف(اوښتي، بدل) شويدي اودلاندنيوپوښتنوځوابونه مي دتل لپاره پيدانکړل:

☜ اياهغه څوك چي خوراك، څښاك اوحاجت لري (حضرت عيسی عليه السلام) هم خدای کېدلای شي؟

☜ داوسني بايبل (نوې عهدنامه) څلوروکسانوليکلي دي (يوحنا، متي، لوقااو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مراقس)
اصلي انجیل خوانجیل عیسیٰ علیه السلام دی
هغه انجیل عیسیٰ علیه السلام چیري دی؟
☜ (۲۴۰۰۰) نسخې انجیلونه لیکل شویدي ولي
یي دوې نسخې یوشانته نه دي؟
☜ دعیسایت بنسټ دادی چي (عیسیٰ علیه السلام دټولوعیسایانودګناهونوپېټی پخپل وږواخیستی دی) نوبیاولي دانجیل په دې ایات باندي عمل نه کیږي.(زوی دپلاردګناه مسئول نه دی اوپلاردزوی).
☜ که بایبل دالله جل جلاله کتاب دی نوبیاولي په بایبل کي تر(۲۰۰) زیات تعارضونه **(Contradiction s)**شتون لري؟
☜ داځنګه دالله جل جلاله کتاب دی چي لومړی هیڅ ساینسي څپرکي نه پکښې ترسترګوکیږي اوکه شته هم غلت دي؟
☜ په بایبل کي حضرت عیسیٰ علیه السلام ولي څلورپلرونه لري؟(په یوه ځاي کي یي یوپلاردی، په بل کي بل...)
☜ ایاتثلث (ددرې خدایانوعقیده) حقیقت لري اوولي یي ثابتولای نه شي؟
☜اوسني بایبلونه ډېر قسمه **(Versions)** ورژنونه لري ولي هریودبل نه توپیرلري ؟ (یو۷۳سورته، بل ۶۶سورته او...)
☜ داځنګه دالله جل جلاله کتاب دی چي لس ځایه دمحرماتوسره نکاح**(Incest)** پکښې ده؟ (دخورسره نکاح، دمورسره او...)
☜ ایادحضرت عیسیٰ علیه السلام ادعاشوي صلیب (په دارځړول) یا**(Crucifixion)** حقیقت اوبنسټ لري؟ اوحال داچي دیونس علیه سلام په نامه کتاب کي هغه پنځه ځله رد شوي دي، ایابایبل دروغ وایي اوکه تاسي نه په پوهیږي؟؟؟
داهغه شکونه اوپوښتنې دي چي دمځکې پرمخ یي ټوله عیسایي نړی دقیامت تروزځې پوري نشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیري کولاي اوهم یي نشي څوابولاي همداشکونه دي چي زماپه شان په میلیون هاوعیسایان مسلمانان شول اوداليکلي دركوم چي انشاالله په راتلونكي لسوكلونوكي به داسلام مبارك دين په اروپاكي يواځنى غټ دين وي.
دالړى شروع وه چي څه معلومات مسلمان ملګري نورهم راكړل اودزړه له كومي داسلام څخه ډيره اغيزمنه شومه اوويونژدي عام كتابتون (Public Library)ته ولاړم اودمقدس قران پاك يوټوك سره دوونوروكتابونوسره يوځاي چي داسلام په اړه ليكل شوي وه راواخيستل.دشكرځاى خودادى چي په كتابتون كي داسلامي كتابونوچي هرڅومره ماغوښته كوم كمښت مي نه دي احساس كړى. ټول قران مي مطالعه كړپه زړۀ ، دماغ اوسلوك كي مي ډيربدلون ومونداودمقدس قران په صرف ويلوسره دومره خوښ خوشحاله شوم چي زه يي هيڅ نشم بيانولاى داهغه خوشحالي وه چي زه يي د(۳۰)كلنورا پدي خوايي په لټه كي وم.تراوسه مي لاداسلام په مبارك دين نه يم مشرفه شوې، خودپوره خوښى احساس كوم اودامي يواځنى ارزوده چي اى لويه خدايه (ج) ترهغه مهاله پوري مي مه وژنه ترڅوزه نه يم مسلمانه شوې.
په دې جريان نه پوهېدم چي چيري اوڅنګه مسلمان شم؟
ديوې پتمنې اورشتپنې مسلمانې شځې سره مخ شوم چي زماورسره دډيرمهال سره تعلق ؤ، دې ټول شيان راته په يوه اووونى كي برابركړل.
دمسجدداما صاحب سره موولېدل دقرانكريم هغه ځايونه چي زه نه په پوهېدم هغه يي په ډيره مينه سره راوښودل، لنده داچي داسلام په اړه يي ښه پوره اوارين معلومات راكړل.دااوداسه دتازه كولو، دلمانځه دادا كولواودروژې دنيولوكتابونه مي رانيول اودس مي تازه كړاولمونځ مي پيل كړتراوسه لامسلمان نه يم، دهرلمانځه وروسته ډيره تازګي اوخوښي

(c) ketabton.com: The Digital Library



احساسوم
دروژې مبارکه میاشت راورسېده اودروژې نیول مي شروع کړل، خوطبعاًداتول شیان راته مشکل اوغیرعادي وه بیامي دځان سره وویل چي دتېولې نړی مسلمانان دالمونځ کوي اوروژه نیسي نوزه هم بایداستقامت وکړم، دپوره یوې میاشتي روژې نیولووروسته مي ډېري ناروغی ختمي، ډېره ځوانه، ډېره خوښ خوشحاله اوتازه ښکاریدم چي ژبه اوقلم یي نشي بیانولای.
په اخیرکي مي دځان سره داسلام دراوړلوفیصله وکړل اودسیمي ولوی جامع جومات ته ولاړم دامام صاحب اوډېرونورومسلمانوپه مخ کي مي کلمه دشهادت وویل اوپخپله خوښه سره مي ایمان راوړي اوپخپله مي نوم پرځان باندي (الحمدلله)کیښود.

# افریقایي سوك وهونكو اسلام قبول کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د روانو سوک وهلو سیالیو کې چې ( ۲۰۱۲-۰۶-۰۱ م ) په پاکستان کراچۍ کې وشوه او د افریقا هیوادڅخه ورته نهه سوك وهونكي راغلي ول له سیالۍ وروسته يي اسلام قبول کړاو دا يې د ځان لپاره راتلونکي نظام او دين غوره کړي دی ، د بنوریه جامعې مهتمم مفتي نعیم نوموړو ته كلمه وويلې ا و هغوي هم خپل اسلام رسماً اعلان كړ ، د منځنۍ افريقا ۶ او د کامرون ۳ سوک وهونکوديو لړ مراسمو په ترڅ کې د بنوریه جامعې د مهتمم په لاس اسلام ومانه.

د سوک وهونکو اسلامي نومونه اقبال حسین، محمد اکرم، عبیدالرحمٰن، تیمورحسین، محمد علي او علي اکبر او د کامرون د نویو مسلمان شویو سوک وهونکو نومونه محمد شمیم، محمد بابر او محمد ارشد کېښودل شول.

د منځنۍ افريقا د سوک وهونکو مشر(کوچ) چې له مخکې څخه مسلمان و خبریالانو ته وويل:" کله چې کراچۍ ته را ورسېدو، نو د خلکو له ډېر غوره هر کلي سره مخ شو، نوموړي زیاته کړه ، چې همدا ډول د پاکستان د سوک وهلو د اتحادیې لخوا چې مونږ سره کوم غوره سلوک وشو، د همدې اخلاقو په ليدلو سره زمونږ ځوان سوک وهونکي سخت اغېزمن شول او له ما څخه يې د مسلمانېدو غوښتنه وکړه، نوموړي زیاته کړه، چې همدا پېښه زما د ژوند يو غوره يادګار دي.

د مسلمانېدو په دې مراسمو کې د بنوريه جامعې مهتمم مفتي نعيم غونډې ته وويل چې اسلام د امن دين دي، خو څو کسان دي چې غواړي په يو ډول نه يو ډول اسلام بدنام کړي. هغه زياته کړه، چې ددې افريقايي سوک وهونکو په مسلمانېدو سره بايد نړۍ سترګي خلاصې کړي، چې اسلام د انسان د ژوند يو هر اړخيز نظام دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبحان
الله.

کچیري ټول خارجیان کوم چې داسلام په اړه ورته زیاته منفي تبلیغ شوي هغوي له اسلامي هیوادونوڅخه له نیږدي ووینی نوپه سلوکې به حتماًنوي فیصده داسلام په مقدس دین باندي مشرفه کیږي.
هغوي ته داسلام په اړه ډیرغلت معلومات ورکول کیږي اوحتادخارج په ټولوپوهنتونونوکې یو مضمون داسلام پرضدشته .زده کوونکوته داسلام په اړه غلت معلومات ورکوي اوپه کوچنیوالي کې یې لدې دینه څخه ناراضه کوي،داورته وایي چې اسلام له مسیحیت اویهودیت څخه منځ ته راغلی دی.په مسیحیت اویهودیت کې مینه،وروروولي اوخوشحالی ټولي شته،خوپه اسلام کې داهرڅه له پښولاندي شوي دي.په مسیحیت اویهودیت کې که په هردین باندي څوك وي ورته دمرگ اجازه نشته ،خوپه اسلام کې که څوك مسلمان نه وي باید مړشي.داددوي غلت نظرونه اوغلته مفکوره ده،ځکه چې اسلام هغه دین دی چې الله (ج) دټولوانسانانولپاره خوښ کړي،که ددنیاټول مذهبونه داوغواړي چې داسلام دبدنامی لپاره هرڅه وکړي نودالله (ج) په فضل اوکرم سره به بیاهم ورته هیڅ تاوان ونه رسوي،که څه هم چې ټول مذهبونه اوس هم داسلام دبدنامی لپاره خپلي پایڅي راټولي کړي دي خوبیابه هم په خپلودامونوکې کوم چې داسلام لپاره یې ایښي دي دوي خپله کې راگیروي.
الله (ج) چې چاته هدایت دنیکي کړي وي که څه هم داسلام دښمن وي هغه به داسلام سپڅلی دین دځان لپاره غوره کوي .

# امریکا د اسلام منونکې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکواله :- میرمن مظفر حلیم
ژباړن:-مجیب الرحمان لحاظ

بتي بتول باو من شپږ پنځوس کلنه مېرمن ده ، چې د قفقازپه یوه عېسوي کور نۍ کې یې زوکړه شوې ،په شل کلنۍ کې له خپل استوګنځي(مرلېند) څخه لاس اینجلس ته راغلې او اوس هم د لته ژوند کوي . اغلې مېرمن بتول په ۱۹۹۳ زېږدي د مې په ۲۳مه نېټه مسلما نه شوې او اوس د یوې مسلما نې مېرمن په توګه په امریکا کې د اسلا م د بلنې لپاره هڅې کوي.

مظفر حلیم:
-میرمن بتول ،اسلام علیکم ! که دخپل هغه سفر په اړوند چې تاسو یې تر اسلامه راورسولئ څه وواياست ؟
میرمن بتول :- ښه ، لکه څنګه چې تاسو پوهېږئ ، زه زیاتره وخت دکتابونو دلوستلو سره سروکار لرم . مخکې لدې چې اسلام قبول کړم.تقریباً (۱۰۰۰)زر کتابونه مې ولوستل چې زیاتره یې دمعنویت او روحانیت په اړه و، چې له دغو کتابونو څخه سپېڅلی کتاب قران کریم ، دیهودیت تاریخ ، بوداي ،بهاګوابجیتا ، یو ګانندا او راماکر شناوو . څومیاشتي مخکې لدې چې زه مسلمانه شم دمالکوم ایکس X. ( Malcom)دژوند په اړوند مې کتابونه هم ولوستل.
څرنګه مسلما نه شوم ؟
په ۱۳۹۳ زېږدي دمارچ په میاشت مې دتصوفي کتابونو لوستنې ته مخ شو .پدې اړه مې ډېرکتابونه ولوستل اودطریقت پېژندل شوو مرکزنوته مې مخه شوه ، تردې چې دطریقت یو ښوونکی مې وموند .هغه ددې لارې څو کتابونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلوستني
لپاره راکړل ،وروسته مې پام شو ، که غواړم چې طريقت اوتصوف ولولم نو بايد مسلمانه اوسم ، چې په نتيجه کې مې د اسلامي دايرى المعارف لنډيز ( Islam Of Encyclopedia Concise ) د سريل ګلاسي
(Glasse Cyril) ليکنه له پيله تر پايه ولوسته.
څه موده وروسته د١٩٩٣ زيږدي دمى په ٢٣ نېټه په لاس اينجلس کې دشمالي کاليفورنيا اسلامي مرکز ته لاړم او په هغو ټولګيو کې مې ونډه واخيسته چې د نوو مسلمانانو لپاره جوړشوي وو.
دشاغلي وروړ سمير اتمن (Sammer Etman) څخه مې دملاقات وعده واخيسته تر څو ترې داسلام په اړه څه پوښتنې وکړم ، خو مخکې له دې هغه له ما څخه څو پوښتنې وکړې او زما له ځواب ورکولو څخه وروسته يې وويل: هغه څه چې داسلام په اړه ضروري دي تاسو له مخکې زده کړي دي ، خو هغه څه چې ستاسو لپاره لازم دي يواځې داچې تاسو دشهادت کليمې ولولئ او مسلمانه شئ .دې خبرو زه ډېره حيرانه کړم اوداسې مې احساس کړه چې داحق واي بايد مسلمانه شم.
دشهادت کليمې مې ولوستې او اسلام مې قبول کړ .
لدې وروسته مې دتصوف په اړه لوستنې پرېښودې،ځکه چې پام مې شو چې داسلام لوستنه ماډېره رضا کوي . پام مې شو چې خداى (ج) ددې پرځاى چې په مستقيمه توګه مې اسلام ته راوبلي په غير مستقيمه توګه يې راته لارښونه وکړه.
اوس کوم کتابونه لولئ ؟
ميرمن بتول :
څومره چې دقرانکريم تلاوت کوم هغومره څښتن (ج) ته نزدې کېږم . زما په اند دادهر مسلمان دنده ده ، چې څومره کولاى شي دخپل وخت څه برخه دې دقرآن لوستنې او پو هېدنې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګړې کړي ،تر دې چې قرآن دې په یادو زده کړي . دقرآن دلارښوونې څخه پرته زمونږژوند پوچ او بې مانا د ی.زه چې کله قرآن تلاوت کوم فکر کوم چې په بله نړی کې یم.
ایا اسلامي ټولنې پدې برخه (داسلام په اړه دزیاتو معلوماتو لاسته راوړل )کې تاسو سره مرسته کړې ده؟
ـ هو ،ډیره زیاته مرسته یې راسره کړې ده. زه داسلامي مرکزونو سیمینارونو اوبلنوته ورځم . تر اوسه مې دمسجد ونو په ګڼومجلسونوکې ونډه اخیستې.چې له دغې لارې معلومات لاس ته راوړای شو .
- تر اوسه داسلامي ټولنو په سیمنارونو اویاپه مسجدونوکې دکومې ځانګړې پېښې سره مخ شوې یاست ؟
- په امریکا یې او افریقاي مسجدونو کې ټولو مسلمانانو ته په ورین تندي ښه راغلاست ویل کیږي ، ځکه چې موږ ټول دیو ګډ انګلیسي او امریکاي کولتور لرونکي یو .دیادولو وړ ستونزه چې امریکا کې ټول نوي مسلمانان ورسره مخ دي ، داده چې پا کستاني جوماتونو کې ټول په اردو ژبه خبري کوي پر دې سربېره چې دې جوماتو کې په ملګرتیا پوه خلك شته خو نوي مسلمانان دکولتور اوژبې له نظره د یوازیوالي احساس کوي . البته دعربو په جوماتونو کې یواځې دانه چې مسلمانان په عربي ژبه خبري کوي بلکه داسي برېښي چې دامسلمانان دنورو مسلمانانو سره بې مینې اوسوړ روغبړکوي .
دنومسلمانانو لپاره دویمه ستونزه ،دمسجدنو تر منځ دمرستي نشتوالی دی اوداموضوع زما په څېر نومسلمانانولپاره چې غواړي په اسلام کې ډېر معلومات تر لاسه کړي ډېره مهمه ده . اودغه کار (داسلام ددین څخه پوره خبرتیا ) په سمینارونو کې په ځانګړي توګه په هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمینارونه
وکې چې دمسلمانو میرمنو لپاره جوړیږي عملي بڼه خپلوي.
دګڼوسمینارونو څخه دخبرتیا هیڅ لاره نه لرو ځکه چې په لاس اینجلس کې کومه مشري او په سهي توګه کومه شبکه نه شته . چې وکولی شي دکلیفورنیا جنوبي برخو جوماتونو ته دمهموپیښوخبروروسوي
موږ کله کله همداسې له کوم سمینار څخه خبریږو ،البته داکار ډیر ستونزمن دی . هر نوي مسلمان ته داسي بریښي چې هر جومات په خپل چاپیر یال څرخي . یواځې دخپل شاوخوا ټولنې مسایل اوغوښتنو ته یې پام دی . له مسجدونو هیڅ ره ده چې داامریکاده . موږ ټول باید دیوبل له کارونو خبرتیا ولرو . هغه که مهاجر مسلمانان دي که امریکایي او که افریقایی اوقفقازي مسلمانان دي ټول باید دیوبل داړتیاوو په پوره کولو کې ونډه واخلو .
زما په اند امریکا داسلام اومسلمانانو لپاره یو وعده ورکوونکې خاوره ده موږ ټول دمالکوم ایکس له عقایدو اوپه زندانونو کې ددعوت دستر کار څخه خبریو . زما په اند داسي راته بریښي چې مهاجرو مسلمانانو ته دنوومسلمانانوسره دمرستي په نسبت دخپل وطن په اړه کارونه ډیر په زړه پوري دي اوهمداده چې مسلمانان په دې ځمکه کې اسلام ته دکار کولو ستر فرصت له لاسه ورکوي.
- دخپلې کورنی په اړه یو څه معلومات راکړئ چې ستاسو دایمان راوړلوڅخه وروسته دهغوي دریځ څه و ؟

_کله چې مسلمانه شوم داسلام په اړه مې یوه لیکنه وکړه او بیا به مې هغه خپلوانو او ملګروته واستول تر څو دوي داسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



اومسلمانانوپه اړوند کوم منفي نظر لري تغیر وکړي . کله چې مې په بوستون ( Boston) کې ورور دخپلې مسلمانې ښځه خبر کړنو تر ډیره حده یې زما ملګرتیاوکړه . همدا رنګه یو له ملګرو ښځه مې چې دورور سره مې دشمالي کارولنیاي په ( Raleigh )کې اوسېده هم نظره وه . نو زه ډیره حیرانه شوم اودخوښي احساس مې کاوه .

- څرنګه ستاسو په څېر یوې ښکلې میرمن تر اوسه لاواده نه دی کړی ؟

- ماشومتوب مې په غریبۍ کې تېر شوی په شل کلنۍکې دخپل استوکنځي ښځه لاس اینجلس ته لاړم . لوستنه مې ډیره خوښیده . له زړو ښځه مې زیات کتابونه ولوستل. نه مې خو شیږي چې په اخوا دېخوا شیانو لکه دتلویزون کتنه ، رادیو ، فلم اوسینما ،مجلو ،ورزش اوپه خاص ډول په مادي څیزونو باندې ځان بسیا کړم.غواړم چې د معنوي ژوند لوستنه ولرم اوکوم کسان چې په دې برخه کې له ما ښځه کم پوهیږي مرسته ورسره وکړم .

لکه څنګه چې تاسو خبریاست امریکا یوه بې دینه او بې مذهبه ټولنه ده اوله ښځو ښځه پکې دیوتبلیغي اسباب په څیرکاراخیستل کیږي . زما په اند دامریکا زیاتره سړي بې عقله ، ماده پرست اودټیټې سطحې خلك دي،یاپه بل ډول هغوي اسلامي ځانګړتیاوي نه لري اوزه تل یوه مسلمانه میرمن پاتې شوې یم ، تر هغه وخته چې مې ایمان نه و راوړی له دې موضوع خبره نه وم . نوددې په خا طرداسې راته بریښي په چا کې چې ما دځان په اړوند دواده وړتیا لیده پیدا نه شو.

- دهغو کارونو په اړوند چې ددین ددعوت په خاطر موتر اوسه سرته رسولي څه وواياست؟

- پدې خاطر چې زیات وخت مې د خپلې دندې اړوند کارونو باندې تېرېږي ، زیات وخت نه لرم ، هغه څه چې مسلمانانو اوپه ځانګړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



توګه
دنوومسلمانانو لپاره احساسوم سرته ورسوم .
ددندي پر مهال چې کله هم وخت پیدا کړم نو
خپلو ملګرو ته مې وایم چې زه مسلمانه شوې یم
اوداسلام په اړه ورته معلومات ورکوم.
- دامریکا مسلمانانو ته څه پیغام لرئ.؟
- لومړی مهاجرو مسلمانانو ته!
دامسلمانان باید دااحساس کړي چې امریکایي
افریقایي او قفقازي نوي مسلمانان ددوي مر
ستې ته ځومره اړدي.کولتوري مخالفتونه دي له
منځه لیري کړي او په سلګونونوي مسلمانان چې
په امریکا کې ژوند کوي او اسلام ته اوړ ي
،ددوی په خاطر دي په امریکا کې د جوماتونو
سره مرسته وکړي .
امریکا یي افریقایي نوومسلمانانو (
توریوستو مسلمانانو ) ته!
ستاسو ویاړمن تاریخ له حبشي بلال سره یو ځای
کېږي . ستاسو وړتیا اولیوالی دمالکوم ایکس
دژوند په داستان کې ښکاره دی . ستاسو ننی
اوژوندی‌نمونه محمد ډبلیو بي (Muhammed W B.
(دی. تاسو په امریکاکې په اسلام کې دژوند
تېرولو زیات وخت لري.
تاسو په رښتیا اسلام ته کار کوي په ځانګړ ې
توګه په لویو لارو اوزندانونوکې مو خلك اسلام
ته راونه بلل !؟ په امریکاکې نژاد پالنه
لویه بلاده او همداسې دنورو بد مرغیو سر چېنه
دخلکو تر منځ دنژاد اوجنس برتري ګڼل کېږي.
امریکایي قفقازیي نوو مسلمانانو ته!
ټول نوي مسلمانان چې په امریکا کې اوسېږي
دیو مسلمان په توګه یوه مهمه دنده تر سره
کولای شي . هغه لوی قوت چې ددې نوومسلمانانو
په واك کې دی باید منظم شي په رښتیني لاره
ترې ګټه واخلی
امریکا په خپل ژوند اوکارونو کې داسلامي
ارزښتونو ، داسلامي اصولو او دقرآن دلارښونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مننوکې ده .دژوند ټول اصول پدې ټولنه کې شته دي.
باید یو اځي دښه کارکوونکي کارترې و اخیستل شي ترڅوله هغه فساد اوله بې دینه عقیدې څخه چې امریکاله دننه څخه دبربادی په لور وړي، خلاصون ومومي .ساده توب ،قانع کیدل ،شکرایستل ،په سهي توګه دکورنی پالنه، دالهي معجزو پوهنه ،دکیفیت له مخي داسلام دستر پیغمبر(ص) پیروي، دغه ټول ارزښتونو باید دنوومسلمانو په واسطه مختته یوړل شي .
دامریکا دمسلمانانوترمنځ اوپه زیاتره جوماتونوکې باید دیو مشرتابه نشتوالی له منځه یوړل شي ، باید داسلام په اړه مثبت نظر چې امریکایي ټولنه ورته ډیر ضرورت لري لاس ته راوړل شي. دایوه تاریخي اودپام وړشیبه ده ..په داسې وخت کې چې دامریکالویوالی له دننه څخه د وړکتوب په لور روان دی او له امریکا څخه داهېره ده چې اسلامي ارزښتونه په امریکا کې دپراختیا په حال کې دي ،البته دغه ارزښتونه په یوه مثبته لاره امریکایي ټولنه لاپیاوړې کوي.
په امریکا کې معنویت ځای نه لري . امریکایي ټولنه د پیسو اومادي څیزونو دهوکه کوونکو تبلیغاتو ته تسلیم شوېده . دوي دکاپسیالیزم تر سیوري لاندې راغلي دي ،چې وایي :( دومره غټه خبره نه ده چې انسانانو ته او په ځانګړې توګه ښځوته په سپکه سترګه وکتل شي)
نوموخه یې دپیسولاس ته راوړل دي. دایومرض دی اوامریکابیماره ده.
قرآن یو ځلاراوړونکی اودپوهنې وړکتاب دی،خو زیاتره خلك په دې نه پوهیږي ، هغوي ځانونه په سطحي ،مصنوعي ،بې ارزښته اوبې ګټې څیزونوباندې مشغول کړي دي، دانه خوښوي اونه پرې پوهیږي تر څو دخپلو فکرونو ،ویلو اوکړنو دپایلي مسولیت په غاړه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلام هغه دین دی چې موږته وای هر انسان دخپلو کړنواو ویلو مسئول دی ،نو دایوښه وخت دی تر څو امریکایان خپل زور وازمایي اودخپلي دندي دسرته رسولو په خاطر قدم پورته کړي،هغوي بایدخپل ځان سره مبارزه وکړي تر څو وکولای شي قرآن په خپل ژوند باندې واکمن کړي . نوددې په خاطر هغوي باید نورو مسلمانانوته لارښوونه وکړي اوپاي کې دتیټې سطحې ،ماده پرست ،حریص اودبې دینه امریکایانو په لارښوونه لاس پوري کړي، چې ځان په بې ارزښته څیزونو مشغول نه کړي اووپوهیږي چې دالویه نړۍ دتولو بې حسابه کهکشانونو،په اتومي سطحه دانسان دالویې کړنې دهغه بې مثاله ذات پیدا ښت دی اوهغوی باید دڅښتن (ج) سره دخپلو اړیکو په نظر کې نیولوسره ژوند وکړي هیله منده یم ترڅو دخدای(ج) په لاره کې خپل کار ته دوام ورکړي .

مظفر حلیم: له تاسوڅخه زیاته مننه چې پوښتنوته موځوابونه راکړل. میرمن بتول : له تاسو څخه هم مننه چې زموږ پوښتنه مو وکړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هند مشهوره شاعره اودنوبل جایزې کاندېده مسلمانه شوه.

(دکتر ثریا کاملا داس) په یوه هندي سنتي کورنۍ کې دنیا ته راغلې ده، هغه د پنځه شپېته کلنۍ په عمر د اسلام په مقدس دین مشرفه شوه او خپل نوم یې ثریا انتخاب کړ.خلک ډیر ورته په تعجب کې وو چې ولې داسې یوې مشهورې څهرې او د داسي افکارو واله ښځې د اسلام دین ته توجه وکړه.

د یوه مالدار او مشهور هندو د پاره دا ډیر لوي جرأت غواړي چې اسلام ته مخ کړي او د نورو هندوانو د سخت غضب او دوښمنۍ سره مخ شي . په داسې حال کې چې دکتر ثریا به په محفلو او مراسمو کې د هندوانو د خدایانو په مدح کې شعرونه او سندري ویلې لکن اوس د الله تعالیٰ په لویي او عظمت کې اشعار وايي.

د دکتر ثریا د اسلام راوړلو قصه تر پنځلسو نه زیاتو ژبو ته ترجمه شوې ده. د هغې د اشعارو یوه مجموعه په انګلیسي ژبه کې ده. دهغې مشهور کتابونه اوړي په کلکته کې ، د ژوند الفباء ، پخواني او زوړ کور او نور دي چې هغې په دې باره کې ډیر جوایز تر لاسه کړي و.

د بامبایي ورځپاڼې په حواله : کاملا داس پخوا هم بحثونه کړي وو او د کفري ټولني په باب یې خپل نفرت بیان کړي وو چې بلاخره یې تصمیم ونیو تر څو د اسلام په مقدس دین مشرفه شي.

د تایمز اندیا ورځپاڼې له هغې سره تیلفوني مصاحبه کړي ده چې په لاندي ډول ده.

پوښتنه : څه وخت مو خپل تصمیم ونیو تر څو د اسلام طرف ته مخه کړئ ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب:
دقیق وخت مي په یادنه دی،مګردا موضوع (۲۷) کاله مخکې وه.
پوښتنه : ولې ددې تصمیم عملي کول دومره وخت ونیو ؟
ځواب :کله مې چې خپل تصمیم خاوند ته اعلان کړ هغه را ته وویل صبر وکړه نو د هغه د توصیې سره سم مې د اسلام په باره کې زیات کتابونه ولوستل اوهغه وخت مې اولادونو وادونه نه وکړي او ما نه غوستل زما اسلام راوړل د دوي ژوند ته ضربه ورکړي ، اوس هغوي ټول په ښه موقف کې دي او له ژوند څخه یې راضي یم ، نو ځکه مې اوس خپل تصمیم ښکاره کړ.
پوښتنه : تاسي ته چا اسلام معرفي کړ ؟
ځواب : زما له اسلام سره د اول ځل د پاره اشنایي دا وه چې کله مې دوه مسلمان ړانده ماشومان ولیدل زه د نابینایانو سره د کومک کولو د یوې ټولنې لخوا استخدام شوم تر څو هغوي ته درس ورکړم.
پوښتنه : څه شي ددې سبب شول چې تاسي د اسلام طرف ته متوجه کړئ ؟
ځواب : زما د مسلمانانو ښځو حجابونه غوښیدل او د مسلمانانو ښځو د ژوند طرزالعمل مې خوښیدي.
پوښتنه : آیا تاسې فکر نه کوئ چې د حجاب اغوستل به د تاسي په آزادۍ اغیز وکړي ؟
ځواب : زه په هغه معنې آزادي نه غواړم ، په کافي اندازه پر خپل ځان اعتماد لرم . زه یو کومکي غواړم (پرده چې زما د عفط او عزت ساتنه وکړي ) نه آزادي . زه غواړم د الله تعالي یو تابع بنده شم ، د حجاب واله ښځې د خاص قدر او احترام لرونکي وي.
پوښتنه : د اسلام د قبول مهم دلیل څه ؤ ؟
ځواب : ورستي سفر مې مالابار ته لرلو تقریباً د لمر پریوتلو وخت ؤ چې د خپل مقصد

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځاي ته ورسیدلم . د لمر دغه پریوتل ډیر عجیب او ښکلي وه څو لحظې مې خپلي سترګې هغه ته نیولي وې او ناګهانه له هغه ځخه یو سپین نور ښکاره شو ما ته یې ویل آیا غواړي اسلام قبول کړې ؟ دغه څو ثانیې وې چې فکر مې کولو زه خوب وړې یم او بلاخره مې دا پیغام درک کړ.

پوښتنه : په دې لاره کې ستا سره چا زیات حمایت کړی دی ؟

ځواب : په خاص ډول څوک نه وو . خاوند مې څو کاله مخکې وفات شوی و . ما حمایت او کومک ته ضرورت لرلو . خوکه هغه ژوندی واي زه به یې تشویق کړې واي.

پوښته : ایا زامنو مو دا تصمیم قبول کړ ؟

ځواب : هو سل په سلو کې هغوي زما تصمیم ته ډیر احترام لري.

آن لاین اسلامې لارښود څخه په مننه

## دیوې سیکې انجلۍ داستان چې څنګه مسلمانه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړن:
ایمل امیدي

کله چې زه غټېدمه،دځوانۍ په وختونوکې به مې پلارپه ماډېر اعتبارډرلود،ماته به یې داویل چې ټول مسلمانان له بدوخلکوڅخه دي،پرهغوي به هیڅکله اعتبارنه کوې،داځکه چې ځوانان مسلمانان دسیکانوانجوني ترور وي اوبیایې پاکستان ته وړي هلته یې خرڅوي. خوماهمیشه بل رقم فکرکاوي چې هرڅوك سره برابروي اوهیڅ فرق نه سره لري،هغه که مسلمان،عسیوي،یهودي اوکه سیك وي،زه هیڅکله مذهب ته دچانه ګورم.

ښوونځی مې خلاصه کړه او پوهنتون ته ولاړم،هلته مې خپله دوسته ولیده.هغه یوه ښه مسلمانه وه له کمه وخته چې مااوهغې سره پیژندل.هغه ډېره مهربانه زړه سوانده وه اوهمیشه به یې حجاب اغوستو.هغې به زه پدې فکر کې کولم چې داځنګه کیدلای شي چې مسلمانان دي بدوي،که بدواي نوبه زماملګرې هم همغسي واي لکه نورمسلمانان چې دي. که څه هم چې مونږد مذهب له لارې سره بیل وه خوډېرسره نیږدي و. زه چې کله ځوانه وم اودښوونځی په دوره به ډېره دباندي وتمه،مختلف کالي به مې اغوستل اوهرهغه کاربه مې کوي چې زه به وروسته وربانديپښیمانه وم،خوله کله چې له هغې سره ملګرې شوم داهرڅه مې پریښودل داځکه چې زه یې دغوکارونوته نه پریښودم.

همدارنګه په پوهنتون کې مې هم یو مسلمان ځوان سره شناخت پیداشواوسره ملګري شولواودواملګري موپه مینه بدل شو،خوماله ځانه سره داجدي تصمیم نیولي وچې کله زه کورته ولاړه شم نوواده به بیاله یوه سیك سره کوم،ځکه دپلارخبرې مې په یادوې کم چې ماته یې کړي وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دامسلمان ملګرى مي هم ډيرمهربانه اوزړه سوانده و،هغه ماته کليمه طيبه ويل رازده کړل،هغه يومذهبي مسلمان نه و اونه يې هم داسلام په اړه ماته څه ويلي ول،خودازماخپله غوښتنه وه چې کليمه طيبه زده کړم ترڅووکولاي شم چې دمسلمانانومسجدونوته ولاړه شم اودمسلمانانوله خويونوڅخه ځان خبرکړم اوداسي نوردليلونه هم وکم چې ماپه خپل ذهين اوزړه کې درلودل،خوکله چې مي کليمه طيبه يوازي په خوله وويل نودومره اثرات مي په دماغ پريوتل چې مايې هيڅ تصويرهم نشواى کولاي،په هغه دم مې خپل ملګرى ته ددې اثراتوپه اړه څه ونه ويل.

وخت دتيريدلوپه حالت کې و.زمامسلماني ملګرې واده وکړاوله پوهنتونه يې دتل خداي په اماني وکړه اوزماسره چې هريي هرڅومره ارتباطات درلودل ټول يي پريښودل،دادډې ګناه نه اونه هم دي غوښتل چې زماله دوستۍ څخه لاس واخلى بلکې هغې دخپلې کورنۍ له خوامشکلات درلودل،ماهم هغه خپله دوسته چې هيريدل يې راته ګران ول بياهم هيره کړه،دازمالپاره ډيرعجيب اوغريب بدلون و،ځکه زه په پوهنتون کې يوازي وم اومايوڅه نوټ په خپل لاس باندي ليکل،کله چې مي نوټ ليکى ومي ليدل چې دلاس په يوه رګ کې مي يوه نښه ترسترګوشوه،دانښه داسي معلوميده لکه دالله (ج) نوم چې وي اوهغه هم له ورايه معلوميده،دستي خپل مسلمان ملګرى ته ورغلم اودانښه مي ورته ښکاره کړه،هغه چې کله وليدل نوراته وويل چې دايوغيرعادي نښه ده،تشويش مه ورته کوه. مايي هم خبره ومنله اووروسته مو داموضوع هيره کړه.

اخيرله پوهنتونه څخه فارغه شوم اوخپل کورته ولاړمه،خوواقعاًزه ډيره خوابدې وم،ځکه مافکرکاوه چې زه له خپلې ملګرې اوملګرى څخه ډيره ليري يم.خوبياهم مادوي هره مياشت ليدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماهغوي
ته په خپل زړه کې ځاي ورکړي و.یووړخ ډیره غمګینه وم خپلې ملګرې ته مې زنګ وواهه چې زماسره عاجل ووینې،ملګرې مې هم زماپشنهادقبول کړاو دخپلې کورنۍ د اجازې پرته یې راسره والیدل.له ډیرمجلس کولووروسته مي خپل لاس ته پام شو دستي مې خپلې ملګرې ته دخپل لاس نښه شکاره کړه ،هغه زمادلاس دنښې په لیدلوسره ډیره حیرانه شوه خوهغې هم راته پدې اړه څه ونه ویل چې دارښتیاهغه نښه ده کم چې مافکرکاوه. وروسته مې خپلې ملګرې ته وویل چې ماغوښتل تاله خپل غمګین حالت څخه خبره کړم.
ماډیرکوښښ وکړچې له خپلې کورنۍ سره خوشحاله واوسم.زماکورنۍ زمالپاره یوهلك انتخاب کړی دی،خوزه ورسره هیڅ دلچسپي نه لرم اونه غواړم له هغه هلك سره واده وکړم،ځکه زه له یوبل چاسره مینه لرم چې هغه یومسلمان دی،ماډیرکوښښ وکړ چې خپله کورنۍ لدې کاره پښیمانه کړم اوماوهغه هلك ته ورنکړي،مګر افسوس چې زماټول کوښښونه بیځایه شول اوکورنۍ مې زماپه حالت اواحساس نه پوهیده اونه یې زه درك کولای شوم،اخیرمي عقل کارپریښودي اولتاسره مي والیدل.
ملګرې مې راته وویل:
ته ولې لمونځ نه کوې؟ لمونځ وکوه اوله خدایه (ج) وغواړه چې تالدې غمګین حالته اوپریشانې څخه وژغوري اودرته دمستقیمي لارې هدایت وکړي.
مایې هم په خبروباوروکړاوخپلې ملګرې ته مي ندي ویلي چې زمالمونځ ندي زده،یوازي مې ددې له مشهورې راکولوڅخه منته وکړه اوخپلوکورونوته سره ولاړلو.
ډیره غمګینه اوپریشانه وم اوله خوشپوراپدې خوامې خوب هم نه وکړی،په ځاي کې بیده شوم اودخوب نړی په غیږکې له ځانه سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوورمه،ښه مې په یاددی چې په هغه ماښام ماکعبه شریفه په خوب والیدل اوددې په لیدلوسره وپوهیدم چې اسلام له ټولودینونوڅخه بهترین دین دی،دستي په هغه سهاربانديمې اسلام قبول کړ اومسلمانه شوم.

ماپه یوډیرهیجاني حالت کې قراردرلود،ډیره غمجنه اوپریشانه وم چې اوس بایدڅپله کورنۍ له لاسه ورکړم،ځکه هغوي زماپه مسلمانیدوسره نه خوشحاله کیږي،نومې له کورنۍ سره په هغه ورځ رخصت واخیست،په هغه غمګین حالت کې بیاهم خوشحاله پدې وم چې یوځومسلمانه شوم اوبل له هغه چاسره واده کوم کم چې زه ورسره دزړه له اخلاصه مینه لرم،ډیره خوشحاله وم چې وروسته له واده کولوڅه به له هغه څه داسلام په اړه ډیرڅه زده کړم.

خوافسوس....څنګه چې مافکرکاوه هغسي ونشول ماله خپل ملګری سره کم چې زمادژوندیوه مهمه برخه وه په نه څه جنګ وکړاوسره خوابدي شولو،خوماغوښتل چې بیادهغه سربیره هم مسلمانه واوسم. ورځ په ورځ مې نفرت له ځانه څه ډیر کیدي چې ولي نشم کولاي چې اسلام په خپل کورکې زده کړم،اخیرته یوداسي چاته ورغلم چې داسلام په اړه یې مکمل معلومات درلودل اوماهم ځني ډیرڅه زده کړل.

کله چې مې کورنۍ پریښوده،هغوي په ماخبرشول چې مااسلام قبول کړي دی دهرڅه سربیره یې بیاهم زه وبخلښم خودپخواپه شانه ورته ډیره ګرانه نه وم،ځکه ماخپل ځان ته تغیروررکړی و.ماترهغه وخته لاحجاب نه وپرسرکړي،خومادددې لپاره له ځان سره فیصله کړې وه چې سوکه سوکه به داکارکوم،داکارمي هم وکړ اوحجاب کول مي شروع کړل،چې حتاهیڅ کله بې حجابه نه ګرځیدم اونه مې حجاب لیري کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما دحج

اب په کولوسره زماکورنۍ ډیره پریشانه شوه اودوي زماسره هیڅ خبرې ددې لپاره نه کولاي چې زه مسلمانه شوم.اوس زه دیوه غښتلی ایمان خاونده یم اودا زما باور دی چې زماکورنۍ به یوه ورځ حتماً مسلمانان شي،انشاء الله.

همدارنگه زه غواړم چې یو کتاب ولیکم هغه هم زمادخپل ژوندپه اړه چې څنگه مي داسفر سرته ورسوي،چې هغه به یولنډخلص ولري.زه اوس کوښښ کوم چې یوصفا تصویرمي دخپل لاس واخلم اوامیدلرم چې دابه یوه ورځ ټولوته ښکاره کړم. په خداي مو سپارم ستاسوخور ((زینب))

له کمه وخته چې داکیسه لیکل شوې ده،زینب خور (ډبلیوډبلیوډبلیوډاټ موسلیم کانورټ ډاټ کم) سایټ ته وویل داچې ددې پلار اوس دې ته همیشه زنگ وهي اوددې په حجاب باندي هیڅ خوانه بدوي اوکله ناکله ورسره شپې تیروي.

دتاریخ په اوږدوکې له کمه وخته چې داسلام اغازشوی دی،غیرمسلمانانوپه تبلیغ اوپروپاگنډپه مسلمانانوپسي خپلي پایڅي لیڅي کړي دي ،که څه هم چې دوي له خپل دین اودمذهب له نیمگړتیاووڅخه خبردي خوبیاهم سترگې یي پراسلام باندي پټې کړي دي.

امیدلرم هغه غیرمسلمانانوته چې په بې گټو،بې ځایه اوبې مانا عقیده باندي باورلري داسلام په مشرف دین ځان اوکورنۍ مشرفه کړي ترڅولدې تورونشپوڅخه نجات پیداکړي.

په دې اساس چې ټول خلك مطمین شي چې غیرمسلمانان اومغربي میډیاچې داسلام سره څومره کینه لري اودمسلمانانواواسلام پرخلاف له هیڅ ډول دسیسواودرواغوڅخه ځان نه سپموي اودخپلولوستونکو اوکتوونکوذهنونه دغلطواوبې بنیاده خبروباندي زهرجن کوي اوداسلام په اړه غلط معلومات خپروي،دهغوي ددې رازونوڅخه خبرشي اوخپل باوراویقین په اسلام وکړي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلام واقعاًیوه کامل اورښتني اودټولوانسانانولپاره پوره اوله هرډول خالیګاووڅخه خلاص دین دی.

سربیره پردي په خاص طورسره هغه شخې اوناریـنه چې اوس په اسلام مشرفه شوي،بایدپه اسلام باندي ځان پوه کړي اوداسلام تګلاره تعقیب کړي.

## په کندهارکي یویهودی مسلمان شو

په کندهار کي یو یهودی مذهبه کس د اسلام په مقدس دین مشرف شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې
دی مسلمان شو،ګڼ شمیرعالمان په خرقه مطهري په مسجدکې مراسم ورته برابرکړي وه اوپه ده یې کلمیه طیبه شریفه وویل.
نوموړي یهودي کس مخکي سورین نومیدي اودرومانیي هیواداوسیدونکی و،په کندهارکې یې دیوي بهرني خصوصي امنتي کمپنۍ سره دیوقومندان په حیث کارکاوو.
کله چې داسلام په مشرف دین مشرفه شو،نوعالمانوپه خرفه مطهره کې وربانديِ اسلامي نوم عبدالله کیښودی.
دنوموړي شخص مورعیسوي اوپلاریې یهودی و.
خپله مسلمان شوی کس عبدالله وایي د اسلام مقدس دین یي ځکه غوره وبالی چي ددې مقدس دین په هکله یي زیاته مطالعه کړي او سپیڅلی کتاب قران الکریم یي لوستی او د هغه په ژباړه یي ځان پوه کړی و..
عبدالله زیاته کړه: خپله کورنۍ او ملګري به هم د اسلام مقدس دین ته دعوت کړي او د اسلام د مبارك دین په ارزښت او اهمیت به یي پوه کړي.
د ادالله (ج) قول دي چې وایي:
زه هرچاته هرشي ورکوم،دمثال په طور،چاته زیاتي پیسې ورکوم.چاته نوم اوشهرت ورکوم.چاته دولت اودولتداري ورکوم.چاته پاچاهي ورکوم،خواسلامي دین هغه چاته ورکوم کوم چې په مازیات ګران وي.
کنې یهودیان اوعیسویان چې دمسلمانانووینوته داسي تیږي دي لکه په هفتو چې چاداوبوڅکه هم نه وي کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددغه عبدالله موراوپلاریهودي اوعیسوي ول خوبیاهم الله (ج)وربانـدي ورحمیدی اوداسلام په مقدس دین یې مشرفه کړ.

# تنکی ځوان د اسلام په غیږه کې

ژباړه: عبدالرزاق حبیبي

عیسي په ماشومتوب کې داسلام په هکله څه نه وواوریدلي.کله چې منځني ښوونځی ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسید،نو
پنځلس کلنه کې یې دتره لور مسلمانه شوه.کورنۍ یې پدې هکله ډول ډول غبرگونونه وښودل،خوده هیڅ نه ویل.
یوه ورځ عیسیٰ په کورکې ناست وچې دتره لورېې ورته تیلیفون وکړاوځني وغوښتل چې ورسره وویني.
کله چې عیسیٰ ورغی نوهغې ورته قران کریم وښوداوورته وویل:
داپیژني؟
عیسي ورته منفي ځواب ورکړ.
دتره لورېې ورته وویل:
دادمسلمانانوکتاب قران کریم دی لکه څنگه چې انجیل دعیسویانوکتاب دی.
زمونږرب الله (ج) دی اوزمونږپیغمبرمحمدصلی الله علیه وسلم دی.داکتاب پیغمبرصلی علیه وسلم له ځانه ندي لیکلي بلکی دالله(ج) له لوري وربانديي نازل شوی دی.
هغې عیسیٰ ته وویل:
ماته چې کله داسلام راوړنودهوساینې احساس پیداشو،نوهمدا قران زه له اسلام سره لیواله کړم.قران دمحمدصلی علیه وسلم یوه معجزه ده.
دتره لورېې بیاورته وویل:
دقرآن کریم هغوټکوچې زه یې ډیره حیران کړم،دمورپه رحم کې دماشوم دجوړیدلو،دستورو،بحرونواونوروډیروشیانوپه اړه وړاندوینې وي چې اوس ساینس پرې اعتراف کړي اوکشف کړي یې دي.دادقرآن کریم معجزه ده ځکه په هغه وخت کې علم دومره پرمختگ نه ووکړی،چې ددي شیانوپه اړه دومره معلومات ولري.
هغې عیسي ته دپنځه وخت لمونځ،په اسلام کې دحراموا وحلالواوهمدارنگه دجاموپه اړه ټول احکام وویل.پدې توگه عیسیٰ هم له ځان سره ټینگ هوډوکړترڅوداسلام په اړه مطالعه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه لومړی دلمانځه په هکله ژوره مطالعه وکړه.هغه وایي کله چې ځوك داسلام په اړه مطالعه پیل کړي،نوبیاداسي ډیرشیان مخي ته راځي چې اسلام ته یي لارښوونه کوي.نوځکه یي زه هم داسلام منلوته اړایستم.

په لومړیوکي یي هیچاته دخپلومسلمانیدوپه هکله څه نه ویل،ځکه هغه سوچ کوی چې تراوسه لادخلکوتبصرواونیوکوته ځواب نه شم ویلاي.

په هغه سیمه کې چې عیسیٰ اوسیدی،دخپلې تره له لورپرته یې بل مسلمان نه پیژنده.

هملته له یواسلامي کتابتون څخه دالله (ج)دوحدانیت،لمانځه،روژي اودپیغمبرصلی علیه وسلم اودهغه دڅلورویارانودسیرت کتابونه واخیستل.

دري میاشتي وروسته عیسیٰ دلندن په جنوبي سیمه کې دګڼ شمیرکسانوپه وړاندي دعبدالرحمٰن ګرین په کورکې خپله لومړي وینا وړاندي کړه.

عیسی خلکوته په ویناکې وویل:

ماداسلام په اړه ډیرڅه زده کړي دي.

اوداسلام په اړه لاخپله مطاله نوره هم ځواکمنه کوم....

دعیسیٰ په زړه کې اسلام رازرغونیده.ددې سربیره هغه خپل ښوونځی اووروسته پوهنتون هم پرېښود.هغه به تل له ځانه سره فکرکولو،چې داوداسه لپاره تیاری ونیسي اودلمانځه وخت له لاسه ورنکړي،په داسي حال کې چې دهغه دښوونځی ملګروبه داوخت په چټي خبروتیرولو.

عیسیٰ اوس یوبل مسلمان ملګری هم موندلی وو،دواړوله یوبل سره ډیره زیاته مینه لرل.مسجدته به سره یوځای تلل،حتا ځیني وخت به یې ښوونځی هم پریښوده ترڅودجمعي دورځې لمونځ قضانه شي.

عیسیٰ په هرڅه پوهیدی چې اسلام له انسان څخه یوباشعوره انسان جوړوي.هغه په دي هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوه شوى
ووچې شراب ولي په اسلام كې حرام شوي دي،له هغه سره دهمدي امله دااحساس پيداشوچې بايدخلك له شرابوڅخه منع كړي،ځكه په ټولنه كې ټول اضرارله شرابوڅخه پيداكيږي.
عيسىٰ وايي چې هغه له نامسلمانوڅخه تراوسه نه دي جلاشوى،خوددە اودنورونامسلمانوتر منځ يوخط شته دى چې بايدله هغه څخه تجاوزونه شي. دعبدالرحمٰن گرين په كوركې عيسىٰ ډيرنورڅه هم زده كړل.هغه دازده كړل چې مسلمان له نامسلمانوسره ترهغه كارنه لري ترڅويې چې ده ته ضررنه وي رسولى.عيسىٰ وايي چې هغه له خپلونامسلمانوملگروسره ډيري ښي اړيكي لري، خوكله چې هغوي غواړي يوناوړه ځاى ته ځى،نوهغه نه ورسره ځي.
هغه وايي چې مسلمان بايداسلام په اړه زيات معلومات ولري اونورلتي له ځانه لري كړي.اوپه اسلام باندي دپوره پوهي لپاره قرآن كريم اوحديث مطالعه كړي.هغه په پاي كې له مسلمانانوڅخه غواړي چې بايدمحمدصلى عليه وسلم دسيرت اوژوندمطالعه كړي اودصحابه ووپه لاره روان شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څنګه مې له خپل دین څخه کرکه پیدا شوه؟

ژباړه : محمد شفیق جاوید

محمد جون د خپل اسلام راوړلو کیسه کوي نوموړی وایي :
زه په (۱۹۳۰)م کال په لندن کې وزیږیدم ، عیسوي پروتستان را لوی شوم…
دخپل ژوند په دوهمه لسیزه کې وم چې دداسي ستونزو سره مخ شوم چې هر هوښیار ځوان ورسره مخ کیږي ، په دي اندیښنه کې وم چې څه ډول کولای شم د خپل ژوند او زما ددین تر منځ تړاو ومومم؟ په همدي سره مې دخپل دین نیګمړتیا ته پام شو، په سوچونو شوم چې دا څه ډول دین دی چې یوازي د یکشنبې تر ورځې محدود پاته دی؟ او دا چې ولې کلیسا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګلستان

د خلکو دستونزو، فقر،محرومیت، ټولنیز بد حالت په مهال دخلکو سره د مرستي په تکل هیڅ هڅه هم ونه کړه؟ نو ورو ورو مي په خپل دین باور کمزوری شو، او کمونېزم ته مي مخه کړه خو د کمونزم تګلاره هم دومره ځواکمنه نه وه چي ما غوندي عاطفي او مراحق ځوان ته په اسانۍ قناعت راکړی د کمونېزم دمادي بنسټونو دڅیړلواو مطالعي په مهال مي د فلسفي او ادیانومطالعي ته مخه شوه .

سره ددي چي موږ غربیانو ته داسلام دین نا آشنا نه ؤ ځکه موږ د صلیبي جګړو له مهاله بیا تر اوسه د اسلام سره بلد یو ، خوداسلام په اړوند قصدی غفلت،قصدي تحریف او داسلام د حقیقتونو څخه قصدي انکار زه له دي دین څخه لیري ساتلی وم.

وروسته مي په استرالیا کي داوسیدني په مهال د سډني دعامه کتابتون څخه د قرآنکریم یوه نسخه ترلاسه کړه،خو کله چي مي د ژباړو سریزه ولوسته، د اسلام په خلاف یي تعصب او کینه راته له ورایه ښکاره شوه،نو مي کتاب په همغه ځاي بند کړ.

دداسي کتاب په لټه کي شوم چي ژباړونکی یې مسلمان وي ،خو هلته مي ونه مونده.څو اونۍ وروسته د استرالیا په بل ښار بیرث کي مي د هغه ښار په عامه کتابتون کي په دي شرط دقرانکریم نسخه واخیسته چي ژباړونکی به یې مسلمان وي،کله مي چي یوازي د لومړی سورت فاتحی اووه آیتونه ولوستل نو دومره اغیزه یي را باندي وکړه چي زه یي په ژبه تعبیر نشم کولای.

وروسته مي د رسول اکرم (ص) په مطالعه په کتابتون کي څو ساعتونه تیر کړل، په همدي سره زما دزړه ډاډ اوسکون حاصل شو،سره ددې چي زه دکوم مسلمان سره مخ شوی هم نه وم خو زما زړه ته اسلام لاره موندلې وه. سهار چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله را پاڅیدم په چورتونو کي ډوب روان شوم،په لاره مي ناڅاپه په یوه سره ودانۍ سترګي ولګیدي چي پري لیکلي ؤد (دمسلمانانو مسجد) نو مي د ځان سره وویل : که چیري حق ته رسیدل وي نوسمدلاسه باید په هغه عمل وکړو،مسجدته ورغلم اوپه مسجدکې مي کلیمه طیبه (لااله الا الله محمد رسول الله) وویل اوورسره مي اعلان وکړچې زه دالله (ج) په فضل مسلمان شوم.

چاته چې الله (ج) پاك هدایت دنیکې کړي وي هغه که په هرمذهب وي که عسوي،یهودي،کمونېزم اویاهندووي نواسلام ته یې رابولي اوهغه به حتماً مسلمان کیږي. داځکه چې الله (ج) پاك هرچاته هرڅه ورکوي که هغه کافرهم وي، پیسې ورکوي،شهرت ورکوي ، جایدادورکوي،عزت اودژوندهرضرورتمندشیان ورته ورکوي خودین بیاهرچاته نه ورکوي بغیردهغوانسانانوڅخه چې خوښ یې وي.

بیشکه چې الله (ج) ډیرلوی،سپیڅلی اومهربانه ذات دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# صفیه مسلمانه شوه

منبع : المهتدین آن لاین اسلامې لارښود

صفیه چې په روسیه کې اوسیده او اوس نوې مسلمانه شوې د اسلام راوړلو قصه داسې بیانوي:

۳۰ کاله مې په داسې یوې کورنۍ کې ژوندتیر کړ چې هیڅ مذهب یې نه لرلو بغیر له کمونستي افکارو څخه . هیڅ ډول عقیداو مذهب زمونږ په ژوند کې موجود نه وو ، هیڅ داسې شی نه ؤ چې د هغې په وسیله ښه او بد پرتله شوې وای بس هر څه به مجار او روا وو. ښو او بدو ته بې توجهی زمونږ چاپیریال احاطه کړی وو ، کورنې اختلافات خو یو عادي کار ؤ ، د نارینه او ښځو تر منیځ کشمکش او جنجال منطقي روابط شمیرل کیدل ، اولاد په ډیره آسانۍ سره له خپلو والدینو څخه جلا کیدل چې بیا به د ډیرې مودې د پاره یو د بل له حاله خبر نه وو .نه مذهب ؤ نه د خدای(ج) خاطرچې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوك وکولای شي د هغه په وسیله له ځان څخه حمایت وکړي .

صفیه زیاتوي :

بلاخره مې یو ورځ په جدي توګه د ځان او خپل ژوند په اړه په فکر او سوچ کولو شروع وکړه او پوه شوم چې هیڅ کوم خاص هدف نه لرم او فکر مې وکړ چې فقط ددې سرګردانۍ او فریشانۍ نه د نجات لاره یوازې خودکُشي کیدای شي او بس . یو ورځ سهار له خوبه پاڅیدم مخکې له دې چې خپلې دندې ته لاړه شم څو ګولې مې وخوړلې ، کله چې د کار ځاي ته ورسیدم سوکه سوکه مې حال خراب شو همکارانو مې بې له ځنډه روغتون ته ورسولم ، د یوې مسلمانې ډاکترې چې حجاب یې کړې و دهغه په وسیله سره مې بیرته نجات وموند. کله چې پرحال شوم،له هغې څخه مې وپوښتل چې څنګه کولای شم خپل ژوند ته خاتمه ور کړم (څنګه ځان وژنه وکړم ) ، هغې ما ته توضیحات را کړل چې په ځان وژنه نجات نشې موندلای بلکي د همیشه د پاره به په دوزخ کې اوسیږې .

د خپلو خبرو په باب مې له هغې څخه پوښتنې وکړې ، له هغې څخه مې عجیب او جالب شیان واوریدل چې هیڅکله مې نه ؤ اوریدلی ، په اسلام کې ځان وژنه منع ده او هر څوک چې بې هدفه داسې وکړي د ابد د پاره به په دوزخ کې وي . سوکه سوکه مې د هغې په توضیحاتو اطمنان حاصل شو او پوه شوم چې الله تعالی دومره مهربانه او بخښونکی دی چې که په ګناهونه توبه وکړم هیله ده زما ګناهونه وبخښي .

مسلمانې ډاکترې د اسلام په اړه ما ته ډیر توضیحات راکړل او د قرآن آیتونه یې را ته تلاوت کړل داسې یې وښوده چې تر هر څه ژر ددې بې اخلاقه ،بې دینه او بې خدایه محیط څخه ځان وباسه ، او د اسلام د پاکدامنۍ ، صلحې او آرامۍ څخه خوند واخله. داسې ژوند مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تجربه کړم
چې تر اوسه مې نه درلود . زما او د هغې رابطه په دوستی وا وښته او د هغې سره مې په ناسته ولاړه او خبرو آوریدو خوند اخیستلو . هغې زه خپل کور ته دعوت کړم ، د ژوند حالت او طریقه یې له نورو سره بالکل بدل او فرق درلود.د خپلې کورنی سره یې قوي روابط لرل او هر یوه یو له بل سره مینه او دوستي او یو د بل احترام یې کوي. اسلام یې اصلي دین او قرآن یې آسماني کتاب و. په اسلام کې هیڅ څوک پرته له اجازې د چا کور ته نشي ننوتلای ، ښځه پرته د خاوند له اجازې او هغې ته د خبر ورکولو پرته له کوره نشي وتلای .زما په دې شیانو پوهیدل ددې باعث شول تر څو د اسلام راوړلو په اړه تصمیم ونیسم او د خپل دوست سره مې د محلي جومات ته لاړه شم تر څو هلته شهادین اعلان کړم .
بلاخره مې خپل تصمیم ته د عمل جامه ور واغوسته او شهادتین مې اعلان کړل او د سرگردان او فریشانه حالت څخه مې نجات ومونډ . څه موده پس دوبی ته لاړم هلته مې په اسلامي مرکز کې د دوهم ځل د پاره شهادتین په ژبه او زړه وویل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له مسلمانېدو وروسته مې ژوند وپېژاندی

ژباړه: دکتور نجیب الله صالح

اسپانوي نومیالی ادیب اوشاعر (امیلیوپاییتیروس مازان ) دغرناطی اوسیدونکی چه دیو استاد په صفت په خپلو ادبي اوفرهنګي فعالیتونو بوخت دی داسلام تر قبلولو وروسته یې یوه ادبي مجله دنوروفرهنګي ملګروپه مرسته تاسیس کړه چی د( الحسمیة ) په نوم یې و نوموله او حسبیه په المغرب کی دهغه ښار ګوتي نوم دی چی اسپانیی سره تړلې ده، په سلګونو داستانونه، ناولونه اوشعري فعالیتونه لري چی اخیرنی ناول یې د (البرکة ) په نوم له چاپه راوتلی چه ۲۰۰۵ م کال کی تالیف اود مولف دنویو اسلامي نظریاتو څرګندوي دی. نوموړی لیکوال دالمجتمع اسلامي مجلې ته داسلام قبلولو قصه داسې بیانوي : پوښتنه : اسلام ته دې څنګه مخه کړه اوسبب یې څه وه ؟
ځواب : تقریباً لس کاله وړاندې زمایوه زده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوونکي
انجلۍ چې ديوې هسپانوي مسلماني کورنۍ سره يې تړاودرلوده دهغې مور زماپه شان شاعره وه نو ددې انجلۍ په واسطه به موکله ناکله دځنې قضاياوپه هکله څه اشعار تبادله کول لکه په اسلام کی دښځې حالت، نومورې یوه دقوی شخصیت اومنظم ژوند څښتنه وه، خوڅه موده وروسته دغه کورنۍ زماڅخه بیدرکه شوه اوڅوکاله وروسته چې ماخپل یوناول خپور کړ نوزماسره يې تليفوني رابطه وشوه هغې له ماڅخه داسلام دقبلولو غوښتنه وکړه او دهغې خبرې په مازيات تاثيروکړ اوپه دې لټه کې شوم،الحمدالله چې اوس درې کاله کيږي چې ما اسلام قبول کړی.
پوښتنه : پدې تحول سره دي په لومړي سرکې څه احساس کړه اودکورنۍ تعامل دي څنګه وه؟
ځواب : ماپه دې تحول سره دستر روحي اطمينان احساس وکړ دژوند هدف می وپيژنده ازادي مې احساس کړه په لومړی سرکې زماخپلوانو اوملګرو دغه بدلون بدشاګوم وبلی ،زه لږتنهاشوم اوماخپله کورنۍ او زامن ټول په ځان خبر کړل خوهغوی لا اسلام نه دی قبول کړی زمامور،پلار اوخويندو دغه خبر يوناشناقضيه وګڼله خو بیايې زمااسلام راوړل تايید کړل.
پوښتنه :ديوليکوال اديب اوشاعرپه حيث دغه تحول په تاڅه اثر وکړ او ايا ستا په ادبي فعاليت يې څه تاثير وکړ ؟
ځواب : هوزه همداوس په داسې يوناول ليکلو مصروف يم چې په اسپانيه کی د۱۶ م قرن حوادث تمثيلوي اوستوري (کرکټران ) يې هغه هسپانوی مسلمانان دي چې غرب ته له اریتیریا نه دخپل دين دحفاظت په خاطر راتښتیدلي دي تر څو هلته په زور سره عيسويان نه شي اوداهغه خلک دي چې له عيسويانو پټ يې هلته اسلامي ژوند کاوه. دشعرونو يوټوله مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدااوس نشر کړی چی دلیلٰی اومجنون له قیصی نه الهام اخلي اویورنګ تصوف مزاجه حیا په کی پرته ده. همداراز یولړ نوري مقالې مې په هسپانوي اوبرازیلي مجلو او اخبارونوکې نشر کړي چه د ادب اوتصوف ترمنځ تړاو په هکله لیکل شوي.

پوښتنه : ستاداخیري ناول عنوان برکت وه داپه څه معنٰی ؟

ځواب : دبرکت کلمه له یوه پلوه یوه شکلې اودخیر اومحبت نه ډکه کلمه ده چه الله تعالٰی خپلو بندګانو سره دهغه اظهارکوي او بل ماته دیوخاص سعادت اوخیر زیری راکوي.

پوښتنه: دیوادیب په حیث ایااسلام ستاپه هغه لید کی څه تغیر راوستل؟

ځواب : زمادژوند هدف اومبارزه دانسان لپاره دیوی ښې نړۍ جوړول وه، ما اوسني سرمایه دار نظام ته هروخت د رد اوشک په سترګه کتلي خوبل طرف ته زه دیوې ذهني تشې سره مخ وم، کوم ښه اوغوره نظام زماپه ذهن کی نه وه، سره ددې چی زماطبیعت نیک فاله دی خوزه دبدفالۍ ښکار وم،خواوس زماپه لیدکې پوره تغیر راغی زه او س دپخواپه څېر نه بلکی یومتوازن انسان یم،ماته دژوند تکلیفونه هیڅ مشکل نه شي جوړولای،دخپل ځان اوجهان په مقابل کې زه دنیک بختۍ احساس کوم زمانظربدل شو زه اوس پخپله غوره کړې لاره اعتماد لرم ځکه زه په الله (ج) ایمان لرم زه اوس دیوې غوره نړۍ جوړول غواړم چه هلته محبت مینه او ورور ولي وي.

پوښتنه : تر اسلام راوړلووروسته تا عربي ژبې ته مخه کړه، داعربي څنګه ژبه ده ؟

ځواب :عربي ډیره ښکلې ژبه ده اوتر اوسه یې خپل اصالت ساتلی، سره له دې چې په محاوره او روزمره استعمال کې یې زیات تغیر راغلی خوددی سره هم زماپه وطن هسپانیه کې راته دقرنونو په موده کې د دوهمې ژبې حیثیت لري،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلـه داچې
عربـي يـوه ژونـدئ اوتـغیـر قـبـلـونـکې ژبـه ده ټـول الـفـاظ اواصوات يـې قـواعد لـري دکـلـمې پـه لـړ تـغیـر سره مـخـتـلـفـی معنٰی گـانـي ورکـوي حتٰی کـلـه دکـلـمې پـه لـړ تـغیـر سره مـتـضـادي مـعـنـاوي ورکـوي چی دايـې پـه قـوت دلا لـت کـوي.
پـوښـتـنـه : اسلام دی دکـومـو پـوهـانـو اوکـتـابـونـو لـه نـظـره مطا لـعـه کـړی؟
ځـواب : مـاډيـر څـه لـوستي، طبعاً قـران کـريـم مې پـه هسپانـوي ژبـه لـوستی وه، دغزالـي کـتـابـونـه او (الـحکم ) دابـن عطا الله تـالـيف، دشيخ عبدالـقـادر کـتـابـونـه، دجلال الـديـن رومی اشعار ،ددې نـه علاوه داسې کـتـابـونـه چې دمسلـمـانـانـو حـالات اودعربـي نـړئ مـشکلات پـه گـوتـه کـوي ،دسيـرة الـنـبی کـتـابـونـه اوداسې نـور مـطـالـعـه کـړيـدي.
پـوښـتـنـه : داچی غربـی پـوهـانـو اوس اسلام تـه مخه کـړی دا پـديـده څـنـگـه تـعـبـيـروي؟
ځـواب :غربـي تـمـدن اوس دنـابـودئ پـه لـور مخه کـړې ددې سره چې غرب دتـمـدن ازادئ اوعلـمـانـيـت مـدعي دی خـوتـر اوسه پـه داسي اديـانـو هم عقـيـده لـري چې پـه هغه کې لـه شرمـه ډکـو شيـانـو خدايـان جوړ شوي اولـه پـوچـو روحـانـي او خيـالـي نـظريـاتـوڅـه ډک دي، دغر ب خيـالـی خدايـان اوس مـال ،مصرف ، اوقـدرت دی، اوس غربـيـانـو تـه بـازار پـيـداکـول، عاجل خـوراکـونـه، مـوسيـسي اودفـتـرونـه ديـومقـدس مـومـن حيـثـيـت لـري چې او س لا دمـبـارزې نـور نـوي مـيـدانـونـه دشهرت طلـبـی ، کـار او غيـر انـسانـي تـولـيـدات ، تـکـنـالـوجي ، پـلاستـيـکـي جـراحي (طب الـتـجـمـيـل ) چه الـهـي خلـقـت کې تـغـيـر راولـي خلاص شوي اوخلـک پـري اخـتـه دي.
غربـي ځوانـان دمـخدارت او اخلاقـی انـحـرافـاتـو پـه سيـنـد لاهـو او دهلاکـت پـه لـور روان دي اوهغـوي اوس دخپـلـو جنـسي خـواهشاتـود پـوره کـولـو لـپـاره دشرابـو اوانـسان عبـادت کـوي، دحيـوانـيـت پـه لـور

(c) ketabton.com: The Digital Library



روان دي اوروز مره دانتحار حادثات مخ په زیاتیدودي هلته اخلاقي معیارونه نشته، یو کارگر د مریي په حیث استعمالیږي اوادنۍ اختیار دخپل کار په مقابل کی هم نه لري.
کورنی نظام ړنګ دی اوس غربیان د تنهایۍ ژوند سره مخ دي ژوند یی هیڅ معنۍ نه لري ټول ژوند یی خپگان اوپریشاني ده، چی درقص اوشرابو په محفلونو خپل وخت تیروي چه دغه کانسرتونه هم ددوي لپاره یوعذاب دی ځکه ترکانسرت وروسته بیا له تنهایۍ او یواځیتوب سره مخ دي، داچې کمونیېزم دغربي سرمایه داري نظام دیوبدیل په حیث شکست وخوړ نو غربي پوهان اوس داسلام په حقانیت پوه شول چي دایوداسې
نظام نه دی چه زوړ شي او وخت یې تیر شي لکه چې پخوایې داسې نظر درلود، سره ددې چې بعضي غربي دولتونو له کړوڅخه څرګندیږي چې اسلام اوس دیوعملي نظام په حیث دتطبیق وړنه دی،خوبیاهم اسلام یواځینی هغه روحي اواجتماعي بدیل دی چه نړی به د ځان وژنې له دغه څپوڅخه بچوي چه اوس پرې اخته ده اوغربی تمدن یې ورکش کاږي.
پوښتنه : په هسپانیه کی داسلام حالت اوس څنګه ارزوی؟
ځواب : اسلام اوس هره ورځ مخ په وړاندې روان دی هسپانویانو اوس اسلام ته مخه کړې اوزیات عدد خلک اوس روزمره اسلام قبلوي همد اراز هغه مهاجر چې اصلاً مسلمانان دي هسپانیه کې مخ په زیاتیدودي خومسلمانان اوس هم دلته لږ دي او زیات عدد هسپانویان اوس دوی ته دویري او ترس په نظر ګوري او ۱۹۳٦ کال جنګونه وریادوي خودایې له ویري ایستلي چه له مسلمانانو سره په هسپانیه کې په پینځلسم،شپاړسم اواولسم قرن کی کوم وحشتونه وشول ،څومره اجتماعي وژني سوځوني اوداسلامي اثارو تخریب اوله منځه وړني تر سره شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کامیابی په لور

رښتیا هم چې دغربي ټولنې ټول رازونه کوم چې داسلام دمقدس لپاره یې طرحه کړي دي ورځ په ورځ افشاکیږي اوچې هرڅومره زیارا وکوښښ وکړی بیا هم په خپلوپلانونوکې نه کامیابه کیږي،که ټوله نړۍ هم ددوي په واك کې شي اودوي ددنیاستر قدرت وگرځي خوبیابه هم ناکامه اوخپلوځانوته به خپله دردي سرجوړوي،داځکه چې دا دالله (ج) پاك وعده ده له خپلوموموینوبندگانوسره چې زه به داسلام دین اوقران مجیدساتنه ترهغه پوري کوم ترڅودادنیاوي.نوچې خدای (ج) پاك چې ټول موجودات یې پیداکړي اوهرڅه دده په اراده سره کیږي هغه یې ساتنه کوي نوغربیان اوشرقیان به څه تعوان ورته ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ما د (اغاخان) اسماعلیه فرقه پریښوده اوپه اسلام مشرف شوم

**(Akbarally Meherally).**
ژباړه اوغورچاڼ: عبدالغفارجُبیر

ګرانومسلمانانوورونواوخویندو!
اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!
زه دالله ددین اودالله جل جلاله لپاره داسماعلیه ډلې چې مشرې یې (اغاخان) کوي یوڅوحقایق بیانوم هیله ده چې په غورسره یې ولولي اوددې ډلي دشرک نه ډکې عقېدې نه خبرشي۔
زه مخکې داسماعلیه فرقې یوپیروم چې الحمدلله اوس په اسلام مشرف شوم۔ الحمدلله اوبیا الحمدلله۔۔۔
ما دالله(ج)سره وعده کړېده چې ددې ډلي باطل عقایداوخرافات به دخلکوترغوږورسوم، اودالله جل جلاله څخه یې اجرغوښتونکی یم.دلاندنیوحقایقوڅخه وروسته بیا هرلوستونکې پخپله قضاوت کولاي سي۔
1 اسماعلیه ډله په دې باندي باورلري چې قرانکریم په هغه وخت دهغه وخت دخلکولپاره وه، نه داوس له پاره، اوداوايي چې اغاخان

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هرڅه
وویل همدانعوذبالله دخدای(ج) کلام دی اوداوس
عصرلپاره دده ویناغیزمنه ده
ترقرانکریم.اودوي دا ردوي چې ترقرانکریم
وروسته وحي نه راځي، اودوي په دې عقیده دي
چې اوس هم اغاخان ته وحي راځي.
2 اغاخان خپل ځان وخپلوپېروانوته د
(مظهرالحق) په نامه سره پېژنې، اوځان دخدای
استازی بولي.دده ټول پېروان وده ته سجده
کوي، اودی خپل معبودبرحق بولي.
3 اسماعلیان نه لمونځ کوي، نه حج کوي
اونه هم روژه نیسي دوي دلمانځه پرځاي په
ورځ کې درې ځلي دشرک نه ډکې دعاوي
کوي.اودحج په اړه ددوي عقیده داده چې
زموږحج دادي چې کله موږته داغاخان
دیداررااپه نصیب شي .
4 اغاخان اودده نورمنتخب داعیان
دعیسایانوپه شان دخلکوګناهونه وربخښي.
اواغاخان وخلکوته وایي چې دقیامت په ورځ
زموږڅخه پوښتنه نه کېږي اومستقیماً به جنت ته
ځو،کله چې سوال اوځواب شروع شي نوموږبه
هلته دجنت په دروازه کې ولاړیوداځکه چې
زموږګناهونه خوپه دنیاکې بخښل شویدي.
5 اسماعلیه ډله دعیسایانودمختلفوډلوله
خواڅخه همایه کېږي اوددوي ټوله روزنه د
عیسایانوپه لاس کې ده، په ځانګړي ډول سره
د **(Baha)**
اود **(Pauline Christianity)** دمبلغینوله
خواڅخه ودوي ته پوره روزنه اوتاکتیکونه
ورښودل کېږي، چې په هره اوونۍ کې دبایبل
اوددې ډلي دعقایدویوځوپاني چاپوي اوخپروي
یي.
**(Paul)** چې په عربي ژبه کې ورته (سال) ،
یا (پولس) اوکله هم (شاول) وایي دادعیسایت

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنسټ ایښودونکي دي ، چې دنوې عهدنامي زيات كتابونه ده ليكي دي. دی په اصل کې يهودي واوانجيل يې تحريف كړاواوس دده په نامه مفكوره په عيسايت کې پوره شتون لري اودده په نامه داګوند په (۱۸۱۹) میلادي کې په وجودراغی.پاته دي نه وي چې اوسني عيسايت ټوله دده پرمفكورو ولاړدي - (ژباړن)

6 د كريم اغاخان خپله لور(زهرا) ديوه عيسايي مبلغ سره واده وكړاواوس دادپيغلوانجونودراجلبولودنده په غاړه لري اوډيركوښښ كوي چې هره ځوانه انجلۍ دخپل پلار چې دوي ورته (امام زمان) وايي راواړوي اودهغه تابع سي. اوبل ددوي غټ اوصول دادي چې دوي دهرچاسره واده كولاي شي كه هندو وي، كه عيسايي وي، كه يهودي وي اوكه....

7 اغاخان هرڅه چې اسلام حرام كړيدي هغه ټول يې دخپلوپلويانولپاره حلال كړيدی. سُود حرام دی اوده حلال كړيدی، چې ددې موخي لپاره يې ځوشبکې هم پرانستي دي لكه، **Taiqaah** او **(AKFED) (Aghakhan Fund and Economic Development)** او داسي نورو نومونوترعنوان لاندي په نړيواله كچه سره سود كوي.

ډيري غټي پروژې يې په ډيروهيوادونوکې اخيستي دي ، په ځانګړې ډول سره په هغوهيوادونوکې چې یانوي اسلام پکښې خپورشوی وی اوياهم په اسلام باندي پوره خبرنه وي، لكه تاجكتسان اونورجمهوريتونه --- ددې هيوادوڅخه ماسوا ډيري كمپنۍ يې په پاكستان، افغانستان، هندوستان، تانزانيا، يوګانډا اوبنګلدېش كه په كاربوختي دي.دمختلفو**NGOs** له لاري دخلكودراضي كولولپاره اوپه هغوي کې دنفوذلپاره مختلف كارونه كوي، لكه روغتونونه،دلوبوميدانونه،دتيليفون اسانتياوي،داوبوسيستمونه اوسړكونه جوړول

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوداسي
نورانۍ کارونه دوي په خپله زمه اخلي.
٨ مسلم امت ددې باطلي،کفري اومشرکي ډلي دعقایدوڅخه خبرنه دي ،ان تردې چې ډېرلوړخلک هم ددوي په حرکت اوعقایدونه پوهیږي.دوي په ټوله نړۍ کې دوه میلیونه پلویان لري ، چې مبالغتاًدوي خپل شمېرددې څخه ډېربولي. دوي خپلوځانوته اسماعلیه یا اغاخاني مسلمانان بولي اوحال داچې ددوي په کفر، ارتداد، شرک اولادنیت کې هیڅ شک اوشبهه نشته.ددوي مذهبي مشرکریم اغاخان وایي چې زه نعوذبالله من ذالک دخاتم الانبیاء حضرت محمدمصطفي صلي الله علیه وسلم ځاي ناستي یم.
٩مخکي ددې ډلي په اړه کوم معلومات نه وواونه هم کوم کتاب وربانديي لیکل شوي ووخواوس الحمدلله ددوي پرفاسدوعقایدوباندي ډېرکتابونه لیکل شویدي اوهم دنیټ له لاري تاسي کولاي سي چې پوره معلومات ومومي اوڅوویب سایټونه دي چې ددوي کفري عقایدومسلم امت ته خپروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په هرات كي يوه فرانسوي ښځه داسلام په دين مشرفه شوه

منبع : باختر

دهرات ولايت دمرافعه محكمي دتحريراتو دامر له خولي : دغه فرانسوي ښځه چي ۳۵ كلنه ده ازاده ژورناليسته اوعيسوي مذهبه وه اوله دريو كلونو راهيسي دهرات اوكابل په ښارونو كي اوسيږي اوداسلام ددين په برخه كي يي زياتي څيړني كړي دي.خبرځاي زياته كړه ددي اصلي نوم برجك و له هغه وروسته چي داسلام په دين مشرفه شوه دخديجي په نامه ونومول شوه اودهرات دمحكمي درئيس په وړاندي يي كلمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



طیبه

وویل اومسلمانه شوه. دمحکمي رئیس ورته یو ټوك قران عظیم الشان ورکړ.

داسي ډیرې ښځې مسلمانې شوې دې اوداسلام دمبین دین څخه خبرې شوې اووربانديپوهیدلې دې چې اسلام واقعاً یوحقیقتي اوروښانه دین دی.عیسویانواویهودیانوښځوته ډیره ازادي ورکړې ده اوداازادې پرخپل ځان اوخپل دین باندې تفې اووائې چې دښځوحقوق اودنارینوحقوق سره مساوې دی ددوي په اند اونزدسره،خوخدای (ج) پاك ئې بیاحقوق ندې سره مساوې کړي. الله (ج) ته هغه ښځې ډیره نیږدې دي کم چې داپه خپل کورکې په پرده اوسترکې ژوندکوي ترهغه ښځې چې دابې سترې کوي. تاسي وګورې په کوم ماحول کې چې دښځواونارینووحقوق سره مساوې ښودل شوي په هغه ځایوکې پرښځوڅومره ظلمونه،وحشت ،تیری،مرګ،فریب،چل،بې انصافي ،بې عدالتي شوي دي،خوپه هغه ځایوکې ښځه په پرده کې وې نونه کوم څوك ورسره ظلم کوي نه څوك وربانديي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تيري کوي اونه څوك ورسره بې عدالتي کولاي شي. داټولوښځوته اوس جوته شوې ده.

کمه ښځه چې په اسلام مشرفه شوې ده دې له هره اړخه اسلام مطالعې کړی دی چې په اسلام کې څومره خوندونه شته اوکوم څوك چې مسلمانان شوي دي له هغوې څخه چې څوك پوښتنه وکړي چې تاسوڅه احساسوي کله چې مواسلام ومنی. نوهغوي به حتماً داوائي چې موږاوس په ژوندپوه شووچې په ژوندکې څومره خوندونه شته مخکې موږداسي احساس نه کوي اونه دژوند په مفهوم پوهیدلو.

دااسلام دی چې چاته دمینې احساس وربخښی.دااسلام دی چې چاته محبت وروگلوی اوصداقت ورزده کوی. دااسلام دی چې چاته رحم اومهربانی ورزده کوی. اودااسلام اوقران برکت دی چې دنیانن تراوج پوري رسیدلې ده.

په اسلام کې فریب،چل،دوکه،غلا،زنا،قتل،درواغ،دبل حق ترپښولاندي کول نشته. پرچاظلم کول څوك بیگناه ازارول اوچاته په سپکه کتل داپه اسلام کې نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کامیابی په لور

اسلام

هرانسان ته ډیرارزښت ورکړي دی په اسلام کې دتوراوسپین فرق نشته .په اسلام کې پیسه داره اودغریب د موړاودمسکین فرق نشته.هغه ځوك به په اسلام کې کامیابه وې چې دتقوااوپرهیزګاري لاره یې دځان لپاره غوره کړې وي.

ښځوته حق په اسلام کې ورکړل شوي دی. مخکې له اسلام به چې کله یوناریته مړشونوله هغې سره به حتماًدهغه ښځه اویادهغه لوراویابه دهغه خوروسره ژوندی ترخاورولاندي ښخیده.اوس ولي هغسي نه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زه ولي مسلمان شوم؟
## جناب خالدمحمودصاحب
## (پخواني نوم ئې یوئیل کندن)

ژباړه اوغورچاڼ: عبدالغفارجُبیر

داد(۱۹۸۵) میلادي کال خبره ده، داهغه وخت ؤچې زه اوزماموردکراچۍ په کلفټن کي دیوه مکتب دفرانسوي ښوونکی(مورل)چې پخپله فرانسوی ؤپه دې بنګله (تعمیر)کي اوسېدی اوموږپه دې تعمیرکي دده سره کارکاوه.دافرانسوي ښوونکی دخپلې ښځې اوماشومانوسره دلته ؤ، زماموردې ښوونکی دماشومانوساتنه اوروزنه کول اوماپه هغه کورکي دچوکیداردنده ترسره کول.ماددې دندي سره سره دکورنورکارونه هم کول دبېلګې په ډول سره یوشي رانیول اوسوداکول.

لکه څرنګه چې موږدښوونکی سره کارکاوه نوده ددې تعمیرپه لوړپوړکي ئې وموږته ځاي راکړي ؤ، سره له دې چې موږعیسایان ؤخوبیاموهم وکلیساته دتګ خوبونه ډیرلږوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کامیابی په لور

اودکلیسا
سره مواړیکې ډېري لږوې،خویوشي راته عادي وهغه داچې کله چې زه ویده کېدم نودعیسایت مطابق به مي دعاکوله اوبیابه خوب ته تلم.
په (۱۹۸۵) میلادي کال کي مي یوخوب ولیدي چې زمادژوندپانې ئې واړولې اوهدایت شوم، هغه خوب داسي ؤچې یوډېرسخت سمندري طوفان راغی، چې زه پخپله ددې طوفان نظاره دهغه ځاي څخه کوم په کوم ځاي کي چې زه اوسېږم زموږکوردخاشواووښوڅخه جوړه شوې کوډل ده اوزموږپه ګاونډاوشاوخواکي چې کوم تعمیرونه اوکورونه دي داټول پاخه معلومیږي؛ دې سمندري طوفان داپاخه کورونه ټول ونړول اوزموږدخاشوداکوډله درسته اوسلامت ده.ددې کوډلې ددروازې څخه دباندي ووتلم داسمان ولورته مي وکتل اوومي ویل چې اي لویه خدایه(ج) ! دخلکوپاخه کورونه دي ونړول اوزموږدخاشوکوډله دي ولي پرېښوده؟ ددې حالت څخه وروسته زه دسمندرپرڅنډه روان یم اوداسمان څخه یوغیبي اوازوشو: اي خالده دخپل زړه څخه کفروباسه!.
حال داچې زمانوم خالدنه ؤاویوئیل کندن وواودخالدنوم وماته هغه مهال خوندراکړچې کله زه وړوکی وم، داهغه وخت وچې کله زماموږزمادپلاره څخه بېله شوه اودلاهورڅخه وکراچۍ ته راغله.ترټولولومړی چې زماموردکوموخلکوسره کارکاوه هغه عرب وه، چې دهغه عرب مشرځوي خالدنومېده؛ لکه څرنګه چې خالدزماډېرخوښ وونوځکه ماوخپلې مورته ویل چې وماته خالدوایه، دهمدغه مهال راهیسي دخالدنامه زماپه زړه کي ځاي ونیوي؛ داهم نه وه راته جوته چې خالدڅه معني اوکله به داهم زمادښه قسمت اوښه بخت سبب وګرځیږي
کله چې مي سهارسترګي راپرانستلې نوداټوله ورځ دپرېشانۍ په ټال کي وم، دځان سره مي فکراوسوچ واهه چې دامي نوڅنګه خوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولیدي؛ کله چې مي دمورسره داخوب شریک کړنومورمي راته وویل چې زویه داپرېږده، څه چې دي په خوب کي لیدلي هغه هېرکړه. مګرترډېروورځوپوري داخوب زمانه هېرېده اوپرېشانه په دې وم چې په کوم دین(عیسایت) چې زه یم یاداصحیح دین نه دي ؟؟؟اویاهم زه نیمګړتیاوې لرم، چې زه نواوس دخیالونو، سوچونواوفکرونوپه زانګوکې زانګم.

په (۱۹۸۶) کال کي داځاي پرېښودي اوودېفنس ته ولاړو،هلته مودکرایې په سراي کي استوګنه پیل کړل، په کوم کوراوسیمه کې چې موږاوسېدوهم هلته دمسجدعباس په نامه یومسجدډېرنږدې وو،چې دلته تل تبلیغي جماتونه راتلل اواکثره وخت به ګڼه ګونه وه یوه ورځ هلته ومسجدته نژدې وم چې تبلیغي جماعت ګښت کاوه، چې کله ئې پرماسترګې ولګېدې زماولورته راغلل اووماته ئې وویل چې مسجدته راشه اوهلته دالله(ج) اودالله(ج) درسول (ص) خبره کیږي؛ ددې پرځاي چې زه ورته ووایم چې زه عیسایي یم ماورته وویل چې زه کورته ځم اوبیاراځم، دکورپه بهانه ولاړم اوځان مي ګوښه کړ، خودې دعوت زماپه زړه کي نقش جوړ کړ

اوس نودروژې مبارکې میاشت هم راتلونکې ده، دروژې څخه مي یوه ورځ فکروکړچې زه بایدمسلمانانوپه شان روژې ونیسم اوحال داچې په عیسایت کي هم روژې شته؛ لکه څرنګه چې مادمسلمانانوسره ژوندتېرکړي وونودروژې دنیولواوماتولووختونه راته جوت وو، نولومړۍ روژه مي ونیول، دلومړۍ روژې نیولوڅخه وروسته مي داهوډوکړچې نوربه نه دخولې څخه بدې خبرې باسم اونه به ناوړه اعمال ترسره کوم، سهارښوونځی ته ولاړم اووهیچاته مي ونه ویل چې زه روژه تي یم، غرمه دمکتب څخه راغلم اودهیچاسره خبري نه کوم، اوس مي یوبل خیال په ذهن کي راغی اوهغه داچې روژه خومي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونیول
نواوس به ښه داوي چې لمونځ هم شروع کړم، خولمونځ زماچیري زده دی؛ داځکه چې مسجدماپه سترګونه دی لیدلی، دزړه اودماغ پرېکړه مي داشوه چې زه بایدنن مسلمان شم پخپله مي کلیمه طیبه وویل اوپه همدغه ورځ مي په نژدې مسجدکي په امام صاحب پسې دماپښین لمونځ مات اوګوډوکړ، چې ددې مات اوګوډلمانځه څخه چې ځومره حلاوت(خوږوالي) سکون اوآرام وماته پیداشوزه هغه په الفاظوکي نشم تعبیرولای، لکه څرنګه چې موږپه دې نژدې وختوکي ودې کلي ته راغلي وونوځکه ځوک راخبرنه وه چې دوي عیسایان دي اوله همدې کبله چادشک په سترګه نه راته کتل.په دوهمه ورځ مي بیاروژه ونیول اوکله چې ښوونځی ته تلم نودلمانځه لپاره مي یووړوکی کتاب چې (اسان نماز) نومېده رانیوي، ترڅولمونځ ښه زده کړم، په ښوونځی کي مي یوګران دوست (اکبر)درلودی، چې هغه په ډېرښکلی ډول اوخاموشی سره لمونځ رازده کړ؛ دلوي څښتن(ج) په توفیق اورحمت سره مي ټولي روژې ونیولې اوپنځه وخته لمونځ مي هم په پوره خوښی اوپابندی سره کاوه.
زماپه مسلمانېدوسره زماموراوکوچنی ورورډېرزیات خفه وه،زماماامانت مسیح چې وکراچۍ ته زموږدلیدني لپاره راغلی وواوروسته وسانګړته تلی هم یي زماڅارنه کول اوزمادمسلمانېدوخبرئې انګازه کړاودابه ئې ویل چې دمشري خورزوی مي مسلمان شویدی.ترټولوکشرماماامي ویل چې زه داخبره ترهغونه منم ترڅومي دي پخپله نه وي لیدلی، چې ایادي مسلمان شویدی که یا؟
زماماماخسرهم وچې دده دلوراوزماکوزده په (۱۹۸۵) کال کي وشوه، دلته زه دخپلي کوزدې په هکله پرېشانی وړی و یم اوداتکل مي وکړچې زه بایددخپلي ښځې سره مخامخ خبري وکړم. په ۱۹۸۷ کال کي موږهغه کلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېښوداوپه ډيفنس کي وګورنګي سړک ته نژدې زماومورته په يوه تعميرکي دېوډی پخولودنده پيداشوه اوهغوخلکودالطف وکړ چې داوسېدولپاره ئې ځاي هم راکړ،داخلک په خټه پاکستانيان وه، داځل دموردېدندې سره وماته کومه دنده پيدانشوه، دښوونځي‌سره سره ديوه خياط دوکان ته تلم، ددې خياط ماسټرحيات الله سره مامخکي هم کارکړي ؤ، کله چې دوي زما په اسلام راوړلوخبرشول نوډېرخوښ شول مګرماسټرصاحب اودده دوست مولوي عبدالغفورصاحب راته وويل چې ستالپاره دااړينه ده چې دمسلمانېدوسند (سنداسلام) ترلاسه کړی.ماورڅخه وغوښتل چې ددې په هکله وماته کوم معلومات نشته اوتاسي همکاري راسره وکړي. هغه دخوښۍ ورځ راغله زه، ماسټرحيات خان صاحب اومولاعبدالغفورصاحب دهغه ددووزده کوونکوسره دبرات پر۹ د۱۴۰۸ هجري سپوږميزکال چې دمارچ ۹ د۱۹۸۸ کال دعربيه اسلاميه نيوټاون کراچۍ ودارُالافتاء ته ولاړو، ديوه عالم دين اويوه مفتي صاحب پرلاس مي اسلام قبول کړ، لله الحمد؛ دنوروګواهانوڅخه علاوه ماسټرحيات خان صاحب اومولوي عبدالغفورصاحب هم لاسليکونه وکړل چې وروسته وماته داسلام راوړلويوسند (سنداسلام) راکول شو، ددې ورځې دخوښۍ احساس دومره لوړووچې مافکرکاوه چې داسمان يوستوری يم څه وروسته زه دخپلې ښځې دليدولپاره وسانګړته ولاړم، هلته مي په ښکاره دمسلمانې هيڅ ونکړل اونه مي څه وويل چې زه مسلمان يم، کله چې به دلمانځه وخت راغي نوديوه شي په بهانه به وختي ووتلم اويوځاي به مي لمونځ اداءکړاوبيا به راغلم؛ کله چې مي دخپلې ښځې سره داسلام راوړلو خبره شريکه کړه، نوهغه حيرانه شوه اودفکرونوپه څپوکې ډوبه شوه اوداطبعي ده چې دکوزدې وروسته دزوم اوناوې ترمينځ دمينې مزي ټينګ شي، کله چې به

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماورځخه
وپوښتل نوکله به ئې ځواب منفي واوکله به ئې ځواب مثبت و.خودایوه یقیني خبره ده چې ددې لپاره سمدستي پرېکړه ناشونې وه اوبل لورته ددې هره پرېکړه دماما اومامې ترزغم وتلې وه اویوه لاره وه هغه داچې دمحکمې واده وکړو، په کراچۍ کي مودمحکمي واده وکړاوزماښځه په هغه ورځ مسلمانه شول.

داهرڅه بدلونونه په ١٩٨٨ میلادي کال کي راغلل، زمامسلمانېدل اوزماواده پراوربانديي نورپطرول وشندل، زماوروراومورزمابدترین دښمنان شول نوځکه دمشکلاتوپه جال کي راګیرشوو؛ چې داهرڅه الله جل جلاله راته اسانه کړل، زمادوروراومورمخالفت په کمېدوشواوبالاخره وپایته ورسېدی، مګرنوردوستان موپخپلودښمنیوکې پاته شول دځلورپنځه کاله مخالفت نه وروسته زماکشراخښی زموږدلیدنې لپاره وکراچۍ ته راغی، دانوهغه وخت دي چې ماوخپل اخښی ته وویل چې زه اوستاخورمسلمانان شوي یواوپام چې داسلام په خلاف یوه خبره ونکړې.دلوي څښتن په فضل سره دوي داسلام په خلاف هیڅ یوه خبره هم ونکړل اوپه تدریجي ډول سره زماخُسراوخواښې هم ارام شول.

زمامورچې دکومې مېرمنې سره کارکاوه هغه ډېره خُشکه اوتېزه وه چې زمامورمجبوره شول هغه دنده ئې پرېښودل موږبیرته هغه کورته ولاړوچې زموږملکیت وواوپه کرسچین کالونۍ کي وچې ټول عیسایان وه، هلته مخکي یوه خونه وه چې موږبله خونه پکښې جوړه کړه.دلته یومشکل داپیداشوچې عیسایانوموږته تکلیف راکاوه اوبل لورته به ئې زمامورزموږپه خلاف ډېره هڅول اخیرمي مورداراته وویل چې اسلام پرېږده اوعیسایت اختیارکړه. ماپه سپینوټکوکي ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسو دټولوپرېښودلوته تیاریم مګرداسلام دمبارک دین وپرېښودلوته نه؛چې ددې پایله داشوه چې په ۱۹۹۱ کال کې مې خپله ښځه اوماشومان وقیوم آبادته راویستل اوهلته مویوسراي په ۳۰۰ روپۍ کرایه کړدالومړی ځل دی چې دخپلي موراووروڅخه بېل شوم.یوه میاشت نه وه تېره شوې چې مورمي زارۍ وکړې اوبیرته وکرسچین کالونۍ ته ورغلم.اوس نوموررراته دمذهب په هکله هیڅ هم نه راته وایي، خوکله چې ماړیره پرېښودل نودابه ئې راته ویل چې ږیره ایسته کړه ،خومادډې وخبري ته هیڅ ارزښت نه ورکاوه اوحال داچې په بایبل کې خپله ږیره لنډول منع شویدي اوهغه وایي چې:

دخپل دسرویښتیان په ګردي ډول سره مه لنډوي اومه هم ږیره لنډوي(احبار، ۲۷:۱۹)

دهغوعیسایي ملګروسره چې زماناسته اوولاړه وه دهغوسره به مې تل بحث و، دوي به ماته داسلام خلاف څه ویل، سوالونه به ئې کول اودصلیب اودتثلث ثبوتونه به ئې راته وړاندي کول اوماهم الحمدلله داسلامي کتابومطالعه کول، چې دشیخ الاسلام محمدتقي عثماني مدظلهم العالیه یوکتاب چې د(عیسایت کیاهے؟) چې ددې کتاب په لوستلوسره راته جوته شول چې دعیسایت په هکله یوبل ښکلي اومعلوماتي کتاب شته چې اظهارُالحق نومیږي اوپه اُردوکي ئې شرح (بایبل سے قرآن تک) په دروټوکونوکي دي اوداهوډ مي وکړچې داپیداکړم، چې داکتاب دخدای بخښلي مولانارحمت الله کیرانوي رحمة الله علیه تصنیف دي، چې بېلګه ئې ناشونې ده.کله چې مي له ځانه سره څه فکروکړ نوددروټوکونورانیول راته ناشوني وو، وصدیقي ترسټ ته ولاړم چې پرلسبیله چوک باندي ووهلته مي دمناظراسلام اووعیسایت ته ماته ورکونکي خدای بخښلي احمدديدات څه دمناظرواوڅه پرعیسایت باندي دبحثونوکتابونه پیداکړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوددې
کتابودلاسته راوړلوڅخه وروسته مي په کرسچین کالونی کي وهرعیسایي ته غاښ ماتونکي ځواب ورکاوه.دفرانسوي ډاکټرموریس بوکایي کتاب(قرآن بایبل اوساینس) مي هم ومونډی، چې دقرآن پرحقانیت اودعیسایت پربُطلان باندي لیکل شویدی؛ په ۱۹۹۲ کال کي مي (بایبل سے قرآن تک) ولاسته راوړچې دعیسایت په هکله مي ډېرژورمعلومات ولاسته راوړل په دې کتاب کي چې دعیسایت په ردکي کوم دلایل وړاندي شوي سړي ورته حیران شي اوبل لورته په دې کتاب کي دهغوعیسایي راهبانو، بیشپانو، پاپانو، کارډینالانواوکشیشانوله لوري کوم سوالونه پراسلام شوي دهغوتېولوځوابونه پکښې شته.
کله چې مي په دې کتاب کي په بایبل کي تکرونه، غلطیانې، تحریفات، پوچې خبرې،فحش خبرې اومالایعني څیزونه ولیدل نونورمي ایمان قوي شو، ددې کتاب دمطالعې څخه وروسته زه دادعوه کولای شم چې تېوله عیسایي نړی رایوځای شي دیوه سوال ځواب به هم رانکړي.مولاناصاحب یوبل کتاب (اعجازعیسوي) هم لیکلي دی چې هرڅه پکښې شته اوداکتاب هم بې جوړې دی.
په اخیرکي زه داخواهش لرم چې ومات داڅعاوکړي چې زه زماښځه اوماشومان پراسلام قائم اودائم شواوخاتمه موپرایمان شي اوداڅعاهم راته وکړي چې زمادموراووورورهم اسلام په نصیب شي.
(اسلام، عیسایت اورسیدناعیسٰي علیه السلام، صفحه ۱۹۵)
نوټ: داکتاب جناب خالدمحمودصاحب دیوه پادري دیوه لیک په ځواب کي لیکلي دی، چې دعیسایت په هکله هراړخیزه معلومات لري (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (لورن بوت) له یوې مقدسي تجربي وروسته مسلمانه شوه

ژباړه: ایمل امیدي

جورنالسته اودراډیوتیلویزون خبریاله شاغلې (لورن بوت) دشري بليرخور اودبرطانيا دپخواني صدراعظم توني بليرخوشينه اوس مسلمانه شوې اوخپله وايي چې اوس هميشه حجاب او په ورځ کې پنځه وخته لمونځونه کوي.

هغې هغه وخت داتصميم ونيوي کله چې دې غوښتل په ايران کې له فاطمې معصومې له زيارت ځخه چې په قم ښارکې موقعيت لري ليدنه وکړي.

داخپله وايي:

کله چې مالدې زيارت ځخه ليدنه کول دسې شنبې ورځ وه اوغوښتل مي يوداسي ځاي ته ولاړه شم چې هلته ډيربيروباروي،نوهغه وچې دفاطمې معصومې زيارت مي ذهين ته راغی اوهلته ورغلم،کله چې هلته ورغلم نوتراحساتولاندي راغلم اوداتصميم مي له ځان سره ونيوي ترڅومسلمانه شم،کله چي برطانيي ته راغلم نوسم دلاسه مې اسلام قبول کړ.اوس دخوګ غوښي نه خورم اوهره ورځ قران کريم تلاوت کوم.زمالپاره داډيرعجيب اوغريب معلوميږي چې ماشراب ځښل پريښودل، که څه هم چې دازمادد۲۵ کلنوعدت وه،خوداسلام په راوړلوسره مې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلکُل
پریښودل.
شاغلي لورن بوت اوس هم خپله وظیفه په پرس تیلویزون کې پرمخ بیايي اوخپل پروگرامونه په انګلیسي ژبه سره سرته رسوي. اوس یې نوي پروګرامونه په ایراني ژبوسره جوړکړي اوخپله یې داپه پرس تیلویزون کې پرمخ بیايي.
ددې لپاره داډیره جالبه وه چې دې پوره یوه میاشت دروژې دورځي له خوا بغیرداوبواوغذاڅخه تیرول.له لوږي اوتږي سره مباریزه کولاي شي اوداېوازي دانه بلکې هرمسلمان که دحرارت درجه سلوته هم پورته شي باید مقاومت وکړي اوخپل مقاومت نړیوالوته وښيي.
هغه وايي چې ټول غیرمسلمانان داغواړي اوواېي چې مسلمانان لیوني،دهشتګرداوتوروستان دي.خوددې نظربیاهغسي نه دي ځکه داوايي چې اسلام له سلام څخه اخیستل شوی اودسلام مانابیادسلامتیاپه مانا ده. په اسلام کې هرچاته خپل حق ورکړل شوي دي،هغوي هیڅکله ترهګردنه دي.
داچې کله مسلمانه شوې ده له هغې راپدې خوایې په مسلمانانوزړه سوځي او تل پدې غم کې وې چې کله به دغیرمسلمانانوله ظلم څخه مسلمانان خلاص شي.
نوموړې خپل پشنهادټولوغیرمسلمانانوته دادي چې اسلام قبول کړي اودیوه خدای(ج) پاك عبادت وکړي.
.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مابهایت پرېښود اومسلمان شوم!!!

عبدالبها،اوسني نوم يې محمدعُمر
(ازبکستان)

ژباړه اوغورچاڼ: عبدالغفاررجُبیر

داسلام پرضدپه هره زمانه کې کفاروپه ځانګړې ډول سره يهودواوصليبيانوهرډول توطيې جوړې کړې، پلان کړې اودعملي کېدوکوښښونه يې کړېدي؛ ددوي يواځني موخه داده چې داسلام مبارک دين دځمکې له مخه څخه ختم کړي، ددې لپاره يې په زرهاوومرتدينوته هم په تېروخت کې اوهم اوسمهال پوره مال اودولت ورکړشوي دي، دهغوترشادرپېدلې، هغوي يې په بشپړډول سره حمايه کړي اوحمايه کوي يې، اوواسلامي ټولني ته يې رالېږلي دي اوراليږي يې؛ چې ددوي يومشترک پلان داسي دي چې خلک دمسلمانانوپه نومونوتعبيروي په ظاهره اوپه اصل کې دوي خپل کفري، الحادي، اودشرک نه ډکومفکورواوعقيدوخورجين په لاس ورکوي؛ ترڅومسلمانان وغولوي، دوي داسلام دحق دين څخه متنفراومرتد يې کې، اوددوي داارمان به دقيامت تروړځې پوري پوره نشي داځکه دکايناتوپنځونکي سترڅښتن تعالي جل جلاله ددې دين ذمه اخېستې ده- يهودواوصليبيانوددې لپاره يې په مختلفووختوکې مختلفي ډلې پيداکړي دي چې زه اوس پرټولو رڼانه شم اچولاي؛ چې ددې ډلوڅخه يې يوه ډله يې چې ډېرمسلمانان ورباندي خبرنه دي د (بهايت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډله ده؛
چې دانوي مسلمان شوي ازبکستاني ځوان ددې ډلې څه کفري عقایدوموږ اوتاسوته بیانوي دالاندي لیکنه دده خپله لیکنه ده-
زماپیدایښت دایران په مشهدښارکې شویدی اوزه ډېروړوکی وم چې زماپلاراومورو ازبکستان ته راغلل دتعلیم په اولووختوکې زه په یوه مکتب کې وم چې هغه داغاخان دخیریه موسیسې لخواتعمیرشوي اوددې مکتب هرڅه په همدې موسیسې پورې اړه درلوده نوځکه ددوي ترمستقیم نظارت لاندي وه، اوویل یې چې موږ اغاخاني مسلمانان یو، زه ډېروړوکی وم چې راته ویل کېدل به، چې اغاخان خدای(ج) دی،(العیاذ باالله)، کله به یې ویل چې دي دخدای(ج) استازی دی (العیاذ باالله)، خوزه په دې نه پوهیدم چې خدای(ج) څه شي دی؟ څه کوي؟ اوکله به مي له ځانه سره ویل څه چې اغاخان خدای(ج) دی؟!! کله چې زه پنځم ټولګی ته راغلم نوهلته سوکه دپېغمبر، استازی، ملایکې، پېرانانو، خدای(ج)، الهي کتاب اوداسي نورومذهبي اصطلاحاتوسره اشناشوم؛ کله چې دشوروي اتحادکفراوالحادکمبله له دې سیموڅخه ټوله شوه، چې ډېرهیوادونه پکښې راځي لکه ازبکستان، تاجکتسان، ترکمنستان اوداسي نور---
نوترټولوایران خپل فعالیت په چټکۍ سره پیل کړ، چې بیا اغاخانانوهم ځانونه راورساول اوله دې سره ـ سره دایران څخه ویوې بلې ډلې چې ځان یې هم مسلمانان بلل د (بهائیانو) په نامه سره راغلل اوفعالیت یې پیل کړچې په لسم اونهم ټولګی کې زموږیوښونکې هم په هغه ښوونځی کې بهایي وه. ددوي اوداغاخانانوعقاید، نظریات اومذهبي مراسم اوتشریفات ډېرسره ورته اونژدي وه، خودې اوستاذڅه نورشیان راته ویل چې زه به ددوي عقایدیوڅه چې زماپه یادکې دي، اویاهغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتابونه چې دوي وموږته راکړي وه، دهغوڅخه غورچاڼ کړم اووه به يې ليکم ؛ خوش بختانه موږيوا وستادپه همدې ښوونځی کې درلودي چې زموږدتاريخ اوستادوو، زموږسره يې ډېروه مينه درلوده اوموږته هم دخپل پلارڅخه راتېرو،خومتاسفانه په همدې ښوونځی‌کې ددوومياشتوڅخه ورسته هغه له دې ښوونځی څخه وشړل شو اوهغه اوستادبياپه يوه دولتي ښوونځی کې دنده ترسره کول ؛ دهغه اوستادڅخه به ماپوښتنه کول چې دروسانوڅخه مخکې زموږتاريخ

څنګه و، نوکله به يې څه راته وويل اوکله به يې راته ويل چې کورته راشه اوهلته به ورغلم اوده به راته ښکلي تاريخ بيانوی. يوه ورځ مي ورڅخه پوښتنه وکړل چې دروسانوديرغل څخه مخکې دلته کوم مذهب و؟ هغه راته وويل چې داځاي ازبکستان، تاجکستان، ترکمنستان دعلم مرکزو. دلته به ټولوعلماوودرسونه ورکول دلته په زرهاوومدرسې وې، دلته يواځې دسُني مذهب وو.حضرت امام بخاري رحمته الله عليه، حضرت امام ترمذي رحمته الله عليه اونورلوړشخصيتونه دهمدې سيموڅخه ول، چې دمدرسواومساجدواثاريې اوس هم شتون لري. زه يقيناورڅخه اغيزمندشوم اوپه دې تکل کې شوم چې داغاخانانواوبهايانومذهب پرېږدم اووهغه مذهب ته ولاړشم چې واقعي اوحقه لاره ده اوټول ددې سېمي سلف پرهغه لاره تللي دی، چې زمادتاريخ اوستادزماپه دې نظرسره ډېرخوښ شواوزه يې نورهم تشويق کړم.دې اوستاد ډېراسلامي کتابونه راته راکړل چې ددې کتابودلوستلوڅخه وروسته ودې نتيجې ته ورسېدم چې داټول پرغلطه روان دي داځکه اغاخان وايي چې زه خدای(ج) اوياکله وايي چې زه دخدای(ج) استازی يم. اوميرزاحسين وايي زه خدای يم. زه په دې ورته حيران يم دوي هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زماپه
شان څښاک، خوراک، ناسته اوولاړه کوي نودوي
څنګه خدایان دي ؟؟؟ دادواړي ډلي
دعیسایانوپه پوره مرسته سره چليږي اوددوي
لپاره کارکوي اغاخانان په پاکستان په
ازبکستان، ترکمنستان اونوروهیودوکې پوره
فعالیت اوشعبې لري اوبهایان زیات په ایران
اودروس څخه په ازادوشووجمهوریتونوکې فعالیت
لري دوي یودبله سره مرسته هم کوي چې داټولي
هلې ځلې دکفراوالحاددسیسې دې اوټول
مسلمانان بایدوربانددي پوه اوخبرشي.
زه داسلام دښه مطالعې څخه وروسته سُنې
مسلمان شوم اودواحدلاشریک خدای جل جلاله سره
مي وعده وکړل چې زه به خپل په ټول ژوندکې
داسلام چوپړکوم چې دازمالپاره افتخاردی
اوکوښښ به وکړم چې دبهایت کفري عقاید په
مجلو، ورځپانواوپرانټرنیټ باندي خپرې کړم
اووهرمسلمان ته داتوصیه اوغوښتنه ورڅخه کوم
چې وخپلوسیمه ایزوژبوته یې وژباړي
اودازمالیکنه خپره کړي ترڅواول بې مثله الله
جل جلاله وماته ثواب راکړي اودوهم داچې دغه
مسلمان دثواب وړوګرځي اودریم داچې ددې کفري
عقیدې مخه به ونیول شي ترڅول ددې ډلې
نفوذکم اویاهم له ریښوڅخه وېستل شي-

دبهایت څه منحوسي عقیدې:
1 . میرزاحسین په لومړي ځل دمهدي دعوه
وکړه، له دې څخه وروسته یې دپیغمبري دعوه
وکړه اوپه اخیرکې یې دخدایي دعوه وکړه، چې
اوس دوي خدای ورته وایي- (نعوذبالله )
2. میرزاحسین پخپل کتاب کې وایي چې که
یوڅوک خدای ویني نومادي وویني اوکه یوڅوک
دخدای جمال ویني نوزماوجمال ته دي
وګوري-(نعوذبالله )

(c) ketabton.com: The Digital Library



3.دبهایانوعقیده داده چې میرزاحسین ترټولوپېغمبرانواورسولانوغوره دي-(نعوذباﷲ )

4. دمیرزاحسین په کتاب (کتاب اقدس) کې راغلي دي چې داکتاب دقران ناسخ دي-(نعوذباﷲ )

4.بهایان وايي چې دښځوحجاب حرام دي، متعه (لنډمهاله نکاح) روابولي-(نعوذباﷲ )

5. ددوي په عقیده په ټولنه کې ښځه دټولومشترکه ده-(نعوذباﷲ)

6. میرزاحسین وايي چې زماپه راتګ سره اسلام منسوخ شو-(نعوذباﷲ )

7. دوي وايي چې لمونځ په جماعت سره حرام دی، ماسیوا دجنازې دلمانځه څخه-(نعوذباﷲ )

8. ټولي هغه ښځي چې په اسلام کې حرام کړل شویدی هغه په دوي کې حلالي دي-(نعوذباﷲ )

9. ددوي په عقیده هرسروزاوموسیقي اوریدل روادي-(نعوذباﷲ )

10. اسلام دنورودینونوقوانین نشي منسوخ کولاي اوهرمذهب درست دي،لکه هندویزم، بودیزم او---(نعوذباﷲ )

11.داسلام دخپرولولپاره وجهاداوجګړې ته هیڅ اړتیانشته-(نعوذباﷲ )

12. امربالمعروف اونهي عن المنکرنشته-(نعوذباﷲ )

13 . په حقوقوکې نراوښځه دواړه سره مساوي دي اوهیڅ توپیرنلري-

14.سړي داحق لري چې یواځي یوه ښځه په نکاح کې، دیوې څخه زیاتې ښځې په نکاح کول حرام دي-

15. دوي په دې عقیده دي چې دادنیاهمېشنۍ ده اونه ختمیږي-(نعوذباﷲ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



16. په دوي کې (19) عددمقدس دی له همدې کبله دوي دکال میاشتي (19) بولي اوهره میاشت (19) ورځي بولي-

17. دوي وايي چې بودا، كنفيوشيوس، براهما اوزردشت واقعاًپيغمبران ول -(نعوذبالله )

18. دوي دپيغمبرانوعليهم الصلوة والسلام دمعجزو، دپېريانو، دملايكو، دوږخ اوجنت څخه منكردي-(نعوذبالله )

19. دقيامت ورځ نشته اوداهسي خبري دي-(نعوذبالله )

20. ميرزاحسين دخلكوګناهونه معافوي-(نعوذبالله )

دادبهايت څه منحوس عقايددي، كېداي شي چې ډيرمسلمانان تراوسه په دوي باندي خبرنه وي- زماڅه ملګري شته چې اوس پوره كوښښ كوي چې ددې ډلې په اړه پوره معلومات راټول اوداانټرنيټ له لارې به خپاره شي-

سبحانک لااله الاانت واشهدان محمدعبده ورسوله -

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یو یهودي څنګه مسلمان شو؟

ژباړه :عبدالرزاق حبیبي

د یو اسراییلي ټي وي د راپور له مخې جوسیپ کوهن په ۱۹۹۸ کې له امریکا څخه اسراییلو ته د یو وفادار یهودي په شکل ولېږدېد ، مګر له درې کلو وروسته هغه اسلام ومانه او په ځان یې یوسف محمد خطیب نوم کېښود ، او د فلسطین د مقاومت د ډلې (حماس) یو ملاتړی شو.

هغه اوس د اسراییلو د لفظ په یادولو هم خفه کېږي ، ځکه هغه وایي چې اسراییل کومه سیمه نه لري مګر په اوسنۍ سیمه چې مېشت دی دا اسراییل نه فلسطین دی ، هغه څلور ماشومان لري چې اوس د تورات په ځای قرآن کریم لولي.

هغه اسراییلي تلویزیون سره په مرکه کې وویل چې نوموړی یو وخت د اسراییلو د نیټوټ په نوم سیمه کې اوسېده چې د انټرنېټ له لارې د متحده عربي اماراتو له یوه شېخ سره مخ شو او د اسراییلو او نورو ادیانو په اړه یې ور سره اوږد بحث وکړ ، چې بالاخره هغه مجبور شو ، چې د اسلام په اړه دقیقه مطالعه وکړي ، د قرآن له لوستلو او د اسلام له پخې مطالعې وروسته نوموړی دې نتیجې ته ورسېد چې یهودیت د نژاد پرستۍ او له حقیقت څخه لیري دین دی.

په راپور کې د نوموړي له عمر او د اوسېدو له ځای څخه یادونه نه ده شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېر

کال نومورى په امريکا کې مېشتي خپلې يهودى مېرمنې ته وويل چې هغه غواړي چې مسلمان شي ، هغه وايي چې ما خپلې ښځې ته وويل چې ته زما ډېره زياته خوښه يې او له تاسره مې مينه هم ډېره زياته ده مګر زه غواړم چې هر څه درته رښتيا ووايم ، ما اوس قرآنکريم ولوست او زه اوس د قرآنکريم له ټولو اياتونو سره موافق يم او که بياهم زه تاته ووايم چې زه يو يهودي يم نو دا به مې غټ دروغ ويلې وي.

د نوموړي کورنی هم د هغه په خبره اعتبار وکړ او بالاخره ټوله کورنی يې مسلمانه شوه او په يوه عربي هېواد کې مېشت شول ، نوموړي زياته کړه ، چې د هغه ماشومان پخوا په صنف کې په يهوديت کې تر ټولو مخکې ول ، مګر اوس د اسلام په اړه په صنف کې تر ټولو مخکې او لايقه زده کوونکي دي.

نوموړى اوس د اسرايیلو د ارتودوکس يهودي ګوند شاس پر ځاى د فلسطين د مقاومت ګوند حماس ملاتړى دى.

نوموړى اوس يوه سپينه خوله په سر کوي او د عربو په شان اوږده کالي اغوندي ، او يهوديت ردوي او وايي چې زه اوس سل فيصده مسلمان يم ، هغه اوس هره ورځ د يهودو هغه کار پسې خاندي چې هغوي به په سهار کې دعا ګانې کولې چې خدايه (ج)ښه دى چې يهودى دي پيدا کړى يم .

خطيب هم د همدوي له ډلې څخه و ، چې خپل هر سهار به يې همدا د يهودو پر دعا(بختور خو ته يې چې يهودي يې ، زمونږ پېشوا زمونږ خدايه) پيل کاوه مګر اوس دا دعا کوي چې خدايه ښه دى چې يهودي دې نه يم پيدا کړى.

د اسلام له خونده يهوديان اوعيسويان هغه وخت پوهيږي چې کله مسلمانان شي اوبيا وروسته افسوس پردي کوي چې موږولې ډيرپخوانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانیدو. اوموږولي داسلام په اړه معلومات نه درلودل.په رښتیاچې اسلام یوحقیقتی دین دي فریب ،چل اودوکه نشته کې. عرب اوعجم توراوسپین غریب اوموږنشته کې.یهودیان خپل دین ته دومره وفاداره دي چې بغیر له اسلام څخه نورهیڅ دین ورسره مقابله نشي کولای.خوچې خپله یویهودی پدې اقرارکوي چې داسلام دین حق دی اونورټول دینونه ددې دین په راتللوسره منسوخ شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اسلام ترقبلېدووروسته دپوره خوښۍاوارام احساس کوم. (جان هري))

ژباړه اوغورچاڼ: عبدالغفارجُبیر

دکوچنوالي څخه مي دخپلوهمزولواوهم صنفیانوڅخه دګاډ(خدای)، لفظ اورېده اوحیران په دې وم چي (ګاډ)څوک دی؟ څه کوي؟ څه کولاي شي؟ چیري دی؟ اودخلکوسره څه تړاولري؟ داټولي پوښتني زماپه دماغ کي بې ځوابه وي. په دې وخت کي زه په پنځم ټولګی کي وم، یوه ورځ ښوونکي وموږټولوته وویل چي کلیسا ته ځواوهلته به دخدای(ج) په رحمت وپوښل شي هلته به دعاوي وکړو، ذهنونه به مونورهم پراخ اوروښانه شي اوستاسولپاره به تفریح هم شي. ماله ښوونکي څخه په معصوم اواز وپوښتل: ایاخدای(ج) هلته په چاښه زده کړي کوي او دچاذهنونه هم ورپراخوي؟ وویل: هو! اوس به خدای(ج) وینوموږټوله په یوه خړرنګه بس کي سپاره شوو اوکلیساته ولاړو.ماله ښوونکي څخه وپوښتل: کومه دي خدای(ج) ؟ ښوونکي موږټول یوې وړوکي کوټې ته ورویستو چي دیوه سړي انځوررسم شویدی، چي دهغه ژړغوندي ویښتیان چي پرمخ راځوړند دي، څه شین وړمه سترګې ئې په مخ کي دي،ولاړدی اوموږته ګوري، ښوونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومورته ددې انځورپه هکله تفصيل راکړ چي داعيسىٰ علیه سلام دی اوداخدای(ج) زوی دی . زمايوې ملګرې (Skate) وپوښتل چي داخدای(ج) زوی دی نوخدای(ج) چيري دي؟ اوداڅنګه دخدای(ج) زوی دی چي زموږپه شان سترګې ، غوږونه، مخ اولاسونه لري. دښوونکې ئې په خوله کي ناوړي وروچي کړې اوپه (Shut up) سره ئې ورته په قهراوپوره غصه ځواب ورکړ؛ زمادمخ بڼه يوڅه بدله شول داځکه چي مابله پوښتنه کوله، دکليسا مشرولاړووهغه بيامورته يويوچاکليټ راکړ. هلته مورته دمقدس بايبل (ددوي په اند) يوه کيسه هم واورول درخصتيډوپرمهال ئې مورته دکليسادمشرلخه خواڅخه يوه يوه تحفه هم راکړه اوله هغه ځايه څخه بيرته خپلې ښوونځي ته راورسيدو،دازمادژوند يوه خاطره وه.

کله چي زه ونهم اولسم ټولګى ته ولاړم نوپه هرڅه باندي پوهيډم، کله به مي له ځانه سره دافکرکاوه چي ولي موږوعيسىٰ علیه سلام ته خدای اوياهم دخدای زوی وايو، ده خوهم زموږپه شان خوراک کاوه، څښاک ئې کاوه، اوضرورت ورته پېښيدي، دردئې درلودي، لوږه اوتنده ئې درلوده نومي هوډوکړچي رښتينى خدای(ج) پيداکړم. اي خدايه!!! راسره مرسته وکړه، په تدريجې ډول سره دمسلمان، يهودي، هندو، سکهـ، بودايي اونوررومذهبي خلکودنومونواوکړووږوسره اشناشوم، چي په دغه دين کي خلک څه کوي اوپه هغه دين کي خلک څه کوي اودخدای(ج) تصورڅه دی؟

يوسکهـ دوست (lal Singh)مي درلودي اوورته مي يوه ورځ وويل چي ستاسي خدای څوک دی؟ ده ځواب راکړ چي زموږخدايان ډېردي، يودباران خدای دي بل دڅه شي اوبل دڅه شي خدای.له ځانه سره مي وويل چي خدای خويودی اوستاسوخوزموږ (عيسايانو) څخه لاره ډيره ورکه ده چه وهرشي ته خدای واياست .کله چي وپوهنتون ته ولاړم نوهلته بل شان اتوموسفيرو، هلته دهرې عقيدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زده
کوونکي شتون لري اوهریوپه دې اندډی چي
موړپرحق یو، مالداسي مهال وپش جوړکړچي
دهرمذهب والاسره به ګورم دخپلې ملګرې **(Glory)**
سره مي داخبره شریکه کړل، هغې راته مشوره
راکړه چي دهرچاسره وګوره البته
دمسلمانانوسره به نه ګوري، هغه ډېرخطرناک
دي، دادانسان یوطبعي ځانګړتیاده چي هرشي
ناشناوي وهغه ته دسړي تلوسه ډېره وي ، مطلب
داچي ومسلمانانوته مي تلوسه ډېره شوه.
دپوهنتون په اول کال مي ډېرښه درسونه ولوستل
اوهلته طبعي ده چي روحي پرېشانی ډېري دي،
ارام نشته، یوه وجه ئې داده چي هلته نشې،
شراب، فحاشي اوداسي نورپه زرهاوونااوړه
کارونه دي چي په یورپ کي 87% خلک دطبعي خوب
څخه محروم دي، چي زه هم یوله هغوڅخه یم،
زماهم صنفېانوڅخه یوه دنه ارام اوروحي
فشارله کبله ځان ولوي تمساحو **(Crocodiles)**ته په
پارک کي وروا چاوه، اوومااته به ئې ویل :زه
ارام نه لرم اوځان به دحیواناتوخوراک کړم-
بل ئې خپل ځان پر **(Express High Way)** تراورګاډې
لاندي کړ چي غوښې اوهډوکي ئې پرهغه ځان سره
اوبه شول، اود **(Newsweek)** دخبرپه حواله یواځي
په برتانیه کي هرکال(۱۳۲۲ ) زده کوونکي خپل
ځانونه وژني دډېري پرېشانی له کبله کله په
نیکټایي ځانونه زړوي اوکله په زهروځان وژني
اوکله هم زیاته نشه وکړي اوداسي نور-----
زماپرېشانې هم ورځ په ورځ زیاتېده، ،
پوهنتون مي وپایته ورساوه، ډېرژریوه وظیفه
هم راته پیداشوه، په اقتصادي لحاظ سره هم
ښه وم، وتفریحي ځایو، **(Private Beach)** ته کله د
**( Glory)**سره هم تللم، خوزمافکرډېراولوي مشکل
داوچي طبعي خوب مي نه درلوي اوکله به مي لکه
لېونی دخوب ګولۍ **(Sleeping Pills)** کله به مي
پلاستراواکثره وخت به مي زیاته نشه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرابوکول چي ترساعتونو ساعتونوپوري به نشه وم، چي ددې حالت څخه مي هم ډېرخوندنه اخيستي؛په حقيقت کي زه په لعنت اخته وم، داځکه چي هغه ناروغۍ چي دشرابوڅخه پيداکيږي دهغوعلاج نشته، يوه ورځ زه او **(Glory)** دواړه په بس کي سپاره وه او **(National Theme Park)** پرلاره روان وواوداسي مي ورته وويل: زه په برتانيه کي چي څه مذهبونه دي هغه ټول څکم پرهريوه کي چي مي داطبعي خوب اوسکون پيداکړهغه به ترمرګه پوري منم اوته به مي ملګرې کوې.

دې راته وويل:

داسي مذهب به نه وي که وي هم نو **(Christianity)**عيسايت دی.

ماخبره ورغبرګه کړه چي په دې کي خوهيڅ ارام نشته اودکوچنوالي څخه ئې زه په دې لټه کي يم داصرف پرخيالاتووولاړدی او بس. يوه ورځ يواځي دلندن ومرکزي جامع جومات چي دټولومسلمانانوځاي دي ولاړم، اوس زه په دې راغلي يم چي دمسلمانانوحال وګورم چي اسلام دخداي(ج) په هکله څه تصورلري اوهم به خپل مشکلات ويوه عالم ته وړاندي کړم اوحال داچي هره ورځ مسلمانان دترهګرواونفرت کوونکوخلکودډلي څخه دي اوپه دې نامه سره زموږپه ټولنه کي شهرت لري، اوبلي خواته زمادماغ هم داسي جوړدي، چي دمسلمان له مخ څخه مي نفرت اوکرکه کېده، ودې جومات ته داخل شوم اوډېرمسلمانان وځي اوراځي.کله چي دجامع وانګړته داخل سوم، نويوروښانه مخ درلودونکي انسان چي سپيني جامي ئې په ځان وې، سپينه بګړې ئې پرسروه ناست ؤو خلکوته دوينا په حال کي وو.زه چي دجومات په احترام ناستي اوپاستي نه پوهيدم وهغه ځاي ته چي دانوراني سړي خبري کوي دبوټوسره ورغلم، ديوه ښه نوراني ځوان راته فکرشو راولاړسوراته ئې وويل چي دامقدس ځاي دي اولطفاًخپل بوټونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکاږه.
ما هم خپل بوټونه وکښل او ده راڅخه واخیستل اوزه یي په ډیره مینه دهغه نوراني ځوان په مخ کې کښینولم. بیان لامخکي پیل وو، دخبروکولوپرمهال دانوراني پوخ سړی خوب زنګوي دوې خبري به ئې وکړي، بیابه یې سترګي پټې شوي بیابه ویښ شو اوبیابه ویده شو. ماله ځانه سره فکروکړچي مسلمانان خوشراب حرام ګڼي داڅنګه خوب ورځي لکه نشه چي وي، په دې جریان کي مي ددې ځوان څخه وپوښتل : ده کومه نشه کړېده؟ ده ځواب کراړپه غوږکي راکړ چي داعرب شیخ دی اوومورته لارښووني کوي، اودادخدای(ج) دوست دی، اوداداسلام برکت دی چي ده ته دومره طبعي خوب ورځي.
ماورته وویل چي دومره طبعي خوب دانه منم . ځوان راته وویل:
پنځه دقیقې وروسته به ته خپله ددې شیخ سره ووینې- دجامع جومات ویوې ستنې ته مي ځان ورایله کړاوپه دې فکرکي یم چي داڅرنګه نوراني انسان دی اوپه موږعیسایانوکي خوفېښن والاډېرزیات دي اودومره نورنه پکښې ځلیږي، دمعمول سره سم وخت پوره شو شیخ لاهم هغسي خوب زنګوي، ځوان زه دهغه ملاقات ته ورویستلم شیخ له ماپوښتل چي څوک ئې اوله کومه ځایه راغلي یې؟ ماورته وویل:
زه **(john herry)** یم اوستاسره وینم اوورزیاته مي کړه چي وتاته داڅنګه خوب درتلي؟ شیخ وویل: داداسلام اوقران برکت دي.
ماورته وویل:
په اسلام کي وماته داسي شي وښایه چي وماته هم ستاسوپه شان طبعي خوب راولي. شیخ راته وویل:
غسل به وکړئ هغه په اسلامي طریقه سره اوبیایي یوجهت راوښایه چي دقبلي لوروو او دایي راته وویل چي ښي لاس به ترخپل سرلاندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي پربغل به پرېوځي اوداتوري به ووايي:
(لااله الاالله محمدرسول الله)ځرنګه چي عربي
زمالپاره ډېره مشکله وه نويوکتاب يي راکړچي
په هغه کي دکلمې توري، مانااوتلفظ ټوله په
انګليسي ژبه ليکل شوي و. دځان سره مي وويل
چي څه امتحان خوبې کړې، چي ايادادين حق دی
اوکه ناحقه ،که پرحق وونودرته به په دې يوه
خبره درته معلوم شي.روان شوم اوکورته
راغلم، کله چي وکورته راغلم نوداوخت زماښځې
**(Merry Herry)**مري هري، دماښام ډوډۍ تيارول،
هيڅ مي ورته وه نه ويل دډوډۍ دخوړولووروسته
و غُسل خانې ته دغُسل کولولپاره ولاړم دغُسل څخه
وروسته بغيردشراب خوړولونيغ وخپل وطاق ته
ولاړم، دروازه مي بنده کړه چي بيامي څوک
مزاحم نه شي په کوم ترتيب چي شيخ راته ويلي
ووپه هغه لور اوهغه بڼه سره پرېوتم اوهغه
توري(کلمه) مي وويل پردغه وخت مي له ځانه
وويل چي اي لويه خدايه [ج]زه ستا په لټه کي
يم هغه دين چي ستادی هغه وماته راپه نصيب
کړه اوحقه لاره راوښايه.درې واره مي
لاداکلمه(لااله الاالله محمد رسول الله) نه وه پوره
کړي چي په داسي خوب ويده شوم چي په ځان نه
يم خبر ددروساعتونوڅخه وروسته (مري هري)
دروازه ټکولې ده، کوم ځواب يې نه کړ
پيدا،دانوپرخپله لاره تللې ده ،چي څه
ستومانه به وي اويابه ئې ډېرشراب خوړلي وي،
زمالګرې (ګلوري) هم په نيمه شپه کي راغلې
ده اوپوښتنه ئې کړېده چي (جان هري) چيري
دی؟ اوچيري تللي وو، زماښځې (مري هري) ورته
ويلې ووچي هغه ستړی ستومانه راغی دډوډۍ څخه
وروسته بيده شو اوزماسره ئې خبري هم ندي
کړي.دشپې پريوې بجې بيا (ګلوري) دروازه
ټکولې ده اوزه په هيڅ خبرنه يم.دوي
دواړوفکرکړي دي چي (جان هري ) اودومره خوب
داسي نه چي دډېري نشې څخه مړشوی وی.دواړوپه
ګډه سره چي څومره وس پکښې ووهغه ئې کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووخودروا
زه نه خلاصیږي اونه هم د(جان هري) له لوري کوم ځواب راځي، دواړوپه چیغوچیغوسره وپولیسوته خبرورکړی دی، چي (جان هري) مړدی پولیس راغلي دي په داسي حال کي چي دروازه په برقي اري سره پرېکوي زه ئي په اوازسره راویښ شوم. دماغ مي ډېرارام اوتازه وو، زه دروازي ته ولاړشوم چي داځه ږغونه ، زوړاوچیغي دي، چي دروازه مي خلاصه کړه نویواځي کوردپولیسونه ډک وو، (ګلوري) په غيږکي ونیولم پولیسو ئي له غيږځخه کش کړم اوامبولانس ته ئي واچولم. زمامیرمن اوملګري په بل موترکي دپولیسوسره سپرې شوې اوروغتون ته ئي بوتلم. ماورته وویل چي څه پېښه ده اوپه ماڅه شوي دي؟ ماپرېږدي ماپرېږدي !!!
دپولیسومشرراته وویل:
کوه تاډېره نشه کړېده اوس خبري مه
دتداوی ځخه وروسته به حال راته ووایې.
ماورته وویل په خدای[(ج)] قسم که په ماهیڅ نشه کړې وي.دستي مي تږوله کیسه دپولیسو مشراوزماملګري اومیرمني ته مي وکړل،دکیسي کولوپرمهال مي داسلام دډېرشوق اوخوندڅخه ترسترګوبې اختیاره اوښکي راایله وې،خپلې ملګري(ګلوري) ته مي مخ وروواړاوه چي قسم په خدای[(ج)] چي دادین حق دین دی اوکه ته او (هري) زماپرلاره ولاړنه شي نوزه همدااوس ستاسوڅخه پردی یم اوستاسوهیڅ پرواهم نه کوم.دلته زه ډېراحساساتي شوم ډېرڅه به مي د اسلام درښتینوالي په هکله ویلي دي، خوپه اخیرکي مي داهم ورته وویل چي داپه واقعیت کي الهي دین دی دځوتوروپه ویلوسره په ماکي دومره بدلون راغی اوداسي خوب مي وکړچي اوس زه دپوره ارام اوسکون احساس کوم، کومه خوشحالي چي زه نن لرم دهغې ادراک تاسي نشي کولاي. دستي له هغه ځایه زه زمامیرمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوزماملګرې وهغه جامع جومات ته ولاړو او شيخ ته مي ټوله کيسه وکړه. په دغه ورځ مونږدريوسره په خپله خوښه سره دنورمسلمانانوپه وړاندي کلمه د(اشهد لااله الاالله واشهدان محمد عبده ورسوله) ، وويل اومسلمانان شوو. زما اوزمادميرمنې نکاح هلته ددوهم ځل لپاره وتړل شول.مونږته يي يوه يوه دقران کريم نسخه اوډېراسلامي اړين کتابونه ئې راکړل، داورځ ١١، ١٢، ٢٠٠٨ دسې شنبې ورځ و، اوس موږټوله دپوره خوښې اوارام احساس کوو، اوپه عمرکي مو دژوندنوې دروازه پرانستل شوه، ټولې پرېشانې، فکرونه اوناخوالي موختمي شوې-

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مسلمان ځوان یهودی قاتل مسلمان کړ

منبع: اصلاح ان لاین ډاټ نیټ

میخاییل شروبیسکي هغه مغرور سور سترګی یهودي ځوان وو، چې د مسلمانانو په وینو لوبي کول ورته ترټولو لوبو غوره وو.ده د مسلمانانو سره په کینه کولو لوړ شهرت تر لاسه کړی وو، دا ځکه چې ده خپل ځان د لوی یهودي ترهګر (باروخ جولدشتاین) شاګرد ګڼه،کوم چې په ۱۹۹۴ کال کې یې په ابراهیمي حرم کې د مسلمانانو د وژلو مشهوره پیښه پلان کړې او عملي کړې وه او په ترڅ کې یې په لسګونه مظلوم فلسطینیان د لمانځه د اداء کولو په وخت په ډیره وحشیانه توګه په شهادت ورسیول، خو ښاغلي میخاییل ته د ژوند په اوږدو کې یوه داسې کیسه را مخ ته کیږي چې د هغه دغه کرغیړن حالت ته بدلون ورکوي او د یهودانو د کړنو په پرتله یې دیته هڅوي ترڅو د اسلام لوړو معناګانو ته غاړه کیږدي.

کورنۍ او لومړنی ژوندیي:

(میخاییل شروبیسکي ) په اصل کې د اذربایجان د یوې لوېي یهودي کورنۍ اړوند ۳۳ کلن ځوان دی.په ۱۹۹۳ کال کې د یهودانو او صهیونیستانو د ملاتړ لپاره اسراییلو ته د کډوال په توګه راغی. کوښښ یې دا وو ترڅو په هغه پنډغالي کې واوسیږي په کوم کې چې د ده د کړنو رهبر باروخ جولدیشتاین اوسیده، دا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



(کریات اربع) نومي پنډغالی دی چې معمولا لوړرتبه وحشي یهودانو ته پکې ځای ورکول کیږي.
وروسته لدې چې میخاییل د صهیونیستانو سره یوځای شو، د موجوده وضعې په تحلیل سره سخت غبرګون ته لیوال وو ، نو ځکه یې په یاد شوي پنډغالي کې کور په کرایه ونیوه، په خپله بدني روزنه یې پیل وکړ، وروسته له څه وخته د یو ډیر مهم شخصیت په توګه په پنډغالي کې را څرګند شو کیسې یې لر او بر یهودانو په رغبت سره اوریدلي او د (کهانا حي ) مشهور یهودي وحشي تنظیم غړیتوب یې ترلاسه کړ ترڅو خپل پلانونه عملي کړي.
هغه د خپل ژوند په هکله وایي:
غوښتل مې د مسلمانانو په وړاندي خپل کرغیړن پلانونه عملي کړم، هغه پلانونه چې د وړکتوبه مې په خپله کورنۍ کې زده کړي او په (کریات اربع) پنډغالي کې مې ښه پاخه کړي وو. چې لومړی یې د الخلیل د ښار په جوماتونو کې وژونکي بریدونه وو، تر څو مسلمانان د لمانځه په وخت، د همداسي غمیزي سره مخ کړم لکه چې جولدشتاین مسلمانان پري غمولي وي .
د خپلې کیسي په اوږدو کې وایي،مخکې له مسلمانیدو مي یوه لویه ټولۍ یهودانو ته په ناسته کې داسې وویل :
تاسو د مسلمانانو وژل یوازي د خپلو کورونو په دیوالو لیکي او دا هیڅ ګټه نلري، که چیري په رښتیا د مسلمانانو ورکول غواړي نو راځئ چې ور وړاندي شو، خپل غچ ځیني واخلو د الخلیل ښار ته د ننه ورشو او پکې شته ټول واړه،زاړه، ښځي او نر ووژنو او خپل زړونه پري ساړه کړو،لیکن هغوي دمخامخ کیدوجرئت نه درلوداوزماخبري به یي ردکړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خدای
جل جلاله ارادې نوري وي اوديومسلمان ځوان په واسطه هغه ته لارښوونه کوي:
میخاییل وایي:
لدې تولو سره سره مې بیا هم له ځانه سره ځیني شکونه درلودل چې تل به یې زما روح تنګاوه، کله به مې چې په خپل چاپیریال کې فکر وکړ ډیري پوښتني به رابرسیره شوې چې ځوابول یې د یهودي پوهانو (حاخامانو) له استعداد څخه لوړ وو، په ځانګړې توګه کله به چې د اسلام د سپیڅلي دین اړوند څه خبره یاده شوه، دوي به ځواب نشواي ویلاي او د اسلام مبارک دین به یې کنځلو، مبارک پیغمبر(ص) ته به یې بدي ردي ویلي چې دا خپله د لاځوابه خلکو کار وي.
پروني میخایل نن محمد المهدي شو.:
دری کاله وړاندې د الخلیل په ښار کې د یوه مسلمان ځوان سره یو ناڅاپه آشنا شوم، هغه زما د موټر د جوړولو لپاره راغلی وو. کله چې د هغه په مسلمانۍ وپوهیدم سم دې واره مې توپک پري راواړاوه او په وژلو او ربړولو مې وګواښه ، خو هغه په ډیر اطمینان سره را غبرګه کړه او ویې ویل:
راځه خبري به وکړو، په پیښو به رڼا واچوو، بیا به وګورو چې څوک حق او څوک ناحق دي.په رښتیني توګه هغه یو ډیر هوښیار او د لوړو اخلاقو څښتن ځوان و.
محمد المهدي وایي:
د فلسطیني ځوان سره مې خبري پیل کړې، دې ناستي زما په ژوند کې یو لوی انقلاب راووست او د دوو کلونو په ترڅ کې یې زه بالکل بدل کړم. ځوان په خپلو اسلامي کړنو رڼا واچوله او په خوږه ژبه یې اسلام راته وښودلو.
مهدي زیاتوي: د ځوان خبرو ورو ورو زما روح را ژوندی کاوه، سوکه سوکه دا راته څرګندیده چې اسلام په رښتیا یو حق دین دی. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



عربي ژبي زده کړه مې پيل کړه، کتابونه مې واخيستل، له هغه نه مې وغوښتل ترڅو لمونځ راته وښيي، ډيري ديني زده کړې مي وکړې، تردې چې دا مې احساس کړه چې د حقيقت په يو لوی سمندر کې لاهو شوی یم چې ورته رسیدل مې یوازني هیله وه، یو نوی احساس راته پیدا شو، داسې راته ښکاره شوه لکه نوی چې زیږیدلی وم او په پایله کې مې په لیوالتیا سره وویل :

اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمدًا عبدهُ و رسولُ .

هو! دا ځوان چې ما پرې ټوپك را اخیستی وو تر څو یې ووژنم، خو هغه زه د ابدي ژوند په لور بوتلم،هغه ځوان ولید زلوم نومیدی.

مهدی وايي: په پنډ غالي کې د سخت غبرګون سره مخ شوم، په ټولو کړنو کې مې ښکاره بدلون راغی، په خپل ژوند وويريدم او بيرته خپل اصلي ټاټوبي آذربایجان ته راستون شوم .

خو زما پلرني کور د یهودي پنډغالي څخه څه توپير درلودلاي شوای؟ دواړه سرسخته یهودي ځایونه دي.پلار مي په اسلامي جامه کې ونه شوای زغملای، بیرته په راګرځیدو مجبور شوم، خو دا ځل فلسطين ته راغلم او قدس شریف ته نږدې په (ابوجوش ) نومي ځای کې مېشت شوم.

مهدي خپلې خبرې په حمد او ثنا سره پای ته رسوي، د خدای جل جلاله شکر یادوي چې د اسلامي عقيدې لوی نعمت یې ور په برخه کړ، خدای جل جلاله ته په رجوع باندې ډیر زیات خوښ دی، د خپلې کورنی سره شپې او ورځې د اسلام په رڼا کې تیروي ، یوه ښځه (سبینا) او څلور اولادونه لري چې هغوی یې هم په اسلامي نومونو نومولي: یعقوب، عبدالعزیز، عیسٰی، عبدالرحمن، هیا اومریم.

د مهدي هیلي:

مهدي په ډیره لوالتیا سره غواړي چې په اسرايیلي کارت کې یې نوم له میخاییل څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهدي شي،
ځکه په راتلونکي کال کې دی د خدای جل جلاله د خونې د حج کولو هوډ لري، کیدای شي د سعودي حکومت یې په رسمي پانو کې د شته نوم په سر، د حج کولو اجازه ورنکړي.

مهدي د خپل اولاد د اسلامي روزنې سره ډیره زیاته علاقه لري او کوښښ کوي ترڅو اولادونه یې په کومه دیني مدرسه کې شامل کړي چې په ترڅ کې یې د قرآن حفظ وکړي او په اسلامي زده کړه سره روږد شي.

د اقصی په جومات کې لمونځ کول هم د مهدي په زړه یو داغ پاته دی، هغه په تاکید سره وایي چې مسلمانان به ضرور په اسرایيلو بریا ترلاسه کوي، سره د دې چې اسلامي امت اوسمهال د ډیرو زیاتو ستونزو سره لاس او ګریوان دی خو بری به هم ددوي په برخه وي ان شاءالله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یوې عیسایي پېغلې او یو هندو ځوان اسلام قبول کړ

منبع: اصلاح ان لاین ډاټ نیټ.

د سرحد ایالت په نوښار سیمه کې یو هندوځوان او عیسایي پېغلې اسلام قبول کړ. د خبري رسنیو د راپور له مخې د نوښار سیمې یو تن هندو ځوان مکېش او د پېښور اوسېدونکې عیسایي پېغلې سمن خپل خپل باطل دینونه پرېښودل او د اسلام په ښکلي دین مشرف شول . د نوښار اوسېدونکي ځوان مکېش د طهور شاه زوی ، چې د چرات په سمنټو فابریکه کې یې کار کولو د پېښور اوسېدونکی د عیسایي پېغلې سمن سره یو ځای دنوښار د جامع تقوا د مهمتم امیر حمزه په لاس اسلام قبول کړ او کلمه طیبه یې وویل.لدې وروسته د سمن اسلامي نوم عایښه او دمکېش اسلامي نوم محمد اسامه کېښودل شو. عایښې او محمد اسامه له مسلمانېدو وروسته دنوښار په ملکي محکمه کې یو له بل سره واده وکړ او خبریالانو ته یې وویل ، چې دوي په خپله خوښه اسلام منلی دی . د یادونې وړ ده ، چې د ۱۱ سپتمبر له پېښې وروسته د ټولي نړی بې دینه خلک د اسلام حقانیت په فکر کې اچولي دي او د اسلام په اړه یې خپلي مطالعي شروع کړي دي ، چې د باطلو عقېدو لرونکو خلکو اسلام ته د را اوښتو ګراف ډېرلوړشوی او د باطلو دینونو لارښودان او ټیکه داران یې سخت په اندېښنه کې اچولي دي .

درحمان بابایوبیت دی وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوهی
مه کنه دبل سړی په لارکې
چیری ستابه دکوهی په غاړه لارشي.
داټولوته معلومه ده چې دسپتمبرپیښه څنګه اوولي وشوه.
داځکه چې کافرانوغوښتل چې اسلام لدې لارې بدنامه کړي اوډیرهغه څوك کوم چې مسلمانيږي دهغوي عقیده پدې وروالړوي اودوي ته وښیئ چې اسلام دترهگری دین دی.په اسلام کې قتل عام جایزدی؟په اسلام کې وحشت اودهشت جایزدی؟ خوکوم څه چې دوي غوښتل هغسې ونشول.داهم دالله(ج) یوه لویه مهربانه وشوه اودټولوکافرانو جوړشوی پلان کوم چې دوي سره بسته کړي وافشاکړ.ټولونړیوالوته داجوته شوه چې کافرانودخپلوګټوا ومنافي لپاره داکارکړې و .دديٍ کاراوددې طوطیه مکمل معلومات دسپتمبر۱۱ پیښه په نامه یوکتاب کې ذکرشوي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دجنتیك نړیوال نامتومتخصص د اسلام په مبارك دین مشرفه شو

نوراحمد (عایل)

ډاکترفرانسیس کولینزدنړۍ له هغوونامتوجنتیك پوهانوڅخه دی چې کلونه مخکې یې د( کراګ ونټر) سره په ګډه د(ډي این اې) ځانګړني اوخصوصیات کشف کړي وو.

دا اکتشافات دومره مهم ووچې دامریکارئیس جمهوربل کلنټن او د برتانیا صدراعظم ټونی بلیرپه یووخت نړۍ ته اعلام کړي ؤ.

٥٦ کلن کولینز له ټایمز ورځپانې سره په مرکه کې وویل:

دېرش کاله کېږي اته ئیست وم ،خو اوس د اسلام په مبارک دین مشرف شوی یم،نوموړي زیاته کړه د الله(ج) په وجود باندې په هرڅه سربېره ډېر کوچني او ذره بیني موجودات هم دلالت کوي، چې هرومرو ددې کوچنیو موجوداتو خالق شته چې هغه یو الله(ج) دی.دې نامتو امریکایي پوه د ټایمز د پوښتني په ځواب کې وویل چې په معجزاتو او پرښتو باور لري او زیاته یې کړه کله چې په خپل ازموینځي کې په کار لګیا وم د الله(ج) وجود مې حس کاوه او داسې فکر مې وکړچې حتماً زموږ څخه پورته او لوړ یو بل قدرت شته چې زه اوس په هغه ذات عقیده لرم، د ځانګړنو په کشف کولو سره زما عقیده نوره هم د الله(ج) په وجود ټینګه شوه ،بیا مې داسې ناروغان لېدلي چې د رغېدو هېڅ شونتیا یې نه وه او د انسان پوهه د هغه د درملنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځخه
عاجزه وه ،خو بیا به مې چې کتل هغه به په معجزانه ډول جوړ شوی وه او بیرته به عادي ژوند ته راګرځېدلي و،چې دا ټول د څښتن تعالیٰ کارونه دي.
د ترکیې د وطن ورځپاڼې په حواله ډاکټر کولنیز باور لري چې د ژنونو د رمز او ځانګړنو کشف دده لپاره د الله(ج)په وجود او وحدانیت د پوهېدلو لپاره ښه موقع وه.
نوموړی وایي کله چې د یوه مهم شي په کشفولو بریالی کېږي ډېرې ښې شېبې تجربه کوي ،ځکه په هغه موضوع کې مو تحقیق کړی او موخې ته رسېدلی وي،هغه وایي څه شی چې ما کشف کړي داسې و تر اوسه هېڅ انسان نه وو کشف کړي ، په داسې حال کې چې همدا شیان ،زه، اوټول مخلوقات الله (ج) پیداکړي یواو الله(ج) هر وخت په همدې وړو
ذربیني موجوداتواو ټولو مخلوقاتو په ځانګړي او جلاجلا ډول ښه پوهېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ولـي مـي اسلام قـبـول کـړ؟

ژبـاړه اوغورچاڼ: عبدالـغفـارجُبـیر

زه خپـلـه کېـسه څـنـګـه پـه مـختصرډول سره درتـه بـیـان کـړم، مـاخپـلـه دمـسلـمـانـیدوکېسه دیـوکـتـاب پـه ډول چې
(Islam Is Unique Religion)نـومـیـړي خـپـلـه تـفـصیـلـي کېسه بـیـان پـکښې کـړیـدي، داهغـه مـهـال خـپـورشوچې اسلام مـي راوړي او داسلام شکـلـي ، پـه زړهٔ پـوري اوزړهٔ کـشـوونـکـي احـکـام مـي پـرځـان عـمـلـي کـړل اویـوه عـمـلـي مـسلـمـانـه شـوم،خوالله جل جلالـه چې چاتـه هدایـت وکـړي هغـه بـه ضرورسیده لاره(صراط مـستـقـیـم) مـومـي اوددې دنـیـااوداخیـرت ټـول نـعـمـتـونـه بـه ورپـه بـرخـه کـوي. زه ظلـم کـولـوسره ورانـه وم،دکـوچـنـوالـي څخه مـي داطبعـیت دي، پـه وړکـتـوب کې دوهـلـوسره ورانـه وم.خیـرپـه هـرصورت دوړکـتـوب دوره مـي خـتـمـه شـوه اودځـوانـی مـرحلـه راغـلـه چې زه داوخت پـه پـوهـنـتـون کـې وم،یـوڅـه دسیـاست، سیـاسي چـارو، سیـاسي اړیـکـو، نـړیـوال ژونـد، تـاریـخ، فـلـسفې ، مذهب اوچاپـیـریـال سره اشنـاشوم داځکـه چې دلـتـه سیـاسي ګـونـدونـه، مـذهـبي ګـونـدونـه اوټـولـنـیزتـنـظیـمـونـه پـه فـعـالـیت بـوخت وه اوپـه هرڅه دپـوهـنـتـون پـه دوره کې پـوه شوم.

زمـا ذهن داسي جوړ ووچې دهغـه چاڅخه مـي ډیـربـدراتـلـل چې ظلـم یـې کـړي وي اویـایـې کـوي.ډیـرلـیـري بـه نـه ځم او دتـاریـخ پـاڼې بـه څه رالـنـډي کـړم دفـرعون څخه مـي دده دظلـم کـولـوپـه خاطرډیـربـدراتـلـل. دچـنـګېزخـان دظلـم څخه اغـیزمـنـه وم اودهغـه څخه مـې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیربدراتـ
لـل.دهټلرایډولف څخه مې بدراځي چې په زرهاووبې ګناه انسانان یې ووژل، په میلیونهاوو یې معیوب اوپه میلیونهاوویې بې سراوپناه کړل،ډیري سیمې اوهیوادونه یې دخاوروسره خاوري کړل ،همدارنګه دتزاري روسیې څخه چې څوجمهوریتونه یې په قوت اوزورسره مستعمره کړي او همدارنګه مې دامریکا دپخواني جمهوررئیس (بوش) څخه مې ډیرنفرت اوکرکه کېږي چې دډیروبې ګناه او معصومو خلکو ژوند یې په افغانستان اوعراق کې واخیستي اودمرګ وکندوته یې واچول.
خو په هرصورت لکه څرنګه چې زه **Research** **Professor)** یمه اوزمادپلټني ریشته عمومي ده، یانې کله مې دحیواناتو(ژوو) دژونداوځانګرتیاووپه هکله پلټنه کول، کله به مې دنباتاتوپه هکله تحقیق کاوه، کله به مې دمذاهبوپه اړه پلټنه کول اوکله نور---
مامخکې درته روښانه کړل چې زمادتشددسره مینه نه وه نومي دهغه شخص چې فرعون نومیده اوتقرایبا (۴۵۰۰) کاله وړاندي دمصرواکمن وو، دهغه دظلم ډیرکېسې راته یادي دي، په مختلفودوروکې مختلفومورخینوډیرکتابونه وربانديلیکلي دي چې په بایبل اوقرانکریم کې یې هم یادونه شویده.دامې دځان لپاره بهتره وبلل چې خپله ولاړه شم مصرته. مصر دتاریخي اثارویوبډایه هیواددی وماته ډیرارزښت لري اوبل داچې مصردنوروواسلامي هیوادونوڅخه څه په اقتصادي ډګرکې ښه دی، نسبتاً ارامي ده، نوځکه زماهوډمن زړه دافیصله وکړل چې ومصرته ولاړه شم هلته زمامهم کارونه دادي چې زه بایدفرعون په هکله ځانته مکمل معلومات ترلاسه کړم اوکه وخت یاري راسره وکړه نودنړیوالې اسلامي موسیسي الازهرسره هم له نیږدي لیدنه وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمصردسفرپه اړه مي هرڅه معلومات راټول اوبشپړکړل، دسفرله لپاره مي هرڅه برابرکړل هلته مي دتګ څخه مخکې په کلوپاټرا هوټل کې ځاي ونيوي.کلوپاټرادمصرهغه ملکه وه چې په ټوله نړۍ کې ددې ښايست نه ووء، اوډېرښايسته او زړه وړونکې وه، نوځکه داهوټل ددې په نامه سره و.داهوټل دهرسهولت په درلودلوسره ښايسته و.مصرته ورسېدمه درې ورځ پوره په (Royal Museum) کې وګرځيدم ، څه پلټنې مه وکړې اومعلومات مي لاسته راوړل، مادهغه چامومياىي مجسمه ولېدل چې زه ورته راغلې وم.هو!!! داهغه فرعون دى چې مايې دليدواميددرلود؛ دامجسمه (۲-۲) متره وه، اواوس په دې موزيم کې پرته ده. دده دمهال څه نورڅيزونه هم راته په سترګوشول لکه دده دوختوچوکۍ، څپلۍ، سېکې اونورشيان چې جوړښت يې هيښونکې و. ماچې ددې وجسد ته وکتل اودده ومانۍ (هرم) ته مي وکتل نوډېرڅه مې ورڅخه زده کړل اوماپردې موضوع باندي يوکتاب هم وليکې (دنياوايي ، زه فانې يم اوپه مامه نازيږي) په نامه ، چې داکتاب پر(۲۲۰) مخونوباندي مشتمل دى، په دې کتاب کې ډېرپه زړه پوره انځورونه شته، چې لوستونکي ورڅخه ډېرخونداخيستي شي اوس غواړم چې دفرعون په اړه څه دخپل کتاب څخه څه وليکم که څه هم چاداتاريخي توري زماددې ليکنې سره کوم تړاونلري.

## فرعونيان څوک دي؟

مينيس پاچا **(King Menese)** دلرغوني مصرلومړي فرعون ګڼل کېږي هغه په تاريخ کې دلومړي ځل لپاره په (۳۰۰۰) قبل الميلاد کې ټول مصرسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوکړ.دفر
عون اصطلاح په اصل کې دپاچاوځاي ته کارېدل ، په کوم ځاي کې چې ده اوسېدنه کول، چې له دې څخه وروسته دپاچالقب وګرځیدي اودمصرهرپاچاچې به چې قدرت ته ورسیدی نوهغه ته به فرعون ویل کیدی.
په مصرکې ډېرفرعونیان تیرشویدي چې په موزیم کې دڅلوروفرعونیانومجسمې پرتې وې.دې اول فرعون دنېل داوبوپه رسولوسره ټول اولس دځان کړاوټول دده ترتسلط راغلل اوفرعون خپل ځان یوسپېڅلی بشربالـه، اوخلک یې په دې اندوه چې فرعون دهرشي دبشپړکېدوواک لري،له همدې کبله یې وفرعون ته دیومعبود برحق درجه ورکول.دافرعون په دې عقیده وچې دمرګ نه وروسته روحان نه مري، اوداروحان ویوه خدای چې ده ورته قاضي وایه او(۲۴) نورهمکاران هم ورسره سته چې ترازویې په مخکې پروت اوښه اوبداعمال تلل، چې څوک مجازات اوڅوک مکافات کوي. بله عقیده ددې فرعون داوه چې ځان یې دلوي خداي(ج) اولاد اومعبودبرحق باله چې خلکوورته سجدې کولي،ده خلکوته ویل چې زه په دې ودې دنیاته راغلي یم چې دوګړوترمینځ عدالت اوله ظلم څخه یې وساتم- خودوي ټول درواغجن وختل اوهغه ظلمونه یې وکړل چې تاریخ په شرمیږي.
دمصرزیاتره فرعونیان ظالم، متشدد، جنګړه ماراوبې رحمه وګړي و، هغوي مشرکانه مذهب غوره کړي وو، چې ددې اول فرعون ټول عقایدترډېره پرنوروفرعونیانواغیزه وکړل. په دې ټولوفرعونیانوکې یوفرعون موحد و، دافرعون (څلورم آمن حوتپ) وو،چې ده وروسته خپل نوم (اخن ایتون) کې چې مانایې ده (ویوه خداي(ج)ته ده مطیع) دخپل پلارانوروفرعونیانودټولوعقیدوسره مخالفت وکړ اودایي ویل چې دمځکواوسمانوخدای(ج)یودی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هغه زماخدای(ج) دی،خومذهبي مشرانواودزړوفرعونیانوغلامانودي پرې نښوداوپه زهرويې وواژه.ددې فرعون څخه وروسته پوره سل کاله (دوهم رامسیس یا یارعمسیس) پرسردقدرت شو، چې حضرت موسیٰ علیه سلام دده په کورکې لوي شو، ځوان شو، اوددې فرعون ښځه اسیه نومېده چې دزاحم لوروه اویودېره شریفه ښځه وه ،په دغه وخت دې فرعون وویل چې زه ولې فرعون یم؟ بیایې دخپلې پوښتنې ځواب داسې وکړچې (فرعون) مانایې داده چې دلمردخدای اولاد، نوزه دلمردخدای زوي یم اوزه دلته معبودبرحق یم ، چې حضرت موسیٰ علیه سلام ورته دحق دین بلنه هم ورکړل، ده (۱۵۰) ځامن درلودل اوکله چې سپین .ږیری شوده خپل په ژوندکې خپل دیارلسم ځوي (مرنفتاح) پرخپلې پاچاهئ باندې ونوماوه، خوژوندورسره وفاونه کړل اودافرعون په نیل رودکې ډوب شو.اي افسوس!!!هرڅه فانې کېږي، دولت ځي، راحت ځي، مانۍ ځي، ځوانې ځي، ښکلې دوستان اوځانته تیریاران دااټوله له مینځه ځي، نوکه یوڅوک پخپلولښکرو، دنیااوزورسره نازیږي نودې دفرعون څخه پوره سبق واخلې.

دکتاب (۵۰) صفحې یواځې وفرعون ته خطاب دي، چې دازماخطاب دنړۍ وهرظالم، جابراوشریرواکمن اوپاچاته دي، اوس داهرڅه شته خوفرعون نشته ، په **(Royal Museum)** کې یوشیخ چې سپین کالي یې په تن وه اوښه مُبارکه نوراني ږیره یې درلوده، چې دږیرې سپین وریښتیان یې دتوروپه نسبت زیات و زه ورسره مخامخ شوم، دواړه یودبل په لیدلوسره خوښ شوو.ماورته بلنه ورکړه ترڅوپه کوم هوتل کې چې زه اوسیږم دی هم هلته راشي. زمابلنه یې په ورین تندي قبوله کړه،که څه هم زیات مصروف و خودهغه سربیره راته راغی.زه اوس کوښښ کوم چې داسلام په هکله یوڅه معلومات

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورڅخه
لاسته راوړم اوهغه سپیڅلي ځایونه اوتاریخي ځایونه چې وده ته معلوم وي وهغوته مې څه ناڅه رهنمایي کړي؛ اوکه مې راتلونکې کال کې وخت ومونډي نوهلته به ولاړه شم،خوزمااودده لیدنه پرلسوپوښتنومشتمله شول چې اووه پوښتني دده شخصي ژونداوخدمت په اړه اودرې هغه پوښتنې دي چې زه یې واسلام ته وهڅولم، اودژونددانقلاب (اوښتون) سبب شوې هغه دادي:

ماپوښتنه څني وکړه: ولي په اسلام کې دوي ښځي دیوه نرسره په میراث وړولوکې برابري دي؟

شیخ محمدالصباح راته وویل:

په اسلام کې چې کله یوه ښځه دخپل پلارسره وي، ټوله نفقه ، خوراک، څښاک اوپوښاک یې پرپلارباندي وي،ځکه دایې دپلاروجیبه ده.اوکله چې داښځه دخاوندوکورته ولاړه شي نوبیایي خوراک څښاک اوپوښاک دخاونددااوږوپیټی دی،ښځه په دې باندي نه ده مکلفه چې خپله نفقه پخپله پیداکړي اوکه دکورنۍ مشر(پلار) یې مړشي نوبیایي پرورونودې ساتل فرض دي،وبل لورته دکورټول غټ اواکثریت مصارف دنرپرغاړه دي، که فرض کړوچې په یوه کورکې دوي خویندي اویووروردی نوکه داورور (۱۰۰) روپۍ دورځې مصرفوي دکورلپاره خوبل لورته یې دادوي خویندي په میاشت کې دومره مصرف نشي کولای داځکه چې دخویندومصرف هم پرورورباندي دی اودکورهرسامان اومتاع دوروروذمه ده نه دخویندو،نوځکه په اسلام کې الله جل جلاله دادوي خویندي په میراث کې دیوه ورورسره مساوي کړیدي.

بله پوښتنه مې څني وکړه: په اسلام کې ولي دیوې ښځي څخه زیاتي ښځي په نکاح کول روا دي؟

شیخ محمدالصباح راته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څرنګه چې ته دکاتولیک مذهب پیروانه یې اوکېداي شي چې ډېري څیړني به دي هم پکښې کړي وي، نوډېرښت دنکاح خوپه بایبل کې هم راغلي دي:

ستاولي هیردي چې دپاچاسلیمان علیه سلام په حرم کې یوزر(۱۰۰۰) بیبیانې وې (سلاطین ۱ــ ۳ : ۱۱)

اودباېبل په حواله دحضرت عیسي علیه سلام په زمانه کې یهودوډېري ډېري ښځي درلودې چې حضرت عیسي علیه سلام یې هیڅ ردهم نه دي کړي اوددې لپاره موږنورعقلي دلایل هم لرو:

تاسي یوځه فکروکړي چې په فوځ چې دهرهیوادپوځ وي نارینه ډېردي اوکه ښځې؟ طبیعي خبره ده چې نارینه ډیردي. په جنګ کې ډیرنارینه مري اوکه ښځي؟ طبیعي خبره ده چې نارینه ډیرمري. په ترافیکوپیښوکې نارینه ډېرمري اوکه ښځې؟ طبیعي خبره ده چې نارینه ډېرمري ؛ په دې ټولوحوادثو(پیښو) کې دښځوپه نسبت نارینه ډېرله مینځه ځي، بله خبره داده چې دطب له نظره دښځودبدن مقاومت نسبت ونارینه ووته دناروغیوپه مقابل کې ډېردی، نوهمداوجه ده چې نارینه نسبت وښځوته دورپیښوشوناروغیوله کبله ډېرله مینځه ځي دښځوپه پرتله، دښځواندازه ډېریږي.اوس درته یوبل حقیقت وړاندي کوم اوهغه داچې یواځي د نیویارک په ښارکې (۱۰) لکه ښځي ترنارینه وزیاتي دي، اوپه ټوله امریکاکې (۹۰۰۰۰۰۰) نوې لکه ښځي ترنارینه ووزیاتي دي، ددې مطلب دادي چې که په امریکاکې هرامریکایي یوه یوه ښځه په نکاح کې نو(۹۰۰۰۰۰۰) لکه ښځي بې خاوندانوپاتي کېږي چې دابه څه کوي؟؟؟ ایادوي به خپل عفت دپیسوپه مقابل کې خرڅوي؟ ایادوي به دعزت ژوندنلري؟ ایادوي به دښه فامیل اوښوماشومانوخاونداني نه کېږي ؟ دادهرې ښځې طبیعي خواهش دي ښه ژوندولري، خپل خاوندولري اوددنیادنعمتونه څخه ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخه منه
کړي، دامشکل به څنګه حل کېږي؟ ددې علاج څه دي؟ ددې علاج هیڅ دولت ، تنظیم اوجمهوررئیس اوقانون نشي کولاي یواځې ددې علاج لپاره الله جل جلاله فرمایي چې ددې مشکل دحل لپاره تاسي دوې دوې په نکاح کړي،اوکه ښځي له دې څخه هم ډېري شوې نودري دري په نکاح کړي، چې دایي ډېره ښه معقوله لاره ده، همداوجه ده چې (تعدد دزوجاتو) په اسلام کې روادی، خوبیاهم اسلام دمځکې پرمخ یواځني دین دی چې دېوې ښځي په نکاح کولوباندي حکم اوټینګارکوی.هغه ټولنه چې ددې علاج ورسره نشته هلته فساد، دعفت لوټول، دعفت خرڅول، جرمونه اوفسادونه ډېردي.
بله پوښتنه مي څني وکړه: ښځه په اسلام کې څه حقوق لري؟
شیخ محمدالصباح راته وویل:
اسلام دمځکې پرمخ یواځني دین دی چې وښځوته یې پوره حقوق ورکړل.داسلام دراتګ څخه مخکې ښځه یوه دعیاشی، دظلم اوبربریت یوه اله وه، خلکوبه دشرم له کبله ښځي ژوندی ښخولي اودایې دځان لپاره شرم بالی چې زمالوریاخوردي دیوچاپه نکاح شي.ښځه دښه ژوند، دتعلیم، دتجارت، اوهرڅه کولواجازه لري په شرعي اواسلامي بنستونومطابق، کوم دعزت پوړنی چې اسلام دښځي ورپرسرکړیدی ددې مثل په هیڅ دین کې نشته.ښځي بایددتشددښکارنه شي، ونه وهل شي، دژوندهرڅه ورته برابرشي، دښه اوخوشحاله ژوندخاونده شي.که چېري یوه ښځه اویوسړی سره کُف نه وي، یاظلم وربانديکېږي اویایې حقوق نه ورکول کېږي نوښځه کولاي شي چې ددې خاوندڅخه جلا شي، چې اسلام ودې ته خپله طریقه لري.که چېري یوڅوک پرښځې دعفت خرڅولوتورولګوي اودې پکښې درواغجن شي نودي باید مجازات شي، ترڅونورخلک ورڅخه عبرت واخلي. اسلام وښځي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېرزيات حقوق ورکړي دي ، حتي تردي اندازې پوري يې اختيارورکړيدی،که يوه ښځه وخپل ماشوم ته دپيسوپه مقابل کې شيدې ورکوي لاخاوندپه دې مکلف دي چې هغه پيسې وخپلې ميرمني ته ورکړي دشيدوپه بدل کې، خوپه دې لنډوخت کې داناشونې دي چې دښځوټول حقوق درته بيان کړم.زه باوري يم چې ډيره ښه پوه شوې،په دې هکله به زه کتابونه درکړم چې دښځې حقوق اوحيثيت په اسلام کې څه شي دي.

دشيخ محمدالصباح څخه مي نوري شخصي پوښتني هم وکړې اواخيرته مي رخصت ورکړ. دده څوابونه دقناعت وړ، زړه وړونکې اوپرعقل يې ډېرژراغيزه وکړل، داځکه چې زه په اسلام نه وم خبره اوماداسي فکرنه کاوه چې ښځه دي په اسلام کې داسي ځاي ولري، مخکې مادافکرکاوه چې په اسلام کې ښځه ديوه حيوان په بڼه سره ژوندتيروي، شپې اوورځې سباکوي، خوپه دې نه وم خبره چې په اسلام کې هرقانون په دومره ژورفکرسره سنجول شوی دی چې دانسان له ذهن اودماغ څخه ډېرلوړدي.داراته ثابته شول چې اسلام واقعاًيوالهي دين دی.دشيخ ټول ځوابونه راته معقول ول،له هغه ورځې وروسته مې داسلام دمينې زونی په زړه کې شين شو.

داهوډمي وکې چې دشيخ الصباح په مرسته سره په اسلام کې پوره تحقيق وکړم.

، شيخ الصباح دخپل بريښناليک پته، درک اوديوڅوويب پاڼوڅوادرسونه يې راکړل، څه کتابونه يې هم په تحفه کې راته راکړل او راته وويل که داسلام په هکله هراعتراض اوشبه درته وي کولاي شي چې پوښتنه وکړي، داپوښتنې که ستاوي اوکه دهرچاوي، زه يې وځوابولوته په ورين تندي حاضريم،انشاء الله زماځوابونه به دمينې اوتفصيل نه په ډک څادرکې وي.

د(۱۵) ورځوسفرمي پاي ته ورسيدی.ماوامريکاته له مصرڅخه دوه سوغاتونه چې ډيرجالب اوخوشحاله کيدونکي ول، يودفرعون

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هکله
معلومات اوبل داسلام مینه اوپراسلام باندي دتحقیق مینه. زماپه ژوندکې دادوه څیزونه نوي ول، اوس نودلته ماته زمادوستان اوملګري راځي چې زه بایدپه بشپړډول سره خپل سفرورته بیان کړم چې داوامریکایانوته ډیرجالب دي؛ ودوي ته مي ویل چې ماډیري خاطرې اوملغلرې راوړي دي چې دیوي میاشتې په موده کې به یې تنظیم اووتېولوته ښکاره کړم، هره ملګرې چې راتله مادتفصیل ورکولوڅخه معذورت غوښتي، ماپه دې وخت کې دشیخ الصباح هغه کتابونه چې پرایمان، اسلام، وحدانیت، اسلامي حقوقو اودښځوپرحقوقوباندي مشتمل وه ولوستل چې واسلام ته مي دمینې دحرارت درجه نوره هم لوړه شوه. دښځودحقوقوپه اړوندمي هغه څه ولوستل چې واقعیت ول، په اسلام کې رېښتنې ازادې، عفت اولوړعزت اوارزښت وربخښي. دویب پاڼوله لاري مي ډېرڅه ولوستل، دیوې اسلامي ویب پاڼې له لارې مي دقرانکریم پوره مطالعه وکړل اوکه په کوم ځاي نه پوهیدمه دشیخ الصباح سره به په تماس کې وم اوده به هم راته په پوره تفصیل اومینې سره راته هرڅه دبریښنالیک له لارې رالیږل. داسلام راوړل زمالپاره یوه ستونزمنه پرېکړه وه، داځکه چې زموږپه ټوله کورنۍ کې داکارچانه وکړی اوهیچانشوزغملاي، خوپه امریکاکې دااوصول دي چې هرڅوک هرمذهب قبلولاي شي اودادهرچاخپل اختیاردی،پردې شي باندي کوم بندیزنشته اوهلته هرڅوک دخپل بصیرت، څېړنې اوپوهې پربنیادخپل دځان لپاره یومذهب غوره کوي. یوه میاشت وروسته چې زماهمصنفیانې،همصنفیان اواستادان راتلل نومایه خنداودوي ته ویل چې کېداي شي په راتلونکودوومیاشتوکې ماپه دغه جامه اودغه بڼه باندي ونه وینې، چې داددوي لپاره یوه معماشوه، چې داځنګه؟؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمصردسفرڅخه پوره درې میاشتي اوڅوورځي وروسته مي دشهادت کلمه وویل اومسلمانه شوم، لکه څرنگه چې یهودانودبیت المقدس تولږه سیمه اونوري سیمي په زورسره غصب کړیدي اوپه زرهاووبې گناه مسلمانان ، ښځې، ماشومان اوبوډاگان یې شهیدان کړل نوځکه مي بیت القدس وماته ځانگړي ارزښت لري، په بیت المقدس کې یې داقصي مسجد چې دمسلمانانولومړۍ قبله وه،نوداقصي مسجدسره دمینې له کبله مي خپل نوم اقصي کښېښود دگران وروشیخ محمدالصباح په مشوره سره. له خپل ژونداوخپل خدای (ج) څخه ډیره راضی یم،چې زه یې له توري شپې څخه ورڼاورځي ته راووبلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوې
# امریکایي ننې (عیسایي راهبې) سالي سمایل اوسینتیابل د اسلام مبارک دین قبول کړ-
# (Nun-Sally Smile and Nun-Cynthia Bill)

ژباړه اوغورچاڼ: عبدالغفارجُبیر

ما ډېرکوښښ وکړ چي د(سالي سمایل) یوه اوږده لیکنه رالنډه کړم اوهره جمله یې په زړه پوري وه، خوبیاهم داژباړه یې یوپردریمه ده- (ژباړن)

دهغه لوي څښتن(ج) په نامه چي ټول پېغمبران یې رالېږلي په شمول دحضرت عیسیٰ علیه سلام اوخاتم الانبیاءحضرت محمدمصطفی صلی الله علیه وسلم دټول انسانیت لپاره ، اوورسره یې نازل کړیدي دلارښوني لپاره رښتیني کتابونه تورات، زبور، انجیل اوقرانکریم، چي داټول کتابونه دتعمیرانسانیت لپاره پخپل وخت کي یوه نمونه وه، چي ټول منسوخه شوي، تحریف شوي ماسوا دقرانکریم څخه چي ترقیامته پوري به دټول امت لپاره دهدایت ، سوکالۍ، نېکمرغۍ،خوښۍ اوارامۍ سبب اوذریعه وي، چي په دې کي هیڅ شک اوتردندشته- زه دالیکنه څه اوږدوم داځکه چي لومړی زه ولوي څښتن(ج) ته شکراداکوم چي په اسلام یې مشرفه اودهدایت زانګوته یې واچلوم.اودوهم داچي زه ددې لیکنې پرهرتوري دلوي خداي جل جلاله څخه ثواب غواړم، اوداثواب زه پرځمکه نه غواړم بلکه په اسمانوکي یې غواړم چي دقیامت په ورځ راته په ښه راشي. ماخپله داکیسه دیوه کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بنه چاپ کړې هم ده، چې سرلیک یې دي (کوم دین؟؟؟ اسلام که عیسایت؟؟؟)لکه څنګه چې پرانترنیټ باندي زیات مینوال ډېري اوړدې لیکني نه خوښوي نوماډېرکوښښ وکړ چې داخپله رښتینې کیسه په څولنډوفقرواوجملوکې راونغاړم-

زه د(۷) کلونووم چې پلارمي ددې نړی څخه سترګي پټې کړې، زماروزنه یواځې زمادموراوخاله په لاس کي شوه، د(۱۲) کلونوپه عمرباندي چې زه هغه مهال ښوونځی ته تلم مورمي دسرطان دناروغی له کبله خپله ساه په روغتون کي چې یوه میاشت داخله وه ورکړه، زمایواځنی پالونکې زماخاله شوه. خاله مي ډېره هوښیاره، مخلصه، زړه سواندې اوپوهه مېرمن وه،خوژوندورسره وفاونکړه اوزه هغه وخت په پوهنتون کې د(۱۸)کلو اوڅومیاشتووم، چې خاله مي هم ددې نړی څخه وکوچیده، دهغه وخت بدې خاطرې، افسوس، اوکړاونه دویلونه دي اونه هم غواړم چې رڼاوربانديي واچوم. زه بې سرپرسته، بې پالونکي اوبې مشره پاته شوم. ژوندراته ډېرستونزمن شو، که څه هم چې ملګرې مي هم درلودلې خوځمکې راته کوم ځاي نه راکاوه، اوڅوواره مي داتکل وکړ چې خپل ځان ووژنه وکړم، خولوي څښتن(ج)مي داجل فیصله نه وه کړې- څنګه چې په پوهنتون کي (۹۵) په سلوکي عیسایان ول، که زده کوونکي ول،که استادان ول اوکه نورخلك،نوځکه د عیسایت څخه ماسو| بل هیڅ شي نه و اوموړته (بایبل) درسېده.د پوهنتون مربوط مویوه کلیسا هم درلوده چې مشري یې **(Pastor John)** پاسترجان کول دی دښه زړه خاوندخومتعصب وو، دتوراوسپین فرق یې کاوه، دبډایه اومسکین فرق یې کاوه، دبې وزلي اوزورورتوپیر یې کاوه اوداسي نور---خوزماسره ډېرښه وو په ده کې یوه بله کمزوري هم وه چې دي **(Gay Man)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعني دي
همجنس پرسته وو، واده یې نه درلوي اودلواطت سره یې زښته زیاته مینه وه، داپه عیسایت اوکلیساکي یوه عادي خبره ده، اونورخلک یې هم ودې ته رابلل، نوځکه مادده په غوښتنه خپل ځان و(International Catholic Association) یعني دکاتولیکوعیسایانوبین المللي موسسي
سې ته وسپاره، داموسسه په ټوله نړۍ کي ښاخونه لري چي په مختلفوهیوادوکي په مختلفوبڼوسره ځان ښکاره کوي، مطلب مي ددې غړیتوب څخه دادي چي یوسرپرست وموم، څه امتیازپیداکاندم، څه اقتصادي حالت مي ښه شي، دژوندڅه کړاوونه مي لیري شي، دخپل دین عیسایت چوپړوکړم چي داخرت توښه مي شي؛ ددې موسسې لومړني سمینارونه پیل شول دهغوغړولپاره چي نوي جذب شوي وه، اوومورته د (Bible Professors)دبایبل دپروفیسرانوله خواڅخه ښونه اوروزنه راکول کېده اودابه یې ویل چي بایدداکوښښ وکړي چي اسلام له ریښوڅخه وباسي، چي په دې پروفیسرانوکي یو(D.D.Josuf) وو، چي دالهیاتوپروفیسروو (Doctor of Divinity) ،وو، ده ډېرتېنګاراواسرارپه دې (عیسایت خپرولو)باندي کاوه، اوددې موخودترسره کیدلولپاره یې ومورته دپنځولاروچاروتربیت راکول کېده:

1: دتبلیغ برخه :
چي په دې سره موږداسي خپله دځانه خرافات، کېسې، دعیاشۍ ناولونه، انځورونه، دبایبل تفسیر(دکوچنیانودپاره په بېل شکل،دځوانانولپاره بېل اودپاخه عمردخلکولپاره بېل، دتعلیم یافته لپاره په یوه بڼه اودبې سوادولپاره په بله بڼه) ، ژباړه اوداسي نورڅه لیکل اوبیاموخلکوته ویل ، چي ددې خرافاتوپرووپشلوباندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مووخلکوته امتیازونه اوڅه شي هم ورکاوه،
ترڅودخلکوپرعیسایت باندي ښه یقین راشي ؛
واسلام ته بدویل ، وقران ته بدویل، وحضرت
محمدمصطفي صلي الله علیه وسلم ته بدویل چي
زیاته ونډه پکښې رسنیواخیسته دپیسوپه بدل
کي دازموږورځني کاراوروزګارروودقران اواسلام
په نامه به موکتابونه چاپول اویابه موویب
پاڼې جوړولې ترڅوچي مسلمانان ښه ګمراه
شي-(لوي الله جل جلاله مودي معاف کړي)

2: دخلکوجذبول:
چي موږبه داسي خواږه اوپه زړه پوري
الفاظ اوکلمات استعمالول چي هرچابه
دافکرکاوه چي په دې توروکي څه جادونغښتي
دي، خویواځي دالاره نه وه بلکه نوري لاري هم
راته وې، اوهغه داچي وخلکوته به موپیسې
ورکولې ترڅوعیسایت خپورکړي، تحفې به مو
ورکولې، ښه وظیفه به مووورکړل، اوهغه مسلمان
ځوانان چي به پرنوي ځوانۍ باندي راغلي وه
نووهغوته موخپل ناموس هبه کړ، اودنامعلومه
وخته پوري به موخپل ځانونه ورته سپارله، که
په لنډوکي درته ووایم په یوه نه یوه بڼه
سره مودوي جلبول اوددوي دعیسایي کېدوکوښښ
موکاوه--(لوي الله جل جلاله دي مومعاف کړي)

3: دموسیسوله لارې دخلکوکړاوونه حل کول:
ویوې خوارې سیمې ته ورتللو(دبېلګې په ډول
سره افریقا، داسیاځینې غریب ملکونه،)،
داځکه چي زموږښکاربه همېشه په خواروعلاقوکي
وو، چي ترډېرې اندازې پکښې کامیابه هم وو،
اووهغوته موویل چي موږصرف دبشریت
دچوپړلپاره راغلي یو، تاسي چي هرڅوک یاست،
دهرقوم یاست، دهرمذهب سره تړاولري اودهرې
سیمې یاست دا وموږته کوم ارزښت نه لري،
اوداپوښتنه به مووڅخه کول چي څه بنیادي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړتیاوې
لري؟؟؟ دبېلګې په ډول سره وپاکواوبوته، ومکتب ته، وبرېښناته، وروغتون ته، ودرملتون ته، وسړک ته، ونیالګوته، وجاموته، اوداسې نوروااړینوتوکوته ؛ چې دازموږبله تلکه وه، چې خلک موپه اعتمادکې اخیستل اوموږبیاوخپلو موخوته ځانونه رسول-

4: دنورومذهبونوپه ځانګړې ډول سره داسلام نفوذ کمول اودخلکوورسره کرکه پیداکول.
په دې ښاخ کې موږداسې خلک درلودل چې له اره (اصل) عیسایان وو، خوموږځه داسې روزلي و، چې په ښکاره مسلمانان ښکاره کېده، دداسې خلکوتول مصرف که دسفروو، که دکوروو، که دروغتیاوو، اوداسې نورموږورکاوه، موږبه ددې خلکوسره همېشه په تماس کې وو، ددې خلکوژوندپه همدې مؤسسې پورې تړاودرلودې، دهغودنده داوه چې داسلام اومسلمانانوترمینځ واټن پیداکاندې، اویاکه یوښه مسلمان وي هغه په یوه نامه سره وخلکوته په مرموزشکل سره بدنام کړي، اودقومونو، مذهبونواوخلکوترمینځ بې اعتمادي راولي، اوخلک داسلام پرضدراوپاروي، دبېلګې په ډول سره په (1998) کال دجنوري پر (5) دهندوانوپه یوه عبادت خانه کې (مندر) کې زموږیوکس چې د **(Black Water)** بلډېک واټر روزلي وو، دوختي بم له کبله دوه هندوان ووژل اوپنځه یې نورټپیان کړل، اودعبادت خانې ښایست تقریباپه پوره ډول سره له مینځه ولاړي موږهلته ورسیدو اوودوي ته موووییل چې دا(تروریزم) دي اودادمسلمانانوکاردي، چې په پایله کې هندوانودمسلمانانوپرنژدې مسجدبانديې یرغل ورکې چې مسجد شهید درې مسلمانان شهیدان اولس تنه سخت زخمیان شول، موږوخت پیداکې اودوخت څخه په استفادې سره مو(500) نوي غړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



جذب کړل اوپه پوره اعتمادکي مو واخیستل اووهندوانوته مه وویل چي موږ اوتاسي بایدپه ګډه سره کاروکواوداسلام ریښي به باسواوداسي نور--- چي داکارونه موږزیات په هندوستان، نیپال، بنګلدیش، تبت ،سرلنکااودنړۍپه نوروسیموکي په کامیابۍ سره کړیدي- چي بلېک واتړراسره مله وه-

5: غیرانساني اخلاق خپرول، فحاشي، بربنډتوب اوعیاشي:

ددې موخولپاره موږدډېروشیانواوتاکتیکونوڅخه کاراخیستي، لومړي داچي په کلیساکي به نراوښځې جوړه جوړه کښېناستل، چي زیاتي به زموږروزل شوي انجوني وې اووهرچاته به یې دمیني غیږورکوله، دزبوردغزلوپرمهال به نراوښځې سره یوځاي کېدل، هغه لیکونه چي موږدیوه پروګرام دجوړېدولپاره لېږل پرهغې باندي مودکلیساپه مشوره سره دیوې رقاصي انځورچاپاوه، چي دصلیب نښان به یې پرسینه باندي ځوړنده وو، په بایبل کي دزنااودشرابودډېرې کېسې شته، موږبه ددې ایاتوپه حواله خلک ودې ته هڅول چي شراب خوړل اویاهم زناکول کوم عیب نه دي، که څه هم په بایبل کي په ځینوځایوکي دزناپه ښکاره ډول سره غندنه شویده، خوموږداکارکاوه، دکرسمس په ورځ به موږوخلکوته وړیاشراب ورکول، ځینوروزل شوي پېغلوبه ځوانان ښکولو، اوحتي دځینوسیموښځې چي به ډېري په ستر(حجاب ) کي وې وهغوښځوته موپخپل طبعیت سره کالي ورته جوړول اوپه تحفه کي به مووركول؛ چي په هغه کالوکي هرڅوک داسي ښکاره کېدي لکه لوڅ چي وي اوپه زرهاووداسي نوروتاکتیکونوڅخه موکاراخیستي دبېلګې په ډول سره په مذهبي مراسموکي موږداسي څه کول چي هغه لکه یوفلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې وي،
او وخلکوته موداسي ویل چې دامذهبي مراسم دي او دا افتخاردي چې بیا هرچا عملي کول-

موږته یوکتاب د(پرمسلمانه نړۍ باندي یرغل) راکول شوي وو، چې داددې کتاب شپږم ځل له چاپه وتل وودا کتاب به په (2000) ژبوژباړل کېده، اودچاپ شمېر به یې څومیلیونه وو، داکتاب په ځانګړي ډول سره وکلیساووته ورکول کېده نه وهرخاص اوعام ته، خوڅه ناڅه وبازارته وکتابتونوته راوړل کیده، په دې کتا ب کي ټولې هغه توطیې لیکلې دي چې څنګه عیسایي مبلیغین کولاي شي چې مسلمانان بې لارې کړي اوبایددکوموچلوڅخه کاروا خیستل شي دبېلګې په دول سره ددې کتاب په (47) صفحه کي لیکلې دي:

عیسایي مبلغین بایدزړهٔ وانه چوي چې ولي موږپرمختګ نه دي کړي، بلکه موږډېرپرمختګ کړیدي یوداچي ښځې مودکوره څخه راایستلي دي اوبل داچي دوي موبربندې کړي هم دي، چې ددې لارې زموږټول اهداف ډېرژرترسره کیږي، اوتاسي پردې باندي نورکارهم وکي-

ددې کتاب په (88) او(89) صفحه کي لیکي:

موږبایددښځودازادۍ اودښځودتعلیم ترنامه لاندي داسي کاروکړوچي ددوي څخه دخپل مذهب، وطن، دود اوهرڅخه هېرا اودعیسایت لپاره کاروکي؛ چې په دې مقصدکي په ډېروهیوادوکي موږهم بریالي شوي هم یو، کله چې دښځوڅخه مذهبي روح واختسل شي له دې څخه وروسته هغه زموږدلاس الې دې، اومبلغین دي کوښښ وکړي چې دښځوله لارې اسلامي نړې دړې وړې کړي-

ددې کتاب په (55) صفحه کي لیکي:

هرانسان که نردي اوکه ښځه دوه قوته لري یودفسق اوفجورقوت اوبل دتقوي قوت،موږ(عیسایي مبلغین ) بایدداکوښښ شپه اوورځ وکړوچي دمسلمانانودتقوي قوت کمزري

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي اودفسق اوفجورقوت يې قوي کړوترڅوموږوخپلوموخوته په اسانۍ سره ورسیږو- ددې کتاب هره جمله اوکرښه موږعملي کول ترڅووخپلواهدافوته ورسیږي اودکلیسادمرحمت وړوګرځو-(الله جل جلاله مې دي معاف کړي)

ماخپل ټول ژوندوکلیساته وقف کړي وو، اونه مې غوښتل چي واده هم وکړم اوټوله ورځ به په دې فکرکي وم چي څنګه عیسایت پرمخ ولاړشي، اواسلام څنګه له مینځه ولاړشي؛ ددې کارلپاره زښته خلک ډیروه داځکه چي ددې تنظیم **(International Catholic Association)** هرغړي داسي تربیه شوي وه چي هرڅوک واي که چوکیداروای، که مامور، که وزیرکه فوځي اوکه هرڅوک وونودبایبل دچوپړلپاره يې دوې میاشتي ضرورخدمت کاوه اوکه يې وخت نه درلوداي نوبیابه يې زښته ډیرې روپۍ دشکرانې اوجرماني په ډول سره وکلیساته رااستولې، هره ورځ هره میاشت اوهرکړي به نوي خلک نوې ځهرې اونوي قومونه راتلل اوخدمت به يې کاوه شپه اوورځ-

دهمدې مؤسسې له خواڅخه وموږته دادنده راکول شول چي پرمحمدصلي الله علیه وسلم باندي یوکتاب ولیکواوهغه کتاب به داسي وي چي ټول تاریخ اوسیرت به دده وي اوڅه به موږیوڅه شیان ورسره اضافه کړواوبیابه يې چاپ کړواوکه موپه وس کي وه یوڅه بدبه هم ولیکوچي دازموږښه دنده وه اومهارت موهم پکښې درلود، ددې کارلپاره موپنځه ننې،(راهبې) اولس **(Monks)** مانکس (راهبان)، وټاکل شوه-

یادونه: (نن)(راهبه) وهغې ښځې ته ویل کیږي چي دنیایي کارونه يې پرایښي اویواځې يې ځان وکلیساته وقف کړي وي، او(منک)(راهب) هغه سړي دي چي هغه هم خپل ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکلیساته
وقف کړي وي اوتارک الدنیاوي- (ژباړن)
هرڅوک باید خپل کاروکي، اوترتېولوزموړلپاره اړین کاردادي چي تاريخ اسلام اوسيرت النبي صلي الله عليه وسلم پيداکړواوبياخپل کارپيل کړو، هرڅادخپل ځان لپاره کوښښ کاوه داځکه چي پردې باندي وموږته هم دکليساله لوري اوهم ددې مؤسسې له لورې هرڅه راکول کېدل، امتيازپیسې، سفر، مقام اونور---زه اوزمايوي ملګرې (Nun-Cynthia Bill) ننې سينتيا بل، سره ملګرې شوو واسلامي کتابتونوته اودکتابوپلورنځيوته ولاړواوپه پایله کي موداده کتابونه پيداکړل،
(Muhammad Is the Seal of Prophets) او
(Prophet Muhammad And His Lifestyle) يعني اول کتاب (محمدصلي الله عليه وسلم خاتم الانبياء دي) اودوهم کتاب (پېغمبرمحمدصلي الله عليه وسلم اودهغه ژوند) په (خاتم الانبياء) کي دابيان شوي وو، چي حضرت محمدصلي الله عليه وسلم دټولوپېغمبرانواخيري پېغمبردي اوبل پېغمبرنه راځي اودالهي وحي دروازه بنده شوه، اونورددې دين (اسلام) چلول ددې امت دعلماء کاردي؛ اودا پېغمبريونړيوال پېغمبردي، نه داچي ديوه قوم اويايوې ژبې لپاره دي، دا دټول انسانيت ته راغلي دي، برخلاف دمخکنيوپېغمبرانوڅخه، مخکني پېغمبران چي هرڅه تېرشوي دي دحضرت ادم عليه سلام څخه نېولې ترحضرت محمدمصطفي صلي عليه وسلم پوري هغه ټول پخپلو وختونوکي دځانګړواومشخصوقوموا وعلاقولپاره وه، دبېلګې په ډول سره حضرت ابراهيم عليه سلام يوځاي وو، اوحضرت لوط عليه سلام بل ځاي اوپه بله سيمه کي وه، وعادقوم ته يوپېغمبروو، اودثمودوقوم ته بل پېغمبروو، حضرت موسي عليه سلام يواځي وبني اسرائيلوته وو، حضرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



عیسي علیه سلام هم یواځي وبني اسرائیلوته وو، اوداسي نورچي ډېرپېغمبران واسرائیلوته رالیږل شوي وو، نه دټولوخلکولپاره ؛ ددې کتاب په (23) مخ کي پردې باندي هم ډېرڅه لیکل شوي دي چي دبایبل اوقران دواړوپه تاکیدحضرت عیسي علیه سلام یواځي وبني اسرائیلو ته رالېږل شوې ووچي دقران کریم اوبایبل دواړوڅه حوالې یې ورکړې وي- دالومړي شک ووچي زماپرعیسایت باندي پیداشو، چي عیسایان وایي چي دانړیوال دین دي اوپه مقدسونسخوکي دپردې وشاته بل شي دي؟؟؟!!!

په دوهم کتاب کي دبني کریم صلي الله علیه وسلم پرژوندمبارک، سیرت اوصورت باندي رڼااچول شوي وه، اودې خبرې زماروح تازه اووژړاوه، چي نبي کریم صلي الله علیه وسلم ډېرساده ژونددرلودي، دکورکارېې کاوه، خپل مبارکې جامې یې پخپله ګنډلې، خپلې مبارکې څپلی یې پخپله جوړولې، اوڅاروې یې لوشل، اوداسي نور--- داهغه څه دي چي ماپخپل ژوندکي نه واورېدلې اودې څوکرښوپرمادومره اغیزه وکړل چي دسترګوڅخه مي بې اختیاره اوښکې وبهیدلې، اوارمان مي دادي چي کاش!!! زه په هغه وخت کي ژوندۍ واي اودده مبارک صلي الله علیه وسلم کالي مي پخپلوګوتوویڼځلې واي، اودده مبارکې څپلې مي پخپل لاسوباندي ګنډلې واي اودده مبارک په چوپړکي مړه شوي واي- دازمادژونددبدلون دوهمه څپه وه، ددې کتاب په اخري پاڼه (102) کي دلوړې درجې والاپېغمبرانویولړهم خپورشوي وو، چي حضرت عیسي علیه سلام هم پکښې وو، اوس مي دمطالعې مخ وبل لوري ته واوښتي اوغواړم چي دامعلومات پیداکاندم چي دحضرت عیسي علیه سلام مقام په اسلام کي څه دي؟؟؟ خوشبختانه زماپوې مسلماني ملګرې دجنوبي افریقادډربن دښارڅخه دشیخ الاسلام مناظراسلام مرحوم شیخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمددیدا

ت یوکتاب چي د**(Christ In Islam)** یعني **(**عیسي علیه سلام په اسلام کي**)** راولېږه چي د (اي پي سي اي )**(IPCI)** یعنې
**(Islamic Propagation Center International)**
لخواچاپ شوي و، ډېره مرسته یې زماسره وکړل، چي په هغه کي لیکلي وه چي یومسلمان مسلمان کېداې نشي ترڅوپه دې ایمان ونلري چي حضرت عیسي علیه سلام دالله جل جلاله یولوي پېغمبراوهغه دلوي خداي جل جلاله په امرسره مورزاده ړانده ، دپېس ناروغان، دجذام ناروغان اومړي ژوندي کول اوداسي نور--- چي هره کرښه وایم نوپه زړهٔ کي بدلون احساس کوم اوزه په دې باندي راضي هم یمه، داځکه چي موږعیسایان خوداسلام څخه بدوړو، دقران څخه بدوړو، اونوځکه پرپېغمبریې هم بدوایو، نومادافکرکاوه چي مسلمانانوبه څومره وحضرت عیسي علیه سلام ته بدواي، خوزمادتصور برعکس په اسلام کي وحضرت عیسي علیه سلام ته داسي مقام اوحیثیت ورکول شوي ووچي په عیسایت کي یې نه لري، داځکه چي په اسلام کي یې مقام اوچت اوریښتني دي، که یوڅوک دحضرت عیسي علیه سلام اویاهم دحضرت محمدصلي الله علیه وسلم څخه څوک منکره شي چي دوي پېغمبران نه دي، نوپه اسلام ورته کافرویل کیږي،چي دوي دواړه دیوه خداي جل جلاله رالېږل شوي استازي، اوبندګان وه؛ نوځکه زه دااحساس کوم چي دوي دواړه سره ورونه دي؛ اوهیڅ فرق یې نشته ، اوس یوشي زمالپاره ډېراړین دي، چي هغه دبایبل مکمله مطالعه ده اوهغه ایاتونه پیداکړم چي پکښې ویل شویدي چي حضرت عیسي علیه سلام یواځي ویهودوته راغلي دي، دبایبل دمطالعې څخه چي مامخکي ددې تصورهم نه کاوه، داراته جوته شوه، چي عیسایت یونړیوال دین نه دي اوحضرت عیسي علیه سلام پخپل وخت کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



یواځي د یعقوب علیه سلام اولادي (اسرائیلو) ته راغلي اوځانګړي وو، نودامریکایانو، دجرمنیانو، انګریزانو، دروسانو یعني دغیریهودویې په څه؟؟؟ داعیسایت یواځي دیهودولپاره ووپه هغه وخت کي اوبل هیڅ قوم بایددادین ونه مني داځکه بایبل وایي:

ـ دغیرقومو(ماسوي له یهودوڅخه) وبل قوم ته مه ځه، اودسامریانووښارته مه داخلیږه ، بلکه واسرائیلوته ولاړشه- (متي ـ 10 باب، 5: 7)

ـ دي (حضرت عیسي علیه سلام ) یواځي دیهودوپاچاوو- (متي، دویم باب، نذراني پېښ کول: 2)

ـ اي دیهودودمځکي بیت لحم ښاره، ته دیهودوپه لویوښارونوکي هم وړوکي نه یې ځکه ستانه هم هغه سرداررااوځي چي یواځي به زمادخلکو(اسرائیلو) شپون به وي- (متي، دویم باب، نذراني پېښ کول: 6)

ـ عیسي یواځي داسرائیلوپاچادي - (یوحنا، اول باب : 49)

ـ (عیسي علیه سلام وخپلوشاګردانوته) وایي: زه روښتیادرته وایم اوپه دې موپوه کوم چي تاسي دبني اسرائیلوپه ټولوښارونوکي وګرځي یواځي (متي 10 باب: 23)

ـ اي عیسي!!! داسرائیلودپاچهۍ دي مبارک شه!!! (یوحنا، دوولسم باب: 12)

ـ عیسي دیهودودقبېلې څخه دي، اودیهودوزمري دي (مکاشفات، پنځم باب: 3)

ـ یوه ورځ یوه کنعانۍ ښځه وحضرت عیسي علیه سلام ته راغله اوورته یې وویل چي زماسره مرسته وکه، پرمابانـدي بدروح ناست دي، اوپه تکلیف یم، حضرت عیسي علیه سلام وخپلوشاګردانوته راغي اوورته یې وویل چي دارخصت کي اوپه ماپسې روانه ده؛ اوورته ووایاست چي زه داسرائیلوڅخه ماسوي وبل چاته

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه یم
راغلي، مګرهغه ښځه بیاراغله اودمرستې غوښتنه یې وکړل، حضرت عیسي علیه سلام ورته وویل: چي دماشومانو(یهودو)ډوډی اخیستل اووسپو(غیریهودو) ته ورکول ښه نه ده- (متي؛ ، 15 باب، 26: 27) اوهمدارنګه داکیسه په (مرقوس 7 باب، 24: 30) کي ده
دبایبل په تفسیرکي دپورتني ایات لاندي داليکلي وه:
دحضرت عیسي علیه سلام حوراین( شاګردان) ټول یهودان وه، اوپه ټول ژوندکي یې دیهودوماسوي وبل چاته دعوت نه دي ورکړي اونه هم دیهودودعلاقې څخه وبلې سیمې ته تللي دي، داځکه چي دیهودوڅخه ماسوي نورټول سپي دي-
داټول دبایبل هغه ایاتونه دي چي داثابتوي چي حضرت عیسي علیه سلام یوائې دیهودودقوم لپاره وو، په ټوله بایبل کي داسي ځاي راته په سترګونه شوچي ویل شوي وي چي دانړیوال دین اودهرچالپاره دي، زه په دې ورته حیرانه یمه چي څوک درواغ وایي؟؟؟ بایبل اوکه اوسني کشیشان، راهبان، اونوردعیسایت مذهبي مشران؟؟؟ زمادایقین دي چي بایبل درواغ نه وايي بلکه دااوسني راهبان اوکشیشان درواغ وايي اوخلک وځانته جذبوي، په یوه نامه سره اوپه بل نامه سره، خوواقعیت داسي نه دي- اووماته چي ډیرزړه راته کوچني اودعیسایت څخه مي کرکه وشوه هغه داچي په اخري ایات کي وغیریهودوته سپي ویل شویدي، نوموړسپې لاخه کووچي په عیسایت پسې ګرځو داځکه چي موږبدیواوحضرت عیسي علیه سلام راڅخه بدوړي، په بایبل کي داثابته شول چي حضرت عیسي علیه سلام یوائې ویهودوته راغلي ووه چي دبایبل دپورتني ادعاتصدیق قرانکریم هم کوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



او(یادکړه اي محمده ! هغه وخت) کله چي وویل عیسي ځوي دمریمې داسي چي اي بني اسرائیلو(اولاده دیعقوبه) بېشکه زه رسول لیږلي شوي دالله یم وتاسي ته( حال داچي) تصدیق کوونکي یم دهغه کتاب چي وړاندي زمادي له تورات څخه- (سورت الصف : 6)

که اوس زماڅخه یوڅوک پوښتنه وکي چي ته یوه راهبه وې، اوتاخپل ټول ژوندوکلیساته وقف کړي وو، نوته ولي دبایبل په دې ایاتونه وي خبره؟؟؟

زه په ساده ژبه ورته وایم چي موږپه کلیساکي په هغوایاتوخبروو، یادول مو، اوراته ښه معلوم وه چي زموږپکښې فایده وه، نورپه ټوله نړې زیات کشیشان هم په بایبل پوره خبرنه دي نوځکه چي کله دوي دمسلمانانوسره مناظره کوي مسلمانان دبایبل داسي درسته حواله ورکي چي دوي (عیسایان) ورته حیران اوملامت شي- (الحمدلله)

له دې څخه می وروسته داټینګ هوډوکړچي اوس به څرنګه مسلمانه کېږمه؟؟؟ دخپلې ملګرې سره مي داخبره شریکه کړه، هغې راسره ومنله خویوه خبره یې داراته وکړه چي کلیسااوس په موږڅومره پېسې اووخت مصرف کړي دي، اودکلیساټول رازونه زمااوستاپه سینوکي دي، کېداي شي اسلام راوړل زمااوستادمرګ سبب شي، نویوه معقوله لاره به ورته وسنجووو، اوښه طریقه یې داده چي دمسلمانانوسره په دې اړه مشوره وکړونوزه یوائې په امریکاکي دمسلمانانووټولنې ته ورغلمه چي مشریې نه وو اومرستیال یې چي یوتورپوستي امریکایي وو، ورسره ولیدل هغه ډېرهدایات راته وکړل اولارې یې راته وښودلې اودایې هم راته وویل چي موږبه رسنیوته خبرورکړو، اوتاسي به داوواياست چي موږپخپله خوښه سره اسلام قبول کړیدي، اوکېداي سي چي عیسایان کوم عکس العمل ونکړي اوکه څه عکس العمل وکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوستاسوساتنه اوهرڅه زموږدنده ده، چي په نتېجه کي زه اوزماملګرې دواړوایمان راوړي اودشهادت کلمه مووویله؛ داسلامي ټولنې اودمسلمانانوورونړودمشورې سره سم به دکلیساترشادټولورازونوڅخه پرده پورته کړو، چي دابه دلومړي ځل لپاره پرانټرنیټ اوبیاپه مجلواوپه دریم ځل دکتابوپه بڼه سره خپاره شي، یوارمان موشته هغه داچي داسلام، دقران اودمسلمانانوورونړودچوپړویاړراپه برخه شي-

امین

(c) ketabton.com: The Digital Library

This document was created with Win2PDF available at http://www.daneprairie.com.
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use only.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**